او خامخا په تحقیق لیږلی (پورته کړی) وو مونږ په هر (پخوانی) امت کښی یو رسول (چه ووائی دوی ته) چه عبادت کوئ (یواځی) د الله او ځان ساتئ تاسی له شریرانو (باطلو معبودانو) څخه نو ځینی له دوی هغه وو چه ورته هدایت وکړ (لیاره وروښوده) الله او ځینی د دوی هغه وو چه ثابته شوه پری ګمراهی (نو قبول ئی نه کړل احکام د رسولانو) نو وګرځئ تاسی په ځمکه کښی (ای مشرکانو!) نو وګورئ په نظر د عبرت سره) چه څرنګه ؤ (عاقبت آخره خاتمه) د دروغجن کوونکو (د انبیاؤ؟).

وَعَلَامَاتٍ ۚ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ﴿١٦﴾

او (پیدا کړی دی الله په ځمکه کښی) علامی (د لیاری) او په ستوریو سره دغه (لار تلونکی) لیاره مومی.

تفسیر: یعنی غرونه چینی ـ ونی ـ د شګو غونډی ـ الغرض د مختلفو اقسامو علایم ئی قائم کړی دی چه د هغو په وسیله د مسافرانو قافلی د سمی لاری سراغ او نښه ومونډلی شی. ما پخپلو سترګو لیدلی چه ځینو اعرابو (بدوانو) د خاوری په بویولو سره د لیارو نښی پیدا کړی دی.

وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨﴾

او پیدا کوی (الله ډیر نور) څیزونه چه اوس ئی نه پیژنئ تاسی.

تفسیر: یعنی د هغو حیواناتو (او مرکوباتو) ذکر چه پاس وشو برسیره پر هغه الله تعالیٰ ستاسی د انتفاع دپاره داسی نور شیان هم پیدا کړی او پیدا کوی ئی چه له هغو څخه اوس تاسی بی خبره یئ ـ په دغه کښی هغه ګرد (ټول) د سورلی شیان داخل شول چه تر قیامته به جوړیږی.

وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٥﴾

او چارپایان ئی پیدا کړی دی (الله) دغه (چارپایان)، تاسی ته (ای انسانانو!) چه شته په دوی کښی اسباب د ګڼان ساتلو (له یخنی) او (نورې ډیری) نفعی او له ګڼینو دغو (چارپایانو) څخه خورئ تاسی.

خَلَقَ الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٤﴾

پیدا کړی دی (الله) انسان لره له نطفی (اوبو د منیو) نه نو ناڅاپه دغه (انسان) سخت جګړه کوونکی ؤ ښکاره (په ناحقه سره).

وَاللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّن بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْئًا ۙ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۙ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾

او الله راوویستئ تاسی له نسونو (ګیډو) د میندو خپلو حال دا چه نه پوهیدئ تاسی په هیڅ شی (څیز له خیره او شره) او پیدا کړی (درکړی) ئی دی تاسی ته غوږونه او سترګی او زړونه (او نور حواس او نور اسباب) دپاره د دی چه شکر وکړئ (په دغو نعمتونو).

ثُمَّ إِنَّ رَبَّكَ لِلَّذِينَ عَمِلُوا السُّوءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابُوا مِن
بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا إِنَّ رَبَّكَ مِن بَعْدِهَا لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١٩﴾

بیا بیشکه رب ستا (چه دی ای محمده) هغو کسانو ته چه ئی کړی دی بدی (ګناه) په جهالت (ناپوهی) سره بیا توبه وباسی وروسته له کولو د هغه (بد عمل) او نیک کړی عمل خپل بیشکه رب ستا وروسته له دغی توبی څخه خامخا لوی مغفرت کوونکی دی (د خطیئاتو) ډیر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ﴿٧﴾

وښیه مونږ ته لاره سمه لاره د هغو کسانو چه انعام کړی تا پر هغو باندی

تفسیر: پر هغو کسانو چه انعام شوی دی څلور طایفی دی
(۱) نبیین (۲): صدیقین (۳): شهداء (٤): صالحین. د دغه څلورو طایفو تصریح د پاک قرآن په بل ځای کښی شوی ده، ځینو علماؤ ویلی دی چه له ﴿ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ ﴾ څخه «یهود» او له ﴿ الضَّالِّينَ ﴾ څخه «نصارٰی» مراد دی چه د دی مطلب د تائیدولو لپاره ډیر آیتونه او روایتونه شاهد دی. له ﴿ الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴾ یعنی له مستقیمی لاری څخه پاتی کسان دوه ډوله (قسمه) دی یو هغه کسان دی چه په ناپوهی سره له سمی لاری څخه محروم او بیرته پاتی دی. بل هغه کسان دی چه دوی سره له پوهی قصداً سرکشی غوره کړی ده، پخوانی او وروستنی ګمراهان له دغو دوه ډ طایفو څخه وتلی نشی، «نصارٰی» په اوله او «یهود» په دوهمه طایفه کښی داخل دی.

غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ۝٧

نه «لاره د هغو بدو کسانو چه» غضب کړی شوی پر هغو باندی او نه «لاره د هغو بدو کسانو چه» ګمراهان دی

تفسیر: (یعنی مونږ ته د هغو کسانو سمه او صافه لاره وښیه چه په هغو باندی انعام شوی دی او د هغو کسانو له کړو وړو لارو څخه مو چه پری غضب شوی او ګمراهان دی چپ (بچ) کړه او د بدانو له متابعت څخه مو وساته).

«د «البقرة» سورت مدنی دی پرته (علاوه) د (۲۸۱) آیة نه چه د حجة الوداع په کال په منیٰ کښی نازل شوی دی»

«دوه سوه شپږاتیا (۲۸٦) آیتونه او څلویښت (٤٠) رکوع لری»

«د «المطففین» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی. په تلاوت کښی (۲) او په نزول کښی (۸۷) سورت دی»

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ۝

(شروع کوم) په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

الٓمٓ ۝١

تفسیر: دغو حروفو ته «مقطعات» وایی، د دغو حروفو په اصلی معنی باندی پرته (علاوه) له الله تعالیٰ څخه بل هیڅوک نه شی پوهیدی، او د الله تعالیٰ یوه پته خبره او پټ راز دی، څوک وایی دغه حروف د الله تعالیٰ او د ده د رسول صلی الله علیه وسلم په مینځ کښی مخصوص رموز دی چه مونږ ته د ځینو مصالحو او حکمتونو لامله (له وجی) نه دی راښکاره شوی او هغه معناګانی چه د ځینو لویانو له خوا د دغو حروفو په نسبت نقل شوی دی تش یو تمثیل تنبیه او د مقصود آسانتیا ده نه دا چه یوازی همغه د الله تعالیٰ مراد کیدی شی، نو هغو ته شخصی رأی ویل، او بیا ئی غلط شودل یوازی هغه شخصی رأی ده چه په تحقیق سره د عالمانو د منلو وړ (لائق) نه ده.

ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ ۛ فِيهِ ۛ

دا کتاب نشته هیڅ شک په ده کښی (چه د الله تعالیٰ له لوری نازل شوی دی)

تفسیر: یعنی په دی خبره کښی هیڅ شک او شبهه نشته چه قرآن د الله تعالیٰ کلام دی او ټول مضامین ئی رښتینی او واقعی دی.

تنبیه: په کوم کلام کښی چه اشتباه لیدل کیږی هغه به له دوه ؤ لارو څخه وی یا به په هغه کلام کښی کومه غلطی او خرابی وی، یا به د اوریدونکی په پوهه کښی څه فساد او خلل وی. په

هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ۝

(دغه کتاب) لارښوونکی دی لپاره د پرهیزګارانو.

تفسیر: له دغه ځایه د عظیم الشان قرآن تر آخره پوری د ﴿ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴾ ځواب دی چه د بندګانو له خوا غوښتل شوی ؤ.
یعنی دغه کتاب هغو بندګانو ته لار ښیی چه له الله تعالیٰ څخه ویره لری ځکه هغه ځوک چه د الله تعالیٰ څخه ویریږی هغه به هرومرو (خامخا) د ښو او بدو امورو «طاعت او معصیت» غوښتنه او پلټنه (لټون) کوی، او د چا په زړه کښی چه د الله تعالیٰ ویره نه وی نو هغه به له طاعت سره څه علاقه او له معصیت ځخنی به څه اندیښنه ولری ؟.

الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُونَ ۝

هغه کسان چه ایمان (باور) لرونکی دی په غیب باندی او قائموی دوی (سم ادا کوی سره د تولو حقوقو) لمونځ او ځینی له هغو شیانو چه ورکړی مونږ دوی ته صرفوی ئی (د الله تعالیٰ د رضا لپاره).

تفسیر : یعنی هغه شیان چه د هغوی له عقلو او حواسو څخه پټ دی لکه وحدانیت رسالت، حشر، نشر، قیامت، حساب، کتاب، ملائک، جنت، دوزخ، او نور دغه وارِه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له ارشاد سره سم حق او یقینی ګڼی له دی څخه دا راښکاره شوه چه د دغو غایبو او پټو شیانو منکران د هدایت له فیضه محروم او بی برخی دی.
د صلوٰة له اقامت څخه مطلب دا دی چه هغه تل د خپلو تولو حقوقو او آدابو په مراعات کولو سره په تاکلو (مقررو) وختونو کښی اداء کړی شی.
د تولو عباداتو اصل دری شیان دی.

(۱) هغه امور چه د زړه سره تعلق او اړه لری.
(۲) هغه امور چه په بدن پوری متعلق او ترلی وی.
(۳) هغه امور چه په مال پوری مربوط وی.
په دی مبارک آیت کښی دا دری وارِه اصول په ترتیب سره یاد شوی دی.

وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ ۚ وَبِٱلْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ۝

او هغه کسان چه ایمان لری (دوی) په هغه (کتاب) چه نازل کړی شوی دی تاته او (په) هغو (کتابونو) چه نازل کړی شوی دی. له مخه د تا او په آخرت دوی یقین کوی (چه ضرور راتلونکی دی).

تفسیر: په تیر آیت کښی د هغو کسانو یادونه وه چه له شرک نه وتلی او مسلمانان شوی دی، لکه د مکی خلق، او په دغه آیت کښی هغه کسان یاد شوی دی چه اهل کتاب ؤ او په اسلام مشرف شوی دی لکه «یهود» او «نصاریٰ»

خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ ۖ وَعَلَىٰٓ أَبْصَٰرِهِمْ غِشَٰوَةٌ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝

مهر لګولی دی الله پر زړونو د دوی او پر غوږونو د دوی او پر سترګو د دوی. (یوه ځانته) پرده ده او دی دوی لره عذاب دیر لوی.

تفسیر: د هغوی پر زړونو باندی مهر لګول شوی دی (یعنی د حق پر خبرو باندی نه پوهیږی) او پر غوږونو باندی ئی مهر لګولی شوی دی (یعنی رښتیا خبرو ته په غور سره غوږونه نه ږدی) او پر سترګو باندی ئی پرده ده (یعنی د حق لاره نه وینی). د کفارو بیان هم ختم شو، اوس په دغو وروستیو دیارلسو آیتونو کښی د منافقانو حالات راځی.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝

شروع کوم په نامه د الله چه دیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ۝٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ۝٣

ووایه (ای محمده) پناه غواړم په رب د تولو خلقو په باچا د تولو خلقو په معبود د تولو خلقو.

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ الْخَنَّاسِ ﴿۴﴾

له شره د وسوسی اچوونکی تښتیدونکی (شیطان له ذکره د الله).

الَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ ﴿۵﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿۶﴾

هغه (شیطان) چه وسوسی اچوی په سینو زړونو د خلقو کښی (چه دغه وسوسه اچوونکی) له پیریانو او انسانانو څخه دی.

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۙ﴿۱﴾

ووایه (ای محمده) پناه غواړم په رب د صبا ځیرووونکی د تیاری باندی.

تفسیر : یعنی هغه چه د شپی تیاره ځیروی او له هغی ځخه د سهار انوار او رڼا ښکاروی.

مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۙ﴿۲﴾

له شره د هغه شی چه پیدا کړی ئی دی (له ضررناکو شیانو ځخه).

تفسیر : یعنی هر هغه مخلوق چه په هغه کښی څه بدی او شر وی زه د هغه له شر او بدی ځخه پناه غواړم وروسته د دی ځای په مناسبت د څو ځان ته ځیزونو نومونه هم اخیستی شوی دی.

وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۙ﴿۳﴾

او له شره د تیاری شپی کله چه تکه توره شی (او هر شی پټ کړی).

تفسیر : یعنی د شپی تیاره چه په هغی کښی زیاتره شرور او بدی پیښیږی په تیره بیا کودی (سحر) او نوری پیښی دیری واقع او پیښیږی چه خوف یا د لمر لویده تری مراد دی. حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه لیکی «په دی کښی ګردی (تولی) تیاری راغلی ظاهری، باطنی، تنګه، پریشانی او ګمراهی او نور.

وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِی الْعُقَدِ ۙ﴿۴﴾

او له شره د هغو ښځو ساحرانو پوکی کوونکیو چه پو کول کړی په غوټو کښی.

تفسیر : له «النفاثات فی العقد» او پوکی کوونکیو نفسونو ځخه هغه ښځی یا هغه دلی یا هغه نفوس مراد دی چه د سحر او د کودو د چارو کولو په وقت کښی پر کومی ژی یا مزی یا ویښته یا نورو باندی څه ولولی او پری پو ئی کړی او غوټی پکښی واچوی هغه کودی چه لبید بن اعصم ځمونږ پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندی کړی وی په هغو کښی ځینی جونی هم ګدی وی والله اعلم.

وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ۧ﴿۵﴾

او له شره د حسد کوونکی کله چه ښکاره کړی حسد خپل.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ۝١

مات هلاک دی شی دواړه لاسونه د ابی لهب او پخپله دی هم هلاک شه.

ابولهب

ابولهب (با نام اصلی **عبدالعزی بن عبدالمطلب**) کنیه‌ای است که قرآن (سوره تبت آیه ۱) و مسلمانان بر یکی از عموهای محمد، پیامبر اسلام اطلاق کرده‌اند. ابولهب در ۲۴ رمضان سال ۲ ه.ق درگذشت. این مرد تا هنگام مرگ یکی از بزرگترین و سخت‌ترین دشمنان محمد بود و می‌توان علت این دشمنی را که مخالفت با عصبیت قومی و خانوادگی عرب بود از امجمیل همسر ابولهب دانست که دختر حرب بن امیه و خواهر ابوسفیان است.در سوره ی تبت در قرآن درباره ی او این گونه سخن رفته است: بریده باد! هر دو دستان ابولهب که هر گز مال و ثروتش به حالش سودی نبخشید. و سرنوشت او در قرآن این گونه بیان شده است که خداوند او و همسرش را همانند هیزم های دوزخ می کند و می سوزاند.

مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا كَسَبَ ۝٢

دفع به نه کړی (دغه هلاکت) له دغه (ابی لهب) څخه (اصلی) مال د ده او هغه چه ده ګټلی و (یعنی اولاده ئی).

تفسیر : یعنی مال، اولاد، عزت، وجاهت او لوئی هیڅ یوه ابی لهب له هلاکته ونه شو ژغورلی (ساتلی).

سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۝٣

ژر دی چه ننه به وځی (ابی لهب په قیامت کښی) په اور خاوند د لمبو کښی.

وَّامۡرَاَتُهٗ ؕ حَمَّالَةَ الۡحَطَبِ ۚ﴿۴﴾

او (ننه به وځی) ښځه د هغه (ابی لهب) اور ته په دی حال کښی چه بار راوړونکی به وی د خسو (د دوزخ).

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۝

شروع کوم په نامه د الله چه دیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

اِذَا جَآءَ نَصۡرُ اللّٰهِ وَالۡفَتۡحُ ۙ﴿۱﴾

کله چه راشی نصرت مرسته (مدد) د الله او فتح (د مکی).

تفسیر : لویه فیصله کوونکی خبره دا ده چه مکه معظمه چه د حجاز مرکز او د اسلام دیری نښی لری فتح شی د عربو د زیاترو قبیلو سترګی هغی ته وی پخوا له دی نه به یو یو دوه دوه سړی په اسلام کښی داخلیدل خو د مکی معظمی له فتحی څخه وروسته دلی دلی داخلیدل تر دی حده پوری چه د عربو جزیره ګرده (توله) د اسلام په نور او رنا رنه او ګردو (تولو) هستیدونکیو ته ئی د توحید کلمه ولوستله او هغه مقصد چه عبارت د نبی کریم له بعثت څخه ؤ. پوره شو.

وَرَاَيۡتَ النَّاسَ يَدۡخُلُوۡنَ فِىۡ دِيۡنِ اللّٰهِ اَفۡوَاجًا ۙ﴿۲﴾ فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ

او وینی به ته خلق چه ننوځی به دین د الله کښی فوج فوج دلی دلی پس تسبیح پاکی وایه سره د حمد ثناء د رب خپل.

تفسیر : یعنی وپوهیږئ چه د بعثت مقصود او د دنیا د هستوګنی مطلب چه د دین تکمیل او د کبری خلافت تمهید دی پوره شو. اوس د آخرت سفر نژدی دی. نو ښائی چه له دنیا څخه ځان فارغ کړئ! او د زړه له کومی آخرت ته متوجه شئ! او له پخوا څخه زیاتره د هغه تسبیح او تحمید ووایئ او په دی فتوحاتو او برید باندی د هغه شکر ادا کړئ او همیشه اوسئ په استغفار باندی.

وَاسْتَغْفِرْهُ ۚ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ﴿٣﴾

او مغفرت ښښنه وغواړه له ده څخه (لپاره د ګناهونو د امت خپل یا لپاره د ماتیدو د نفس او قصور د عمل) بیشکه چه دغه (الله) تل دی ښه توبه قبلوونکی د مستغفرانو ګنهګارانو.

قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ﴿١﴾

ووایه (ای محمده ! چه) ای کافرانو .

لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٢﴾ وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ﴿٣﴾

نه کوم زه (فی الحال) عبادت د هغه شی چه تاسی ئی عبادت کوئ (ای

وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ ﴿٤﴾ وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ﴿٥﴾

او نه یم زه عبادت کوونکی (په وروستی زمانه کښی) د هغه شی چه عبادت ئی کوئ تاسی (ای کافرانو) او نه یئ تاسی (ای کافرانو په وروستی زمانه کښی) عبادت کوونکی د هغه ذات چه زه ئی عبادت کوم (چه الله دی).

لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ ﴿٦﴾

تاسی لره دین ستاسی دی (د شرک) او ما لره دین (د توحید اسلام) ځما دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ①

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ②

نو لمونځ کوه دپاره د رب خپل او قربانی کوه !.

اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ ③

بیشکه دښمن ستا همغه دی بی بنیاده له هره خیره منقطع.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

اَرَءَيْتَ الَّذِىْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ①

آیا وینی ته هغه څوک چه دروغ وائی په ورځی د جزاء باندی.

فَذٰلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ ۝٢

نو (که ئی پیژنی هم دغه) همغه (څوک) دی چه رتی شری یتیم پلار مری لره (په شرلو قبیحو سره).

تفسیر : یعنی له یتیم او پلار مری سره همدردی او خواخوږی چیری؟ بلکه له هغو سره په دیره بیرحمی، غټ زړه توب، بداخلاقی معامله کوی او حق ئی نه ورکوی او اموال ئی له خپل ځان سره په ناحقه ساتی.

وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِينِ ۝٣

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ۝٤ الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ۝٥

پس هلاک افسوس کنده د دوزخ یا خرابی ده دپاره د لمونځ کوونکی هغه کسان چه دوی له لمانځه خپله غافله بی‌خبره وی (پخپلو اوقاتو او آدابو سره ئی نه اداء کوی).

الَّذِينَ هُمْ يُرَآءُونَ ۝٦

هغه کسان چه دوی ریاکاری کوی (په عمل خپل کښی، شوونه کوی خلقو ته).

وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ ۝٧

او منع کوی دوی مال د زکوٰة یا اسباب د معاونت امداد یو له بله.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه دیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ①

آیا نه و لیدلی تا نه ئی خبر چه څرنګه کار کړی و رب ستا له خاوندانو د فیل سره.

تفسیر : یعنی د فیل (هاتی) د خاوندانو سره هغه معامله چه ستاسی پروردګار وکړه هغه به ضرور تاسی ته معلومه وی ځکه چه دا واقعه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم له باسعادت ولادت څخه څو ورځی پخوا شوی وه او د دیر شهرت له سببه چه د هر لوی او کوچنی (ووړکی) په ژبه یادیده او د دی قرب عهد او د تواتر په بناء الله تعالیٰ دا علم په رؤیت سره تعبیر وفرمایه.

اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ②

آیا نه ئی و ګرځولی (هغه) کید مکر د دوی (په حق د نړولو د کعبی بلکه ګرځولی ئی و) په ګمراهی زیانمنی بطلان کښی.

تفسیر : یعنی هغو کسانو غوښتل چه د الله تعالیٰ کعبه ورانه او خپله مصنوعی کعبه ودانه کړی نو دا ونه شوه کیدی. او الله تعالیٰ د هغوی ګردی (تولی) ترټی بیکاره او تول تدابیر ئی بی اثره وګرځول او د کعبی شریفی د تباهی د فکر له سببه دوی پخپله تباه او بیکاره شول.

وَّاَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ③ تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ④

او راوئی لیږل په دوی باندی مرغان تولګی تولګی. چه ویښتل ئی هغوی په کانو سره چه له خټو په اور پخو شویو څخه جوړ شوی ؤ.

فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّاْكُوْلٍ ⑤

نو وئی ګرځاوه دغه لښکر په شان د وښو خوړلیو شویو پائمال کړیو شویو.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه دیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالْعَصْرِ ۝١ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ۝٢

قسم دی په عصر چه بیشکه انسان خامخا په زیان کښی دی (په صرف کولو د عمر سره په فانیه ؤ مطالبو کښی).

تفسیر : عصر زمانی ته وائی یعنی قسم په زمانی باندی چه د انسان عمر هم په کښی داخل دی چه دا عمر د سعاداتو او کمالاتو د ګټلو دپاره یوه لویه پنګه (سرمایه) ده او پکښی عجائب او غرائب دی په اقسامو سره یا قسم دی د مازدیګر په وخت باندی چه د دنیوی کارونو او وضیفو

اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝٣

مګر (خو زیانکاران نه دی) هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) او وصیت ئی کړی وی یو له بله په حقه سره چه ایمان دی او وصیت ئی کړی وی یو له بله په صبر (په طاعت او مصیبت او له معصیته).

اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا ۝١

کله چه وخوځوله شی ځمکه په خوځیدلو سختو خپلو سره.

تفسیر : یعنی الله تعالیٰ به کړده (توله) ځمکه په سختو او خورا (دیر) ویروونکیو زلزلو او ریدیدلو سره وخوځوی چه د هغی له اغیزی او اثر څخه به هیڅ مانی او عمارت او هیڅ یو غر یا ونه او نور شیان پر ځمکه باندی روغ نه پاتی کیږی او ګرد (تول) هسک (اوچت) او تیټ به سره برابریږی تر څو د حشر میدان صاف او پاک او یو برابر وګرځی او دا ګردی (تولی) پیښی به په قیامت د دوهمی نفخی د پو کولو په وخت کښی پیښیږی.

وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا ۝٢

او د باندی راوباسی ځمکه درانه شیان له خپله منځه.

وَقَالَ الْإِنسَانُ مَا لَهَا ﴿٣﴾

او وبه وائی انسان (منکر له بعثه) چه څه شوی دی دغه (ځمکی) لره (چه د باندی راوباسی مدفون خپل).

تفسیر : یعنی بنی آدمان وروسته د ژوندی کیدلو او زلزلی د آثارو له لیدلو څخه یا د هغو ارواحو د زلزلی په ترڅ کښی حیران پاتی شوی په حیرت سره به وائی «پر دی ځمکی باندی څه وشو؟ چه په دومره زور سره خوځیږی؟ او هر شی له خپله ګیډی څخه د باندی غورځوی؟».

يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴿٤﴾ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ﴿٥﴾

په دغی ورځی کښی وبه وائی بیانوی به ځمکه خبری خپلی (خلقو ته که د خیر وی که د شر). په سبب د دی چه رب ستا وحی امر حکم کړی دی دی ته (په ویلو بیانولو سره).

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ ①

بیشکه مونږ نازل کړی مو دی دغه (ټول قرآن) په شپه د قدر کښی.

تفسیر : یعنی قرآن کریم له لوح محفوظ څخه د دنیا پر آسمان د قدر په شپه کښی نازل کړ شو. او بیائی په هم دغی شپی کښی د دنیا له آسمان څخه په محمد صلی الله علیه وسلم باندی ئی هم نزول شروع شوی وی. په دی موضوع څه مضمون د (دخان) په سورت کښی لیکلی شوی دی هلته دی ولوست شی.

وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ ② لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ③

او څه شی پوه کړی ئ ته (ای محمده!) چه څه ده شپه د قدر (د عزت او شرافت له پلوه؟) شپه د قدر خیر غوره ده له زرو میاشتو څخه (هغه زر میاشتی چه پکښی نه وی دغه شپه هغه چا لره چه ئی بیامومی او په عبادت سره پکښی مشغول شی تر صباح پوری).

تفسیر : یعنی په دی شپی کښی نیکی کول داسی دی لکه چه تر زرو میاشتو پوری سری نیکی کړی وی بلکه زیات له دی څخه هم.

تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم

نازلیږی ملائکی او روح په دغه شپه کښی په اذن حکم د رب د هغوی.

تفسیر : یعنی د الله تعالیٰ په حکم روح القدس حضرت جبریل علیه السلام د ډیرو پرښتو په

مِّن كُلِّ أَمْرٍ ④ سَلَامٌ

دپاره د هر کار (تاکلی «مقرر» شوی په دغه راتلونکی کال کښی) امان سلامتیا ده (له هر افته).

هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ ۝٥

دغه شپه ده تر وقته د ختلو د صبا پورې (د سلامتیا فضیلت، برکت، کرامت).

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

شروع کوم په نامه د الله چه ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکی دی

وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ ۝١

قسم دی په انځر او زیتون خونه باندی.

وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ۝٢ وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ ۝٣

او قسم دی په (غره چه نوم ئی) طور سینین (دی) او قسم دی په دی ښار امان ورکوونکی (د مکی) باندی.

لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۝٤

چه خامخا په تحقیق پیدا کړی دی مونږ انسان بنی آدم په ډیر ښه اعتدال سره.

ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ ۝٥

بیا وګرځاوه مونږ هغه (انسان په ضمن د بعضو افرادو کښی) ډیر ښکته تر ښکتو نه (چه لاندنی طبقه د دوزخ ده).

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ۝

مگر هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او کړی ئی دی ښه (عملونه) نو وی به دوی ته اجر ثواب بی انتهاء بلا انقطاع.

تفسیر : چه نه به کم او نه به ختم شی او نه به د چا احسان پری وی.

أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ ۝

آیا نه دی الله ښه لوی حاکم د ټولو حاکمانو؟ (بلکه ښه لوی حاکم دی پر ټولو حکم کوونکیو باندی).

إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿١﴾

کله چه وخوځوله شی ځمکه په خوځیدلو سختو خپلو سره.

تفسیر : یعنی الله تعالیٰ به کړده (توله) ځمکه په سختو او خورا (دیر) ویروونکیو زلزلو او ریډیدلو سره وخوځوی چه د هغی له اغیزی او اثر څخه به هیڅ مانی او عمارت او هیڅ یو غر یا ونه او نور شیان پر ځمکه باندی روغ نه پاتی کیږی او ګرد (تول) هسک (اوچت) او تیټ به سره برابریږی تر څو د حشر میدان صاف او پاک او یو برابر وګرځی او دا ګردی (تولی) پیښی به په قیامت د دوهمی نفخی د پو کولو په وخت کښی پیښیږی.

وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ﴿٢﴾

او د باندی راوباسی ځمکه درانه شیان له خپله منځه.

تفسیر : یعنی په دی وقت کښی ځمکه هر هغه شی چه د دی په منځ کښی وی لکه مړی، سره او سپین زر، لاجورد پیروزه، غمی او نور ګرد (تول) د باندی غورځوی خو د دی مالونو او قیمت دارو شیانو اخیستونکی به څوک نه وی؟ ګرد (تول) خلق به ګوری چه په دغه ورځ کښی به هغه ګران شیان چه تل به په هغو باندی جنګونه کیدل ځومره بیقدره او بیکاره لویدلی وی.

وَقَالَ الْإِنسَانُ مَا لَهَا ﴿٣﴾

او وبه وائی انسان (منکر له بعثه) چه څه شوی دی دغه (ځمکی) لره (چه د باندی راوباسی مدفون خپل).

تفسیر : یعنی بنی آدمان وروسته د ژوندی کیدلو او زلزلی د آثارو له لیدلو څخه یا د هغو ارواحو د زلزلی په ترڅ کښی حیران پاتی شوی په حیرت سره به وائی «پر دی ځمکی باندی څه وشو؟ چه په دومره زور سره خوځیږی؟ او هر شی له خپله ګیډی څخه د باندی غورځوی؟».

يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴿٤﴾ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ﴿٥﴾

په دغی ورځی کښی وبه وائی بیانوی به ځمکه خبری خپلی (خلقو ته که د خیر وی که د شر). په سبب د دی چه رب ستا وحی امر حکم کړی دی دی ته (په ویلو بیانولو سره).

تفسیر : یعنی بنی آدم چه څه ښه او بد کارونه د هغی څمکی په سر باندی کری ؤ هغه ګرد (تول) به ښکاره وی لکه چه وائی به هغه سری په ما باندی لمونځ کری ؤ هغه غلا کری وه هغه ناحق وینه توئی کری وه او داسی نوری خبری ګواکی د ننی ورځی په اصطلاح او ژبه داسی ویوهیږئ چه هر سری چه هومره عملونه ئی په څمکه باندی کری وی د هغو ګردو (تولو) ریکاردونه (تکلی) به وی او د قیامت په ورځ کښی به د پروردګار په حکم په خبرو راځی او هر شی له لری ښکاری.

يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا

په دغی ورځی کښی به وګرځی خلق تولی تولی (له موقف یا له قبور نه په مختلفو اشکالو سره).

تفسیر : یعنی په هغی ورځی کښی به خلق له خپلو قبرونو څخه راوتلی د محشر په دګر کښی په راز راز (قسم قسم) دلی جوړی کری حاضریږی. یوه دله به د شرابیانو وی بله دله به د زناکارانو وی هم داسی د ظالمانو او غلو. علیٰ هذا القیاس د نورو. یا دا مطلب چه خلق له حساب څخه خلاصیږی او د بیرته ګرځیدلو په وقت کښی څه دلی به ئی جنتیانی او څه به دوزخیانی وی چه هره یوه به پخپل لوری رهی (روان) کیږی.

لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ

دپاره د دی چه وښودله شی هغوی ته (جزاء د) عملونو د دوی.

تفسیر : یعنی د حشر په میدان کښی به د هغوی عملونه وروښوولی شی تر څو بدانو ته یو راز (قسم) رسوائی او نیکانو ته یو راز (قسم) سرفرازی حاصله شی ممکن دی چه د عملونو له وروښوولو څخه د ثمراتو او نتائجو ورښوول مراد وی.

فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ۝ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ۝

پس هغه څوک چه عمل کوی په اندازه د یوی ذری د خیر نیکی نو وبه وینی (جزاء د هغه) او هر هغه څوک چه عمل کوی په اندازه د یوی ذری د شر بدی نو وبه وینی (سزاء د هغه).

تفسیر : یعنی هر یوه ته د هغه د عمل ذره ذره بنه وی که بد د هغه په مخ کښی ایښوول کیږی او حق تعالیٰ به هره هغه معامله چه د هر عمل په نسبت اجرا کوی هغه به هم د هغوی له سترګو څخه تیروی.

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا

آیا نه دی لیدلی (نه دی خبر) هغه کسان چه کافران شوی دی چه بیشکه آسمانونه او ځمکی وو دواړه سره نښتی (ضم پیوسته په اول کښی) پس بیل کړل مونږ دوی دواړه،

درپيمه برخه :

دپيغمبرانوکيسې

ادم ع پيامبر

په دې شك نشته چې آدم (ع) د نړۍ دټولوخلکولمړنی سترنيکه کښل کيږی،چې دټول بشريت پلار ورته ويل کيږی،چې پاك خدای په خپل لاس- قدرت - له خاورو څخه جوړکړی،اوبيرته يې خاروته ورګرځولی ده، ﴿الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ﴿156﴾

دآدم (ع)نوم په قرآن کريم کی پنځه ويښت 25 ځلې ياد شوی دی،چې په هروارکی يی الهی قدرت په ډيرلوی عظمت سره ښکاريږی. کله چې پاك الله وغوښتل چې آدم (ع) له خاورو څخه جوړ کړی،نوملايکوته يی وويل چې زه په ځمکه باندی بادار- خليفه - پيداکوم، هغوی په ډيره حيرانی سره ورته ووتل: چې اې زمونږ لويه څښتنه ته هغه ددی لپاره پکښی پيداکوی چې په ځمکه باندې بدکارونه - فساد - او وينی تويول وکړی، په داسی حال کی چې مونږ ستادمهربانی ياده ونه اوپه پاکی سره تسليم ياستو، پاك الله ورته وويل هغه شی چې زه پری پوهيږم تاسوپه هغه باندی نه پوهيږی، دآدم (ع) دجوړولولپاره پاك الله جبريل ته امر وکړ، چې ځمکی ته ورشی اوله هغی څخه خاورې راواخلي خوکله چې جبريل ځمکې ته راغی هغې ورته وويل چې خدای ته وګوره له ماڅخه خارې مه اخله، جبريل دهغې زاری ومنلې بيرته خپل رب ته وروګرځيده، پاك الله ورته وويل چې ولې بيرته تش لاسونه راغلې، جبريل وويل: ستاپه نوم باندی يی زاری راته وکړی، بيا پاك الله ميکايل ته وويل چې ورشه خاورې ورنه راوړه، کله چې هغه هم ځمکی ته راغی هغې له ميکايل څخه هم دخدای

په نوم خلاصون او خدای ته تیښته وغوښتله، میکا یل هم هغه پریښودله ،اوبیرته خپل خدای ته وروګرځیده ،بیا ورسته پاك الله عزایل ورولیږه چې خاورې ورځخه راواخلي،خودې ورستي ته چې ځمکې هرځومره زاړه وکړلې اودخدای په نوم باندې یې له هغه څخه خلاصون وتیښته وغوښتله هغه ته دځمکې زاړه ونه منل شوې،لاسونه یې ورتیر کړل له هغې څخه یې خاورې راواخستلې، دلوی څښتن مخې ته یې راوړلې ، پاك الله ورته وویل: چې ولې تا دځمکې زاړه ونه منلې، هغه ورته وویل چې ستا د امر په ځای کیدل دهغې له زاریو څخه راته ښه او لوی ښکاره شو، نوځکه مې دهغې زاړه ونه منلې، پاك الله چې دهغه زیګوالی او زړه سختي ولید له ورته ویې ویل چې ته به دآدم (ع) او دهغه داولادې دارواګانو- ارواح – اخستونکی هم یې.

کله چې خاوره تیاره شوله ،لمده شوله، خټه ورځخه جوړله شوله، اوپخه شوله، بیانو لوی الله(ج) په خپل قدرت سره آدم(ع) ورځخه په ښکلی صورت جوړکړ، چې دې ده دجوړیدلو بیلګه به نورو کاینانوکي نه لیدل کیده.

پاك الله(ج) چې آدم (ع) په خپل لاس – قدرت- باندی جوړکړ،نوهغه یې په عقل سره له نوروپیدایښتونوځخه په عقل سره ځانګړي کړ،چې د ورکړشوي عقل له لارې به نورو مخلوقاتو باندې امریت وکړي او ترهر څه نه بروي ، که څه هم شیطان وي ، داځکه چې د آدم(ع)ترپیدایشت نه مخکې به شیطان خپل ځان ترنورو مخلوقاتو لوي او په هرڅه باندې به یې برګانه .

کله چې دآدم (ع) ځان هیکل تیارشو،اوجوړښت یې سرته ورسیده، نو بیا الله(ج) څلویښت کاله دهغه جوړه شوې څیره دکودړي – کودي – غوندې دځمکې پر مخ باندی پریښودله ،په داسې حال کې چې منځ یې تش وبدون له اروا – روح – څخه په ځمکه باندې پروت وو،ملایکی به پری تللی اوراتللی،او دهغه په ښکلي انځورکې به یې دالهي قدرت لیدنه

کوله، خوکله به چی شیطان پری تیریده اویا ته وراته ،دهغه له پراته بد ن څخه به بیریده ،اوپه خپله پوښه به یی دهغه بدن ته لغته ورکوله، چی په وهلو سره به له هغه څخه دکودي اواز پورته کیده، چی دپاك خدای قدرت به پکښی ښکاره کیده ﴿خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ (14) الرحمن. ورسته بیا پاك الله(ج) اروا ـ روح ـ ته وپرمایل چه دآدم (ع) په بد ن کی ورننوزې ،کله چي اروا دهغه بدن ته ورننوتله ورخطا شوله ،په داخل دجسم کي په بیړې سره والوتله او دآدم (ع) په سر کی د پرنجید لو –عطس – په توګه سره ښکاره شوله، چی ملایکو ورته وویل وُوایه –الحمد لله – چی مورږ درته وُوایو – یرحمك الله – خدای د پرتا باندی مهربانی وکړې.

کله یي چي وویل الحمد لله ،پاك الله ورته وویل په تاباندي زما رحمت ومهرباني شه، بیاورسته کله یی چې اروا سترګو ته ورسید له ،لوڅی یی کړلې ګوری چی دجنت میوې ورته مخکې ښکا ریږي او ملا یکې ورته سجدی کوی، چې له دې ځایه دخوشحالي احساس وشعور ورسره راپیداشو.

کله چی یی اروا نس – ګیډی ـ ته ورسید ه دآرزوګانو دپوره کولو ا حساس پکښی راپیداشو، هڅه یی وکړه چی د جنت میوُو پو سی ور وپاڅی مخکی له دې نه چی اروا یی پښو ته ورسیږې، چې په دې هکله پاك الله (ج) وایي چي : ﴿خُلِقَ الْإِنسَانُ مِنْ عَجَلٍ سَأُرِيكُمْ آيَاتِي فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ (37) الانبیاء.

وایی چی ادم (ع) دجمعی – اودَ نی ـ په ورځ پیداشوې، په هغې کی جنت ته ور ننوتلی دَی او په هغې کې له هغه څخه را وتلَی ده،نوځکه دجمعي ورځ تر نورو ورځو مبارکه ګڼل کیږي. آدم (ع) ته لمړنی نبی ویل کیږی، چی رسول نه ورته ویل کیږی ځکه هغه لمړنی انسان وه ،نو چا ته به په الهی رسالت وهدایت سره راغلی وای؟.

کله چی دآدم(ع) پیدا یښت و جوړښت سرته ورسیدل ،او اروا یې په ځان کې په کراره شوله،نوپاك الله ملایکوته امروکړ چی هغه ته سر ټیټنه او سو جدی وکړی،ټولو دخدای امر پر ځای کړلو ،یوازی ابلیس سر غړ ونه وکړله ،دا ځکه چې هغه خو یو له ملا یکو څخه نه وو،او هغه ته –الجان – وایي چې له خورا سره سوزونکي اورڅخه الله(ج) ترآدم (ع) مخکي پیداکړي، او بل دا چې خپل ځان یي په آدم(ع) باندي بر او ترهغه څخه یي لوی ګانډه (وَالْجَانَّ خَلَقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَارِ السَّمُومِ (27) الحجر.

د آدم علیه السلام کیسه

د آدم پیدایښت

د آدم(۱) د خلقت کیسه د الله جل جلاله او د پرښتو په هغو خبرو سره پیل کیږي، کله چې پاك خدای پرښتو ته د دې یادونه وکړه چې دی په ځمکه کې خپل خلیفه (استازی) جوړول غواړي، او هغه استازی آدم او د هغه اولاده ده، دوی به په ځمکه کې ځای پر ځای کوي، او هلته به دوی د واك څښتنان ګرځوي، خو پرښتو د دې خبرې په آوریدو تعجب وکړ، ځکه هغه څوك چې په ځمکه کې د خدای استازیتوب کوي، نشي کولای د خدای لویي داسې وساتي لکه څرنګه چې په اسمان کې ساتل شوې ده، نشي کولی د اسماني ملکوت سره په رحمت او پاکۍ کې برابر پرځمکه کې خدایي ملکوت او لوړوالۍ وساتي، پاك خدای مخکې له آدمه هم بشر خلق کړی وو، خو په ځمکه کې یې فساد وکړ، همدا وجه وه چې پرښتو خپل رب ته په خطاب کې وویل: آیا ته په ځمکه کې داسې بشر پیدا کوې چې ستا له امر څخه سرغړونه وکړي، په ځمکه کې فساد خور کړي، وینې تویې کړي، په داسې حال کې چې مونږ ستا د جلال او لویۍ سره سم ستا پاکي یادوو ستا شکر اداء کوو، پرښتو خپل ځانونه له پیدا کیدونکي مخلوق (آدم) څخه غوره کښل کوم چې د ځمکې خلیفه ګرځول کیږي نو ځکه یې خپل رب ته دا خبرې یادې کړې، او داسې یې انګیرله چې دوی له هغه څخه د ځمکې په خلافت کې زیاته وړتیا لري، خو پاك خدای پرښتو ته د دغه پټ راز ځواب ورکوي او ورته وایي: چې د آدم د خلقت

حکمت یوازې ترما پورې ځانګړی دی، په کوم شي چې زه پوهیږم، تاسې نه پوهیږي:
(وَاِذۡ قالَ رَبُّكَ لِلۡملایکة اِنِّي جاعِلُ فِي الارضِ خَلِيفة، قالوا اَتَجعَلُ فِيها مَنۡ يُفسِدُ فِيها وَيَسۡفِكُ الدِّماءَ وَنَحنُ نُسَبِّحُ بِحَمۡدِكَ وَنَقَدِّسُ لَكَ، قالَ اِنِّی اَعلَمُ مالاتَعلَمُون) البقرة ۳۰
((اویاد کړه اې محمده) هغه وخت چې وویل رب ستا پرښتوته چې بیشکه زه ګرځوونکی یم په ځمکه کې د یوه خلیفه (استازي) نو وویل پرښتو آیا ګرځوې ته په ځمکه کې هغه څوک چې فساد به کوي په ځمکه کې، او تویوي به (په ناحقه سره) وینې، په داسې حال کې چې موږ تاته تسبیح او ثنا وایو، او نسبت د پاکۍ کوو تاته، وویل (الله جل جلاله د پرښتو په ځواب کې) بیشکه زه پوهیږم په هغه څه چې تاسې نه پرې پوهیږی)
د آدم منزلت
وروسته له دې چې پاك خدای آدم خلقکړ، د ټولو څیزونونومونه یې ورته وښودل، حقایق او ځانګیرنې یې ورته څرګندې کړې، ترڅو په ځمکه کې پاتې شي او له دغو شیانو څخه ریښتینې ګټه ترلاسه کړي.
بیا پاك خدای د دې اراده وکړه ترڅو دا نوی موجود (آدم) په ریښتینې بڼې سره پرښتو ته ښکاره کړي، او ورته څرګنده کړي، چې دغه نوی موجود کوم چې دوی یې شان سپك ګڼلی وو، له دوی څخه په علم او پوهه کې پیاوړی دی، نو ځکه یې له پرښتو څخه وغوښتل که چیرې تاسو په ریښتیا سره ترهغه غوره وئ او په ریښتیا د ځمکې د خلافت وړتیا لرئ، نو د دغو شیانو نومونه واخلئ او او په اړه یې موږ ته معلومات راکړئ.
خو پریښتې له ځواب ورکولو څخه پس پاتې شوې، او خپل رب ته یې د عذر په وړاندې کولو سره خطاب وکړ: موږ ستا پاکي وایو اې زمونږ ربه، هغه پاکي چې ستا له شان سره ښایي، هیڅکله ستا په ارادې اعتراض نه لرو، ځکه موږ علم نه لرو مګر همدومره چې تا موږ ته ډالی کړی، ته ترټولو ښه عالم یې پرټولو څیزونو پوره پوهه لرې، او ته ترټولو ښه د حکمت څښتن یې، هر هغه څه چې تا یې د کړلو خوښه کړې وي زمونږ خوښ دي.

پاك خدای آدم ته بلنه ورکوي ترڅو د پرښتو ښوونکی شي او ورته وايي: اې آدمه وښيه پرښتو ته هغه څه چې ما له دوی څخه پوښلي وو، نو په دې سره د آدم غوراوی او بهتري پر پرښتو ښکاره کيږي، دلته الله جل جلاله پرښتو ته خطاب کوي: آيا تاسو ته مې نه وو ويلي، چې زه ښه پوهيږم په هر هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، پرته له ما څخه نور پرې نه پوهيږي، زه تر ټولو ښه پوهيږم ستا سو په ښکاره خبرو او په هر هغه څه چې تاسو يې په خپلو نفسونو کې د ځانو سره پټ ساتی.

(وَعَلَّمَ آدَمَ الأسماءَ كُلَّها (٢) ثُمَّ عَرَضَهُمْ علَى الملايكة فَقالَ اَنبِؤونِي (٣)بِاسْماءِ هؤلاء اِنْ كُنتُمْ صادقِيْن)

ژباړه: او وښودل (الله) آدم ته نومونه ټولو شيانو، بيايې ورورانديې کړل هغه ټول شيان پرښتوته او وويل (الله) خبر راکړئ تاسې ماته په نومونو د دې شيانو سره که يې تاسې رينښتيا ويونکي (په خپلو دغو ويناوو کې)، (قالُوا سُبْحانَكَ لاعِلْمَ لنا اِلاماعَلَّمْتَنا اِنَّك اَنْتَ العَلِيْمُ الْحَكِيم) وويل (پرښتو) پاکي ده تالره (اې ربه له ټولو عيبونو او اعتراضونو) نشته هيڅ علم موږ لره مګر هغه څه چې ښوودلي دي تا مونږ ته، بې شکه ته، هم دا ته ښه عالم او ښه د حکمت څښتن يې.

(قَالَ يَا آدَمُ أَنبِئْهُم بِأَسْمَائِهِمْ ۖ فَلَمَّا أَنبَأَهُم بِأَسْمَائِهِمْ قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ غَيْبَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَأَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ) بقرة الآيَة ٣٣، ٣٢، ٣٤ .

وويل (الله) اې آدمه! خبر کړه دوی په نومونو د دې څيزونو، نو کله چې آدم خبر ورکړ دوی ته (په نومونو د هغو شيانو) وويل (الله)آيا نه وو ويلي ما تاسو ته چې بيشکه زه پوهيږم په پټو شيانو د آسمانونو او ځمکې او پوهيږم په هغو شيانو چې ښکاره کوی يې تاسې په (ژبه) او په هغو شيانو چې يئ تاسې، چې پټوی يې (په زړونو کې).

د آدم عزت او درناوی:

قرآن موږته له هغې مادې څخه خبرراکوي چې آدم ځينې جوړشوی دی (وَ اِذْقالَ رَبُّكَ لِلملايكَةِ اِنِّی خالِق بَشَرا مِنْ طِيْن) (۴) ص الاية ۷۱

((یادکړه هغه وخت) چې وویل رب ستا پرښتو ته چې بیشکه زه پیدا کوونکی یم دیوه بشر (آدم) له خټې څخه)
(وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن صَلۡصَٰلٖ(۵)مِّنۡ حَمَإٖ (۶) مَّسۡنُونٖ (۷)) الحجر الآیة ۲۸

(په تحقیق سره پیدا کړی مونږ انسان (آدم) له وچې خټې کړنګیدونکې (لکه کودی) له تورې شوې سخا کړی شوې (خټې) څخه.
(خَلَقَ الۡإِنسَٰنَ مِنۡ صَلۡصَٰلٖ كَٱلۡفَخَّارِ(۸)) الرحمن الآیة ۱۴ (پیدا کړی دی (الله) انسان (آدم) له خټې کړنګیدونکې وچې څخه لکه کودی (د خټې جوړشوی لوښی).
پاك خدای آدم له خټې څخه د انسان په څیره جوړکړ، دا انساني څیره یې همداسې پریښوده تردې چې په هغه اندازه وچ شو چې په ګوتوسره د کړنګیدو څخه یې غږ اوریدل کیده، همداسې یې له یوه پړاوه بل ته اړولی، بیا یې روح پکې پو کړ، په همدې توګه انسان تري جوت شو، له غوښې وینې او عصابو څخه جوړ شوی انسان، چې په خپله خوښه خوځي فکر او سوچ کوي.
بیا پاك خدای پرښتو ته امرکوي ترڅو د آدم درناوی وکړي، په وړاندې یې سجده اداء کړي، د عزت او د رناوي سجده نه د عبادت او لویې سجده، ځکه خدای پاك پرته له ځانه د بل چا په عبادت سره امر نه کوي.

(وَإِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقُۢ بَشَرٗا مِّن صَلۡصَٰلٖ مِّنۡ حَمَإٖ مَّسۡنُونٖ، فَإِذَا سَوَّيۡتُهُۥ وَنَفَخۡتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ) الحجر الآیة ۲۸- ۲۹

(اویادکړه هغه وخت) چې وویل رب ستا پرښتو ته چې بېشکه زه پیداکوونکی یم د یوه بشر له کودیو کړنګیدونکو وچو څخه (چې جوړشوي وي دغه کودي) له تورې خټې سخا شوې څخه، نو کله چې برار مې کړ دغه (بشر)او پو مې کړه په ده کې له روح خپل ځینې (او دی پرې ژوندی شو) نو پریوځی تاسې سجده کوونکي (دهغه د درناوي لپار).
په دې آیت کې پاك خدای آدم ته د دریو درناویو یادونه کړې:

الله وايي په خپل لاس مې جوړ کړ.

له خپل روح څخه مې په هغه کې پو کړ.

پرښتو ته يې هغه ته په سجده امر وکړ.

د پرښتو سجده او د ابليس سرغړونه:

د خداى د امر سره سم ټولو پرښتو آدم ته سجده وکړه، پرته له ابليس (شيطان) څخه، چې د خپل کبر اوغرور له مخې يې آدم ته له سجدې کولو سرغړونه وکړه، پاك خداى له هغه څخه د سجدې نه کولو د سبب پوښتنه وکړه، (سره ددې چې دى ښه پوهيده) نو ابليس په ځواب کې وويل: چې د آدم نه په جوړښت کې غوره دى، ځکه هغه له اور څخه جوړ شوى، په داسې حال کې چې آدم له خټې جوړشوى، او اور د ابليس په فکر له خټې څخه غوره او ښه دى، په همدې خبرې سره ابليس زيات تکبر او غرور ښکاره کړ، نو ځکه پاك خداى له جنته وشړه، ويې راټه تر قيامته يې پرې لعنت ووايه له خپل رحمت څخه يې محروم کړ.

(فَسَجدَ(٩) الملايكة كُلُّهُم اجمَعُون، اِلا اِبلِيس(١٠) استَكبَرَ وكانَ مِنَ الكافِرِين، قال يا اِبليس ما مَنَعَكَ انْ تَسئجُدَ لِما خَلَقتُ بِيَدى استَكبَرتَ ام كُنتَ مِنَ العالِيئن، قال انا خَيرٌ مِنهُ خَلَقتَنِى مَنْ نار و خَلَقتَه مِنْ طِيئن(١١)، قال فَاخرُج مِنها فَاِنَّكَ رَجِيم، وَاِنَّ عَلَيكَ لَعنَتي اِلى يَوم الدِّين) سورت ص الآيَة ٧٥-٧٤-٧٣.

(نو سجده وکړه پرښتو ټولو، مګر ابليس (چې هغه سجده ونکړه)او لويي يې وکړه او وو دى (په علم د الله کې) له کافرانو، وويل (الله) اې ابليسه څه څيز منع کړى يې له دې چې سجده وکړې، هغه څيز ته چې پيدا کړى دى ما په دواړو (بلاکيفه)لوسونوخپلو، آيا تکبر دې وکړ که يې ته له لويانو، وويل (ابليس) زه غوره يم له دغه (آدم) څخه، پيدا کړى د يم زه له

اوره او پیدا کړی د دی دغه (آدم) له ختې وویل (الله) نو ووځه له جنته (یاله پرښتې صورته اې ابلیسه) پس بیشکه ته رټل شوی یې)

آدم او ابلیس :

له جنته څخه د ابلیس شړل کیدل:

ابلیس د خدای له امر څخه سرغړونه وکړه، ځکه د هغه د امر سره سم یې آدم ته د درناوي سجده ونکړه، نو د دې کبر او غرور په جزاء کې هغه له جنته وشړل شو.

بیا یې د لوی خدای جل جلاله څخه وغوښتل ترڅو دی تر قیامته ژوندی پریږدي او د ژوند کولو نور مهلت هم ورکړي، پاك خدای جل جلاله د هغه غوښتنه ومنله او په دنیا کې یې نورمهلت هم ورکړ، ابلیس د خپلې دغې غوښتنې علت داسې څرګند کړ: اې زما ربه، ستا د هغه حکم په تړاو چې زه دې پرې هلاك کړم (له جنته دې وشړلم، او د خپل رحمته دې محروم کړم) زه به خپل آخري کوښښ کوم ترڅو د آدم اولاده ستا د نیغې لارې څخه بې لارې کړم او خپلې لارې ته یې راواړوم، د دې هدف لپاره به زه د هرې ممکنې وسیلې څخه ګټه اخلم، د هرې هغې لارې به ورته راځم چې توان یې لرم، د هغوی د غفلت او ضعف شیبې به په کلکه څارم، ترڅو د هغوی د تیرایستنې او فساد ځای پکې پیدا کړم او بیا به هملته خپل ناوړه پلان عملي کوم، زه به ډیری انسانان ستا د شکر داداء کولو څخه منع کړم.

پاك خدای په رټلو سره ورته وویل: له جنت څخه ووځه، پرتا به بد ویل کیږي او زما له رحمت څخه به لیرې وې، قسم یادوم چې جهنم (دوزخ) به ستا او ستا له ملګرو څخه ډکوم، د آدم له اولادې به هغه خلك هم ستا سره په دوزخ کې یوځای کوم چې ستا سره په دنیا کې ملګري وو.

الله جل جلاله همدغه قول په دې آیت کې داسې څرګند کړی:

(قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ(١٢)، قَالَ أَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ(١٣)، قَالَ إِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ، قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي(١٤) لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ، ثُمَّ لَآتِيَنَّهُم مِّن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَن شَمَائِلِهِمْ ۖ وَلَا تَجِدُ

أَكثَرَهُمۡ شَاكِرِينَ، قَالَ اخرُج مِنهَا مَذۡءُومًا مَّدۡحُورًا ۖ لَّمَن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمۡ أَجۡمَعِين) الأعراف الآيَة ۱۸-۱۳

(وويل (الله ابليس ته) نو كوز شه له دغه (آسمان يا جنت څخه) نه ښايي تاته (اې ابليسه دا كار) چې تكبر لويي وكړې په دې ځای كې نو ووځه (تري) بيشكه چې ته يې له ذليلانو څخه)، (وويل (ابليس چې اې الله) وګوره (مهلت راكړه) ماته (او مه مې وژنه) تر ورځې (د قيامت) پورې چې ستا بنده ګان بيرته راژوندي شي او بيرته له خپلو قبرونو راپاڅول شي)، (وويل (الله) بې شكه ته له مهلت ورکړل شوو ځينې يې (تراول پوكي پورې).

(وويل (ابليس) نو قسم دی په ګمراه كولو ستا ما لره چې خامخا به كينم زه دوی ته (انسانانوته د ښويولو لپاره) په لاره ستاكې (د اسلام نه به يې مخنيوی كوم) چې سمه پاكه لاره ده، بيا خامخا راځم زه دوی ته (په هر وخت كې) له وړاندې او وروسته د دوی او ښيو طرفو د دوی او كينو طرفو د دوی او نه به مومې ته ډيری د دوی شكر اداء كوونكي (مؤمنان)، (وويل (الله ابليس ته) ووځه له دې ځايه په بد حال مردود او رټل شوی (لرې كړل شوی له رحمته) (قسم دی) هرڅوك چې ستا متابعت وكړي له دغو (انسانانو) ډك به كړم له تاسې (له تا او ستا له ملګرو) ټولو څخه جهنم).

ګورو چې قرآن كله نا كله د ابليس دا كرغيړن هوډ داسې انځوري چې د الله جل جلاله صالح اونيك بنده ګان ځينې ايستل كيږي او مستثنی كيږي.

(وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَائِكَةِ اسۡجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبۡلِيسَ قَالَ أَأَسۡجُدُ لِمَنۡ خَلَقۡتَ طِينًا، إِقَالَ أَرَأَيۡتَكَ هَٰذَا الَّذِي كَرَّمۡتَ عَلَيَّ لَئِنۡ أَخَّرۡتَنِ إِلَىٰ يَوۡمِ الۡقِيَامَةِ لَأَحۡتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُ إِلَّا قَلِيلًا، قَالَ اذۡهَبۡ فَمَن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَاؤُكُمۡ جَزَاءً مَّوۡفُورًا، وَاسۡتَفۡزِزۡ مَنِ اسۡتَطَعۡتَ مِنۡهُم بِصَوۡتِكَ وَأَجۡلِبۡ عَلَيۡهِم بِخَيۡلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكۡهُمۡ فِي الۡأَمۡوَالِ وَالۡأَوۡلَادِ وَعِدۡهُمۡ ۚ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيۡطَانُ إِلَّا غُرُورًا، إِنَّ عِبَادِي لَيۡسَ لَكَ عَلَيۡهِمۡ سُلۡطَانٌ ۚ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلًا) الاسراء ۶۵-۶۱.

(یاد کړه هغه وخت) چې وویل موږ پرښتو ته چې سجده وکړئ تاسې آدم ته (د درناوي) نو سجده وکړه (ټولو) مګر یوازې ابلیس (چې سجده یې ونکړه)وویل (ابلیس د الله په ځواب کې)آیا سجده وکړم هغه چاته چې پیداکړی دی تا هغه له خټې، (ابلیس)زیاته کړه: خبر راکړه ماته له دې (سړي) چې پرما دې غوره کړی، قسم دی که وروستی دې کړم تروړځې د قیامت پورې نو خامخا به زه بیخ وباسم د اولادې د ده، مګر لږ د دوی (چې ستا په عصمت او ساتنه کې دي) (نو) وویل (الله) چې ځه نو هر چا چې متابعت وکړ ستا له دوی ځینې (اې شیطانه) نو بیشکه دوزخ جزاء ستاسې ده جزاء پوره، وخوځوه (راګیرکړه) هغه څوک چې وسه دې رسیږي پر هغه باندې له دوی نه، په غږ (بلنې) خپلې سره (فسادته)او راوګرځوه (راټول کړه ګمراهۍ ته) پردوی خپل سواره او خپل پیاده، اوشریك شه د دوی سره په مالونو او اولادونو کې او وعده کوه له دوی سره (ددروغو)، او نه کوي شیطان وعدې له دوی سره مګر په باطل (فریب سره چې خطا ورته ثواب ښکاري) بیشکه زما په خاصو بنده ګانو ستا هیڅ غلبه قدرت نشته، او ستا رب ښه کافي وکیل او ساتونکی دی (ستا له شر څخه د خالصو بنده ګانوخپلو).

الله جل جلاله پرښتو ته وویل: آدم ته د درناوي سرونه ټیټ کړئ، پرښتو د خدای د امر سره سم د آدم درناوئ پرځای کړ، یوازې ابلیس آدم ته له سجدې کولو سرغړونه وکړه، او د انکار په حالت کې یې وویل: څنګه هغه چاته سجده وکړم چې تا پیدا کړی دی له خټې څخه؟ څنګه زما نه هغه غوره کیدای شي په داسې حال کې چې زه د هغه نه د لوړ مقام درلودونکی یم؟ اې ربه! د انسان اړوند موږ ته خبر راکړه، چې ترموږ ټولو دې بهتري ورکړې، موږ دې هغه ته په سجده کولو وګمارلو، که چیرې زما مړینه ترقیامته وځنډوې نو زه به د هغه اولاده له یوه سره بې لارې کړم، مګر هغه لږ ټولی چې ستا په ساتنه کې وي زما د چل او دوکې څخه مستثنی دي، پاك خدای هغه ته په ګواښلو وویل: له دې ځایه په سپکاوي سره هغه ځای ته لاړشه چې د ځان لپاره دې غوره کړی، که چیرې د آدم له اولادې څخه څوك هم ستا ملګرتیا وکړي، نو ستا او ستا د ملګرو ځای

یوازې جهنم دی، او هغه یوه پوره او کامله جزاء ده، خدای پاك د ابلیس ګوابنه اوږدوي او وایي: د لارې یې وباسه! د خدای په ګناهونو کې یې ونښلوه، په لارو کوڅوکې کندې ورته وکینده، هرهغه چاته چې وسه دې پوره وي، د هغوی د تیر ایستلو لپاره خپل آخري کوښښ وکړه، د حرامو مالونو په لاسته راوړنه کې ورسره مرسته وکړه، ترڅو په دې حرامو مالونو سره د ګناهونو لاره هواره کړي، خپل اولادونه د خدای د نیغې لارې بې لارې کړي، په همدې حرامو مالونو یې فساد فحشاء، ظلم زیاتي ته وهڅوه، او په ټولو بې لاریو کې اوږه په اوږه ورسره مل اوسه، د دروغو وعدې ورکړه، بیا پاك خدای خپله خبره راګرځوي او وایي: بې شکه چې د شیطان ټولې ژمنې دروغ دي، وعدې یې حقیقت نلري، یوازې دا چې د خپلو ملګرو په سترګو کې خاورې اچوي، خبر اوسئ! چې د خدای په مخلصو بنده ګانو باندې د شیطان لاس رسی نشته، هیڅکله هم ابلیس پردوی نشي لاس بری کیدای، ځکه دوی په خدای توکل کړی، او خدای تر ټولو غوره او کافي مرستندوی دی.

(۱) قرآن د آدم سره د نبوت لفظ نه دی ذکرکړی، لکه څرنګه یې چې د نورو نبیانو سره یاد کړی، خو دایې یاد کړي چې پاك خدای بې واسطی خبرې ورسره کړې، امر یې ورته کړی، حلال او حرام یې ورته بیان کړي، چې همد ا د نبوت معنی کیدای شي .

په همدې بنسټ مونږ چې کله د انسان د تاریخ په اوږدو کې د نبیانو کیسې یادوو د آدم کیسه هم لکه څرنګه چې قرآن یاده کړې، همداسې بیانوو.

(۲)علم آدم الاسماء کلها: د اسماء نه مراد نومونه دي، مانا دا چې پاك خدای د آدم په زړه کې د شیانو پوهه پرته له تحدید او تعیین څخه وارواچوله، الله جل جلاله د انسان په شته استعداد سره په آدم کې اړین علم خلق کړ، ترڅو د شیانو په ریښتینې څیړې علم ولري، د خدای په سنتو روږدی وي، کوم چې د دغو څیزونو څارنه کوي، ګټه او تاوان یې وپیژني، دا خبره له واقعیت سره هم اړخ لګوي ځکه بشریت له خپل پلار څخه دا فطري استعداد په میراث وړی، ترڅو د تاریخ په اوږدو کې د دې

ځمکې رازونه پرې څرګند کړي، د طبیعت قوانین یې وپیژني، ترڅو پر ځمکه واك ترلاسه کړي، چې دا د خدای د همدې قول(اني جاعل فی الارض خلیفة) څخه څرګندیږي، ویل شوي چې پاك خدای په آدم کې د کایناتو د نومونوعلم پیدا کړ له آسمانونو، ځمکې، حیواناتو، نباتاتو، غرونو، سمندرونو او او نورو هغو څیزونو څخه چې آغوستل کیږي، په دینا کې او د دنیا اوسیدونکي ورته اړتیا لري، ترڅو په ځمکه کې ژوند وکړي، او دا خو په ځانګړې توګه د هغه چا لپاره اړین دي چې په ځمکه کې د خدای استازی اوخلیفه ټاکل کیږي.

(۳)انبؤوني: ما ته خبر را کړئ

(۴) طین: خاوره اوبه پرې ګډې (خټه)

(۵)صلصال: له صلصلة څخه اخیستل شوی، او هغه غږ(انګازې ته ویل کیږي)، چې مراد ځینې هغه وچه شوې خټه ده چې اور نه وي ورته رسیدل، کله چې په ګوتو سره کړنګ ورکړې نو غږ یا (صلصلة) اورې همدې ته صلصال وایي.

(۶)حمأ: هغه خټه چې رنګ یې اوښتی وي، او د اوبو له څنګه توره شوې وي.

(۷)مسنون : انځور شوې د مخ په انځور، او یا خالي شوې وي د انسان په څیره (اوځینې علماء یې په سخا شوې سره ترجمه کوي)

(۸)فخار: له خټو جوړ شوي لوښی.

(۹)سجده په اصل د ژبې کې تواضع او ځان لوړ نه ګڼلو ته وایي، چې په ټیټیدو او کږیدو سره اداء کیږي، خو په شرع کې هغه حالت ته استعمال شوې چې د عبادت په هوډ ټنډه پرځمکه کیږدي، په آیت کې له سجدې مراد د عزت او درناوي سجده ده، نه د عبادت او لویي سجده.

(۱۰)ابلیس علم عجمي دی، خو ابو عبیده وایي چې عربي دی، له ابلاس څخه مشتق(اخیستل) شوی، چې د ښیګڼې څخه د لریوالي او د خدای د رحمت څخه دناهیلۍ معنا ورکوي .

(۱۱)ابليس وايي چې اور له خټې څخه غوره دی، ځکه چې اور ځليدونکی او د لوړوالي خاصيت لري،(پورته ځي) نرم دی، د اسماني ستورو سره نيږدې دی، او خټه خو ټول وخت تر پښولاندې خاصيت لري، بل داچې اور د ځواکمنې اغيزې څخه برخمن دی، او ځمکه هيڅ ځواک نلري، يوازې بايد ومنې او حس کړي.

(۱۲)صاغرين : ذليلان (من الصاغرين) له ذليلانو، سپکو څخه.

(۱۳)يبعثون : را ژوندي کيدل، بعث د قيامت په معنی دی، هغه ورځ چې الله جل جلاله خلك له قبرونو را ژوندي کوي.

(۱۴)الاغواء : هلاکت، ځينو ويلي چې په زړه کې د (غی) وراچول دي چې (غی) بې لارې کولو او په باطل باندې اعتقاد ته ويل کيږي.

د ابراهيم عليه السلام کيسه په قران کې

ابراهيم د نبيانو پلار

ابراهيم عليه السلام د دری ګونو دينونه د اتباعو لپاره لوړ منزلت لري، دريو واړو دينونو يهوديت، مسيحيت او اسلام ته محترم دی، تل يې نوم په اکرام، عزت او دعا سره يادیږي، هغه د اولوالعزمو رسولانو له جملې دی، د يوه خدای عبادت او يووالي ته په دعوت کې يې ډير جهادونه کړي، د خپلې عقيدې په لاره کې يې ځان هلاکت ته وړاندې کړی، ژوند يې د خپل رب په وړاندې د قربانيو سلسله ده، د ده په اخلاص او خدای ته په محبت سره راتلونکو ملتونو ته مثال وړاندې کيږي.

لکه څرنګه چې د هغه لوړمنزلت په دې سره هم جوت دی چې هغه د نبيانو پلار دی(هراسماني کتاب چې وروسته له ابراهيم عليه السلام څخه په کوم نبي له نبيانو نازل شوی، نو هغه رسول د ده د اولادې څخه دی) دا دومره لوړه رتبه ده چې ساری يې نه ليدل کيږي.

د ابراهيم عليه السلام دوه زامن اسماعيل او اسحق الله جل جلاله د نبوت

لپاره غوره کړي، اسماعیل د محمد صلی الله علیه وسلم او د حجاز د عربو نیکه ګڼل کیږي، ځکه چې د حجاز د عربو د نسب سلسله د اسماعیل دوو زامنو ته ورګرځي، چې هغه دواړه یو نابت او بل قیذار نومیدل.

قرآن هم ابراهیم علیه السلام ته د عربو د پلارواليي اشاره کړې، چې عربو مؤمنانو ته په خطاب کې وایي:(وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ۚ مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ ۚ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ) الحج ۷۸.(اونه یې دی ګرځولی په تاسې (کې د منلو) د دین په(هکله) هیڅ حرج،(متابعت وکړئ د) دین د پلار خپل ابراهیم، هغه)الله) ونومولی تاسې مسلمانان پخوا(له نزوله د قرآن څخه.(

اسحق علیه السلام ته خدای یو زوی په برخه کړ چې نوم یې یعقوب پرې کیښود، او همدغه یعقوب په اسرائیل سره یادیږي، چې د بنې اسرائیلو ټول شاخونه همده ته منسوب دي، پاك الله په بني اسرائیلو کې ډیر نبییان مبعوث کړي، چې وروستۍ یې حضرت عیسی بن مریم دی، کوم چې خپلو اتباعو ته یې ویلي: ابراهیم ستاسو پلار دی، چې زما دغه ورځ ورته ښکاره کړی شوه نو ویې ولیده او زیات خوشحاله شو.

قرآن هم دیته اشاره کړې چې ابراهیم د ټولو هغو نبیانو پلار تیر شوی، کوم چې تر ده وروسته مبعوث شوي، پاك خدای وایي:(وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ ۚ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوحًا هَدَيْنَا مِن قَبْلُ ۖ وَمِن ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ وَهَارُونَ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ، وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلْيَاسَ ۖ كُلٌّ مِّنَ الصَّالِحِينَ، وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا ۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ) الانعام ۸۴،۸۶.

)او پیرزو کړل مورږ ابراهیم ته اسحاق او یعقوب، ټولو ته هدایت کړی وو مورږ، او نوح ته مو هدایت کړی وو پخوا(له ابراهیمه)، (او هدایت کړی وو مورږ) اولادې د ده ځینې داود او سلیمان ته، او ایوب او یوسف ته، او موسی او هارون ته، او همداسې (لکه دغو نبیانو ته مو چې ډیر اجرونه او ثوابونه ورکړي) بدله ورکوو مورږنورو نیکاته(له همدې آیت څخه څرګندیږي چې ابراهیم علیه السلام د یهودو،

نصاراوو او مسلمانانو دری واړو نیکه دی، د دری واړو دینونو نبیان همدته په نسب کې منسوبیږي، نو دری واړه دینونه یو بنسټ لري، د یوه هدف لپاره نازل شوي، چې هغه د خدای په لارښوونو عمل کړل، د خدایي کتابونو متابعت کول او د یوه خدای عبادت ته بلنه ده.

ابراهیم او د بوتانوعبادت

د بابل په ځمکه د ابراهیم نشأت:

که موږ د علماوو څیړنې د هغه څه سره پرتله کړو چې په سفر التکوین کې ذکر شوي، نو دې پایلې ته به ورسیږو چې د ابراهیم علیه السلام وخت او زمانه تر میلاد مخکې دوهمې زریزې ته رسیږي، په مخکنیو زمانو کې هم همداسې فکر کیده، بلکه د ابراهیم علیه السلام زمانه په نولسم قرن او یا په دقیقه توګه په اولسم قرن کې مخکې له میلاده تیره شوې ده.

د ابراهیم علیه السلام د خپوړو ښار (اور الکلدانیة) وو، چې نن ورځ د (مُغَیر) په نامه سره شهرت لري او د دجلة او فرات ترمنځ جنوب ته څیرمه واقع دی، بیا وایي چې ابراهیم علیه السلام د خپل پلار سره د (حاران) ښار ته سفر وکړ چې د دواړو نهرو ترمنځ لودیځ لوري ته موقعیت لري.
عربي مصادر بیا راوړي چې د ابراهیم زیږدنه په بابل کې وه ، د یاقوت په نامه تاریخ پوه د بابل ځمکه داسې انځوروي او وایي: بابل د دجلة او فرات تر منځ واقع دی چې (سواد) ورته ویل کیږي، او د ابراهیم علیه السلام زیږدنه د ملك نمرود بن کنعان بن کوش په زمانه کې وه.
له تاریخ څخه څرګندیږي چې ابراهیم علیه السلام هم هغه وخت په عراق کې ژوند کړی کله چې په عراق باندې د بابل مدنیت سیطره درلوده.

ابراهيم او د بابل باطل خدايان:

اوس راځو ديته چې د بابل د اوسيدونکو عقيده څه وه؟ چې پوهاوی يې مونږ ته د قرآن د هغه آيتونو پوهه آسانه کوي کوم چې د ابراهيم عليه السلام د قوم معتقدات په کې نغښتي.

)د بابل اوسيدونکو ډير خدايان درلودل... هغه داسې چې د هر ښار لپاره ځانګړی خدای وو چې ځارنه يې ورځنې کوله، بيا د هرې محلې او هر کلي لپاره واړه واړه خدايان وو چې عبادت يې کيده او اخلاص يې ورته درلود، حال داچې دا ټول ښارونه او کلي بيا په ټولیزه توګه رسما يوه لوی خدای ته تابع وو، ورو، ورو د خدايان دا ډيره شميره راټيټيده، دا هغه وخت کله چې واړه خدايان ټول د غټ خدای انځورونه او صفات ونومول شول، په همدې توګه)مردك) د بابل د ټولو وړو خدايانو غټ خدای پاتې شو.

پاچايانو ځانونه د خدايانو مغفرت ته کلك محتاج احساسول، نو ځکه يې د هغوی د هيکلو په جوړښت کې ډيره مبالغه کوله، تردې چې ښځينه يې هم ورسره ملګرې کړې وې او د خوراك او شرابو تابيا يې ورته کوله(په همدې ټولنه کې چې ډيری خدايانو ورباندې ولکه کړې وه او مختلفې ځيرې د عبادت لپاره ايښودل شوې وې، پاك خدای جل جلاله حقيقت او هدايت ابراهيم عليه السلام ته په برخه کړ، چې په ځواکمن فکر او د رب په وحی سره يې خلك د يوه ريښتيني خدای يووالي ته را وبلل، او ورته ويې ويل چې همغه لوی خدای په نړۍ باندې برلاسي لري، او ټول امور د همغه په لاس کې دي، په دې لاره کې يې د ټينګ عزم څخه کار واخيست، تر څو ګمراه شوي قوم ته نجات ورکړي له بدمرغيو يې وژغوري، لارښوونه ورته وکړي او له هغه څه څخه يې منع کړي چې په نا حقه پرې بوخت دي.

الله جل جلاله همدا ټکي راته بيانوي او وايي:
)وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ إِبۡرَٰهِيمَ رُشۡدَهُۥ مِن قَبۡلُ وَكُنَّا بِهِۦ عَٰلِمِينَ، إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِيٓ أَنتُمۡ لَهَا عَٰكِفُونَ، قَالُواْ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عَٰبِدِينَ، قَالَ لَقَدۡ كُنتُمۡ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُمۡ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ، قَالُوٓاْ أَجِئۡتَنَا بِٱلۡحَقِّ أَمۡ أَنتَ مِنَ ٱللَّٰعِبِينَ، قَالَ بَل رَّبُّكُمۡ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ)

الأنبياء ۵۱، ۵۶.
او ورکړې وه موږ ابراهيم ته حقه لار پخوا او موږ ورباندې پوه وو، کله چې وويل ابراهيم خپل پلار او قوم ته، څه دي دغه بوتان چې تاسې دوی ته ولاړ ياست په عبادت سره، وويل دوی: موږ خپل پلرونه دغو(بوتانو) ته عبادت کوونکي موندلي، وويل(ابراهيم) بې شکه تاسې او ستاسې پلرونه په ښکاره ګمراهۍ کې ياست(په سبب د بوتانو د عبادت) وويل(بابليانو) آيا ته راغلی يې موږ ته په ريښتينې لاره يا داچې له لوبو کوونکو ځينې يې، وويل (ابراهيم) رب ستاسې رب د آسمانو او ځمکې دی، هغه (الله) دی چې دا (ځمکه او آسمانونه يې) پيدا کړي، او زه په دغو(چې ومې ويل) له شاهدي ورکوونکو ځنې يم.

دوی د خپلو پلرونو د بوتانو عبادت کول د خپل عبادت تحليل او دليل بيانولو، او ويل يې پلرونو مو په دې توګه عبادت ترسره کړی نو موږ هم په هغوی پسې اقتداء کوو.
دا هغه نه منونکی دليل دی چې تل يې فاسد خلك د نيکانو په څيره بيانوي، د څارويو په شان د خپلو تيرو مشرانو متابعت کول څومره د عقل نه لرې خبره ده، په هره زمانه کې دا رنګه ضعيف دليلونه وړاندې کيږي، او په دې سره مفسدين ځانونه نيکان او په حقه لار څرګندوي.
ابراهيم د دې اراده کړې وه چې خپل قوم ته له بوتانو نجات ورکړي، له ټولو هغو خرافاتو و غير معقولو اعتقاداتو څخه يې وژغوري چې د دوی د هلاکت سبب ګرځي، کوښښ يې کولو ترڅو قوم يې هغه لوړ حقيقت ته ورسيږي چې هر انسان ته يې پوهاوی په کار دی، هغه حقيقت د يوه الله

عبادت کول دي، په همدې ټکی ابراهيم خپل قوم ته خطاب کړی چې قرآن يې را ته داسې بيانوي

:

)قَالَ أَفَرَأَيْتُم مَّا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ، أَنتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ، فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّي إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ، الَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ، وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ، وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ، وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ، وَالَّذِي أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ) الشعراء ۷۵-۸۲.

وويل (ابراهيم) آيا پوهيږئ تاسې په هرهغه څه چې عبادت يې کوئ، تاسې او (عبادت يې کولو) ستاسې پلرونو مخکينيو، دغه (معبودان) دښمنان دي زما مګر رب العالمين(چې دوست يې لرم او عبادت يې کوم)، هغه (رب) چې پيدا کړی يې يم زه او همدی لارښوونه راته کوي، او هغه (رب) چې ډوډۍ را کوي او اوبه راباندې څښي، او کله چې ناروغ شم نو همدی شفاء راکوي، او هغه (رب) چې مړ کوي مې بيا مې ژوندی کوي، او هغه (رب (چې هيله لرم د دې چې ښښنه به راته وکړي د ټولو خطاياوو په ورځ د جزاء.

دا د ابراهيم ريښتينی ايمان وو، دا هغه ايمان دی چې په ټولو اعضاوو خپل خدای ته يو څوك تسليم شي، هغه ايمان دی کوم چې د نفس نه ټول غمونه کړاوونه لرې باسي، بيا اطمينان او نيکمرغي پرې پيرزو کوي، دا هغه ايمان دی چې انساني نفس له ټولو خيالاتو او ناروا خرافاتو ژغوري، نو نشته هيڅ روزي ورکوونکی، نه هم شفا ورکوونکی، نه ژوندی کوونکی، نه مړ کوونکی، نه د ګناهونو بښونکی مګر يوازې د عالميانو پيدا کوونکی الله جل جلاله دی.

ابراهيم خپل پلار ته د وحدانيت بلنه ورکوي:

د ابراهيم عليه السلام پلار د بوت پرستانو په سر کې وو، نه يوازې د بوتانو عبادت به يې کولو بلکې جوړوونکی او پلورونکی يې هم وو، ابراهيم عليه السلام ته د خپل پلار کړنې نه منونکې بريښيدې، نو ځکه يې خپل لمړنی واجب دا وبللو ترڅو تر ټولو نيږدې کس(پلار) په نصيحت

او دعوت سره ځانګړی کړي، د کفر له عاقبت او بد برخليك څخه يې وويروي.

خو ابراهيم په کومه لهجه خپل پلار ته نصيحت کړی؟ هغه په داسې نرمه ژبه خپل پلار ته خطاب کړی، چې له يوې خوا پوره ادب او نرمي پکې مراعات شوې او له بله پلوه د بوتانو د عبادت د بطلان پوره عقلي دليل او برهان هم پکې څرګند دی.

﴿إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعۡبُدُ مَا لَا يَسۡمَعُ وَلَا يُبۡصِرُ وَلَا يُغۡنِي عَنكَ شَيۡـٔٗا، يَا أَبَتِ إِنِّي قَدۡ جَآءَنِي مِنَ ٱلۡعِلۡمِ مَا لَمۡ يَأۡتِكَ فَٱتَّبِعۡنِيٓ أَهۡدِكَ صِرَٰطٗا سَوِيّٗا، يَا أَبَتِ لَا تَعۡبُدِ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ عَصِيّٗا، يَا أَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٞ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ فَتَكُونَ لِلشَّيۡطَٰنِ وَلِيّٗا، قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنۡ ءَالِهَتِي يَا إِبۡرَٰهِيمُۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ لَأَرۡجُمَنَّكَۖ وَٱهۡجُرۡنِي مَلِيّٗا، قَالَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكَۖ سَأَسۡتَغۡفِرُ لَكَ رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ بِي حَفِيّٗا، وَأَعۡتَزِلُكُمۡ وَمَا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَأَدۡعُواْ رَبِّي عَسَىٰٓ أَلَّآ أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّي شَقِيّٗا﴾ مريم ۴۱-۴۹.

او یاده کړه(اې محمده خپل امت ته) په کتاب(قرآن) کې (کیسه د (ابراهیم، بیشکه چې هغه وو ریښتینی نبي، کله چې وویل (ابراهیم) خپل پلار ته اې پلاره زما! د څه لپاره د هغه څیز عبادت کوي چې نه آوري او نه ویني او نه دفع کولی شي له تا هیڅ شی، اې پلاره زما! بیشکه ماته راغلې د علم هغه اندازه چې تاته نه ده راغلې نو متابعت وکړه زما ترڅو وښیم تاته لاره سمه برابره، اې پلاره زما! مه کوه عبادت د شیطان بیشکه شیطان دی له رحمانه ډیر سرکښه، اې پلاره زما! بیشکه زه ویریږم له دې چې وبه رسیږي تاته عذاب له لوریه د رحمان(الله جل جلاله نه) نو شې به ته ملګری د شیطان (په جهنم کې(، وویل(پلار د ابراهیم) آیا مخ ګرځوونکی یې ته له خدایانو زما اې ابراهیمه؟ که له دې کاره منع نه شوې نو وبه دې ولم په تیږو پرې مې ږده(لاړ شه له مانه) ډیر وخت(ترڅو ضرر مې درونه رسیږي)، وویل (ابراهیم) سلام دې وي پرتا تاته به مغفرت

وغواړم له رب خپله بيشکه چې الله دی پرما ډير مهربانه، څنګ به وکړم زه له تاسې او له هرهغه څه چې تاسې يې پرته له الله عبادت کوئ او د خپل رب عبادت به کوم، هيله لرم چې نشم په عبادت د رب خپل کې بد مرغه.(

وګوره! څومره په زړه پورې خبرې دي چې د آوريدونکي احساسات راپاروي، ابراهيم د هر نصيحت په بيان کې خپلې خبرې څومره نرموي، د هر نصيحت په سر کې وايي (يا أبت) اې پلاره زما، ترڅو د پلار زړه يې نرم شي، خبره ومني او ورسره د کامل ادب مراعات وشي. ابراهيم خپل پلار ته سم د واره داسې عقلي دليل بيانوي: د څه لپاره د يو داسې جماد عبادت کوې چې نه آوري او نه وينې، او نه هم د دې توان لري چې تاته ښيګڼه يا بدي ورسوي، په دې پسې ابراهيم خپله لارښوونه پسې غځوي خپل پلار د حق لوري ته په ډيره ځيرکتيا سره را بولي، نه ورته وايي چې ته د سره په هيڅ نه پوهيږې ځکه ويريږي چې دا خبره به يې پلار د ځان لپاره سپکاوی وبولي او ورځنې لاړ بشي، او نه هم ځان په ډير علم سره ستايي د دې لپاره چې د پلار په وړاندې لويي تري ونشي چې په پايله کې به يې پلار ورڅخه کرکه پيدا کړي، بلکه ورته وايي ماته يوه اندازه د علم د الله له لوري را رسيدلې، ناشونې ده چې تاته دې هم ورته علم ورسيږي، نو زما متابعت وکړه ځکه زه دې په نيغه لاره برابروم، او هغه شيطان چې د خدای د امرونو نه يې سرکښي کړې ستا لوی دښمن دی، ځکه چې ته يې د ګمراهۍ په لاره غولولی يې ترڅو د الله جل جلاله عذاب ته دې پرې ورسوي.

خو پلار يې پرې را وړاندې کيږي او ورته وايي: عجيبه ده، آيا ته د بوتانو له عبادت څخه مخ اړوې اې ابراهيمه؟ که چيرې دا کار پرې نږدې او د بوتانو له عبادت څخه مخنيوی وکړې په تيږو به دې وولم، نو که د ځان لپاره نجات غواړې له ما نه لرې لاړ شه ډيره موده ماته مه راځه. ابراهيم د خپل پلار دا خبرې په ورته عمل سره بدرګه نه کړې، بلکې ورته ويې ويل (سلام عليك) په تا دې سلام وي اې پلاره زما، معنا داچې زما له لوريه به تاته هيڅ ضرر نه رسيږي، ته به له مانه اذيت نه شې، زما له پلوه

به په سلامتيا سره اوسيږي، زه به د خپل خداى نه وغواړم چې تاته بښنه وکړي او سزا درنکړي، پاك خداى زه د دعاء په قبلولوسره عادت کړى يم، که چيرې د ايمان لوري ته زما بلنه تا اذيت کوي نو زه به تا له خپله قوم سره پريږدم، او ورسره به له ټولو هغو معبودانو څنګ وکړم چې تاسې يې عبادت کوئ، د خپل يوه خداى عبادت به وکړم، هيله لرم چې د خپل خداى په عبادت کې سستي و نکړم په هغه څه وخت ضايع نکړم چې تاسې يې عبادت کوئ.

ابراهيم د خپلې ژمنې سره سم خپل پلار ته د مغفرت غوښتنه وکړه، مګر کله چې د هغه له ايمان راوړلو ناهيلى شو او وپوهيده چې هغه د خداى دوښمن دى نه غواړي چې د بوتانو عبادت پريږدي، نو ورڅخه بيزاره شو، لکه څرنګه چې په قرآن کې همداسې راغلي.

﴿وَمَا كَانَ ٱسۡتِغۡفَارُ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوۡعِدَةٖ وَعَدَهَآ إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوٞ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنۡهُۚ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ حَلِيمٞ﴾ توبه ۱۱۴.
او نه وه بښنه غوښتل د ابراهيم لپاره د پلار خپل مګر په سبب د هغه ژمنې چې ورسره کړې يې وه، خو کله چې ورته څرګنده شوه چې هغه د خداى دوښمن دى تري بيزاره شو، بيشکه چې ابراهيم ډير په زړه نرى حليم وو.

ابراهيم بوتان ماتوي

ابراهيم عليه السلام دا په زړه کې غوټه کړې وه چې ټول هغه بوتان به له منځه وړي کوم چې قوم يې عبادت کوي، نو د ماتولو قسم يې ياد کړ، دا د دې لپاره ترڅو خپل قوم ته په عملي توګه ښکاره کړي چې بوتان نه چاته ضرر رسولى شي او نه هم ګټه، نه د ځانه دفاع کولى شي او نه هم هغه چاته کوم زيان رسولى شي چې ضرر ورته رسوي، دا يو قوي دليل او

عملي طريقه وه چې دا رنګه عملي دليلونه په نفسونو باندې کلکې اغيزې لري او په وعظ هدايت او لارښوونه کې غوره لار بلل کيږي.

د همدې لپاره ابراهيم د دغه تصميم د عملي کولو لپاره د مناسب وخت په لټه کې وو تر دې چې د دوی د اختر ورځ راورسيده، نو پلار يې ورته وويل: اې ابراهيمه! نن د اختر ورځ ده، که زموږ سره ووځي او په دې لمانځنه کې راسره ونډه واخلې غوره به وي، ترڅو زړه دې خوشحاله شي، د غوښتنې سره سم ابراهيم له دوی سره ووت، خو ناڅاپه يو عذر ورته پيدا شو چې د پاتې کيدو لپاره ورته بانه شوه، په ستورو کې يې وکتل او ويې ويل: ما خپلې طالع وکتلې فکر کيږي چې د وبا مرض سره مخامخ کيدونکی يم، د همدې خبرې سره يې قوم په ځان وډار شو ترڅو دا مرض دوی ته سرايت ونکړي، نو ځکه يې پريښود، همدا فرصت يې مناسب وباله او هغه ځای ته راغې کوم چې هلته بوتان د عبادت لپاره درول شوي او د ماتولو هوډ يې وکړ.

ابراهيم د بوتانو ځای ځايګوټې ته ورسيد، ټول يو د بل ترڅنګ درول شوي وو چې په منځ کې يې ترټولو لوی بوت ولاړ وو، مخکې يې د خوراك او څښاك هغه توکي ايښي وو چې قوم يې د قربانۍ په منظور راوړي وو ترڅو د دوی په ګمان د بوتان خوراك شي، ابراهيم عليه السلام په تمسخر سره خطاب ورته وکړ: آيا تاسې نه خورئ!! کله يې چې د هيڅ يوه نه ځواب ترلاسه نکړ بيا يې ورته وويل: څه دربانديې شوي چې خبرې نه کوئ؟ بيا يې په ښي لاس د وهلو پيل پرې وکړ، ټول يې د يوه سره په تبر مات کړل، وړې وړې ټوټې يې ترې جوړې کړې، تر غټ بوت پورې دا لړی را ورسيده(کوم چې د دوی لپاره ترټولو بوتانو لوی او محترم وو) مات يې نکړ او تبر يې د هغه په لاس کې ځوړند پريښود او له بوتخانې رابهر شو، دا آيتونه پدې تړاو تلاوت کړئ:

وَإِنَّ مِن شِيعَتِهِ لَإِبْرَاهِيمَ، إِذْ جَاءَ رَبَّهُ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ، إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَاذَا تَعْبُدُونَ، أَئِفْكًا آلِهَةً دُونَ اللَّهِ تُرِيدُونَ، فَمَا ظَنُّكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ، فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ، فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ، فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ، فَرَاغَ إِلَىٰ آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ، مَا لَكُمْ لَا تَنطِقُونَ، فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ) الصافات ۸۳،۹۳.

او بیشکه یو له تابعانو د ده(نوح) ابراهیم وو، کله چې په پاك سپیڅلي زړه سره خپل رب ته راغی، کله چې یې وویل خپل پلار ته د څه شي عبادت کوئ تاسې، آیا د دروغو خدایان پرته له الله غواړئ تاسې، څه ګمان کوئ په رب د عالمیانو(چې پرته له عذابه به مو پریږدي)، بیا یې وکتل یو نظر په ستورو کې، نو ویې ویل(ابراهیم) بیشکه زه ناروغ یم، پس په شا لاړل هغوی له ابراهیمه، بیا پټ راغی(ابراهیم) د دوی خدایانوته او ورته ویې ویل: آیا تاسې نه خورئ! څه شوي دي پرتاسې چې خبرې نه کوئ، بیا یې پټ په ښي لاس د وهلو برید پرې وکړ

همدارنګه وایي:

وَتَاللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُم بَعْدَ أَن تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ، فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ) الأنبياء ۵۸-۵۹.

او قسم دی په الله چې پلان به جوړوم ستاسې بوتانو ته هغه وخت چې لاړشئ تاسې شاکوونکي (بوتانوته)، نو ټوټه ټوټه یې کړل پرته له لوی بوت څخه(چې مات یې نکړ او تبر یې په اوږه ورته ځوړند کړ)(د دې لپاره ترڅو (کیدای شي بیرته ورته را وګرځي(او د دغه پیښې پوښتنه ترې وکړي.(

ابراهیم د بوتانو په ماتولو سره خپل قوم ته یو حسي دلیل جوت کړ، ترڅو وپوهیږي چې د بوتانو عبادت کول یو باطل کار دی، ځکه که چیرې ریښتیني خدایان وی نو لږ ترلږه د ځان نه خو به یې دفاع کړې وه، لږ ترلږه هغه چاته خو به یې څه غبرګون ښکاره کړی وو چې د دوی د ماتولو هوډ

يې کړی.
همدغه ریښتیني حقیقت د جاپان امپراطور (هیډیوچي) ته هم څرګند شوی وو، کله یې چې د بودا لپاره د لوی عبادتځای په جوړولو پیل وکړ...د عبادتځای ساختمان لا پای ته نه وو رسیدلی چې ۱۵۹۶ کې ځمکه زلزلې ولړزوله او عبادتځای را پریوت
...
روایت شو چې جاپاني امپراطور(هیډیوچي) بوت په غیشي ووشتو او په ریشخندی سره یې ورته وویل: ما دلته په ډیرو زیاتو لګښتو سره جوړ کړی وې، خو تا د خپل عبادتځای ساتنه هم ونکړی شوه.
د ابراهیم محاکمه :
قوم د اختر د لمانځلو څخه وروسته بیرته را وګرځیده د بوتانو کړیدلی حالت یې ولیده، له دې پیښې سخت وډار شول، په خپلو کې یې یو له بله وپوښتل چې دا ظالم څوك دی، څوك دی چې زموږ سپیځلي ځایونه یې دا رنګه په بل مخ اړولي، د خبرو په همدې راکړه ورکړه کې ځینو وویل: موږ آوریدلي چې یو ځوان بوتانو ته بد وایي او هغه ځوان ابراهیم بولي، د هغه عادت وو چې د بوتانو عیبونه به یې یادول، تمسخر به یې پرې کولو، موږ ګمان کوو چې همغه به دا کار کړی وي.

په بوتانو د تجاوز خبر ترحاکمانو پورې ورسید، خپلو لښکرو ته یې وویل :راولئ هغه ابراهیم چې د خلکو په وړاندې یې محاکمه کړو، هغه شاهد دې را مخې ته شي چې له ابراهیمه یې د بوتانو عیبونه آوریدلي او دا چې هغه د شر تکل ورته کړی وو
.
ابراهیم را وستل شو، حاکمانو ترې وپوښتل(آیا تا زموږ په خدایانو داسې کړي دي اې ابراهیمه؟)ابراهیم وپوهیده چې اوس د دې وخت را رسیدلی ترڅو حقیقت څرګند شي او دوی پرې اقرار وکړي، نو په ډیر وړ او له حکمت څخه په ډك ځواب سره یې ځواب ورکړ او ورته ویې ویل چې د بوتانو ماتوونکی زه نه بلکې هغه لوی بوت دی، وګورئ! په کړنه یې

شاهدان نور بوتان دي، ابراهيم خپلې خبرې لا پسې اوږدې کړي او زياته يې کړه: پوښتنه ترې وکړئ که چيرې خبرې کولی شي،هغه لوی بوت په غوصه شوی وو، او له دې نه تنګ شوی وو چې د وړو بوتانو عبادت دې هم وشي په داسې حال کې چې دی ترټولو لوی دی، نو ځکه يې ټول مات کړل.

يو د يوه قوم په ناڅاپي توګه د يوه نوي فکر سره ټکر کوي، داسې يوې خبرې ته يې ابراهيم متوجه کوي چې سم د واره يو بل ته په ګواښلو پيل کوي او وايي: ظالمان خو تاسې يئ چې د داسې څيز عبادت کوئ چې خبرې نشي کولی، تاسې ظالمان يئ چې ابراهيم مو تورن کړی دی، د څو شيبو لپاره له شرم نه سرونه ځوړند کارته اچوي، بيرته خپلې مجادلې ته راګرځي او وايي :اې ابراهيمه ته خو پوهيږې چې دغه بوتان خبرې نشي کولی، څنګه له موږ غواړي چې پوښتنه ترې وکړو؟...همدلته يو ځل بيا د ابراهيم يو بل لوی دليل ښکاره کيږي چې غوږونه سوري کوي او ژبې ګونګوي د دوی د خبرې په ځواب کې داسې وايي:

)أَفَتَعبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمۡ شَيۡئٗا وَلَا يَضُرُّكُمۡ ، أُفّٖ لَّكُمۡ وَلِمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ)الأنبياء ۶۷-۶۶.

آيا تاسې پرته له الله د هغه څيز عبادت کوئ چې نه تاسې ته ګټه رسولی شي او نه تاوان، افسوس(هلاکت) دی تاسې ته او هغه څه ته چې تاسې يې پرته له الله عبادت کوئ، آيا تاسې له عقل نه کار نه اخلئ. دا آيت په هر وخت او زمانه کې د هغه چا لپاره پوره درس او کامل دليل دی چې پرته له الله د نورو څيزونو عبادت کوي

.

خو کله چې ناپوهي په نفسونو غلبه پيدا کړي، او ړوند تعصب زړونو ته ښکته شي، نفسونه د سپکاوي داسې درجې ته رسوي چې بيا صحت د اشياوو نه ورته څرګندیږي، د همدې لپاره کله چې د ابراهيم قوم په دليلونو کې مات شو، وډار شو چې نور يې هم د شرم ټکي را برسيره کيږي، نور نو هيڅ دليل ورته پاتې نه وو، د مناظرې او مجادلې څخه تير

شول او د زور او سيطرې لاړ يې خپله کړه ترڅو دا شرموونکې پيښه پرې پټه شي، د ابراهيم د وژلو حکم يې په اور سره صادر کړ، خو الله جل جلاله په خپل بې شانه قدرت ابراهيم ته نجات ورکړ اور ته يې داسې امر وکړ چې، اې اوره!يخني او سلامتي راوله په ابراهيم.پاك خداى وايي:)قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلَىٰ أَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ، قَالُوا أَأَنتَ فَعَلْتَ هَٰذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ، قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا ، فَاسْأَلُوهُمْ إِن كَانُوا يَنطِقُونَ، فَرَجَعُوا إِلَىٰ أَنفُسِهِمْ فَقَالُوا إِنَّكُمْ أَنتُمُ الظَّالِمُونَ، ثُمَّ نُكِسُوا عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰؤُلَاءِ يَنطِقُونَ، قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ، أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ، قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ، قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ) انبياء ۶۱-۷۰

وويل(مشرانو د قوم) راولئ هغه(ابراهيم) د خلکو په وړاندې کيداى شي شاهدي ووايي، وويل(بابليانو) آيا تا کړى دى دا کار زمونږ په خدايانو اې ابراهيمه!، وويل(ابراهيم) دا کار دغه مشر د دوى(بوتانو) کړى پوښتنه تر يې وکړئ که وي دوى چې خبرې کوي، نو را وګرځيدل(دغه کفار) خپلو نفسونو ته نو ويې ويل(ځينو ځينو نوروته) بيشکه تاسې ظالمان يئ، بيا يې سرونه ځوړند کړل(او وروسته يې بيا مجادله پيل کړه او ويې ويل) بيشکه چې ته پوه يې دا بوتان خبرې نشي کولى، وويل (ابراهيم) آيا تاسې پرته له الله د هغه څيز عبادت کوئ چې نه تاسې ته ګټه رسولى شي او نه تاوان، افسوس(هلاکت) دى تاسې ته او هغه څه ته چې تاسې يې پرته له الله عبادت کوئ، آيا تاسې له عقل نه کار نه اخلئ، وويل(نمرود) وسوځوئ دغه (ابراهيم) او ملاتړ وکړئ د خپلو خدايانو که چيرې تاسې د څه کار کوونکي ياست، وويل مونږ اې اوره! شه يخ او سلامتي په ابراهيم باندې.

لوى خداى د ابراهيم د محاکمې په هکله داسې وايي:)فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ، قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ، وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ، قَالُوا ابْنُوا لَهُ بُنْيَانًا فَأَلْقُوهُ فِي الْجَحِيمِ، فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ)الصافات ۹۴-۹۸.

په چټکۍ سره پرې راوړاندې شول، وویل)ابراهیم د دوی په ځواب کې) آیا عبادت کوئ تاسې د هغه څه چې تاسې یې تراشئ(په لاسو یې جوړوئ)، الله پیدا کړي یئ تاسې او هغه څه چې تاسې یې ترسره کوئ، وویل(کفارو) جوړه کړئ دغه (ابراهیم ته) لویه کنده (او له خسو یې ډکه کړئ اور وارچوئ) بیا وغورځوئ دغه (ابراهیم) د اور په کنده کې، دوی اراده وکړه ابراهیم ته د فریب نو ومو ګرځول دوی ټیټ(سپك خوار.(ګرانه لوستونکیه له دغه آیت (أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ) سره لږ درنګ وکړه، چې وایي آیا عبادت کوئ تاسې د هغه څه چې خپله مو تراشلي، وګوره! په حیرانوونکي اختصار سره قرآن د بوتانو عبادت باطل کړی، لکه څنګه چې ګوري هیڅ ادیب او بلیغ نشي کولی چې دا رنګه مختصرې کلمې د لویو معناګانو سره بیان کړي، د ا د قرآن له ځانګړتیا وو څخه یوه ځانګړنه ده، چې ورته مثال یې ناشونی دی وایي(د هغه څه عبادت کوئ چې په خپله یې تراشئ، په لاسو یې جوړوئ، بیا ورته احترام کوئ، عبادت خو باید د هغه چا وشي چې تاسې یې پیدا کړي یاست، نه دهغه څیز چې تاسې یې په خپلو لاسو جوړوئ

.(دې معنی ته ورته یو چینایي ضرب المثل هم شته چې وایي(د څیرو جوړوونکي بیا د هغو عبادت نه کوي، ځکه پوهیږي چې د کومې مادې څخه یې جوړې کړې)، خو د قرآني بلاغت او چینایي ضرب المثل ترمنځ خو واټنونه موجود دي، قرآن په بې شانه توګه معنا داسې بیان کړې چې پوره اختصار او ایجاز پکې نغښتی، نو په ریښتیا چې قرآن تل پاتې معجزه ده او همدا پرې دلالت کوي چې الهي وحي ده. بیا راشه ورپسې آیت ته (وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ) یعنې پاك خدای پیدا کړي یاست تاسې او هغه څه چې تاسې یې ترسره کوئ، لوی خدای په انسان کې د کار ورتیا پیدا کړې لکه څرنګه یې چې هغه ماده پیدا کړې کومه چې بوتان ترې جوړیدلی شي، نو د څه لپاره انسان د هغه خدایي مخلوق عبادت کوي چې خپله د انسان غوندې یې پیدا کړی، د څه لپاره د بوتان عبادت کوئ په داسې حال کې چې د بوتانو ماده هم خدای پیدا

کړې؟.. آیا دا به غوره نه وي چې د ریښتني پیدا کوونکي عبادت وشي، بلکې همدا غوره عبادت دی، نه د هغه څه عبادت چې تاسې جوړ کړي، نه څه آوري، نه څه ویني او نه خبرې کولی شي.

د قرآن علمي څېړنه:

په قرآني آیتونو کې څېړونکی له ورایه ویني چې قران ډیرې ریښتینې تاریخي پېښې بیان کړې چې علم یې هم تاییدوي.
د بیلګې په توګه قرآن راوړي چې ابراهیم په ستورو کې یو نظر وکړ، بیا یې خپلې طالع ولیدې او ښکاره یې کړه چې د مرض سره مخامخ کیدونکی دی، له دې آیت څخه جوتیږي چې د ابراهیم قوم د نجومو په علم کې بوخت وو، نو ځکه ابراهیم خپل عذر د هغه څه سره مطابق بیان کړ چې دوی ورته معتقد او باوري وو
).ول دیورانت) په خپل کتاب(قصة الحضارة) کې وایي : (د بابل خلکو د نجوم(ستورو) علم په دې تکل نه وو زده کړی ترڅو نخچې پرې رسم کړي، او په ترڅ کې یې د قافلو او کښتیو تګ لوری څرګند کړي، بلکې د دې لپاره یې زده کړی وو ترڅو د خلکو راتلونکی ځانته معلوم کړي، سختۍ او کړاوونه یې ښکاره کړي، نو ځکه د هغه وخت نجومیان تر ډیره فلکیان وو...ډیر زیات کوښښ یې دا وو ترڅو د ستورو له خوځښت څخه په راتلونکي پوهه ترلاسه کړي، او همدغه د بابل دخلکو له مستیو یوه مستي وه.(
په بل ځای کې قرآن د ابراهیم د قوم له عاداتو پرده پورته کوي او وایي، چې دوی به خپلو خدایانو ته د قربانۍ په نیت خوراکونه وړاندې کول(فَرَاغَ إِلَىٰ آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ)، په پټه ورغۍ او ورته ویې ویل آیا تاسې نه خورئ؟.

دا آيت وايي چې کله ابراهيم د دوی عبادت ځای ته ورسيده کوم چې هلته د دوی بوتان ايښي وو، ويې کتل چې د بوتانو سره خوراکونه ايښي، نو ځکه يې په تمسخر سره ورته وويل چې تاسې نه خورئ.)ول ديورانت) په مخکې ياد شوي کتاب کې وايي:(پاچايانو ځانونه د خدايانو ښښې ته ډير محتاج احساسول، نو ځکه يې د بوتانو لپاره مانۍ جوړولې، لوښي يې ورته سمبالول او خوراك به يې ورته تيارولو...خوراك او څښاك تر ډيره قرباني کوونکو ورته وړاندې کولو.(... همدارنګه قرآن وايي چې ابراهيم پرته له لوی بوت څخه نور ټول ټوټه ټوټه کړل(فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ) ويې ګرځول ټوټه ټوټه مګر غټ د دوی. له دې آيت څخه څرګنديږي چې د ابراهيم قوم ډير بوتان درلودل، چې د دې بوتانو ترمنځ يو هم لوی بوت وو، ابراهيم ټول مات کړل مګر يوازې همغه لوی بوت يې مات نکړ، (ول ديورانت) هم په خپل کتاب کې داسې وايي: ((مردك) د بابل دخلکو لوی خدای ګڼل کيده، چې ترڅنګ يې نور ډير خدايان موجود وو.(

دغه ريښتيني حقايق قرآن بشريت ته راوړي، چې وروستني علم هم پرې اعتراف کړی، پرته له شکه دا څرګندونې د قرآن علمي ملاتړ کوي او د قرآن ريښتينولي پرې جوتيږي، ځکه د محمد صلى الله عليه وسلم په زمانه او ټولنه کې له دې پيښو څوك خبر نه وو، دغه اسرار وروسته له هغې ښکاره شول کله چې علماوو د بابل په ځمکه کې کيندنې وکړې، داسې لوحې يې ترلاسه کړې چې په ميخي ليك د بابل د خلکو معتقدات پرې کښل شوي وې، بيا وروسته ژورې څيړنې پرې ترسره شوې، چې د دوی ټول عقدوي رمزونه او محتويات يې را برسيره کړل، په ټوليزه توګه ټول د قرآني څرګندونو سره ورته وو.

د ابراهيم عليه السلام ايمان

د ډيرو خدايانو په باطل ګڼلو د ابراهيم دليل:

تاريخي څيړنو دا روښانه کړې چې د ابراهيم په زمانه او ټولنه کې خلکو لمر، سپوږمۍ او ستوري په خدايۍ منلي وو، احترام به يې ورته ساتلو او عبادت به يې کولو

.

هغه ابراهيم چې د خداى په يووالي يې ايمان راوړى وو، له هر مناسب وخت نه په ګټې اخيستو به يې له خپله قومه سره د هغوى په خدايانو کې مجادله کوله، د هغو مجادلو او محاورو څخه يوه هم هغه محاوره ده چې د ستورو لمر او سپوږمۍ عبادت باطل پرې بيان شوى، او ديوه خداى جل جلاله عبادت پرې حق ښكاره شوى.

پاك خداى وايي:

﴿وَكَذَٰلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ، فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ اللَّيْلُ رَأَىٰ كَوْكَبًا ۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّي ۖ فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَا أُحِبُّ الْآفِلِينَ، فَلَمَّا رَأَى الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هَٰذَا رَبِّي ۖ فَلَمَّا أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّالِّينَ، فَلَمَّا رَأَى الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّي هَٰذَا أَكْبَرُ ۖ فَلَمَّا أَفَلَتْ قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ، إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا ۖ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾ الأنعام ٧٥-٧٩.

همدارنګه مورږ ښيو ابراهيم ته عجايب د آسمانونو او د ځمکې، لپاره د دې چې شي دى له يقين کوونکو ځينې(زمورږ په وحدانيت)،نو کله چې تياره شوه په ده شپه، و يې ليد يو ستورى، نو ويې ويل دا دى رب زما(ستاسې په ګمان اې د ډيرو خدايانو څښتنو)، نو کله چې ډوب شو(ورك شو) وويل ﴿ابراهيم﴾ زه خوښ نه ګڼم ورکيدونکي(ترڅو په خدايۍ يې ونيسم)، کله يې چې وليده سپوږمۍ ځليدونکې وويل ﴿ابراهيم﴾ دا دى رب زما(ستاسې په ګمان سره) نو کله چې ډوب شوه ﴿ورکه

شوه) وويل(ابراهيم) كه چيرې لارښوونه ونه كړې ماته رب زما نو ضرور به زه شم له ګمراه شوي قوم ځينې، بيا كله چې وليد (ابراهيم (لمر ځليدونكى وويل دا دى رب زما دا (له ټولو) لوى دى، كله چې ډوب شو وويل(ابراهيم) اې قومه زما بيشكه زه بيزار يم له هغو شيانو چې تاسې يې شريكوئ(له الله سره)، بيشكه ما ګرځولى خپل مخ د هغه ذات لورې ته چې پيدا كړې يې دي آسمانونه او ځمكه حال دا چې له باطله په نيغه لار روان يم او نه يم زه له مشركانو ځينې.

د آيتونو تفسير: الله جل جلاله ابراهيم ته ځينې هغه ملكوتي اسرار ښكاره كړل، چې د الله جل جلاله په يووالي او ربوبيت دلالت كوي، ترڅو ابراهيم په ايمان كې له ټينګو يقين كوونكو ځينې شي، او تر څنګ يې په دې لوړو او غټو مخلوقاتو سره په بوت پرستانو دليل راوړي چې الله يو دى، تل شته دى هيڅكله له منځه نه ځي، يو ځل بيا د تيرو آيتونو أنځور تاسې وړاندې كوم: دغه ده شپه راغله خپلې تيارې خوروي او ابراهيم د قوم د يوه ټولي خلكو په منځ كې دى، چې په خپلو كې سره خبرې كوي، يو ناڅاپه ابراهيم يوه ستورې ته اشاره كوي كوم چې دغه قوم به يې عبادت كولو، دا ستورى په آسمان كې آوړى راوړي، ابراهيم د قوم په آورولو سره وايي: (دغه دى رب زما) دا د دې لپاره ترڅو قوم يې په لمړي سر كې داسې و انګيري چې ګواكي ابراهيم د دوى په رايه او نظر دى.

خو دا ستورى تر ډيره پاتې نشو، زر د ورځې په رڼا سره له سترګو پنا شو، په دې وخت كې ابراهيم خپلو ملګرو ته وايي: زه په داسې خداى ايمان نه راوړم چې كله ښكاره شي او بيا پنا شي

.

ډير حكيمانه اسلوب دى چې ابراهيم د خپل قوم د دعوت لپاره ټاكلى، هغه د دوى خدايان نه تحقيروي، د دوى عقيدې او باورونه سپك نه ګڼي، دا ځكه ترڅو قوم يې ځينې نفرت ونكړي، ځينې لاړ نشي، دليل ته يې له غوږ نيولو مخ ونه ګرځوي، بلكې د دوى له نظره پيل كوي، د دوى په معتقداتو خبره كوي، ترڅو د دوى توجه ځانته واړوي، خبره يې پرې اغيزه

وکړي، نفسونه يې آرامي تر لاسه کړي، چې بيا وروسته يې خبره زړونو ته ولويږي، د هغوی خطا او اشتباه ورته ښکاره کړي، ورته ووايي چې هغه ستوری چې له ښکاره کيدو يې وروسته زوال راځي ضرور يو نو پيدا او حادث شی دی، چې ټول نوي پيدا شوي شيان نه بايد په خدايې ونيول شي.

په بل مجلس کې ابراهيم يو ځل بيا له خپلو ملګرو سره ناست دی، که ګوري چې سپوږمۍ ورو ورو تيارې ځيروي او را ښکاره کيږي، نو په ليدو يې ابراهيم وايي)دغه دی رب زما) ترڅو همداسې دوی په غوږ ووهي چې ګواکي زه ستاسو په عقيده يم، خو لږ ځنډ وروسته سپوږمۍ له سترګو پنا کيږي، په دې وخت کې ابراهيم وايي: که چيرې هغه رب راته لارښوونه ونکړي چې زه يې پيدا کړی يم نو زه به له ګمراه شوي قوم څخه وګڼل شم، هغه په دې خبرې سره دوو هدفو ته رسيدل غواړي، لمړی: غواړي و پوهوي چې د سپوږمي عبادت يو باطل عبادت دی، دوهم : غواړي د خپل قوم تر غوږو ورسوي چې هلته بل خدای هم شته چې هغه الله واحد لايزال دی، کوم چې نفسونو ته آرامي وربښي، شك او ترديد له منځه وړي

.بله ورځ لمر خپلې وړانګې خوروي را پورته کيږي، ځان د آسمان ټټر ته رسول غواړي، ځليږي تودیږي، په همدې وخت کې ابراهيم خپل شاوخوا خلکو ته وايي (دغه دی رب زما چې لوی دی) له ستورو او سپوږمي لوی دی، د لته يې د لوی(اکبر (ټکی ورسره زيات کړی دا د دې لپاره ترڅو قوم يې غوږ ونيسي ونه وايي چې ابراهيم مخکې هم همداسې خبرې کړې خدايان بيانوي او بيايې باطلوي، دلته د اکبر ټکی ورسره زياتوي ترڅو خلك د نوي څيز لپاره ليوالتيا وښيي، خو د لمر په ډوبيدو سره ابراهيم د دې څيړنې خپله آخري پايله اعلانوي او هغه داچې :بيزاري ده د دوی له خدايانو څخه، دغه ټولې آسماني کتلې چې کله ښکاره کيږي او بيا بيرته پناه کيږي ضرور يو پيدا کوونکی لري چې هغه الله سبحانه وتعالی دی. وروسته له دې چې ابراهيم د دوی له خدايانو خپله بيزاري وښوده ورته ويې ويل: زه خپله ټوله توجه د يوه الله عبادت ته اړوم، کوم چې د

آسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی دی، ستاسو له ګمراهیو څنګ کوم، ستاسو باطل خدایان پریږدم، او نه یم زه له مشرکانو څخه.
په دغو قرآني آیتونو کې څیړونکي یو بل علمي حقیقت ترلاسه کوي، ویني چې قرآن له هغو معبوداتو او خدایانو پرده پورته کوي چې د ابراهیم په زمانه کې موجود وو، چې هغه ستوري، سپوږمۍ او لمر ښودل شوي، دا ډیر پخواني معبودات دي چې د تاریخ علم یې هم موجودیت په همغه زمانو کې تاییدوي، د پخوانیو ملتونو په تاریخ کې چې د کیندنو په مټ ترلاسه شوی، دا څرګنده ده چې ځینو قومونو د دې سماوي اجرامو عبادت کولو.
د ابراهیم علیه السلام په زمانه کې هم د (اور) په ښار کې د سپوږمي عبادت کیده، چې سپوږمي ته به یې (نانار) ویل، همدارنګه د لمر عبادت کیده چې لمر ته به یې(شماس) ویل، همدا شان د ستورو عبادت به یې کولو چې مشهور یې د زهرة ستوری دی چې دوی به (عشتار) ورته ویل، بل د مریخ(مردوخ) ستوری دی چې عبادت به یې کیده.
لکه څرنګه چې ګورو قرآن د ابراهیم په ژبه ډیرو تاریخي حقایقوته اشاره کوي، چې دغه تاریخي حقایق له هغو پټو اخبارو ګډل کیږي چې محمد صلی الله علیه وسلم مور ته راوړي او دا په دې شاهدي ورکوي چې په ریښتیا سره قرآن د الله له لوری وحی رالیږل شوې.
د الله په ربوبیت ښکاره دلیل:
د ابراهیم د زمانې پاچا نمرود د خدایۍ دعوا کړې وه، کله چې د ابراهیم له لوریه د یوه الله د عبادت دعوت ورته ورسید نو امر یې وکړ چې ابراهیم دې را حاضر کړی شي، ابراهیم د ده مجلس ته حاضر شو او بیا د دوی دواړو ترمنځ دا محاوره وشوه چې قرآن یې راته بیانوي:
﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ ۖ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾ البقرة ۲۵۸.

آیا تا نه ده لیدلې (اې محمده کیسه د هغه کس چې) دلیل یې وجنګوو د ابراهیم سره په رب د ده کې له دې جهته چې ورکړې وو مور ده ته پاچهي، کله چې وویل ابراهیم رب زما هغه ذات دی چې ژوندي کوي او مړه کوي، هغه (نمرود) وویل زه هم ژوندي کوم او مړه کوم، وویل ابراهیم نو بیشکه الله راولي لمر له لوریه د مشرقه ته یې راوله (اې نمروده) له لوریه د مغربه! نو حیران او شرمنده شو هغه چې کافر شوی وو، او الله لارښوونه نه کوي د ظالمانو قوم ته.

تفسیر: آیا ته نه وینې هغه چې د ایمان په دلایلو ړوند شوی او د ابراهیم سره د هغه د رب په یووالي او خدایوالي کې مجادله کوي، هغه ته مور دنیوي ملك او سلطنت ورکړی وو نو ځکه یې دا رنګه مجادلې کولې، هغه په خپل قدرت نازیده، غرور یې کاوه، کبر نیولی وو. دغه پاچا له ابراهیم څخه پوښتنه کوي او ورته وایي چې ستا رب څه صفات لري، چې ته د هغه عبادت ته دعوت کوې، ابراهیم په ځواب کې وایي)زما رب ژوندي کوي او مړه کوي) هغه سبحانه وتعالی ژوند پیدا کړی، او همغه یې بیرته اخیستونکی هم دی، خو په خپلو خبرو مین پاچا په ډیر زور سره ځواب ورکوي او ورته وایي:(زه هم ژوندي کوم او مړه کوم) ابراهیم ورته وایي هغه څنګه؟ پاچا ځواب ورکوي: دوه کسه راولم چې دواړه په وژلو محکوم شوي وي، یو ترې وژنم نو ژوند مې ترې واخیست، او بل ته بښنه کوم نو پدې عفوې سره مې ژوندی کړ.

پرته له شکه د پاچا په خبرو کې له حقیقت څخه مخ اړول له ورایه څرګندیږي، ځکه ریښتیني ژوندي کول هغه دی چې یو شی له عدم څخه وجود ته را ژوندي کړي، خو ابراهیم د پاچا سره په دې خبره کې څه نه وایي چې له عقل سره په ټکر کې ده، بلکې د مجادلې لپاره بله لاره غوره کوي ترڅو مقابل لوری پرته له څه ویلو تسلیم شي، نو ورته وایي: (الله جل جلاله لمر له ختیځ څخه را پورته کوي، ته یې له لودیځه را پورته کړه.(

دا ټول د دې لپاره چې نمرود د خدایۍ دعوا کوله، داسې یې انګیرله چې

له الله سره په خدايې کې شريك دی، او شرکت خو په ځواك کې د برابرې غوښتنه کوي، نو اوس دې خپل ځواك څرګند کړي، لمر دې له مغربه را پورته کړي که چيرې په ريښتيا سره زور معلوموي، ځکه له مشرقه خو يې الله جل جلاله را پورته کوي، خو نمرود وارخطا کيږي او هيڅ يې هم په ځواب کې له خولې نه راوځي

.مخکيني قرآني آيتونه په ډاګه وايي چې پاچا د خدايې دعوا کړې وه، او په دې څرګندونو سره قرآن يوه علمي حقيقت ته اشاره کوي، او هغه دا چې د بابل پاچايانو د خدايې دعوا کوله.

د انجلترا په اشمول نومي موزيم کې د هغو کورنيو نومونه ياد شوي چې په بابل باندې يې وروسته له طوفانه حکومتونه کړي، او د نومونو دا لړی د هغو کيندنو په مټ تراسه شوې چې د بابل په ځمکه کې ترسره شوې وې، دا لوحې اوس هم هلته ساتل کيږي، چې پرې کښل شوي (د بابل پاچايان له آسمانه ځمکې ته راټيټ شوي وو ترڅو وروسته له هغې حکومت پرې وکړي چې الله جل جلاله له مفسدينو پاکه کړه، دغه پاچايان آسماني خدايان دي چې عبادت يې په رعيت واجب کړل شوی دی)، څرګنده ده چې ابراهيم هم د همدغو پاچايانو نه د يوه پاچا په زمانه کې ژوند کړی.

پرته له شکه دا يو علمي حقيقت دی، ځکه څوارلس پيړۍ مخکې د محمد صلی الله عليه وسلم په زمانه او ټولنه کې دا نه وه څرګنده چې د ابراهيم د ټولنې پاچايانو د خدايې دعوا کوله، څوك نه وو خبر، دا خبر قرآن راوړ، د کيسې په شکل يې د هغوی د خدايې دعوا څرګنده کړه، دا په دې دلالت کوي چې په ريښتينې توګه قرآن خدايي وحی ده ځکه ټول حقايق يې ريښتيني او په حقيقت بناء دي، او له معاصرو علمي لاسته راوړنو سره هيڅ ټکر نلري.

د مړيو په را ژندي کولو کې خدايي قدرت:

د آخرت ورځ، د خير او شر حساب کتاب، وروسته له مرګه ژوندون ټول د مهمو ايماني موضوعاتو څخه ګڼل کيږي چې لا تر اوسه ډيری خلك پکې شك او ترديد لري.

ماده پرستانو ډير کوښښ کړی ترڅو دا رنګه شکونو را برسيره کړي، او په ترڅ کې يې ضعيف ايمانه خلك له الهي دينونو څخه انکار کولو ته وهڅوي، خو قرآن څو ځايه په داسې شکمنو کسانو رد کوي، کوم چې د آخرت له ورځې منکر دي، قرآن وايي چې الله جل جلاله له هيڅ کار څخه عاجز نه دی، هغه په ټولو کارونو قادر او توانا دی، لکه څرنګه چې هغه د لمړي ځل لپاره انسان خلق کړی همدا شان يې د قيامت په ورځ بياهم په را ژوندي کولو قادر دی، په قرآن کې د الله جل جلاله د قدرت په صفت کې راغلي(وَهُوَ الَّذِي يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ) او هغه خدای(د لوی قدرت څښتن دی) چې لمړی يې هم خلقت شروع کوي او بيا يې هم همدی راګرځوي(د قيامت په ورځ
).

پرته له شکه ابراهيم په دې ايمان درلود چې الله جل جلاله د قيامت په ورځ مړي را ژوندي کوي، او دا قدرت لري چې بې روحه ته روح ورکړي، خو بيا يې هم له الله جل جلاله څخه په دې اړه د ښکاره بيګلې غوښتنه وکړه ترڅو زړه يې لا پسې مطمئن شي، پاك الله جل جلاله د ده د غوښتنې سره سم خپل قدرت ورته ښکاره کړ چې قرآن يې کيسه راته بيانوي: (وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَىٰ ۖ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن ۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِي ۖ قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا ۚ وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ)البقرة ۲۶۰

.

او کله چې وويل ابراهيم اې ربه زما وښيه ماته چې څرنګه ژوندي کوي مړي؟ وويل الله آيا ستا لا باور نشته (اې ابراهيمه!) وويل (ابراهيم) باور مې شته خو د دې لپاره چې مطمئن شي زړه زما، وويل الله نو ونيسه څلور مرغان بيا يې ځانته ښه رانيږدې کړه(ترڅو ويې پيژنې او بيا يې حلال کړه) بيا کيږده په هر غره باندې د دوی ځينې يوه يوه برخه بيا راوبوله دغه مرغان رابه شي دوی تاته په منډو(وروسته له دې چې مړه

شوي وو)، او پوه شه (اې ابراهيمه!) چې الله ډير غالب او د پوره حکمت والادی

.په دې آيت کريمه کې څيړونکی وينې چې ابراهيم عليه السلام د خدای په قدرت او د مړيو په بيا را ژوندي کولو کې شکمن نه وو، خو د يقين د ښه پخوالي لپاره يې له ربه وغوښتل ترڅو د مړيو راژوندي کول ورته په انځوريزه توګه وښيي، نو پوښتنه يې وکړه چې اې ربه زما:(كَيْفَ تُحْيِي) څرنګه را ژوندي کوي، داسې يې ونه ويل چې(هل تحيي) آيا ته راژوندي کوې، نو که سؤال ته په ځيره وګورو وينو چې د سؤال ښه د زړه د اطمينان لپاره ده ترڅو په انساني نفس کې د شك لپاره هيڅ ځای پاتې نشي. دا سؤال د عقل غوښتنه وه ترڅو د حقيقت په وړانګو ځان ښه مور کړي، د همدې لپاره هغه د رب تعالی نه په عقل غوښتنه کوي او په عقل ځواب ترلاسه کوي.

نو د الله تعالی ځواب څه وو؟ الله جل جلاله ورته وويل: څلور ژوندي مرغان را ونيسه بيا يې ځانته نيږدې کړه ترڅو په ځيره يې وپيژني، بيا يې حلال کړه او ټوټه ټوټه يې کړه، په ټولو همسايه غرو باندې د هغو نه يوه يوه ټوټه کيږده، بيا چيغه ورته وکړه، چې په تيزۍ سره به درته راشي، په ځمکه او هوا به تاته ځان نيږدې کوي، ژوندي شوي به وي، داسې به وي لکه په لمړي ځل چې تا ليدلي وو، او پوه شه اې ابراهيمه! الله جل جلاله د هيڅ شي نه عاجز نه دی، په هر کار کې د پوره حکمت څښتن دی.

فخر رازي د کيسې په تړاو تعليق لري او وايي: چې هدف له دې کيسې دادی ترڅو اجسادو ته د ارواحو په بيرته را ګرځيدا کې يو محسوس مثال په آسانۍ سره څرګند کړي.

د اسحاق، يعقوب او يوسف (ع) کيسې

اسحاق عليه السلام د ابراهيم عليه السلام زوی دی چې د هغه د ميرمنې ساري څخه ورته په برخه شوی، د بني اسرائيلو نبيان ټول د اسحاق عليه السلام له نسله پيدا شوي، چې د دې لړۍ لمړی نبي د هغه زوی يعقوب عليه السلام وو.

تر ابراهيم وروسته نبوت د ابراهيم په اولاده کې پاتې شوی، ډير نبيان د هغه د دوو زامنو اسماعيل او اسحاق له اولادې څخه وو، الله جل جلاله وايي:(وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ) او ګرځولی دی مونږ د هغه (ابراهيم) په اولاده کې نبوت او کتاب (قرآن.(

قرآن کريم هم د اسحاق له نبوت څخه يادونه کړې، او ويلي يې دي چې هغه له نيکانو څخه وو، الله جل جلاله په خپل برکت سره ځانګړی کړی وو، لکه څرنګه چې د هغه پلارې يې خپل دوست نيولی وو، قرآن حکايت کوي او وايي ملايکو ابراهيم ته د اسحاق د زوکړې زيری ورکړ.)وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ، وَبَارَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَىٰ إِسْحَاقَ ۚ وَمِن ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ مُبِينٌ) الصافات ۱۱۲-۱۱۳.او زيری ورکړ مونږ هغه (ابراهيم) ته په اسحاق سره، چې وو نبي له نيکانو، او برکت اچولی وو مونږ پر هغه (ابراهيم) او اسحاق، او د اولادې د دوی څخه ځينې نيک کاره دي، او ځينې ظالم دي په خپل ځان ښکاره.(

همدارنګه الله جل جلاله د يعقوب نبوت هم په قرآن کې ياد کړې چې خپل رسول محمد صلی الله عليه وسلم ته په خطاب کې وايي: (إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِن بَعْدِهِ ۚ وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ) النساء ۱۶۳، بيشکه مونږ وحی کړې تاته (اې محمده) لکه څرنګه چې مونږ وحی کړې وه نوح ته او (نورو) نبيانو ته وروسته له هغه، وحی کړې وه مونږ ابراهيم ته او اسماعيل ته او اسحاق ته او يعقوب ته او اولادې (د يعقوب ته.(

الله جل جلاله په بل ځای د قرآن کې ابراهيم، اسحاق او يعقوب يادوي او په هغوی نيکي وايي: (وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ أُولِي

الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ، إِنَّا أَخْلَصْنَاهُم بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ، وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ ص ۴۵-۴۷.او یاد کړه (اې محمده) بندګان زما ابراهیم او اسحاق او یعقوب څښتنان د لاسونو او د سترګو(د نیکو کړنو کوونکي او د خدای د نښو لیدونکي)، بیشکه موږ خالص کړي دي دوی په صفاخوی سره)لپاره) د یادولو د آخرت، او بیشکه دوی زموږ په وړاندې له غوره کړل شویو خلکو (د زمانې خپلې) دي

.په یاد شوي آیت کې ګورو چې الله جل جلاله خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم ته امر کوي، ترڅو د ده بندګان ابراهیم، اسحاق او یعقوب یادکړي، کوم چې په نبوت او طاعت کې تکړه او قوي وو، کوم چې الله جل جلاله غوره کړي وو، ځکه دوی د ډیر غوره خصلتونو څښتنان وو، دوی به تل د آخرت یاد کولو او خلکو ته به یې ور په زړه کولو، نو ځکه هغوی په خپله زمانه کې د الله جل جلاله په وړاندې له غوره کړل شوو څخه وګڼل شول.

د قرآن په دې آیتونو کې د مؤمنانو لپاره ډیر لوی درس پروت دی، ټول مؤمنان باید تل آخرت یاد کړي، نیك عملونه وکړي ترڅو په همغه ورځ د خدای رضا او ډیر ثوابونه ترلاسه کړي.

د اسحاق او یعقوب ژوند:

قرآن د اسحاق د ژوند په ځانګیړنه کوم شی نه دي یاد کړي، او نه یې د هغه د زوی یعقوب د ژوند په هکله څه خاص بیانونه کړي، قرآن یوازې د یعقوب د زوی یوسف د ورکیدو کیسه یاده کړې چې په وروستیو بحثونو کې به د یوسف د ژوند په اړه څیړنه راشي، خو دلته د اسحاق او یعقوب د ژوندانه هغه څه په لنډو یادوو کوم چې اهل کتابو را برسیره کړي.

کله چې ابراهیم علیه السلام دا احساس کړه چې اجل یې نیږدې شوی دا هغه وخت وو چې لاتردې دمه اسحاق واده نه وو کړی، پلار یې ابراهیم نه خوښول چې زوی ته یې کنعاني ښځه وکړي، ځکه کنعاني ښځو خدای په یووالي نه پیژانده او د دوی د کورنۍ سره هم روږدې نه وې، همدا وجه وه چې ابراهیم خپل د کور خدمتګار مکلف کړ ترڅو (حاران) ته چې په عراق

کې پروت دی ولاړ شي او د ده د کورنۍ څخه یوه پیغله راولي. غلام د خدای د ارادې په ملتیا و خوځیده، (حاران) ته ورسید، (رفقة) د بتوئیل بن ناحور لور یې خوښه کړه، ناحور د ابراهیم علیه السلام ورور وو، نو په دې حساب سره رفقة د ابراهیم د سکني وراره لور وه، هغه یې کنعان ته راوسته او اسحاق ته یې واده کړه.

شل کاله وروسته له واده څخه الله جل جلاله اسحاق ته دوه غبرګونې زامن پیرزو کړل، چې لمړنۍ یې (عیسو) ونوماوه، کوم چې عرب ورته (العیص) وایي، دوهم یې (یعقوب) ونوماوه کوم چې د زیږیدو پر وخت یې د خپل ورور(عقب) د پښې وروستۍ هډوکۍ نیولی وو، له همدې وجې یعقوب ونومول شو چې یعقوب ته همدارنګه اسرائیل هم وایي. اسحاق علیه السلام د (العیص) سره ډیره مینه کوله، ځکه هغه تر یعقوب د مخه زیږیدلی وو، حال دا چې مور یې رفقې بیا د (یعقوب) سره زیاته مینه درلوده ځکه هغه تر عیص وړوکی وو، یوه ورځ اسحاق وږی شو نو د العیص څخه یې غوښتنه وکړه ترڅو څه ورته د خوراك لپاره راوړي، خو خوراك مخکې له العیص څخه یعقوب د خپلې مور په مرسته ورته تیار کړ، اسحاق خوراك وخوړلو او یعقوب ته یې دعا وکړه، له دې پیښې العیص خبر شو، نو په خپل ورور یې زیاته غوصه وکړه، په همدې ترڅ کې یې مور هم له کیسې خبره شوه، نو ځکه یې یعقوب ته وویل چې عراق ته د حاران سیمې ته ولاړ شي او هلته یې د ماما (لابان) سره پاتې شي او د هغه له لورانو نه ځانته واده وکړي ترڅو د ورور غوصه یې سړه شي، مور یې له اسحاقه غوښتنه وکړه چې یعقوب ته د تلو اجازه ورکړي او دعا ورته وکړي، یعقوب حاران ته ولاړ او د خپل ماما (لابان) سره یې په خدمت کولو پیل وکړ ترڅو په بدله کې ورته خپله لور (راحیل) واده کړي، خو ماما یې د راحیل نه مشره لور (لیئه) ورته په نامه کړه، یعقوب ورته وویل چې ما خو د (راحیل) هیله درلوده، ځکه هغه ښکلې او نیك خویه ده، ماما یې ورته وویل: زمونږ دود دادی چې لمړۍ به مشره ودیږي ورپسې به د کشرې کوزده کیږي، که چیرې ته غواړې د کشرې سره واده وکړې نو اووه کاله نور هم زما سره خدمت وکړه، بیا به مشره او کشره دواړې درته

واده کړم، په هغه وخت کې د دوو خوندو یوه کس ته ودول جایز وو.
(لابان) دواړو لورانو ته یوه یوه وینځه هم ډالۍ کړه، (لیئې) ته یې (زلفا) نامې وینځه ورکړه او (راحیل) ته یې (بلهة) نامې وینځه هبه کړه، بیا دواړو خوندو خپلې خپلې وینځې یعقوب ته ډالۍ کړې، په دې حساب سره د یعقوب څلور ښځې شوې، چې له ټولو څخه یې دولس زامن په برخه شول.
د لیئې څخه یې : (رأوبین، شمعون، لاوي، یهوذا، یساکر او زبولون) پیدا شول.
د راحیل څخه: (یوسف او بنیامین)

د بلهې څخه : (دان او نفتالي)

او د زلفا څخه: (جاد او اشیر)

یعقوب علیه السلام شل کاله له خپل ماما (لابان) سره پاتې شو، وروسته له شلو کالو یې له هغه اجازه وغوښته، ترڅو بیرته خپل اصلي ټاټوبي ته ولاړ شي، هغه هم اجازه ورکړه، کله چې د کنعان (فلسطین) سیمې ته نیږدې شو، خبر ورته ورسید چې ورور یې (عیسو) د ده د لیدو لپاره د څلورو سوو کسانو سره مخیته را روان دی، یعقوب وډار شو، هغه ته یې دعا وکړه او یوه لویه هدیه یې ورته تیاره کړه او له خپلو څو کسانو سره یې هغه ور واستوله، د عیسو زړه د خپل ورور په هدیه نرم شو نو ځکه یې سیمه هغه ته پرینبوده او خپله د غرو په لوري ولاړ، یعقوب د خپل پلار اسحاق سره په (حبرون) نومي ښار کې پاتې شو کوم چې د (الخلیل) ښار هم ورته ویل کیږي.
اسحاق علیه السلام ۱۸۰ کاله ژوندی وو، چې وروسته له مرګه په هغه ځای کې خاوروته وسپارل شو کوم چې پلار یې هم هملته دفن وو د (الخلیل) په ښار کې.

الأسباط:
اسباط د يعقوب عليه السلام دوولس زامن او لمسيان دي، چې يوه ته يې سبط وايي او سبط د ولد (زوی (په معنا دی يا د (ولد الولد) د زوی زوی په معنا چې لمسی شميرل کيږي.

سبط په يهودو کې داسې معنا ورکوي لکه قبيلة په عربو کې، هغوی ټول يوه پلار ته منسوب دي، نو په دې حساب سره هر يو د يعقوب د اولادې څخه پلار د يوې قبيلې له قبيلو د بني اسرائيلو شميرل کيږي، ټول بني اسرائيل د يعقوب عليه السلام د دوولسو زامنو له نسله منځته راغلي.
د يعقوب عليه السلام په اولاده (اسباطو) کې نبوت په لاندې توګه پاتې شوی:
د (لاوي) له اولادې څخه (موسی، هارون، الياس او اليسع) نبيان تير شوي.
د (يهوذا) له اولادې څخه (داود، سليمان، زکريا، يحی او عيسی) په نبوت مبعوث شوي
. د بنيامين له اولادې څخه (يونس) نبي تير شوی.

د يوسف عليه السلام نبوت:

د يعقوب عليه السلام له زامنو څخه يوازې يوسف په نبوت سره ځانګړی شوی، قرآن کريم د يوه مؤمن په ژبه خپل قوم ته په نصيحت کې داسې وايي: (وَلَقَدۡ جَآءَكُمۡ يُوسُفُ مِن قَبۡلُ بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا زِلۡتُمۡ فِي شَكّٖ مِّمَّا جَآءَكُم بِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلۡتُمۡ لَن يَبۡعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعۡدِهِۦ رَسُولٗا) المؤمن ۳۴. بيشکه راغلی وو تاسې ته يوسف پخوا له (موسی څخه) په ښکاره دلايلو، پس هميشه به وی تاسې په شك کې له هغو (احکامو) چې راغلی وو دی په هغه سره تاسې ته، تردې چې وفات شو (يوسف (نو وويل تاسې چې راوبه نه ليږي الله وروسته له هغه (يوسف) هيڅ رسول.

الله جل جلاله په قرآن کې یو سورت د یوسف په نامه سره نازل کړی، چې په دې سورت کې د هغه د ژوند بیان راته کوي، د هغه ستونزې له وروڼو سره، ستونزې د مصر د عزیز له ښځې سره، د بندیخانې ګالل او د الله دین ته دعوت، له بندیخانې څخه را خلاصیدل، د پاچا د خوب تعبیرول، د مالیې د وزارت مسؤولیت، د سختې وچکالۍ په پایله کې یې د وروڼو راتګ مصر ته، بیا یې د خپلو وروڼو سره پیژندګلوي چې دا ټول به په راتلونکي بحث کې په تفصیل سره درته وړاندې شي.
یوسف او د هغه د وروڼو دوکه او چل

د یوسف لیدلی خوب:
یعقوب علیه السلام د یوسف او بنیامین سره د نور وروڼو په پرتله ډیره مینه درلوده، دا دواړه یې پر نورو زامنو غوره ګڼل. قرآن کریم مور ته د یوسف علیه السلام د خوب بیان کوي او وایي چې یوسف داسې خوب ولیده چې یوولس ستوري د لمر او سپوږمۍ سره یوځای ده ته سجده کوي، سهار یې دا حیرانوونکی خوب خپل پلار ته وویلو، یعقوب د خوب له بهیر څخه وپوهیده چې زوی به یې په راتلونکي کې د خدای او خلکو په وړاندې د لوړ شان څښتن وي، خو د وروڼو له کینې پرې وډار شو، نو ځکه یې ورته وویل چې لیدلی خوب دې خپلو وروڼو ته مه وایه، ترڅو د شیطان په لمسون ستا د مخنیوي لپاره لاړې و نه لټوي، بیا یې ورته وویل چې ته به په راتلونکي کې د لوړ شان څښتن شې خلك به ستا اطاعت کوي، ستا مشري به مني، الله جل جلاله به تا د نبوت لپاره غوره کړي، تاته به د خوب د تعبیر علم درکړي، الله جل جلاله به د خیر، رحمت او برکت نعمتونه تاته او ټول د یعقوب اولادې ته پیرزو کړي، لکه څرنګه یې چې مخکې ابراهیم او اسحاق ته ور کړي وو، په اړه یې دا آیتونه تلاوت کړئ: ﴿إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ، قَالَ يَا بُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُؤْيَاكَ عَلَىٰ إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا لَكَ كَيْدًا ۖ إِنَّ الشَّيْطَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ، وَكَذَٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ، وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ

وَعَلَىٰٓ آلِ يَعۡقُوبَ كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيۡكَ مِن قَبۡلُ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَۚ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٞ، لَّقَدۡ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخۡوَتِهِۦٓ ءَايَٰتٞ لِّلسَّآئِلِينَ.(
)یاد کړه) هغه وخت چې وویل یوسف خپل پلار (یعقوب (ته اې پلاره زما، بیشکه ما ولیدل (په خوب کې) یوولس ستوري، لمر او سپوږمۍ، ومې لیدل چې ماته سجده کوونکي وو، وویل (یعقوب) اې بچیه زما مه بیانوه خپل خوب خپلو وروڼو ته،(ځکه) مکر او تدبیر به وکړي دوی (د هلاکولو ستا) په مکر او تدبیر کولو سره، بیشکه شیطان انسان ته دښمن دی ښکاره (مبدا داسې نشي چې د دوی په زړونو کې کینه واچوي او ستا په وړاندې یې ولمسوي) او همدرانګه به غوره کړي تا رب ستا، او وبه ښیي تاته تأویل د پیښو، او پوره به کړي خپل نعمت پرتا او پر (نورې) کورنۍ د یعقوب، لکه چې پوره کړی یې دی دا نعمت پر دوو پلرونو ستا پخوا له تا نه چې ابراهیم او اسحاق دي، بیشکه چې رب ستا ښه عالم دی، د ښه حکمت څښتن دی، په تحقیق سر ه وو (په کیسه) د یوسف او وروڼو د ده کې دلایل (د قدرت د الله) لپاره د پوښتنه کوونکو.

د یوسف په وړاندې د توطیې پلان:

د یعقوب زامنو ولیدل چې پلار یې د دوی په پرتله د یوسف او د هغه د سکنې ورور بنیامین سره زیاته مینه کوي، نو ځکه د پلار دا نا انډوله کړنه پردوی بده تمامه شوه، دوی داسې انګیرله چې موږ یو لوی او ځواکمن ټولی یو کوم چې د یوسف او بنیامین څخه زیات خپل پلار ته د ګټې او مرستې اوړه ورکوو، نو په دې حساب سره زموږ پلار زموږ د هڅو په بدله کې بیا هم د یوسف او بنیامین سره تر موږ زیاته مینه کوي، که وګورو نو دا کار ناسم او د حق څخه واټن لري

.د یوسف په هکله یې زړونه له کینې ډك شول، په خپلو کې سره را ټول شول ترڅو د هغه څخه د خلاصون په موخه کوم پلان جوړ کړي، یا یې ووژني او یایې په داسې لرې پرته ځمکه خوشی کړي چې که ژوندی هم پاتې شي نو بیرته تر پلاره راتګ به ورته ناشونی وي، دوی فکر کولو چې په دې کار سره به د خپل پلار پام د یوسف څخه ګوښه کړي او خپلو ځانو ته به یې را تاو کړي، بیا به د خپلې کړې ګناه څخه توبه وباسي بیرته به

نيك خويه قوم ترې جوړ شي، الله جل جلاله به د دوی توبه قبوله کړي، همدرانګه به يې پلار هم دغه عذر منظور او منونکی وشميري
. له ورونو څخه د يوه نظر داوو چې يوسف ونه وژل شي، بلکې ښه به داوي چې د خلکو له سترګو پټ کوم کوهي ته وغورځول شي، کيدای شي کومه قافله پرې را برابره شي او له ځان سره يې واخلي، په دې سره به له يوې خوا ستاسو هدف ترلاسه شي او له بلې خوا به د قتل له لويې ګناه وژغورل شئ، دا نظر د ټولو خوښ شو او په همدې سره يې پريکړه وکړه.
خپل پلار ته ورغلل، په مکر او حيلو يې پيل وکړ ترڅو په کومه بانه يوسف له ځان سره واخلي ځکه دوی پوهيدل چې پلار يې يوسف له دوی څخه لرې ساتي نو ويې ويل: اې پلاره! د څه لپاره يوسف له مورږ څخه لرې ساتې، که چيرې هغه زمورږ سره وي ته ولې پرمورږ باور نلرې؟ مورږ په ټينګه د هغه سره مينه لرو په هغه شفقت کوو، سبا ته يې زمورږ سره څړځای ته وليږه ترڅو زمورږ سره لوبې وکړي له خوړو څښو خوند واخلي، مورږ خو له خپلو ځانو څخه زيات د هغه د ساتنې خيال ساتو، پلار يې په ځواب کې ورته وايي: دا کار ما ډير خفه کوي چې يوسف زما څخه لرې کړئ، زه ويريږم چې ليوه پرې برابر نشي تاسې به په غفلت سره خپلې لوبې کوئ هغه به درنه وخوري، زامنو يې يو ځل بيا قسمونه ياد کړل چې هيڅکله به هم هغه ته کوم ضرر ونه رسيږي، ځکه د هر ضرر سپکاوی همدوی ته را ګرځي، دوی که تر پلار زيات د يوسف په ساتنه حريص نه دي نو ترهغه خو کم هم نه دي، دا ځکه چې دوی نه غواړي د خلکو په وړاندې د خيانت او سپکاوي په نومونو ونومول شي، پاک خدای جل جلاله وايي:
) إِذۡ قَالُواْ لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰٓ أَبِينَا مِنَّا وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ، ٱقۡتُلُواْ يُوسُفَ أَوِ ٱطۡرَحُوهُ أَرۡضٗا يَخۡلُ لَكُمۡ وَجۡهُ أَبِيكُمۡ وَتَكُونُواْ مِنۢ بَعۡدِهِۦ قَوۡمٗا صَٰلِحِينَ، قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ لَا تَقۡتُلُواْ يُوسُفَ وَأَلۡقُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّ يَلۡتَقِطۡهُ بَعۡضُ ٱلسَّيَّارَةِ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ، قَالُواْ يَا أَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأۡمَنَّا عَلَىٰ يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُۥ لَنَٰصِحُونَ ، أَرۡسِلۡهُ مَعَنَا غَدٗا يَرۡتَعۡ وَيَلۡعَبۡ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ، قَالَ إِنِّي لَيَحۡزُنُنِيٓ أَن تَذۡهَبُواْ بِهِۦ وَأَخَافُ أَن يَأۡكُلَهُ ٱلذِّئۡبُ

وَأَنتُمْ عَنْهُ غَافِلُونَ، قَالُوا لَئِنْ أَكَلَهُ الذِّئْبُ وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّا إِذًا لَّخَاسِرُونَ( )یاد کړه) هغه وخت چې وویل (لسو وروڼو یو بل ته) بیشکه یوسف او ورور یې)بنیامین) زموږ په پلار زموږ په پرتله ډیر ګران دي، حال دا چې موږ یوه ځواکمنه (د مینې وړ) ډله یو، بیشکه زموږ پلار ښکاره په خطا کې دی، (نو (ووژنئ یوسف یا وغورځوئ هغه په کومه لرې ځمکه کې (ترڅو) را وګرځي تاسې ته توجه د پلار ستاسې، او شئ به تاسې وروسته له دې کاره یو قوم د نیکانو، وویل یوه ویونکي له دوی ځینې چې مه وژنئ یوسف (ځکه لویه ګناه ده) (بلکې (وغورځوئ هغه په یوه اوږده تیاره کوهي کې (ترڅو) وایې خلي ځینې په لاره تیریدونکي (او کوم لرې هیواد ته یې له ځان سره یوسي) که چیرې تاسې (د څه کار) کوونکي یئ، نو وویل دوی اې پلاره زموږ د څه لپاره پر موږ باور نه کوې د یوسف په هکله، حال دا چې بیشکه موږ هغه ته نصیحت کوونکي (خیر غوښتونکي (یو، ولیږه هغه زموږ سره سبا (ورځ صحرا ته) چې وخوري ډیری میوې او لوبې وکړي، او بیشکه موږ ده لره ساتونکي یو، وویل (یعقوب) بیشکه ما غمجنوي دا چې تاسې یوسف له ځان سره بوځي، او ویریږم له دې چې وبه یې خوري لیوه، حال دا چې تاسې به تر غافله وئ، وویل (د یوسف وروڼو) قسم دی که وخوري یوسف لیوه په داسې حال کې چې موږ ځواکمنه ډله یو، نو بیشکه په دې وخت کې خامخا له زیانکارانو څخه یو.

یوسف په کوهي کې

:

یعقوب خپلو زامنو ته اجازه ورکړه ترڅو یوسف له ځانه سره ملګری کړي، هغوی یوسف له کوره وایستلو او د پلان سره سم یې په کوهي کې واچولو، په همدې وخت کې الله جل جلاله د یوسف په زړه کې دا وارواچول چې له دې کړاو څخه به یې خلاصوي، او زر ده چې داسې ورځ راشي چې وروڼه یې له دغه کړې ګناه خبر کړل شي، زر ده چې هغه ورځ راشي چې دوی ټول به د یوسف په وړاندې محتاجه اړ ولاړ وي، د دوی په خیال کې

به هم دا نه راتيريږي چې مخيته يې يوسف ولاړ دی ځکه د يوسف شان به ډير لوړ وي.

د يوسف وروڼه مانبام بيرته را ورګرځيدل د ډير ژور خفګان او غم ښکارندويي يې کوله، په ژړا ژړا يې چيغې لوړيدې، وويل يې :اې پلاره مورږ ولاړو، په خپلو کې په منډو شوو مسابقه مو شوه، يوسف مو د خپلو وسايلو او جامو سره پرېښود تر څو ويې ساتي په همدې وخت کې ليوه پرې برابر شو او هغه يې وخوړلو، مورږ له هغه نه ډير لرې وو، مورږ پوهيږو چې ته به زمورږ خبره ونه منې ځکه تا ټول وخت مورږ د هغه سره په کينه تورنولو سره د دې چې مورږ په خپله خبره کې رېښتيني يو، بيا يې د يوسف په وينو لړلې جامې ورته ښکاره کړې، خو د جامو په کتو سره د هغوی دروغ څرګند شول، يعقوب و پوهيده چې دا وينې د ده د زوی نه دي ځکه جامې خو ځيرې شوې نه دي که چيرې يوسف ليوه خوړلی وی نو جامې به يې ځيرې شوې وې، يا خو يعقوب په خپله پوهه د هغوی دروغ را برسيره کړل د هغوی له کيسې او ځيرو يې دا څرګنده کړه چې د دوی خبره دروغ ده نو ورته يې وويل: ستاسو نفسونو ډير خطرناك كار تاسې ته آسانه ښکاره کړی نو ځکه مو د داسې کار ترسره کولو ته زړه ښه کړی، زه د يوسف په جلاوالي صبرکوونکی يم په ښه صبر سره، چې هيڅ ناهيلي به پکې نه وي، د يوه الله نه د اصلي موضوع د راسپړلو مرسته غواړم، او د يوه الله نه د دې کړاو په هکله د صبر او زغم غوښتنه کوم. الله جل جلاله وايي:

﴿فَلَمَّا ذَهَبُوا بِهِ وَأَجْمَعُوا أَن يَجْعَلُوهُ فِي غَيَابَتِ الْجُبِّ ۚ وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ لَتُنَبِّئَنَّهُم بِأَمْرِهِمْ هَٰذَا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ، وَجَاءُوا أَبَاهُمْ عِشَاءً يَبْكُونَ، قَالُوا يَا أَبَانَا إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ وَتَرَكْنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَاعِنَا فَأَكَلَهُ الذِّئْبُ ۖ وَمَا أَنتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صَادِقِينَ، وَجَاءُوا عَلَىٰ قَمِيصِهِ بِدَمٍ كَذِبٍ ۚ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ﴾

نو کله چې بوتلو دوی یوسف، نو اتفاق یې وکړ په دې چې وغورځوي دی (یوسف) په تیاره بیخ د کوهي کې، او وحی وکړه مور یوسف ته (چې وبه دې باسو له دې تیارو او دا چې) ته به خامخا خبر ورکړې دوی ته په دغه کار د دوی حال داچې دوی به نه پوهیږي (چې ته یوسف یې)، او راغلل دوی پلارته)بیګا) چې ژړل یې (په دروغو سره) وویل دوی چې اې پلاره زمونږ بیشکه مونږ ولاړو، مسابقه مو سره کوله (په منډو وهلو سره) او پریښود مونږ یوسف (یوازې (له خپلو وسایلو سره، نو وخوړلو دی لیوه ، او نه یې ته باور کوونکی پر مونږ اګر که مونږ رښتینې یو، او راوړه دوی د یوسف د کمیس له پاسه وینه د دروغو، نو وویل (یعقوب خپلو زامنو ته چې دا ټول دروغ دي) بلکې ښایسته کړی دی تاسې ته نفسونو ستاسې یو(لوی بد) کار، نو زه به پرې صبر جمیل کوم، او الله ښه مرستندوی دی په (زغملو) د هغه (خبرې کې) چې تاسې یې کوئ.

د یوسف ژغورل او د حکومت په وزیر یې پلورل

:

د کوهي تر څنګ قافله د تیریدو په حال کې وه چې مصر ته روانه وه، لارویانو یو کس ولیږه ترڅو له کوهي څخه اوبه راوړي، ډولچه یې کوهي ته ور واچوله او یوسف خپل ځان په هغې باندې ټینګ ونیولو تردې چې له کوهي را بهر شو، دا سړی یې په لیدو ډیر زیات خوشحاله شو ماشوم یې خپلو ملګرو ته راوستلو او خپله خوښې یې پرې ښکاروله او ویل یې: وګورئ دا دی ښکلی ماشوم. بیا یې په خپلو بارو کې پټ کړ غوښتل یې چې د نورو توکیو سره یې یوځای وپلوري

.د قافلې څښتنانو یوسف په مصر کې په ډیره کمه بیه وپلرولو او ځانونه یې تر خلاص کړل، ځکه ډاریدل چې له کورنۍ څخه یې څوک په لټه پسې رانشي، د یوسف اخیستونکی د حکومت وزیر وو ،خپل کورته یې واستولو خپلې میرمنې زلیخا ته یې وویل چې له دې ماشوم سره ښه سلوک کوه د ښې پالنې خیال یې ساته تردې چې د ځان سره د اوسیدو

لپاره ځای ورته سمبال کړه کیدای شي زمونږ په ګټه تمام شي، یا کیدای شي مونږ یې د زوی په حیث راسره وساتو.

لکه څرنګه چې الله جل جلاله یوسف ته د حکومت د صدرعظم په کور کې غوره منزلت په برخه کړ، همدارنګه یې د وزیر په حرم سرای کې د ټولو کړو وړو تصرف هم ورته نصیب کړ او په ټول مصر کې یې د هغه شان لوړ کړ، هغه ته یې د خوب د تعبیرولو علم الهام کړ، الله جل جلاله د ټولو کارو په ترسره کولو پوره قادر او توانا دی، خو ډیری خلك د الله جل جلاله د حکمتونو په اشاراتو نه پوهیږي

. کله چې یوسف په لوییدو شو، د ځواك او قوت څښتن شو، د ځوانۍ مرحلې ته داخل شو، الله جل جلاله ورته دقیق حکمت او ګټور علم پیرزو کړ، همداسې الله جل جلاله ټولو نیك کاره بندګانو ته نیکه جزاء ورکوي، دا آیاتونه یې په اړه تلاوت کړئ) :وَجَاءَتْ سَيَّارَةٌ فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ فَأَدْلَىٰ دَلْوَهُ ۖ قَالَ يَا بُشْرَىٰ هَٰذَا غُلَامٌ ۚ وَأَسَرُّوهُ بِضَاعَةً ۚ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَعْمَلُونَ، وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ وَكَانُوا فِيهِ مِنَ الزَّاهِدِينَ، وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِن مِّصْرَ لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ عَسَىٰ أَن يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا ۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ وَلِنُعَلِّمَهُ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ ۚ وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ، وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ(

او راغله قافله (چې مصر ته روانه وه) نو ولیږه دوی خپل اوبه راوړونکی پس خپله بوکه (ډولچه) یې خوشې کړه (په کوهي کې، یوسف پرې ونښت، کله یې چې بوکه را وایستله ویې لید) نو ویې ویل اې خوشحالی زما! (دا ټکي د خوښۍ په وخت کې ویل کیږي) دا دی ښکلی هلك، او پټ کړ دوی هغه (یوسف) د تجارتي مالو په توګه، او الله ښه عالم دی په هغو کارونو چې کول یې (وروڼو د یوسف له بې رحمۍ)، او وپلورلو دوی هغه په پیسو ناکاره یوڅو روپیو شمیرل شوو، او وو دوی په حق د یوسف کې له بې رغبتانو ځینې، وویل هغه سړي چې یوسف یې اخیستۍ وو چې وو له مصریانو خپلې ښځې ته، غوره سمبال کړه ځای د دغه (یوسف) ښایي چې ګټه ورسوي مونږ ته یا به ونیسو مونږ دی په زوی ګلوی، همداسې

آسانتیاوې برابرې کړې مورِ یوسف ته په ځمکه کې، ترڅو وښیو هغه ته څه تأویل د خبرو (تعبیر د خوب) او الله غالب دی په کارونو خپلو خو ډیر خلك نه پوهیږي، او کله چې ورسید یوسف قوت خپل ته نو ورکړ مورِ هغه ته حکم او علم، او همداسې جزا ورکوو مورِ نیك کارانو ته.

د اسماعیل علیه السلام کیسه

د اسماعیل علیه السلام نبوت
الله جل جلاله د اسماعیل په هکله وایي:

)وَاذۡكُرۡ فِي الۡكِتَابِ إِسۡمَاعِيلَ ۚ إِنَّهُ كَانَ صَادِقَ الۡوَعۡدِ وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا) مریم ۵۴.

او یاد کړه(اې محمده! خپل امت ته) په کتاب(قرآن) کې (کیسه د) اسماعیل، بیشکه چې وو هغه ریښتینی په وعده کې او وو هغه را لیږل شوی نبي.
د اسماعیل علیه السلام دعوت د هغو عربي قبیلو ترمنځ وو چې خپله په هغو کې هستوګن وو
. د اسماعیل علیه السلام ژوند لیك او زیږیدنه د ځینو اغیزناکو پیښو سره تړاو لري چې په لاندې توګه پرې پیل کوو.

د ابراهیم هجرت مصرته:
ابراهیم علیه السلام یو څه موده په حران ښار کې پاتې شو، چې هلته یې د تره د لور سارې سره واده وکړ، خو په دې ښار کې یوازې لوط او یوڅو

نورو کسانو د ده دعوت ته غاړه کیښوده، نورو یې دعوت ونه منلو، همدا لامل وو چې ابراهیم له دې ښاره تنګ راغی، او دهجرت عزم یې وکړ، قرآن کریم دې پیښې ته په اشارې وایي:(فَآمَنَ لَهُ لُوطٌ ۘ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّي ۖ إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ) عنکبوت ص ۲۶.

نو ایمان راوړ (په ابراهیم) لوط او وویل (ابراهیم) بیشکه زه هجرت کوونکی یم (له خپل قوم ځینې) رب خپل ته، بیشکه هغه ښه غالب او د پوره حکمت څښتن دی.

د دې هجرت سبب هغه ټینګه دښمني وه چې ابراهیم او پلویانو یې د بوت پرستانو سره درلوده، هغوی د ابراهیم ایماني دعوت ونه منلو، نو ابراهیم تري بیزاره شو او په هجرت کولو سره یې مخ تري واړاوه. الله جل جلاله په قرآن کې د ابراهیم دغه دریځ ستایلی او مؤمنان یې هڅولي ترڅو په هغه پسې اقتداء وکړي چې وایي: (قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ) الممتحنة ۴.

په ریښتیني توګه شته تاسې لره (اې مؤمنانو) نیکه لار په (کړنو) د ابراهیم کې او په (کړنو) دهغه چاکې چې له ده سره وو (له مؤمنانو) کله چې وویل (ابراهیم او اتباعو یې) قوم خپل ته، موږ ستاسو نه بیزاره یو، او بیزاره یو له هغه څیز ځینې چې عبادت یې کوئ تاسې پرته له الله، منکران شوي یو موږستاسې په (باطل دین) او ښکاره شوې ده زموږ او ستاسې ترمنځ تل ترتله دښمني او کینه، ترهغې چې ایمان راوړئ یواځې په الله باندې.

ابراهیم علیه السلام او ملګرو یې د شام په لوري مخه کړه، چې هغه وخت د کنعان ځمکه (أرض کنعان) ورته ویل کیده، هلته یې ډیر وخت تیر نکړ چې د شام په ځمکو ستونزمنه سختي را نازله شوه، لوږه ډیره زیاته شوه د شام ډیرو اوسیدونکو خپل ځانونه نورو ځایو ته و ایستل، ترڅو د ځان

لپاره څه روزي ولټوي، او خپلو رمو ګلو ته وابنه پيدا کړي، ابراهيم هم شام د مصر په موخه پريښود.

ابراهيم ته الله اسماعيل پيرزو کوي:

ابراهيم له مصر نه فلسطين ته ولاړ چې ښځه يې ساره او دهغې وينځه (هاجر) هم ورسره مله وو، ابراهيم عليه السلام هيله درلوده ترڅو زوی يې پيدا شي، نو د همدې لپاره يې الله جل جلاله ته دعا وکړه ترڅو ورته نيکمرغه زوی په برخه کړي او ويې ويل:(رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ) صافات ۱۰۰، اې ربه زما را پيرزو کړه ماته(زوی) له صالحانو ځينې.

داسې څرګنديږي لکه د ابراهيم عليه السلام ميرمن ساره چې د ابراهيم په هيله پوه شوې وي، ځکه چې ورته وايي: رب زما زه له اولاده محرومه کړې يم، که ته زما له وينځې هاجر سره واده وکړې ښه به وي، کيدای شي الله جل جلاله درته زوی تړې په برخه کړي، ساره په سن پخه وه، د همدې وجې د اولاد

هيله نه تړې کيده .



ابراهیم علیه السلام د هاجر سره واده وکړ او زوی یې ورته وزیږولو، چې سفر التکوین په دې هکله داسې وایي: د اسماعیل په اړه ستا قول ما واوریده، چې برکت به ورکوم، وده به ورکوم زیاتوم به یې ډیر ډیر، دولس مشران به زیږوي، او لوی امت به ترې جوړوم
. که تیر قول ته وګورو نو په ډاګه څرګندیږي چې دا د محمد صلی الله علیه وسلم په امت باندې یو بشارت دی، ځکه محمد صلی الله علیه وسلم او دحجاز عرب د اسماعیل له نسله دي، او دا ژمنه د اسماعیل علیه السلام په اولاده کې حقیقت ته نه ده رسیدلې مګر د محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه د امت په لاسونو.

ابراهیم له خپل زوی سره مکې ته هجرت کوي

کله چې ابرهیم ته الله جل جلاله له هاجر څخه زوی اسماعیل پیرزو کړ، هاجر د خپل زوی د زوکړې په پایله کې ډیره وویاړیده ځانته په غوره کې شوه، چې دغه غرور د ساري په نفس کې له یوې خوا ناهیلي او له بله پلوه غیرت را وپارولو، همدا وو چې له ابراهیمه یې وغوښتل ترڅو هاجر او ورسره زوی یې دواړه د دې له سترګو پناه کړي، ځکه اوس نو د ساري ژوند له هاجر سره داسې اندازې ته رسیدلی چې زغمل یې ورته ګران تمامیږي.

ابراهیم د ساري غوښتنه د خدای د ارادې په تمه ومنله، همدا وو چې وحیې پرې نازله شوه ترڅو هاجر او اسماعیل دواړه له ځان سره مکې ته بوزي، دا هغه وخت وو چې اسماعیل وړوکی ماشوم وو او دمور شیدې یې خوړلې.

ابراهیم ماشوم او د هغه مور له ځان سره ملګري کړل، د خدای د ارادې په لارښوونه وخوځیدل، اوږده مزلونه یې ووهل تردې چې الله جل جلاله ورته د پاتې کیدو داسې ځای وټاکه کوم چې هلته هیڅ وداني نه لیدل کیده او یو ډاګ وو، ټاکل شوې وه چې په همدغه ځای به بیت الله الحرام (کعبة) جوړیږي.

هاجر او ماشوم يې دواړه په داسې ځای کې هستوګن کړل چې، هلته د اوبو څرك نه ليدل کيده، بيا يې هملته پرېښودل او ابراهيم ترې راوګرځيده، هاجر ورپسې شوه او ورته ويې ويل: چيرته ځې؟ مور په دې ډاروونکي ډاك کې چاته پرېږدې؟ څو څو ځله يې دا خبره ورته تکرار کړه، په نرمه او غمګينه لهجه يې ورته وويل خو ابراهيم پرته له دې چې څه ځواب ورکړي په خپله لار روان وو، هاجر يوځل بيا ورته وويل: آيا الله جل جلاله تاته په دې کار سره امر کړی دی؟ ابراهيم ورغبرګه کړه او ويې ويل: هوکې، هاجر په ځواب کې ورته وويل:بيا نو پرېږده مور همدلته ښه يو، الله جل جلاله به مو نه ضايع کوي، په دې خبرې سره هاجر بيرته خپل هغه ځای ته را وګرځيده کوم چې ابراهيم د پاتې کيدو لپاره ورته ټاکلی وو

.ابراهيم د خپلې اولادې څخه په شا راوګرځيد خو زړه يې د خپلې ميرمنې او ماشوم زوی سره پاتې شو، د هغوی په بيلتون سخت خپه وو، خو د الله جل جلاله ارادې د ده اراده را ولکه کړه، د خپل رب غوښتنې ته تسليم شو، د هغه ثنا او صفت يې ياد کړل، او په دې ټکو يې د هغه لوړ حضور ته داسې دعا وويله:

) رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ، رَبَّنَا إِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِي وَمَا نُعْلِنُ ۗ وَمَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ مِن شَيْءٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ) ابراهيم ۳۸-۳۷.

) اې ربه زمور! ما هستوګن کړل له خپلې اولادې ځينې په داسې ځای کې چې هيڅ کښت پکې نشته، ستا د لوړ شان کور په وړاندې، اې ربه زمور! دا د دې لپاره ترڅو اداء کړي دوی لمونځ، نو وګرځوه زړونه د خلکو مينه کوونکي ليواله دوی ته، (ترڅو د زړه له کومې دوی ته را وزغلي)، دوی ته روزي ورکړه له هر قسمه ميوو، کيدای شي دوی شکر وباسي، اې ربه زمور! بيشکه تاته ښه څرګند دي هغه څه چې مور يې پټوو او هغه څه چې مور يې ښکاره کوو، او نه دي پټ د الله په وړاندې هيڅ څيز نه په ځمکه او نه په اسمانونو کې(

.

ابراهيم عليه السلام خپل رب ته وايي: اې ربه زمونږ! ما خپله ځينې کورنۍ د مکې په دره کې هستوګنه کړه، کوم چې نه په کې کښت شته او نه هم وداني، زه به دلته ستا کور ودانوم، چې ته به يې د خلکو له ظلم زياتي او سپکاوي څخه په امان ساتې.. اې ربه زمونږ! ما خپله کورنۍ ځکه دلته هستوګنه کړه ترڅو ستا د کور په وړاندې لمونځ اداء کړي، يوازې ستا عبادت وکړي، نو اې ربه د ځينو خلکو زړونه ورته مايل کړه، په هغوی رحم وکړه، په دې وچ ډاګ کې ميوې ورته پيرزو کړه ترڅو ستا د نعمتونو شکر اداء کړي

.ربه زمونږ! ته زمونږ په پټ او ښکاره کړنو ترټولو ښه پوهيږې، ته په هغه خفګان ډير ښه عالم يې چې د خپل اهل په پرېښودو زما په زړه کې پروت دی، ستا په وړاندې خو په ځمکه او آسمان کې هيڅ شی پټ نه دي اګر که ډير واړه هم وي.

د زمزم د اوبو را خوټيدل

هاجر د خدای ارادې ته غاړه کيښوده په ډير صبر او زغم سره يې د هغه امر اداء کړ، د مکې په ډاك کې پاتې شوه، ابراهيم عليه السلام ورته يو څه خوراکي توښه او د اوبو ذخيره پرېښې وه، هاجر او ماشوم زوی يې د همغه توښې څخه خوراك او څښاك کولو، تردې چې ذخيره ختمه شوه، هاجر او زوی يې ډير زيات تږي شول، هاجر خپل ماشوم زوی ته په غم غم کتل د هغه تنده ورته څرګنديده د هرې مور په شان يې زړه پرې خوږيده، دا غمګين او کړيدلی حالت يې تږډيره ونشوای زغملی، ولاړه شوه په منډو يې پيل وکړ غوښتل يې څه ترلاسه کړي

لوړې غونديۍ ته پورته شوه چې (صفا) يې بلله، يوه خوا بل خوا يې وکتل ترڅو اوبه پيدا کړي، خو هيڅ يې هم ونه ليدل، ورکې اخيستې انسان غونډې په منډه منډه راکوزه شوه بلې لوړې غونډۍ ته پورته شوه،چې (مروة) يې ورته ويلې، ترڅو اوبه پيدا کړي خو بيا هم هيڅ نه وو، بيا صفا ته را وګرځيده چې بيا يې هم هيڅ ونه ليدل، د صفا او مروة ترمنځ منډې را منډې يې پوره اوه ځله ترسره کړې خو هيڅ يې هم ترلاسه نه کړل

. کله چې د وروستي ځل لپاره د مروة په غونډې وخته ناڅاپه يې غږ ترغوږ شو که ګوري د زمزم په ځای کې پرښته له پرښتو څخه ده چې په خپل وزر سره ځمکه را کنې تردې چې اوبه را ښکاره شوې

هاجر چې کله دا نه منونکې حالت ولیده ډیره زیاته خوشحاله شوه، منډې يې کړل ماشوم زوی ته يې اوبه ورکړې او خپله تنده يې هم پرې ماته کړه. کله چې د مکې په ډاك کې اوبه پیدا شوې مرغان يې هم ځانته را جلب کړل پرې راکوزیدل به او اولتنې به يې پرې کولې، همدا وو چې کله د جرهم له قبیلې یو قوم اوبو ته نیږدې په لاره تیریده ویې لیدل چې مرغان ګرځي را ګرځي، په خپلو منځو کې يې له یوبله وپوښتل: دا مرغان خو په اوبو راغونډیږي آیا په دې ډاك کې اوبه شته؟ ټولو وویل: مورِ خو دلته کله اوبه نه دي لیدلې، نوځکه يې له خپلو ملګرو یو ولیږه ترڅو د مرغانو له دې غونډځایه خبر راوړي، کله چې لیږل شوی کس را وګرځیده خپلو ملګرو ته يې د اوبو زیرې راوړو، ټول کاروان را وګرځیده او هاجر ته يې وویل: که ستا خوښه وي نو مورِ به ستا ترڅنګ واړوو، ستا سره به مرسته هم کوو او د زمزم د اوبو واکداري به هم ستاوي، هاجر هم د دوی په لیدو خوشحاله شوه او د دوی سره يې د هستوګن کیدو خبره ومنله، همدا وو چې جرهمیان د هاجر ترڅنګ پاتې شول او خپلې مېنې يې جوړې کړې

تردې چې اسماعیل ځوان شو او د جرهمۍ ښځې سره یې واده وکړ او د همدوی نه یې عربي ژبه هم زده کړه.

په اسماعیل باندې قرباني
لکه چې مخکې مو وویل ابراهیم علیه السلام خپل زوی د مکې په ډاګ کې پریښود، خو له یاده یې نه وو ایستلی تل یې په یاد وو وخت نا وخت به پرې ګرځیده پوښتنه به یې کوله.
یو ځلې ابراهیم همداسې د خپل زوی د پوښتنې لپاره مکې ته راغلۍ وو، په خوب کې یې ولیدل چې الله جل جلاله ورته د خپل زوی د ذبح کولو امر کوي، څرګنده ده چې د نبیانو خوب لیدنه د الله جل جلاله له لوري د وحی په معنا دي، همدا وو چې ابراهیم علیه السلام د الله جل جلاله د کړي امر د عملي کولو تکل وکړ، د خپل یوازني زوی ذبح کول یې ومنل، د زړبودۍ عمر او د یوه زوی موجودیت یې د تصمیم مخنیوی ونشوی کړی، قرآن وایي:

)وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ، رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ، فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ، فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَىٰ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ، فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ، وَنَادَيْنَاهُ أَن يَا إِبْرَاهِيمُ، قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا ۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ، إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ، وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ، وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ، سَلَامٌ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ، كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ، إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ، وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ) الصافات ۹۹-۱۱۲.
وویل (ابراهیم) بیشکه زه تلونکی یم رب خپل ته ژر ده چې لارښوونه وکړي ماته، (زیاته یې کړه) اې ربه زما را پیرزو کړه ماته (زوی) له نیکانو، نو زیرې ورکړ موږ هغه ته د زغم لرونکي هلك، نو کله چې ورسید (اسماعیل) له خپل پلار سره د منډو وهلو حد ته وویل)ابراهیم هغه ته) اې زویه زما زه وینم په خوب کې چې تا ذبح کوم، نو وګوره چې

ته څه وایې؟ وویل (اسماعیل) اې پلاره زما ترسره کړه هغه څه چې امر درته شوی زرده چې وموميې ما انشاء الله له زغم لرونکو ځینې، نو کله چې غاړه کیښوده (دواړو حکم د الله ته) او وایې چاوه (اسماعیل) په تندې ځمکې ته، او غږ مو ورته وکړ چې اې ابراهیمه! بېشکه تا ریښتیا کړ خوب (خپل)، موږ هم همداسې نیکه جزاء ورکوو نیکانو ته، بیشکه همدا ذبح کول وو(زموږ) له آزموینې ښکاره، او فدیه مو کړه دغه (اسماعیل) په قربانۍ لویې (جنتي پسه) سره، پریښوده موږ پر ابراهیم (نیك نامي او ښه یادونه) په ورستیو خلکو کې تر قیامته، همداسې جزاء ورکوو موږ نیکانو ته، بیشکه چې هغه وو له بنده ګانو مؤمنو زموږ، او زیرې ورکړ موږ هغه ته په اسحاق چې نبي وو له نیکانو.

په یادو شوو آیتونو کې له ابراهیم څخه یادونه شوې چې کله یې له خپل قوم څخه د هجرت هوډ وکړ له خپل رب ځینې یې د نیك صالح زوی غوښتنه وکړه، رب یې هم غوښتنه منظوره کړه او د نیك خویه ماشوم زیرې یې پرې وکړ، چې هغه اسماعیل د هغه لمړنۍ زوی وو
.کله چې اسماعیل علیه السلام لوی شو، د خپل پلار سره د کار کولو شو، د هغه په مخکې د منډو وهلو شو، ابراهیم په خوب کې ویني چې الله جل جلاله ورته د اسماعیل علیه السلام د ذبح کولو امر کوي، دا هغه وخت وو چې همدا اسماعیل د ابراهیم یوازنۍ زوی وو، ابراهیم خپل زوی اسماعیل د الله جل جلاله له کړي امر څخه خبروي او دا د دې لپاره ترڅو د هغه ایمان و آزمویي، ترڅو د هغه د قبولۍ په ترڅ کې خپل زړه ته تسکین ورکړي، د هغه ذبح کول ورته آسانه شي، ځکه په زور ذبح کول به ورته ډیر سخت تمام شي، اسماعیل په ځواب کې ورته وایي اې زما پلار جانه! هغه څه وکړه چې الله جل جلاله درته امر کړی، زر ده چې ته به مې له زغم لرونکو څخه وموميې، زه د الله جل جلاله مشیئت او ارادې ته غاړه ایښودونکی یم.
کله چې پلار او زوی دواړه خدایي پریکړې ته تسلیم شول او دواړو د خدای د ارادې د عملي کولو هوکړه وکړه، ابراهیم خپل زوی په ځمکه

داسې پریستلو چې مخ یې ځمکې ته وو ترڅو له څټ څخه یې ذبح کړي او د ذبح پر وخت یې مخ ونه ویني، چاړه یې د هغه په غاړه را تیره کړه خو غاړه غوڅه نشوه، په همدې وخت کې الله جل جلاله غږ پرې وکړ اې ابراهیمه! د خپل زوی ذبح کول بس کړه زموږ د آزمویني غوښتنه ترسره شوه، د الله امر ته ستا غاړه ایښودل او طاعت مو ولیدل، همدا هغه لوی او ښکاره امتحان وو چې ستا ایمان مو پرې و آزمیو، پرته له شکه ته په دې امتحان کې بریالۍ او کامیاب شوې، نو دا پسه ونیسه او د خپل زوی په بدله کې یې فدیه کړه.

ذبیح څوك دی؟ قرآن په ښکاره توګه وایي چې ابراهیم ته د خپل زوی اسماعیل د ذبح کولو حکم وشو نو همغه اسماعیل ذبیح دی، ځکه قرآن لمړۍ د اسماعیل د ذبحې کولو کیسه بیانوي او بیا وروسته ابراهیم ته د بل زوی (اسحاق) زیرې ورکوي(وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ) او موږ زیرې ورکړه ابراهیم ته په اسحاق، چې نبي وو له نیکانو. نو په اسحاق علیه السلام د زیري ورکولو بیان وروسته د ذبح کولو له کیسې په ښکاره توګه دا په ګوته کوي چې اسحاق پرته له هغه ماشوم څخه بل ماشوم دی چې ابراهیم یې په ذبح کولو آزمویل شوی وو. خو یهودان دعوه لري او وایي چې ذبیح اسحاق دی نه اسماعیل، سفر التکوین د ذبیح یادونه کوي او د هغه هویت بیانوي او وایي: ابراهیم ته خپل رب وویل (خپل اسحاق یوازنۍ زوی دې چې ته ډیره مینه ورسره لرې را ونیسه او د موریة ځمکې ته یې ورسوه) امام ابن کثیر د یهودانو دغه ادعا ردوي او وایي

: د اسحاق ټکۍ دلته نه منونکۍ دی...ځکه هغه د ابراهیم یوازنۍ زوی نه وو او نه هم تر ټولو لوی وو، بلکې ترهغه مشر اسماعیل وو، یهودانو د عربو سره د کینې له مخې اسحاق ته د ذبیح لقب ورکړی، ځکه اسماعیل د حجاز د عربو پلار دی کوم چې رسول الله هم له دوی ځینې دی، او اسحاق د یعقوب (اسرائیل) پلار وو چې یهودان همغه ته ځانونه

منسوبوي، يهودانو غوښتل چې دا لوی شرف همدوی ته منسوب شي نو ځکه يې د خدای کلام تحريف او زيادت يې پکې وکړ.

ابراهيم او د اسماعيل ميرمن

يوه ورځ له ورځو ابراهيم په مکه کې د اسماعيل کورته ورغې، خو هغه يې پيدا نکړ يوازې ميرمن يې په کورکې وه، هغې نه پيژانده چې ابراهيم د دې د ميړه پلار دی، ابراهيم د اسماعيل پوښتنه ترې وکړه، هغې ورته وويل چې هغه په ښکار پسې وتې، بيا يې پوښتنه ترې وکړه چې څه حالت مو دی، هغې وويل: مورږ په ډيره سختۍ او تنګلاسۍ کې يو، او د خپل ژوند څخه يې ډير شکايت وکړ، بيا ابراهيم ورته وويل: آيا ميلمه منئ؟ آيا په کور کې د خوراك څښاك لپاره څه شته؟ هغې وويل: زما سره نه څوك په کور کې شته او نه هم کوم څيز د خوراك څښاك لپاره لرم.

ابراهيم د اسماعيل له ميرمنې خوښ نه شو ځکه چې هغه په خدای ورکړې برخه راضي نه وه، د ميړه له ژوند څخه نا خوښه وه شکايت يې وکړ، بل داچې بخل يې ترې وليده ځکه د چا عزت يې نه منلو، نو ابراهيم ورته وويل: کله دې چې ميړه راغې زما سلام پرې وايه او ورته ووايه چې د دروازې تی ديري دې بدله کړه.

وروسته له دې چې ابراهيم ولاړ اسماعيل کورته راغې، داسې يې و انګيرله چې د ده په نه موجوديت کې په کور کې څه تير شوي، نو ځکه يې ميرمنې ته وويل: آيا تاته څوك راغلي وو؟ هغې وويل: هوکې، يو سپين ږيری د دارنګه صفاتو څښتن سړی راغلی وو، ستا پوښتنه يې وکړه، ما هم د ريښتيني حال نه خبر کړ، اسماعيل ورته وويل: آيا تاته يې څه وويل؟ هغې وويل: هوکې امر يې راته وکړ چې د هغه سلام تاته ورسوم او زياته يې کړه چې د دروازې تی ديري دې بدله کړه، اسماعيل ورته وويل: هغه زما پلار دی ماته يې امر کړی چې ستاسره جدايي وکړم نو پلار ګنې

ته دې ولاړه شه، اسماعیل هغې ته طلاق ورکړ او له بلې ښځې سره یې واده وکړ.

څه موده وروسته ابراهیم یو ځل بیا د اسماعیل کورته راغې، دا ځلې بیا هم اسماعیل په کورکې نه وو، یوازې د هغه نوې میرمن په کورکې موجوده وه، هغې ابراهیم ته ښه راغلاست وویل، ابراهیم پوښتنه ترې وکړه: آیا میلمه منې؟ هغې وویل: ولې نه، د هغه یې ښه میلمه پالنه وکړه، بیا ابراهیم د ژوند د حال ترې وپوښته هغې وویل: موږ ښه ژوند لرو او د خدای ثنا یې یاده کړه، ابراهیم ورته وویل: کله دې چې میړه راغې نو زما سلام پرې وایه او ورته ووایه چې د خپل وره تې دیري دې وساته او ترینه رخصت شو.

مابنام چې اسماعیل کورت راغې، ښځې یې ورځنې کیسه ورته واوروله او وویل چې دا رنګه سپین ږیرې سړې راغلی وو ستا پوښتنه یې وکړه او تاته یې دا وصیت پریښود، اسماعیل ورته وویل: هغه زما پلار دی او ماته یې امر کړی ترڅو تا له ځانه جدا نکړم، همدا وو چې اسماعیل ټول عمر له همغې میرمنې سره تیر کړ او د همغې میرمنې څخه د اولادو څښتن شو.

ابراهیم او اسماعیل کعبه ودانوي

ابراهیم علیه السلام د خپل زوی نه څه واټن لرې پاتې شو، ډیره موده وروسته د یوې سپیځلې دندې سره هغه ته را وګرځیده، هغه دا چې الله جل جلاله په مکه کې د کعبې د ودانولو امر ورته کړی وو، ترڅو د لمړي ځل لپاره عبادت ځای جوړ شي او د الله عبادت پکې ترسره شي

.

کله چې ابراهیم مکې ته را ورسیده خپل زوی اسماعیل ځینې ورك شو که ګوري چې زمزم ته څیرمه غیشي جوړوي، ور وړاندې شو په لیدو یې ډیر خوشحاله شو، اسماعیل ورته را منډې کړل، یو بل ته ور غاړې وتل، هر یوه خپل د مینې وروستنۍ انداز ښکاره کړ، پلار او زوی د یو او بل په لیدو ډیر زیات خوښ شول

د خوښيو په دې جريان کې ابراهيم خپل زوی ته يادە کړه چې الله جل جلاله امر ورته کړی ترڅو دلته د عبادت لپاره يوه خونه ودانه کړي، د جوړيدو ځای يې په مکه کې لږ شانته لوړ ځای په ګوته کړه، اسماعيل ورته وويل: اې پلاره زما هغه کار ترسره کړه چې الله جل جلالته درته امر کړی، زه به ضرور ستا سره په دې سپيڅلي کار کې مرسته وکړم.

ابراهيم د خونې په جوړولو پيل وکړ په داسې حال کې چې اسماعيل به تيږې ورکولې، په دې جريان کې ابراهيم اسماعيل ته وويل: يوه ښکلې تيږه راکړه چې په کونج کې يې کيږدم ترڅو د خلکو لپاره نښه شي... همدا وو چې جبريل ورته د حجرالأسود د تيږې خبر ورکړ، نو را وايې خيسته او په خپل ټاکل شوي ځای يې ولګوله، پلار او زوی دواړو د کعبې د ودانولو پروخت دا دعا ويله: ﴿رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ۖ إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ اې ربه زمونږ قبول کړه زمونږ نه (دغه د خير کار) بيشکه ته ښه آوريدونکی او پوره علم لرونکی يې.

کله چې د خونې ديوالونه لوړ شول او سپين ږيری ابراهيم د تيږو له پورته کولو کم وسه شو، نو په يوه تيږه به دريده چې همغه تيږه مقام ابراهيم بولي، کله به چې د ديوال يوه خوا پوره کيده بل لوري ته به ليږديدله په

داسې حال کې چې ابراهيم به پرې ولاړ وو، او کله به چې يو ديوال ختم شو بل ديوال ته به خپله انتقال شوه تردې چې په همدې توګه د کعبې ديوالونه ورسيدل، دا تيږه په کعبه پورې له همغه وخته پيوسته ايښې وه تردې چې د عمر فاروق د خلافت وخت راغې اوهغه د کعبې نه لرې لرې کيښوده ترڅو د لمونځ کوونکيو پام بل خوا وانه ړوي.

قرآن په دې آيتونو سره د کعبې ودانولو ته داسې اشاره کوي: ﴿وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى ۖ وَعَهِدْنَا إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ، وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا بَلَدًا آمِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ آمَنَ مِنْهُم بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ قَالَ وَمَن كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُ إِلَىٰ عَذَابِ النَّارِ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ، وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ۖ إِنَّكَ أَنتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ البقرة ۱۲۵-۱۲۷. کله چې وګرځوله مورږ کعبه ځای د ثواب ګټلو او ځای د امن، ونيسئ اې مؤمنانو مقام ابراهيم د لمانځه کولو ځای، او حکم کړی وو مورږ دوی دواړو (ابراهيم او اسماعيل) ته چې پاک کړئ کور زما لپاره د طواف کوونکيو، معتکفينو او رکوع کوونکيو سجده کونيو، کله چې وويل ابراهيم :اې ربه زما وګرځوه دا ښار (چې کعبه مې پکې ودانه کړه) ځای د امن امان، او روزي ورکړه اوسيدونکيو ته يې له هر راز ميوو نه، (ټولو) هغو ته چې ايمان يې راوړی په الله او په ورځ د آخرت، وويل: الله او هر څوك چې کافر شو نو لږ شان ګټه به ورکړم بيا به يې په زور د دوزخ اور ته مجبور کړم، او بد ځای د ورتلو دی هغه اور، او هغه وخت چې پورته کړ ابراهيم بنسټ د کعبې (په مرسته د) اسماعيل (نو ويل به دواړو) اې ربه زمورږ قبول کړه زمورږ نه دغه کار بيشکه ته ښه آوريدونکی او پوره علم لرونکی يې.

په يادو شوو آيتونو کې الله جل جلاله عربو مسلمانانوته لوی نعمت وريادوي، او ورته وايي چې تاسې ته مې وګرځوله کعبه ځای د ثواب ګټلو

(مثابة) يعنې داسې ځای چې خلك يې د عبادت په موخه زيارت کوي، داسې ځای چې د هر ويره اخستونکي لپاره د امن امان ځای دی، حرم ته داخل شوي کس ته هيڅ څوك ضرر نشي رسولی، او دا هغه کار دی چې په دوديزه توګه يې د پخوا زمانې راهسې خلك سپيڅلی شميري، هيڅاته اجازه نه ورکوي ترڅو په حرم کې جنايت ترسره کړي.
مقام ابراهيم هغه ځای دی چې الله جل جلاله امر کړی ترڅو هلته لمونځ اداء کړو، ځينو پوهانو ويلي چې د مقام ابراهيم نه مراد همغه تيږه ده چې ابراهيم به د کعبې د ودانولو پر وخت پرې ودريده، او ځينو نورو بيا ويلي چې مراد ځينې د کعبې شاوخوا پروت ټول حرم دی.
الله جل جلاله د يادو شوو آيتو په اوږدو کې هغه وصيت ته اشاره کوي چې ابراهيم او اسماعيل ته يې کړی وو او ورته ويلې يې وو چې کعبه به د حسي چټلی او ښکاره نجاست څخه پاکه ساتئ، همدارنګه به معنوي چټلي لکه د بوتانو عبادت او نور شرکي امور نه پکې پرېږدئ ، ترڅو طواف کوونکي په پاکی کې خپل طواف اداء کړي، معتکفين او لمونځ کوونکي په سپيڅلې توګه خپل عبادت ترسره کړي، رکوع کوونکي او سجده کوونکي هلته خپلې سجدې او لمانځونه اداء کړي.

همدارنګه ياد شوي آيتونه د ابراهيم عليه السلام دعا ته اشاره کوي، چې په ترڅ کې يې له خدايه د هغه ځای امن امان غواړي کوم چې په هغه کې به د عبادت لپاره خونه جوړيږي، له خدايه هيله لري ترڅو هغو کسانو ته له ميوو او نورو خوراکو روزي ورکړي کوم چې په خدای او ورځ د آخرت ايمان لري، پرته له شکه الله جل جلاله د ابراهيم دعا قبوله کړه او ورته ويې ويل چې هغه کسان به هم په دنيا له رزق او روزي محروم نکړي چې کافران شوي، خو د قيامت په ورځ به يې د سخت برخليك سره مخ کوي، دوزخ ته به يې کشوي چې بد ترين ځای د ځايونو دی

.

هوکې الله جلاله د ابراهیم دعاء قبوله کړه مکة مکرمة یې یو امن هیواد وګرځاوه، چاچې تیرې پرې کړی په ډیره کرغیړنه توګه هلاك شوی، همدارنګه په مکة کې د ابراهیم د دعا له وجې رزق او روزي هم زیاته ترلاسه کیږی، لیدل کیږي چې د دنیا د ګوټ ګوټ نه هررنګه میوې دې هیواد ته راوړل کیږي

.

په پای کې الله جل جلاله د کعبې ودانولو ته هم اشاره کوي، ابراهیم او اسماعیل دواړو د کعبې بنسټونه را پورته کړل دیوالونه یې ودان کړل، په داسې حال کې چې دواړو به د الله ثنا او صفت یادولو او له الله به یې غوښتنه کوله ترڅو دغه لوی کار له دوی څخه قبول کړي.

د أیوب علیه السلام کیسه

د ایوب علیه السلام کیسه

ایوب [i]یو له هغو نبیانو څخه دی چې په قرآن کې یې نومونه په نبوت سره یاد شوي، الله جل جلاله خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم ته په خطاب کې وایي) :إِنَّا أَوۡحَيۡنَا إِلَيۡكَ كَمَا أَوۡحَيۡنَا إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ) النساء ۱۶۳. بیشکه مونږ وحی کړې تاته (اې محمده) لکه څرنګه چې مونږ وحی کړې وه نوح ته او (نورو) نبیانوته وروسته له هغه، او وحی کړې وه مونږ ابراهیم ته او اسماعیل ته او اسحاق ته او یعقوب ته او اولادې (د یعقوب ته)، او عیسی ته او ایوب ته.

ایوب علیه السلام د لویې تقوا څښتن وو، هغه په بې وزلو غریبانو ډیر مهربانه وو، د کونډو او یتیمانو پالنه به یې کوله، د میلمه به یې ځانګړی خیال ساته، هغه خپل قوم د یوه الله عبادت ته را وبللو.

د تفسیر او تاریخ علماء راوړي چې ایوب د ډیر مال څښتن وو، د هر قسم مال څخه برخمن وو لکه څاروي، غلامان او نور... پراخه ځمکې یې درلودې د البثینة په ټاټوبې کې د حوران له مربوطاتو څخه... هغه ډیر اولادونه خپل خپلوان درلودل چې ټول ترې واخیستل شول، په سخت آزموینښت کې را ګیر شو، جسم یې په ډیرو مرضونو سره آخته شو، هیڅ عضوه یې سالمه پاتې نشوه یوازې زړه او خوله یې سالم وو چې د الله جل جلاله ذکر به یې پرې یادولو، هغه سره د دې ټولو ستونزو بیا هم صابر پاتې وو د نعمتونو شکر کوونکی وو، شپه او ورځ سبا او مابنام به یې خوله د الله په ذکر خوږه وه، مرضونه ډیر ورباندې اوږده شول تردې چې څوک یې مجلس ته نه حاضریدل، د خلکو بد ترې راتلل، له خپل هیواده وایستل شو د باندې په کوم ځای کې وغورځول شو، ټول خلك لرې ترې پاتې شول، یوازې میرمن یې ورسره پاتې وه چې خدمت به یې کولو او پخواني حقوق، احسانونه او مهربانۍ یې ورته اداء کولې، هغه به کله نا کله ورته راتله د هغه ارټیاوې به یې پوره کولې، ضروریات به یې ورته تیارول، د هغې حالت هم کمزوری شو، مال یې ختم شو داسې اندازې ته ورسیده چې د خلکو خدمت به یې په اجوره سره کولو بیا به یې خپل میړه ایوب ته یوه مړۍ ډوډۍ برابروله... هغې هم د ایوب په شته حال له پوره صبر کار واخیست، د مال او اولاد په ورکه یې صبر کولو، د میړه په مصیبتونو او د خلکو په خدمت صابره وه...کړاوونو او سختیو د ایوب صبر او محاسبه لا پسې زیاته کړه، د خدای حمد او شکر به یې تل یادولو، تردې چې د ایوب په صبر ضرب المثل یادیږي، همدارنګه د هغه په کړاوونو او سختیو هم ضرب المثل یادیږي.[ii]

د هغه د مرض په موده کې علماوو اختلاف کړی، ځینو ویلي چې دری کاله وه، ځینو اووه کاله او څو میاشتې یاده کړې، او ځینو نورو بیا آته لس کاله ویلي.

روایت شوی چې میرمنې یې ورته وویل: اې ایوبه که چیرې له خپل رب څخه له دې مرضه د خلاصون غوښتنه وکړې نو هرومرو به یې درنه لرې

کړي، هغه په ځواب کې ورته وويل: پوره اويا کاله مې په صحت کې تير کړل، نو دا ډير لږ دي چې د الله لپاره اويا کاله په مرض صبر وکړم.
او روايت شوی چې هغه به کله له مصيبت سره مخ شو نو دا ټکي به يې يادول (اللهم أنت أخذت وأنت أعطيت) اې خدايه تا رانه واخيستل او تا راکړي وو.
د ايوب په هکله تاريخ پوهانو ډيرې کيسې بيان کړې چې د ايوب له سفر او د يهودو د تورات له تفسير څخه يې اخيستې چې (هجاده) يې بولي، د اسلام کره علماء دا رنګه کيسې نه روايت کوي، ځکه چې ريښتيا او دروغ سره ګډ شوي، هرچا لاس پکې وهلی.
ځينو تفسير پوهانو د ايوب د مرضونه په هکله انتقاد کړی او ويلي يې دي چې دا رنګه مرضونه په هغه پورې ترل شوي او په ريښتينې توګه يې نه درلودل، په دې اړه مراغي په خپل تفسير کې وايي :[iii]کوم روايتونه چې د هغه د نفسي مرضونو په هکله ياد شوي لکه دا چې مرض يې دومره زياد شو چې خلکو کرکه تري وکړه، ټولو خلکو په يوه غږ هغه په کناسة نومي ځای کې وغورځاوه، پرته له ميرمنې يې چا نشوی کولی چې ورته نيږدې شي، يوازې ميرمن به يې ورته حاضريدله او يوه مړۍ ډوډۍ به يې ورته تياروله، دا ټول اسرائيليات [iv]دي چې په دروغو يې باور کول واجب دي، ځکه چې په دې اړه هيڅ صحيح سند نشته، بل دا چې د نبوت له شروطونو څخه يو هم دا دی چې نبي بايد له داسې مرضونو څخه خلاص وي کوم چې خلك کرکه تري لري، ځکه که داسې پيښ شي نو بيا د خلکو سره ليده کاته نشي کولی، د شريعتونو او احکامو بيانول تري پاتې کيږي.

ايوب عليه السلام په قرآن کې

قرآن کريم يادونه کړې چې ايوب عليه السلام په خپل جسم کې په مرض و آزمويل شو، خپل رب ته يې دعا وکړله الله جل جلاله هم د هغه دعا قبوله کړه له مرض څخه يې خلاص کړ تري اخيستل شوی اهل او اولاد يې واپس ورته ورکړ.

)وَأَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ [v]وَأَنتَ أَرۡحَمُ الرَّٰحِمِينَ، فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ فَكَشَفۡنَا مَا بِهِۦ مِن ضُرّٖۖ وَآتَيۡنَٰهُ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ [vi]رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِنَا وَذِكۡرَىٰ لِلۡعَٰبِدِينَ) انبياء ۸۳، ۸۴.

او)یاده کړه اې محمده! کیسه د) ایوب، کله چې غږ یې کړ خپل رب ته چې بې بیشکه زه چې یم رسیدلی دی ماته ضرر (مرض او ستونزه په بدن کې) او ته له ټولو رحم کوونکو څخه زیات مهربانه یې، نو قبوله کړه مونږ دعا د ده پس لرې کړل مونږ هغه څه چې په ده باندې وو له مرضه او پیرزو کړ مونږ (ایوب) ته اهل د ده او په مثل د هغوی دومره نور هم، دا وو زمونږ له جانبه رحمت او نصیحت لپاره د عبادت کوونکو.

)وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَآ أَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ الشَّيۡطَٰنُ بِنُصۡبٖ [vii]وَعَذَابٍ، ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَۖ هَٰذَا مُغۡتَسَلُۢ بَارِدٞ وَشَرَابٞ، وَوَهَبۡنَا لَهُۥٓ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَذِكۡرَىٰ لِأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِ، وَخُذۡ بِيَدِكَ ضِغۡثٗا فَٱضۡرِب بِّهِۦ وَلَا تَحۡنَثۡۗ إِنَّا وَجَدۡنَٰهُ صَابِرٗاۚ نِّعۡمَ ٱلۡعَبۡدُۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٞ ([viii]ص ۴۱، ۴۴.

او یاد کړه (اې محمده!) بنده زمونږ ایوب کله یې چې غږ وکړ رب خپل ته چې بیشکه زه چې یم مس کړی یم شیطان په ضرر او تکلیف سره،(نو امر ورته وشو چې) ووهه)ځمکه) په پښه خپله (ترڅو اوبه تري را ووزي) دغه دی یخ ځای لپاره د غسل، او اوبه یخې لپاره د څښلو، او ډالی مو کړ ده (ایوب) ته اهل د ده او په مثل د دوی له هغوی سره (نور هم) له جهته د مهربانۍ له ارخه زمونږ، او د پاره د پند اخیستلو څښتنانو د عقلونو ته، او واخله په لاس خپل کې جارو نو ووهه په هغه جارو سره (ښځه خپله) او مه حانث کوه ځان خپل (په ترک د وهلو کې) بیشکه مونږ وموند هغه (ایوب) صبرناك (په ستونزو او) ښه بنده، بیشکه چې دی ډیر رجوع کوونکی وو الله ته.

په ضرر او تکلیف سره د شیطان له مس کولو څخه مراد د مرض پر وخت د شیطان وسوسې وې چې هغه ته به یې ورپیښې مرض او ستونزمن ژوند ډیر لوی ښکارولو، ترڅو د خدای له رحمته ناشکري وکړي او له ستونزو څخه وکړیږي، همدا وو چې ایوب علیه السلام الله جل جلاله ته پناه یوړه

ترڅو له دې بلا يې خلاص کړي، د شيطان په دفع کولو کې مرسته ورسره وکړي او په جميل صبر سره يې ونازوي.

د شفاء او صحت څرنګوالی يې د الله جل جلاله دا قول بيانوي:(ارْكُضْ بِرِجْلِكَ ۖ هَٰذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ وَشَرَابٌ (ووهه (ځمکه) په پښه خپله (ترڅو اوبه تري را ووزي) دغه دی ښه يخ ځای لپاره د غسل، او اوبه لپاره د څښلو.

الله جل جلاله ورته وايي: اې ايوبه! و وهه په خپله پښه سره ځمکه، ايوب د امر سره سم ځمکه په پښه ووهله چې ورسره سم الله جل جلاله د يخو اوبو چينه را وايستله، بيا يې امر ورته وکړ چې په همدې چينه کې ولامبه او اوبه تري وڅښه، له همدې سره الله جل جلاله د ايوب مرض په ټولیزه توګه له منځه يووړ له جسم څخه يې ظاهري او باطني مرضونه او دردونه ټول ورک شول.

مراغي په خپل تفسير کې په دې هکله وايي:

)له دې آيت څخه څرګنديږي چې ايوب عليه السلام ته ورپيښ مرض د معدې او داخلي مرضونو څخه نه وو بلکې د پوستکي (جلدي) مرض وو لکه بخار او داسې نور، چې جسم ډير ورسره په تکليف وي ډير اذيت ورته رسوي خو وژونکی مرض نه دی...همدارنګه له دې آيت څخه ښکاري چې هغه اوبه له ګټورو او صحي اوبو څخه وي چې جلدي مرضونه ورسره جوړيدل، دا رنګه اوبه لکه څرنګه چې په ظاهري استعمال مريض ته ګټه رسوي په څښلو هم ګټوري تمامیږي، داسې چينې په اوروپا او مصر کې شته چې تر څنګ يې حمامونه جوړ شوي، چې د پوستکي او ظاهري مرضونو لپاره ګټوري دي.(

له قسم څخه برائت او پاکي

ايوب عليه السلام د مرض په مهال قسم خوړلی وو چې که چيرې له مرض څخه را جوړ شو نو خپله ښځه به پوره سل دوري وهي ځکه چې هغه د ارټيا په وخت کې ځنډيدلې وه، خو دا چې هغې د ايوب عليه السلام ښه خدمت کړی وو نو الله جل جلاله د قسم څخه د برائت لپاره يوه سپکه جزاء هغې ته وټاکله، او هغه دا چې ايوب ته يې امر وکړ ترڅو جارو را واخلي او په هغې سره خپله ښځه ووهي، دا به داسې وي لکه پوره سل

دوري يې چې وهلي وي، او په همدې سره به د ايوب غاړه هم خلاصه شي قسم به يې په ذمه نه وي پاتې، الله جل جلاله د خپلو مؤمنو متقيانو بندګانو لپاره دا رنګه آسانۍ نازلوي، د ايوب عليه السلام ميرمن هم ډيره صابره پرهيزګاره او صادقه مطيعه ښځه وه، الله جل جلاله وايي (وَخُذۡ بِيَدِكَ ضِغۡثٗا فَٱضۡرِب بِّهِۦ وَلَا تَحۡنَثۡ) او واخله په لاس خپل کې جارو نو ووهه په هغه جارو سره (ښځه خپله) او مه حانث کوه ځان خپل (په ترك د وهلو کې.(

: [i]ايوب هم د ابراهيم عليه السلام له اولادې څخه دی، مور يې د لوط عليه السلام لور وه، ميرمن يې (ليا بنت يعقوب وه) ځينو ويلي چې ميرمن يې (رحمة بنت افرائيم وه) ځينو ويلي چې ميرمن يې (منشا بنت يوسف بن يعقوب وه) ابن جرير طبري ويلي چې ايوب عليه السلام په ۹۳ کلنۍ کې وفات شو، ځينو ويلي چې هغه تردې لا زيات ژوند کړی دی، ابن عباس وايي: هغه ايوب نومول شوی ځکه په هرڅه او په هر حال کې خپل رب ته رجوع کوونکی وو.

: [ii]البداية والنهاية ابن كثير ج ۱.

: [iii]تفسير المراغي د استاذ أحمد مصطفى المراغي.

: [iv]اسرائيليات هغه بې سنده روايتونه دي چې په نشر او توزيع کې يې يهود او نصارا لاس لري (ژباړن.(

: [v]الضر: د ضاد په پيښ سره په وجود کې مرض او کمزورۍ ته ويل کيږي

: [vi]و آتيناه اهله و مثلهم معهم: ويل شوي چې د ايوب اهل او اولاد ټول له منځه تللي وو يوازې ميرمن يې پاتې وه، نو الله جل جلاله هغوی ټول بيرته ورته را ژوندي کړل او ورسره يې همدومره نور هم ورته په برخه کړل، ځينو ويلي چې الله جل جلاله د مړو شوو په بدله کې لوی لوی اجرونه ورکړل او عوض يې په دنيا کې نور ورکړل.

: [vii]بنصب: په ستړيا او سختۍ سره

: [viii]أواب: ډير رجوع کوونکی الله جل جلاله ته، الله جل جلاله ایوب ستایلی او په (نعم العبد) سره یې یاد کړی یعنې (ښه بنده) دا ځکه چې هغه په اواب یعنې ډیر رجوع کوونکي سره موصوف شوی، او همدا ستاینه هر مؤمن ته کاریدای شي که چیرې په ریښتینې توګه الله ته ډیر رجوع کوونکی وي.

د شعیب علیه السلام کیسه

شعیب علیه السلام یو له څلورګونو عربي پیغمبرانو څخه ګڼل کیږي چې هغوی: هود، صالح، شعیب او محمد صلی الله علیه وسلم دي، شعیب علیه السلام د نبیانو په خطیب سره هم نومول شوی، ځکه هغه د فصاحت او بلاغت له اړخه ډیر پیاوړی وو، خپل قوم ته یې په ښه توګه بلنه ورکړې ترڅو په خدایي رسالت ایمان راوړي.

د شعیب علیه السلام قوم د مدین اوسیدونکي وو او مدین د شام په مربوطاتو کې په حاصلخیزه ځمکه پروت یو کلی دی چې حجاز ته څیرمه د لوط بحیرې ته نیږدې موقعیت لري، دا خلك عرب دي چې مدین بن ابراهیم خلیل ته یې نسبت کیږي.

د مدین اوسیدونکو د تجارت دنده پر مخ بیوله همدا وجه وه چې د مدین ښار ته به تجارتي کاروانونه تلل را تلل.

د مدین د خلکو ګمراهي

د مدین خلکو په الله جل جلاله باندې ایمان نه درلود، پرته له الله یې نور باطل خدایان ځانته غوره کړي وو، دا خلك ډیر بد معامله وو، کله به یې چې توکي خرڅول نو وزن به یې کمولو، دوی ته الله جل جلاله خپل رسول شعیب علیه السلام راولیږه چې د یوه خدای عبادت ته یې را وبلل، او له دې ناوړه کړنو یې منع کړل، په عدل او مساوات یې امر ورته وکړ، د ظلم د بدو پایلو څخه یې وویرول، شعیب خپل قوم ته څرګنده کړه چې لږ مال حلال چې تاسې ته الله درکړی دی تر ډیر حرام مال څخه غوره دی، هغه

زياته کړه چې دا زما له وسه نه ده پوره چې تاسې له ناوړه کړنو وساتم بلکې زه يوازې يو نصيحت کوونکی او لارښود يم نور نو که ما ريښتينی ګڼی نو زما متابعت وکړئ

.

(وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَا قَوۡمِ اعۡبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ وَلَا تَنقُصُوا الۡمِكۡيَالَ وَالۡمِيزَانَۚ إِنِّيٓ أَرَىٰكُم بِخَيۡرٖ وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٖ مُّحِيطٖ، وَيَا قَوۡمِ أَوۡفُوا الۡمِكۡيَالَ وَالۡمِيزَانَ بِالۡقِسۡطِۖ وَلَا تَبۡخَسُوا النَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡا فِي الۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ، بَقِيَّتُ اللَّهِ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَۚ وَمَا أَنَا عَلَيۡكُم بِحَفِيظٖ) هود ۸۴ – ۸۶

.او (لیږلی وو مورږ کلي د) مدین ته ورور د دوی شعیب، وویل (شعیب خپل قوم ته) اې قومه زما! عبادت وکړئ یوازې د الله نشته تاسې لره هیڅ (په حق) معبود پرته له الله، او مه کموئ پیمانه او تله، بیشکه چې زه وینم تاسې په ښه اقتصاد کې (خوشحاله ماړه (او بیشکه زه ویریږم پرتاسې (په سبب د دې خیانت) له عذابه د ورځې چاپیریدونکې، او اې قومه زما! پوره ورکوئ پیمانه (او سمه تلئ) تله په انصاف سره، او مه کموئ خلکو ته توکي د دوی او مه لټوئ په ځمکه کې (خرابي) حال داچې فساد کوونکي (وران کاران یئ)، الله درکړی رزق ډیر غوره دی تاسې ته)ترهغه څه چې تاسې یې په فساد او درغلۍ را ټولوئ) که یئ تاسې مؤمنان (باور کوونکي په خبره زما) او نه یم زه ساتونکی ستاسو (مګر یوازې نصیحت کوونکی او لارښود یم

).

)وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَا قَوۡمِ اعۡبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ قَدۡ جَآءَتۡكُم بَيِّنَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡۖ فَأَوۡفُوا الۡكَيۡلَ وَالۡمِيزَانَ وَلَا تَبۡخَسُوا النَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تُفۡسِدُوا فِي الۡأَرۡضِ بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ) اعراف ۸۵

. او(لیږلی وو مورږ) مدین ته ورور د دوی شعیب، وویل (شعیب خپل اهل ته) اې قومه زما! عبادت کوئ د الله نشته تاسې ته هیڅ معبود پرته له الله، بیشکه راغلی دی تاسې ته دلیل ښکاره له لوري د رب ستاسې، نو

پوره کوئ تاسې پیمانه او تله، او مه کموئ خلکو ته توکي د دوی او مه کوئ په ځمکه کې فساد وروسته له اصلاح د دې (ځمکې)، دغه اصلاح ستاسې لپاره غوره ده که چیرې یئ تاسې مؤمنان

. د مدین د خلکو له لویو ګمراهیو یوه دا وه چې د لارې په سر به کیناستل او د هغه خلکو څارنه به یې کوله چې شعیب علیه السلام ته به راتلل، د هغوی مخنیوی به یې کولو د خدای له لارې به یې کړول، د شعیب علیه السلام په رسالت به یې عیبونه نیول، مؤمنان به یې ګواښل، شعیب علیه السلام د دوی دا کړنې نه خوښولې، هغه به دوی ته پر دوی د خدای لوی لوی نعمتونه وریادول، ورته ویل به یې چې ستاسې عدد کم وو الله جل جلاله در زیات کړ، تاسې بې وزله او فقیران وی غنیان یې کړئ، هغوی ته به یې د تیرو قومونو حالت بیانولو کوم چې د وران کارۍ او فساد په پایله کې هلاك شوي وو، ترڅو کیدای شي له هغوی عبرت واخلي او له وران کارۍ لاس په سر شي

.

بیا یې خپله رایه ورته څرګنده کړه او ورته ویې ویل: تاسې تقسیم شوي یې په دوو برخو، ځینې له تاسو په الله ایمان راوړی او زما دعوت یې قبول کړی، او ځینې ستاسې کافران دي او زما له دعوت څخه یې مخ ګرځولې، زه به الله ته رجوع وکړم ترڅو هغه زموږ ترمنځ فیصله وکړي او هغه تر ټولو حاکمانو غوره حاکم دی.

)وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِهِ وَتَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ وَاذْكُرُوا إِذْ كُنتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ ۖ وَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ، وَإِن كَانَ طَائِفَةٌ مِّنكُمْ آمَنُوا بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ وَطَائِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوا فَاصْبِرُوا حَتَّىٰ يَحْكُمَ اللَّهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحَاكِمِينَ) اعراف ۸۶، ۸۷.

او مه کینئ تاسې په لارو، حال داچې ویروئ او منع کوئ تاسې له لارې د الله هغه څوك چې په الله یې ایمان راوړی، او لټوئ تاسې دې (لارې) ته عیبونه، او یاد کړئ هغه وخت چې وئ تاسې کم (په سړیو او مالونو کې)

نو ډير کړئ الله، او وګورئ چې څرنګه شو عاقبت د فساد کوونکو (پخوا له تاسې)، که چيرې يوې طايفې ستاسې ايمان راوړی پر هغه څه چې زه پرې استول شوی يم، او بلې طايفې (ستاسې) ايمان نه دی راوړی، نو صبر وکړئ تاسې (اې مؤمنې ډلې) تر هغه وخته چې فيصله وکړي الله تر منځ زموږ او هغه الله تر ټولو حاکمانو غوره حاکم دی.

د شعيب د قوم ريشخند وهل

د شعيب عليه السلام قوم د هغه په خبرو ريشخند ووهلو او خندا يې پرې وکړه، په تمسخر سره يې ورته وويل: آيا ستا لمانځه ستا په نفس دومره دروند اثر پرې ايښی، تردې چې موږ ته بلنه راکوي ترڅو د خپلو پلرونو په لاره ولاړ نشو او د بوتانو عبادت و نکړو، رانه غواړې ترڅو په خپلو مالونو کې څنګه مو چې خوښه ده تصرف ونکړو، دا رنګه خبرې ستا له لورې څنګه را ښکاري! حال داچې ته زموږ په وړاندې با وقاره او نيك خويه سړی يې؟!

شعيب عليه السلام په ځواب کې ورته وايي: اې قومه زما! ماته خبر راکړئ، که چيرې زه په ښکاره دليل او د خپل رب له لورې په واضح يقين سره روان وم، هغه په خپل لوی احسان سره ماته رزق او روزي راکړې وي، نو آيا د دې ټولو سره سره بيا هم مناسبه ده چې زه د هغه سره خيانت وکړم د هغه د امرونو او ممانعتونو مخالفت وکړم؟ زه په خپل نصيحت او وعظ سره اصلاح او سمون غواړم څومره مې چې توان وي، زه د حق په رسولو کې هيڅکله نشم بريالی کيدای مګر د الله په مرسته او تاييد سره، نو زه يوازې په همغه رب تعالی ټينګ باور لرم، يوازې همغه ته په هر څه کې رجوع کوم.

شعيب زياتوي: اې قومه! ګورئ چې دغه زما او ستاسې خپل منځي اختلاف مو د عناد سره مخ نکړي، په خپل کفر اصرار ونکړئ، چې يو ناڅاپه د هغه دردناك برخليك سره مخ نشئ کوم چې د نوح قوم ورسره مخ شوی وو، کوم چې د هود او صالح قومونه پرې هلاك شول، د لوط قوم خو ستاسو نه لرې نه دی، وګورئ څنګه هلاك شو، نو عبرت واخلئ ترڅو

تاسې هم د داسې هلاکت سره مخ نشئ، د الله جل جلاله څخه د خپلو ګناهونو مغفرت او بښنه وغواړئ، هغه ته په خپلو ټولو ګناهو پېښمانه شئ، هغه ته رجوع وکړئ، بېشکه زما رب د لوی رحمت او مغفرت څښتن دی، خپلو توبه کوونکو بندګانو ته مغفرت او بښنه کوي

.

﴿قَالُوا يَا شُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَن نَّفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ ۖ إِنَّكَ لَأَنتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ، قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَرَزَقَنِي مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ۚ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ ۚ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ۚ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ، وَيَا قَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِي أَن يُصِيبَكُم مِّثْلُ مَا أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ صَالِحٍ ۚ وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِّنكُم بِبَعِيدٍ، وَاسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ وَدُودٌ﴾ هود ۸۷، ۹۰.

وویل قوم د ده اې شعیبه! آیا دغه ستا ډیر لمونځ تاته د دې امر کوي چې پریږدو مورږ هغه بوتان کوم چې پلرونو زمورږ د هغوی عبادت کولو، یا (امر کوي تاته چې پریږدو مونږ) دا چې وکړو مورږ په خپلو مالونو کې هغه تصرف چې غواړو یې (د ډیرو اخیستلو او لږ ورکولو (بېشکه ته باوقاره او نیك خویه یې، وویل شعیب اې قومه زما آیا وینئ تاسې)خبر راکړئ) که یم زه په په دلیل (بښکاره) له لوریه د رب خپل، او راکړی یې وي له درباره خپله رزق او روزي بښایسته، (نو دا بښایي ماته چې مخالفت وکړم له احکامو د الله؟) اراده نلرم د دې چې مخالفت وکړم له تاسې سره (او را تګ وکړم په) هغه کار چې تاسې ترې منع کوم، اراده نلرم زه مګر (ستاسې) د اصلاح څو مې چې توان کیږي، نه دی بریالیتوب زما (په رسولو د حق کې تاسې ته) مګر)په مرسته او کمك د) الله، خاص په همدغه الله توکل کړی دی ما، او خاص د همده په لوري رجوع کوم، اې قومه زما! (ګورئ چې) هیڅکله کش نکړي تاسې زما سره مخالفت تردې چې ورسیږي تاسې ته په شان د هغه (عذاب) چې رسیدلی وو قوم د نوح ته، یا قوم د هود ته یا قوم د صالح ته، او نه ده (تیره شوې زمانه د لوط د قوم) ستاسې نه لرې، او مغفرت وغواړئ له رب خپل څخه، بیا رجوع

وکړئ د هغه په لوري، بیشکه رب زما ډیر مهربانه د محبت څښتن دی.
د شعیب تهدیدول او ګواښل
د شعیب علیه السلام همدا تګلاره وه په خپل دعوت کې، خو د قوم مشرانو په تهدیدولو او ګواښلو ورته وویل: مونږ به ضرور تا د خپلو مؤمنو ملګرو سره زمونږ له کلي وباسو، هرومرو به مو شړو، مونږ به له خپل دغه هوډ تیر نشو، مګر هغه وخت چې تاسې زمونږ دین ته را وګرځئ کوم چې ترک کړی مو دی.

شعیب علیه السلام ځواب ورکوي او ورته وایي: آیا مونږ به ستاسې دین ته درګرځو حال دا چې مونږ له هغه او پکې شته فساد څخه کرکه لرو؟ دا به هیڅکله هم ونشي، ځکه که چیرې مونږ بیرته ستاسې دین ته درشو نو په دې صورت کې به مونږ په الله جل جلاله دروغ تړلي وي، په هغه څه کې به مو دروغ ویلي وي چې مونږ ته یې امر کړی، ستاسو دا آرمان به هیڅکله هم پوره نشي وروسته له دې چې الله جل جلاله نیغې او مستقیمې لارې ته برابر کړي یو، مونږ ته نه ښایي چې ستاسې دین ته په خپله خوښه دروګرځو مګر که الله جل جلاله د درګرځیدو اراده کړې وي، او دا هیڅکله هم امکان نلري ځکه زمونږ رب پر مونږ باندې ښه عالم دی، هغه هیڅکله هم باطل ته په ورګرځیدو نه راضي کیږي، نو د هغه سبحانه و تعالی علم په هرڅه چاپیر دی، مونږ د هغه پاکي بیانوو او له هغه څخه غوښتنه کوو ترڅو زمونږ او ستاسې ترمنځ خپله د عدل فیصله وکړي او بیشکه هغه تر ټولو حاکمانو ډیر عادل ذات دی.
)قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَكَ مِن قَرْيَتِنَا أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا ۚ قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَارِهِينَ، قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللَّهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا فِي مِلَّتِكُم بَعْدَ إِذْ نَجَّانَا اللَّهُ مِنْهَا ۚ وَمَا يَكُونُ لَنَا أَن نَّعُودَ فِيهَا إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّنَا ۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ۚ عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ)اعراف ۸۸، ۸۹ .وویل هغو مشرانو چې کبر یې کړی وو (د ایمان را وړلو څخه) له قومه د ده)شعیب) ضرور تا وباسو (اې شعیبه!) او هغه کسان چې

ایمان یې راوړی دی له تاسره له دې کلي زمونږ، یا به تاسې ضرور زمونږ دین ته راګرځئ، نو وویل (شعیب (آیا (ستاسې دین ته به درګرځو) اګر که مونږ کرکه کوونکي یو (د هغه) بیشکه مونږ به تړلي وي دروغ پر الله که در وګرځو ستاسو دین ته وروسته تر هغې چې نجات راکړ مونږ ته الله له هغه نه، او نه ښایي مونږ ته دا چې بیرته وګرځو هغه دین ته مګر کله چې اراده وکړي الله چې رب زمونږ دی، احاطه کړې ده الله په هرشي له جهته د علمه، پر الله توکل کړی دی مونږ، اې ربه زمونږ فیصله وکړه زمونږ او زمونږ د قوم تر منځ په حقه سره او هم دا ته غوره فیصله کوونکی یې.

قوم یو ځل بیا شعیب تهدیدوي او ورته وایي چې په تیرو به دې وولو، تر اوسه مونږ ستا د کورنۍ خیال ساته نو ځکه مو څه درته نه ویل، ته خو څه عزت او قوت هم نلرې ترڅو ستا د وژلو مخنیوی وکړي، مونږ چې تراوسه څه کوو هغه زمونږ ستا د کورنۍ سره ښه معامله څرګندیږي، شعیب په ځواب کې ورته وایي: آیا زما کورنۍ تاسې ته تر الله جل جلاله ډیره نیږدې او غوره ده، زما د کورنۍ خیال ساتئ خو د د خپل پیدا کوونکي غوښتنې تر شا غورځوئ؟ بیشکه زما رب په هرڅه ښه عالم دی او د هر انسان په کړې عمل پوره جزاء ورکوي

) .قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيراً مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَاكَ فِينَا ضَعِيفًا ۖ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنَاكَ ۖ وَمَا أَنتَ عَلَيْنَا بِعَزِيزٍ، قَالَ يَا قَوْمِ أَرَهْطِي أَعَزُّ عَلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ وَاتَّخَذْتُمُوهُ وَرَاءَكُمْ ظِهْرِيًّا ۖ إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعْمَلُونَ مُحِيطٌ) هود ۹۱، ۹۲.

وویل قوم اې شعیبه! نه پوهیږو ستا په ډیرو هغو خبرو چې ته یې وایې، مونږ تا په مونږ کې کمزورۍ وینو، که چیرې ستا کورنۍ (خپل او خپلوان) نه وای (کوم چې زمونږ سره په کفر کې شریکان دي) مونږ به ته په تیرو ویشتلی وی، او نه یې ته زمونږ په وړاندې قدرمن، وویل (شعیب (اې قومه زما! آیا زما خپلوان ډیر مخور دي پر تاسې له الله، او ګرځولي مو دي دغه (د الله امرونه) وروسته ترشا غورځول شوي، (هیڅ پروا یې نه کوئ) بیشکه رب زما په (ټولو) هغو کارونو چې کوی یې ښه احاطه لري.

د مدين د اوسيدونکو هلاکت

د الله جل جلاله حکم د مدين د اوسيدونکو د سرغړونې په جزاء کې را نازل شو، هغوی يې ټول هلاک کړل، الله جل جلاله خپل نبي شعيب او پرده باندې ايمان راوړونکي کسان له دې سخت عذاب څخه وژغورل، هغوی يې په خپل رحمت سره له دې دردوونکې پيښې وساتل، څوک چې کافر شوي وو ټول د يوه سره هلاک شول، دا هلاکت د يوې بوږنوونکې آسماني چيغې سره را ښکاره شو چې د دې لويې چيغې سره سم د ځمکې قوي زلزله هم پيښه شوه کافر قوم يې ټول په خپلو زنګنو پراته په ځمکه پرې ايستل او هلاک شول، د دوی خبره همدلته پای ته ورسيده وروسته له دغه سخت عذاب څخه د دوی هيڅ آثار پاتې نشول هغه ځای داسې څرګنديده لکه هيڅوک هم چې هلته نه وي اوسيدلي

د مدين اوسيدونکي همداسې هلاک شول او د خدای د رحمت څخه لرې شول لکه مخکې تر دوی چې ثموديان هلاک شوي او د خدای د رحمت څخه لرې شوي وو.

) وَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَأَخَذَتِ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ، كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا فِيهَا ۗ أَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُودُ) هود ۹۴، ۹۵.

او کله چې راغی امر (د عذاب) زمونږ نو وژغورل مونږ (له دغه عذابه) شعيب او هغه کسان چې ايمان يې راوړی وو له ده سره په رحمت خپل، او ونيول هغه کسان چې ظلم يې کړی وو لويې چيغې نو وګرځيدل دوی په خپلو کورونو کې مړه وچ کلک پراته په زنګنونو خپلو، (داسې له منځه تللي وو) لکه چې نه وي اوسيدلي په دغو کورونو کې (پخوا له دې نه) واورئ! لرې والی دی (له رحمته) قوم د مدين ته لکه چې لرې او هلاک شول ثموديان (چې هغوی هم په چيغه له منځه تللي او هلاک شوي وو).

شعيب عليه السلام چې کله د خپل قوم برخليک او هلاکت وليدل نو ترې

ولاړ، په داسې حال کې چې خپل مسؤوليت يې ادا کړی وو ويل يې:ما تاسې ته پوره تبليغ وکړ ستاسو د رب رسالت او غوښتنه مې درته ورسوله که چيرې مو عمل پرې کړی وی نو دا به ستاسو د نيکمرغۍ سبب وو، ما ستاسو په لارښوونه کې ډير زياتوالی او مبالغه وکړه، خو تاسې بيا هم په خپله ګمراهۍ او ضلالت کې پاتې شوی، نو زه څنګه ستاسې په حال خفه شم او ستاسو لپاره زړه بد کړم په داسې حال کې چې تاسو زما د لارښوونې وعظ او تبليغ سره سره بيا هم په خپل کفر هميشه والی ښودو او په ګناه مو اصرار کولو؟.!

)فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۖ فَكَيْفَ آسَىٰ عَلَىٰ قَوْمٍ كَافِرِينَ) اعراف ۹۳.

نو مخ وګرځاوه شعيب له دوی څخه او ويې ويل: اې قومه زما! بيشکه ما رسولي دي تاسې ته پيغامونه د رب خپل او نصيحت مې درته کړی، نو څرنګه به زه خفه شم په (هلاکت د هغه) قوم (چې (کافران وو.

اصحاب ايکة

وروسته له دې چې الله جل جلاله د مدين اوسيدونکي هلاك کړل او شعيب او ورسره مؤمنو ملګرو ته يې نجات ورکړ، شعيب يې واستولو د ايکة څښتنانو (اصحاب ايکة) ته، ايکة د مدين سره نيږدې هغه ځمکه وه چې هلته ډيرې زياتې ونې شنې وې، بهيدونکې اوبه يې درلودې، په دې ځمکه کې يو ټولی د خلکو وو چې مدين ته د ګناه کولو په موخه را روان وو، شعيب عليه السلام ورته وويل: زه د رب العالمين له لوريه تاسې ته ستاسې د هدايت او لارښوونې لپاره استول شوی يم، او زه د هغه د رسالت ساتونکی يم ترڅو تاسې ته يې په بنسټيزه توګه ورسوم، نو د الله د سخت عذاب څخه وويريږئ او زما اطاعت وکړئ په هغه څه کې چې د

الله د غوښتنو متابعت پکې پروت وي، زه ستاسو نه ستاسو په لارښوونه څه اجوره نه غواړم، زما اجر او ثواب په رب العالمين دی همغه به زما د کوښښونو اجرونه راکوي.

د شعيب د نصيحت په اوږدو کې دا هم وويل: خلکو ته چې پيمانه ورکوئ نو پوره يې ورکوئ، که چيرې توکي په تله ورتلئ نو په پوره توګه يې وتلئ، د خلکو د حقوقو څخه څه مه کموئ، په ځمکه کې د فساد ډير ټينګار مه کوئ، د خدای جل جلاله له عذابه وويريږئ، د هغه خدای له عذابه چې تاسې او ستاسې نه مخکې ځواکمن قومونه يې پيدا کړي

د شعيب عليه السلام وعظ او تبليغ د هغوی په نفسونو هيڅ اغيز ونکړ هغه ته يې په ځواب کې وويل: ته هم يو له هغو څخه يې چې سحر ورباندې شوی، پيل دې کړی دا رنګه خبرې کوې، ته هم زموږ غوندې يو بشر يې نو څنګه ته تر موږ غوره کيدای شې چې رسالت درباندې نازليږي؟ موږ تا په هغه څه کې درواغجن ګڼو چې ته ورته بلنه کوې ته ريښتيا نه وايې، که چيرې ته ريښتيا وايې نو له الله وغواړه چې له آسمانه پر موږ عذاب نازل کړي.

شعيب په ځواب کې ورته وويل :زما رب ستاسو په ټولو ګناهونو ښه خبر

دی، پوره علم لري، هغه پوهيږي چې تاسې د عذاب وړتيا لرئ، هغه به عذاب در باندې نازل کړي خو په خپل ټاکلي وخت کې

.

کافر قوم همداسې د شعيب عليه السلام د خبرو په دروغ ګڼلو استمرار وکړ، نو الله جل جلاله عذاب پرې راکوز کړ، الله جل جلاله د ډيرې تيزې ګرمۍ سره مخ کړل، نفسونه يې له دې تيزې ګرمۍ تنګ راغلل نو ځکه د باندې وچې ته را ووتلل ترڅو کيدای شي په دښته کې يې سترپا دمه شي، الله جل جلاله وريځې پرې راوستې، په ليدو يې دوی ډير خوشحاله شول، د وريځې لاندې کيناستل ترڅو له سيوري يې ګټه واخلي، په همدې وخت کې په اورينو تيرو سره وويشتل شول او ټول هلاک شول، او دا ډيره ويروونکې او دردوونکې ورځ وه.

﴿كَذَّبَ أَصْحَابُ الْأَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ، إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ، إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ، فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ، وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ، أَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُخْسِرِينَ ، وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ، وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ، وَاتَّقُوا الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْأَوَّلِينَ، قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ، وَمَا أَنْتَ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا وَإِنْ نَظُنُّكَ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ، فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِنَ السَّمَاءِ إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ، قَالَ رَبِّي أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ، فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ ۚ إِنَّهُ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ، إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ، وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾ شعراء ۱۷۶، ۱۹۱.

دروغ ګڼلي وو څښتنانو د ونو رسولان، کله چې وويل دوی ته شعيب آيا نه وېرېږئ (له دردناک عذابه د الله)، بيشکه زه يم تاسې ته رسول امانتګر، وويريږئ له الله او اطاعت وکړئ زما، زه نه غواړم ستاسو نه په دغه تبليغ هيڅ اجر نه دی اجر زما مګر په رب د عالميانو، پوره ورکوئ پيمانه، او مه کيږئ له کمو کوونکو ځينې (د پيمانې) او تلئ په تله برابرې سره، مه کموئ خلکو ته څيزونه د دوی، او مه ګرځئ په ځمکه کې فساد کوونکي،

او وويريږئ له هغه)الله(چې پيدا کړي يې يئ تاسې او ستاسې نه مخکې خلك، وويل(څښتنانو د ونو (بيشکه ته له سحر کړل شوو ځينې يې، او نه يې ته مګر يو بشر په شان زمونږ بيشکه مونږ ګمان کوو پرتا چې ته له جملې د دروغجنو څخه يې (په خپلو دغو خبرو کې)، نو راوغورځوه يوه ټوټه له آسمانه که يې ته له ريښتيا ويونکو څخه، وويل (شعيب) رب زما ښه عالم دی په (ټولو) هغو کارونو چې تاسې يې کوئ، پس دروغ وګڼلو دوی (څښتنانو د ونو) هغه (شعيب) نو ونيول دوی عذاب د ورځې د سيوري، بيشکه چې دغه (عذاب) وو عذاب د ورځې ډيرې لويې، بيشکه چې په دغه)عذاب د څښتنانو د ونو) کې شته لوی دليل (د قدرت او عبرت) او نه وو ډيری د دوی مؤمنان، او بيشکه رب ستا همدی دی ډير ځواکمن او رحم کوونکی.

:1ابينة: د بيني څخه مراد د لته معجزة ده، له شعيب عليه السلام څخه معجزة څرګنده شوې وه چې د ده د رسالت ريښتينولي پرې ثابتيدله، خو

قرآن يې ماهيت او نوعيت نه دی بيان کړی.

:2لا يجرمنكم: درته ونه رسوي

:3شقاقي: دښمني زما سره

:4ايكة: ګڼې ونې

:5مخسرين: کم کوونکي د پيمانې

:56جبلة: ټولی د خلکو

:7كسفا: ټوټه

د لوط علیه السلام کیسه په قران کې

د لوط د قوم فساد

مخکې مو یاد کړل چې ابراهیم علیه السلام د حران له ښاره هجرت وکړ کوم چې د مابین النهرین د هیوادو شمالي لوري ته پروت دی، او فلسطین ته راغی، په دې هجرت کې یې میرمن او ټول هغه کسان ملګري وو چې د ده په رسالت یې ایمان راوړی وو او په سر کې یې لوط د هاران زوی وو.

ابراهیم او لوط دواړو هغه وخت له فلسطین نه مصر ته مخه کړه کله چې په فلسطین کې لوږه زیاته شوه، او وروسته له دې چې د لوږې زور را ټیټ شو بیرته له مصر نه را وګرځیدل په داسې حال کې چې د مالونو ډیرې رمې هم ورسره وې کومې چې د مصر پاچا ورته ډالۍ کړې وې.

د څړ ځایونو د کموالي له امله به کله نا کله د ابراهیم او لوط د شپنو ترمنځ شخړه را منځته کیده، نو ځکه ابراهیم د لوط سره د ځمکې د تقسیم خبره یاده کړه ترڅو په سر یې را پورته شخړې پای ته ورسیږي، لوط ته یې وویل چې د ځان لپاره د خپلې خوښې ځمکه وټاکه، همغه وو چې لوط د اردن ځمکه غوره کړه، کوم چې د سدوم او عمورة ښارونه هم همدلته واقع وو، او خپله د سدوم په ښار کې میشت شو.

د سدوم د ښار اوسیدونکي تر ټولو ډیر فاسد او کافر خلك وو، د ډیر بدو خویونو او عادتونو څښتنان وو، لاروهونکي وو په ناست ځایونو کې به یې تل منکر کارونه ترسره کیدل، هیڅکله به یې له بدو کارو مخ نه ګرځولو، د لمړي ځل لپاره یې داسې فاحش کار پیل کړ چې مخکې له دوی څخه د آدم اولادې نه پیژانده چې هغه لواطت وو، په لمړي ځل همدوی پیل کړ، الله جل جلاله دوی ته خپل نبي لوط په خپل رسالت سره واستاوه، ترڅو هغوی ته لارښوونه وکړي، له دې بدو او کرغیړنو کارو یې مخنیوی وکړي ویې ډاروي.

د لوط رسالت

لوط علیه السلام خپل قوم په الله جل جلاله باندې ایمان راوړلو ته را وبللو، او د هغه له عذابه یې وویرولو، د ګناهونو او منکراتو په پریښودلو یې وهڅولو او ورته ویې ویل: زه ستاسې لپاره د الله استازی یم، د هغه په رسالت او تبلیغ باندې ساتونکی او امین یم، نو د الله له سخت عذابه وویریږئ، زما خبره ومنئ زما دعوت ته غاړه کیږدئ، زه ستاسو نه د لارښوونې په بدله کې څه مال او پیسې نه غواړم، زما اجوره او ثواب په الله جل جلاله باندې دي چې رب او روزونکی د عالمیانو دی، اې قومه! مناسب نه ده چې د طبیعت مخالفت وکړئ، نه ښایي چې له نارینه وو سره فحشاء وکړی، ځکه الله جل جلاله تاسې ته ښځې په برخه کړې، له هغو نه څنګه مخ اړوئ او له نارینه وو سره لواطت کوئ، طبیعت خو دا ویي چې نارینه دې له ښځینه سره یوځای شي جنسي اړیکې دې ونیسي، تاسې ولې د مزاج سره په ټکر کې کړنې ترسره کوئ، دغه منکر او فاسد کارته لاس غځوی، تاسې په دې کړنې سره له خپل حده تجاوز کړی، تاسې ډیره کرغیړنه ګناه ترسره کوی.

خو ورانکار قوم د دې په ځای چې د خپل نبي لوط خبره ومني، هغه ګوابنې او ورته وایي: که چیرې له دې خبرو وانه وړې نو موږ به دې له خپل هیواده وباسو، لوط یې په ځواب کې وایي: زه ستاسو د کړنو سره مخالف یم ستاسې له منکراتو بیزار یم، ستاسې کړنې بدې ګڼم.

﴿كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ الْمُرْسَلِينَ، إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ، إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ، فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ، وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ، أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعَالَمِينَ، وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ ، قَالُوا لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَا لُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِينَ، قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُم مِّنَ الْقَالِينَ﴾ الشعراء -۱۶۹ ۱۶۰.

دروغ ګڼلي وو قوم د لوط رسولان، کله چې وویل دوی ته ورور د دوی لوط، آیا نه ویریږئ تاسې (له عذابه د الله)، بیشکه زه تاسې ته رسول

امانتګر یم، نو وویریږئ له الله او اطاعت وکړئ زما، زه ستاسې نه د تبلیغ په بدله کې څه اجر نه غواړم، زما اجر نشته مګر په رب د عالمیانو، آیا راتګ کوئ (په لواطت سره) نارینه وو ته له خلکو، او پریږدئ تاسې هغه چې پیدا کړې دي تاسې ته رب ستاسې له ښځو، بلکې تاسې له حده تیریدونکي یاست، وویل (قوم د لوط) که چیرې وانه وښتې اې لوطه (له دې خبرو) نو هرومرو به شي ته له ایستل شویو (له دغه ښاره) وویل لوط بیشکه زه له دې کړنې ستاسې کرکه لرم)ترې بیزاره یم

.(د لوط قوم د لواطت د ګناه ترڅنګ نورې بدې کړنې هم ترسره کولې، دوی به په خپلو ناست ځایونو کې په ښکاره توګه ناوړه کارونه کول، د مسافرو لارې به یې نیولې د هغوی مالونه به یې لوټل او بیا به یې د هغوی سره د لواطت لویه ګناه کوله، لوط علیه السلام د خپل قوم په مقابل کې ودریده، دوی به یې له دې بدو کړنو څخه منع کول، د خدای د عذابه به یې ویرول، خو قوم ډیر کبرجن او زور ویونکی وو، کبر یې وکړ او لوط ته یې وویل :که چیرې ته په ریښتیا سره په خپلو خبرو کې ریښتینی وې نو راوله هغه عذاب په موږ باندې چې تل موږ پرې ګوابنې.

پاك خدای وایي (وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ الْعَالَمِينَ، أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنكَرَ ۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ) العنکبوت ۲۸-۲۹

.

او یاد کړه (اې محمده) لوط کله یې چې وویل قوم خپل ته، بیشکه تاسې راځی ناوړه کار (لواطت) ته، چې نه دی ړومبی شوی پر تاسې هیڅوك له خلکو(په دغه قبیح کار کې، تاسې لمړی قوم یئ چې دا کار ترسره کوئ)، آیا تاسې راځئ سړیو ته (د لواطت لپاره) او قطع کوئ لاره (او د خلکو مالونه لوټئ)، او راځئ تاسې په خپلو ناستو کې ناوړه کارونو ته، پس نه وو ځواب د قوم د ده مګر داچې ویل به یې چې راوله موږ ته عذاب د الله که چیرې یې ته له ریښتیا ویونکو څخه.

ملايکې سدوم ته په لاره:

مخکې مو د ابراهيم عليه السلام په کيسه کې يادە کړه چې ملايکان په ابراهيم باندې ميلمانه پاتې شول، او هغه ته يې وويل چې مونږ د لوط د قوم د هلاکولو لپاره سدوم ته تلونکي يو، ځکه هغه قوم له لارې وتې، د خداى له حدودو يې تجاوز کړى او په کرغيړن فحاشت روږدى دى، ابراهيم د دې خبر په آوردو زړه تنګې او خپه شو ځکه د سدوم په کلي کې خو د ده د تره زوى لوط هم هستوګن وو، نو ځکه يې ملايکو ته وويل: په هغه کلي کې خو لوط هم شته، ملايکو په ځواب کې ورته وويل: مونږ پوهيږو چې هلته لوط شته، خو هلاکت به يوازې په کافرانو پريوزي کوم چې په الله جل جلاله باندې ايمان نلري، لوط او کورنۍ يې، ورسره ټول هغه چې په ده يې ايمان راوړى له دې عذاب څخه ژغورونکي دي، پرته له ميرمنې يې چې هغه به هم په دغه عذاب کې را ګير شي، او د لوط ميرمنتوب به يې له عذابه ونشي ژغورلى، ځکه د هغې کړنې هم سمې نه دي، د خپل ميړه سره يې خيانت کړى، په خپل کفر او سرغړونې يې کلك اصرار کړى.

پاك خداى وايي) :وَلَمَّا جَاءَتۡ رُسُلُنَا إِبۡرَاهِيمَ بِالۡبُشۡرَىٰ قَالُوا إِنَّا مُهۡلِكُو أَهۡلِ هَٰذِهِ الۡقَرۡيَةِ ۖ إِنَّ أَهۡلَهَا كَانُوا ظَالِمِينَ، قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ۚ قَالُوا نَحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَن فِيهَا ۖ لَنُنَجِّيَنَّهُ وَأَهۡلَهُ إِلَّا امۡرَأَتَهُ كَانَتۡ مِنَ الۡغَابِرِينَ) العنكبوت ٣٠-٣١.

كله چې راغلل استازي زمونږ ابراهيم ته په زيري سره، نو وويل: (دغو استازيو، ملايکو) بيشكه مونږ هلاکوونکي يو د اوسيدونكو د دغه كلي (سدوم) بيشكه اوسيدونكي د دغو ځايونو وو ظالمان، وويل) :ابراهيم ملايكو ته) بيشكه په هغه ښار كې لوط دى، وويل ملايكو: مونږ ښه پوهيږو په هر هغه چا چې په دغه ښار كې دي، مونږ به نجات وركړو ده ته او د ده كورنۍ ته، مګر ميرمنه د ده چې هغه له پاتې كيدونكو ده (په عذاب كې.(

ملايکې د لوط په ميلمستيا کې:

ملايکو ابراهيم پرېښود او مخه يې کړه د سدوم کلي ته، په لوط باندې ميلمانه شول په داسې حال کې چې هغه يې په حقيقت نه پوهيده، هغه د داسې ميلمنو له راتګ څخه ډير سخت تنګ شو، ځکه ميلمانه ډير زيات ښايسته وو، ښکلي مخونه يې درلودل، نو له دې وډار شو چې قوم يې پرې تجاوز ونکړي، او د ميلمنو ساتنه خو واجب ده، بايد د ميلمنو نه کلکه څارنه او ساتنه وکړي، له ټولو ناوړه پېښو يې وژغوري، په زړه کې يې نا څاپې خطرونه را تيريدل چې د ميلمنو په موجوديت کې به دی ورسره مخ کيږي، نو ځکه يې په خپل نفس کې وويل: دا ورځ ډيره بده او د دردونکې ورځ ده.

د ناولي قوم ترمنځ د لوط د ښکلو ميلمنو خبر خپور شو، ټول په ډيره چټکۍ سره د هغه کورته ورغونډ شول، د هغه د کور شاوخوا يې ونيوله غوښتل يې د ميلمنو سره فاحش عمل (لواطت) ترسره کړي. کله چې لوط خپل قوم وليده چې د ده د کور شاوخوا يې نيولې، د دوی په ناوړه هدف وپوهيده، همدا وو چې د قوم مشرانو ته يې د خپلو لورانو خبره وکړه او ورته ويې ويل: دا زما لورانې دي واده ورسره وکړئ، دغه فاحش عمل مه ترسره کوئ زما د ميلمنو نه لرې شئ، لوط هيله درلوده ترڅو په قوم کې کوم هوښيار سړی پيدا شي او د ده خبره ومني، د باطل لوری پرېږدي د قوم په مخنيوي کې د ده سره مرسته وکړي او دغه ناوړه کړنې ته يې پرې نږدي.

غافل قوم د لوط په خبرو او وړانديزونو راضي نشو، د هغه په ځواب کې يې وويل: ته ښه پوهيږې چې موږ ستا د لورانو سره د واده کولو لوالتيا او مينه نلرو، ته پرته له شکه ډير ښه پوهيږې چې موږ څه غواړو. لوط د خطرې خبره خپلو ميلمنوته ښکاره کړه او ورته ويې ويل: که چيرې ستاسو په موجوديت کې زما ځواك زياتيدلی او د دې توان مې پيدا کړی وی چې ستاسو نه دفاع وکړم نو کړې به مې وه، که چيرې ما ځواکمن ملګرې او دوستان درلودی نو هغوته به مې پناه وړې وه، مرسته به مې

ځيني غوښتې وه ستاسو نه به مې حمايت کړی وو، خو زه هيڅ لاره نلرم چې ستاسو نه دفاع وکړم او دهغوی مخه ونيسم، پاك خدای وايي:

﴿وَلَمَّا جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَٰذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ، وَجَاءَهُ قَوْمُهُ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ وَمِن قَبْلُ كَانُوا يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ ۚ قَالَ يَا قَوْمِ هَٰؤُلَاءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ فِي ضَيْفِي ۖ ، ۖ أَلَيْسَ مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ، قَالُوا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ، قَالَ لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ﴾ هود ۷۷-۸۰.

او کله چې راغلل روسولان زموږ لوط ته (او د دوی ښايست يې وليد) نو غمجن شو (لوط (په ليدو د هغوی، او تنګه شوه سينه د ده (چې څه بې عزتي دوی ته ونه رسيږي (او وويل لوط دا يوه ډيره سخته ورځ ده، او راغی قوم د ده په منډو ده ته،(لپاره د بدکاری د ميلمنو سره) او پخوا هم دوی ناوړه کارونه کول،(کله چې راورسيدل او د ميلمنو غوښتنه يې وکړه) نو وويل (لوط) اې قومه زما دا لورانې زما دي (په نکاح يې واخلئ) دوی پاکيزه دي تاسې ته، وويرږئ له الله او مه رسوا کوئ ما په حق د ميلمنو زما کې، آيا نشته له تاسې کوم سړی هوښيار)نيك خويه چې تاسې ته لاره وښيي)، وويل قوم د لوط بيشکه چې ته پوهيږې چې نشته موږ لره په لورانو ستا کې هيڅ ارټيا، او بيشکه ته پوهيږې په هغه کار چې موږ يې غواړو (چې لواطت دی)وويل لوط کاشکي وی ماته پرتاسو زور زيات، يا مې پناه ورلی شوی پناه ځای قوي او ځواکمن ته.

د خدای عذاب د لوط د قوم لپاره:

د لوط عليه السلام د کور ترمخ د خلکو غوغا او شورمشور زيات شو، خو لوط و نتوانيده چې قوم ته قناعت ورکړي، او د هغه څه څخه يې مخنيوی وکړي چې دوی يې د کولو عزم کړی وو، نو شك کيده چې په عملي توګه په حرام عمل لاس پورې کړي، په همدې وخت کې ملايکو د خدای په امر سره ظالم خلك په ړندوالي سره وګمارل او ټول ړانده شول،

خپلو کورونو ته سپك ذليل را وګرځيدل، پاك خداى وايي):وَلَقَدۡ رَٰوَدُوهُ عَن ضَيۡفِهِۦ فَطَمَسۡنَآ أَعۡيُنَهُمۡ فَذُوقُواْ عَذَابِي وَنُذُرِ) القمر ۳۷

په تحقيق سره غوښتي وو دوى (قوم د لوط) له ده (لوط) څخه ميلمانه د هغه (لپاره د لواطت) نو ړندې کړې مورږ سترګې د دوى)او ورته ومو ويل د ملايکو په ژبه) چې وڅکئ زما عذاب او زما ويرول. بيا ميلمنو ملايکو ډير ځنډ ونکړ، لوط عليه السلام يې له حقيقت څخه خبر کړ، د راتلو سبب يې ورته ښکاره کړ، او ورته ويې ويل چې د قوم د هلاکولو لپاره راغلي، ترڅو وروسته له دې چې سترګې يې ړندې شوې په ټولیزه توګه يې په هلاکت ورسوو، هغوى زياته کړه: دوى نشي کولى چې تاته څه عذاب ورسوي، نشي کولى زمورږ په تړاو تاته سپکاوى متوجه کړي، نو ته د خپلې کورنۍ سره د شپې له دې ځايه او له دې کلي ووځئ، نه بايد هيڅ يو تر شا وګورئ ترڅو د عذاب له څرنګوالي څخه ونه ډار شئ او په پايله کې اذيت نشئ، هغه ميرمن دې چې ستا سره يې خيانت کړى، هغه له دې کلي مه وباسه، ځکه هغه نشي وتلى او ضرور بايد د قوم سره په دې عذاب کې شامله شي، د هلاکت ټاکلى وخت همدغه سهار دى، او ښکاره ده چې دا ټاکنه ډيره نيږدې ده.

کله چې د الله د قضا او ارادې سره سم عذاب نازل شو، نو د هغه کلي پورته خوا يې ښکته خوا وګرځوله کوم چې د لوط قوم هلته اوسيده، يعنې هغه کلى يې نسکور کړ، بر طرف يې لاندې او لاندې طرف يې پورته کړ، او په همدې وخت کې الله جل جلاله د کلکو خاورينو تيږو باران هم پرې واوراوه چې د باران تيږې به په مرتبه او منظمه توګه په هغوى لګيدې، دا د الله جل جلاله عذاب وو چې د الله جل جلاله عذاب د ظالمانو او فاسقانو څخه لرې نه دى.

پاك الله وايي: (قَالُوا يَا لُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوا إِلَيْكَ ۖ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ اللَّيْلِ ، وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ إِلَّا امْرَأَتَكَ ۖ إِنَّهُ مُصِيبُهَا مَا أَصَابَهُمْ ۚ إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ ۚ أَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيبٍ، فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا

جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ، مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ ۖ وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ) هود ۸۱-۸۳.

وويل ملايكو اې لوطه! بيشكه موږ استازي د رب ستا يو، دوى به تاته هيڅكله (په ضرر) سره ونشي رسيدى، نو بوځه خپله كورنۍ له دې ښاره په يوه توټه د شپې كې، او نه دې ګوري ترشا له تاسې هيڅوك، مګر(مه وباسه له دې ښاره) هغه ميرمن ستا (چې ستا سره يې خيانت كړى او كافره ده(، بيشكه دې(ميرمنې ستا) ته به هم هغه عذاب رسيږي چې دوى (ستا قوم) ته رسيږي، بيشكه ژمنه (د نزول د عذاب) سبا ده، آيا نه دي د دغه(د سبا راتلل (نيږدې،(بلكې نيږدې دي)، نو كله چې راغۍ (حكم د عذاب) زموږ نو وګرځاوه موږ پورته طرف (د دې ښار) ښكته طرف ته (يعنې نسكور كړ موږ پردوى باندې دغه ښار (او و اورولې په دغه ښار باندې موږ خاورينې كلكې تيږې په پرله پسې توګه،)داسې تيږې) چې نښه كړى شوې وې په نزد د رب ستا ، او نه دى دا (عذاب زما) له ظالمانو (كافرانو) څخه لرې

.هغه ځمكه چې د لوط قوم پرې هلاك شوى او د خداى عذاب پرې نازل شوى وو، هغه اوسمهال د بحرالميت يا بحيرة لوط په نامه سره شهرت لري، ځينې علماء وايي چې بحر الميت مخكې له دې پيښې موجود نه وو، او د همدغه پيښې په ترڅ كې راپيدا شوه چې زلزله وشوه او دځمكې پورته لورى ښكته او ښكته لورى پورته شو، چې ښكته لورى يې د بحر د سطحې څخه هم څلورسوه مترە لاندې ښكته شو، په وروستيو كلو كې د بحر ميت په څنډو كې د لوط د قوم د ښارو د ځينو آثارو خبرونه هم راغلي.

درسونه او عبرتونه

د لواطت څخه ويره:

د لوط عليه السلام په كيسه كې د لواطت كړنه ډيره بده ګڼل شوې، د دغه كرغيړنې كړنې كوونكو ته په دنيا او آخرت كې د الله جل جلاله سخت عذاب ياد شوى دى

.لواطت د ډيرو بدو فحشاوو څخه شميرل کيږي، دا ناوړه کړنه په دې دلالت کوي چې د انسان په طبيعي مزاج کې مرض او فساد پيدا شوی، دا عمل په انساني ټولنه ناوړه اغيزې لري او ټولنه د لوی خطر سره مخ کوي، لواطت انسانيت د حيوانيت له درجې هم رابښکته کوي.
قرآن کريم د لواطت لويې ګناه ته ډير اهميت ورکړی، په ډيرو ځايونو کې يې بد پرې ويلي، د لوط قوم چې د لواطت بد عمل پکې عام شوی وو، قرآن کريم په ډيرو ځايونو کې په بدو لقبونو او نومونو سره ستايلی.
الله جل جلاله د تجاوزګرو په نامه سره ياد کړی(أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعَالَمِينَ، وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ) آيا راتګ کوئ (په لواطت سره) نارينه ووته له خلکو، او پريږدئ تاسې هغه چې پيدا کړې دي تاسې ته رب ستاسې له ښځو، بلکې تاسې له حده تيريدونکي ياست.
معنا داچې هغوی د الهي شريعت څخه پښې اوړدې کړې وې، د حق او خير څخه يې تجاوز کړی وو، نو ځکه له مجرمينو وګرځيدل، چې دا لوی جرم په لوی عذاب سره بدرګه شو.
الله جل جلاله د لوط قوم په جهل او ناپوهۍ سره ياد کړی(انكم لتأتون الرجال شهوة من دون النساء بل انتم قوم تجهلون) تاسې راتګ کوئ نارينه وو ته په شهوت پرته له ښځو، بلکې همدا تاسې قوم يئ چې ناپوهي(جهل) کوئ(
له دې جهل څخه عبارت هغه جهل هم کيدای شي چې د علم او پوهې ضد دی، لکه څرنګه چې دا جهل د سپکاوي، بې باکۍ او هوس په معنی هم را تلی شي، بې باکه او سفيه سړي ته د کار کړلو ډير فرصت نشته، بلکې ضرور بايد د هغه کړنې او تصرفات کنټرول شي، په بې باکۍ او هوس سره بايد مجازات شي.
الله جل جلاله د لوط قوم په ډير اسراف سره نومولی(إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ النِّسَاءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ) بيشکه تاسې راتګ کوی

نارینه وو ته په شهوت پرته له ښځو، بلکې همدا تاسې قوم اسراف کوونکي یاست.
یعنې هغوی په شهوت کې ډیر اسراف او تجاوز وکړ، له هغو حدودو یې پښې وړاندې کیښودې چې الله جل جلاله د خپلو بنده ګانو لپاره ټاکلي وو، اسراف کوونکي زیات لګښت واله خو د شیطان ملګري او یاران دي، چې ټولنې فاسدوي، نو واجب ده چې د هغوی په مخ کې خنډ شو، د اسراف او لګښت مخنیوی یې وکړو
.سره د دې چې قرآن په دومره سخت قباحت سره دغه لویه فحشاء یاده کړې، آورو او وینو چې پرمختللي انسان بیا هم د شلم قرن په وروستۍ دریمه کې په همدغه فحاشت پیل کړی، په ښکاره توګه په ځینو لودیځوهیوادونو کې دا بد عمل ترسره کیږي، دوی د شخصیت د آزادی تر نامه لاندې دا کرغیړن عمل ترسره کوي، چې چارواکي هم په همدې دلیل هغوی ته لاره پرانیزي او مخنیوی یې نه کوي، د حیرانۍ خبره ده.

آیا د شخصیت آزادي په دې معنا چې د شهوت دغه بدې لارې ته اجازه ورکړل شي، او په ترڅ کې یې ټولې ښځې بې لارې شي، نارینه په بده فحشا روږدي شي، او په پایله کې کورنۍ نظام له منځه ولاړ شي، عاطفه او مهرباني تر پښو لاندې شي؟!!
آیا د شخصیت آزادي دیته ویل کیږي چې د نسل مخنیوی وشي، کوم چې الله جل جلاله د نړۍ د جوړښت لپاره ضرور ګرځولی، آیا د شخصیت آزادي په دې معنا چې شهوتونه پرته له کوم کنترول سره ترسره شي؟!! پرته له شکه چې دا رنګه آزادي به په ټولیزه توګه ټولنه له منځه یوسي، سمون او صلاح به یې تر پښو لاندې کړي.
د لواطت صحي زیانونه:
لواطت د ټولنیزو ضررونو ترڅنګ صحي زیانونه هم لري، لواطت هم ټول هغه مرضونه له یوه انسان نه بل ته لیږدوي کوم چې د زنا په ترڅ کې انتقالیږي، چې په نن نړۍ کې د ایډز او اچ آی وي یو له مهمو لیږدیدونکو ځخه ګڼل کیږي، همدارنګه ډیر جلدي مرضونه هم د همدې

لارې انسانانو ته سرایت کوي، لواطت په مقعد کې د ضعف ډیرې نښې نښانې پریږدي، ډیر داسې کیږي چې مفعول د قضای حاجت څخه کمزوری کیږي، تل یې پرته له اختیاره اودس ماتیږي، د لواطت په ترڅ کې کلمه څیریږي، را نیوونکی حالت یې شلیږي، د تیلو د قیف په شان شکل ترې جوړیږي، او تل د ډول ډول میکروبونو څخ ډك وي، چې د فاعل تناسلي آلې ته سرایت کوي، او د بولو مجرا د ډیرو سختو نا علاجه ستونزو سره مخ کوي، ډیر ځله داسې کیږي چې مفعول د نرښځې خاصیت غوره کوي، که چیرې د ماشوم توب څخه په دې کرغیړن عادت روږدی شي، بیا پرته له دې فحشاء څخه ژوند نشي تیرولی، تل په دې سخت عذاب مبتلی وي، ډیر د انساني میړانې په ضد کړنې ترسره کوي، کوښښ کوي خپله کمي پټه کړي.

ګورو چې الله جل جلاه هیڅکله هم موږ ته د کوم څیز امر نه کوي مګر دا چې زموږ سلامتیا او نیکمرغي ورسره مل وي، هیڅ کار حرام نه ګرځوي مګر دا چې د انسانان په هغه کار کې ضرر وي.

د الله عذاب په لواطت روږدو باندې:

د یادولو وړه چې قرآن کریم هغه سخت عذاب بیان کړی چې د لواطت په ګناه آخته کسان پرې هلاك شول، ترڅو ملتونو ته یې خطر څرګند شي او ځان ترې وژغوري، سدوم هغه کلي وو چې د لواطت کړنه پکې عامه شوې وه، الله جل جلاله یاد شوی کلي په سخترین عذاب سره له منځه یووړ، قرآن وایي: ﴿فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ﴾ الحجر ۷۵.

نو وګرځاوه موږ پورته طرف د دې ښار ښکته طرف (نسکور مو کړ) او و اورولو موږ پر هغوی (قوم د لوط) باندې خاورینې تیږې.

قرآن کریم ټول ملتونه او ټولنې له دې ناوړه کړنې څخه ډاروي، تر څو د دغه کار په پایله کې د همداسې عذاب سره مخ نشي کوم چې د لوط قوم پرې هلاك شوی وو، کله چې قرآن کریم د لوط قوم او پرې نازل شوی عذاب بیانوي، ورسره ترلې دا هم وایي: ﴿وَمَا هِيَ مِنَ الظَّالِمِينَ بِبَعِيدٍ﴾ معنا دا چې دا عذاب له هغو خلکو هم لرې نه دی چې د لوط د قوم عمل

ترسره کوي، بلکې الهی عذاب په ټولو هغو نازليدونکی دی چې د لوط د قوم په لاره ځي او د لواطت ګناه کوي

.وګورئ الهي عذاب په هر وخت او زمانه کې ترسترګو کيږي، ظالم قومونه پرې هلاکيږي، ترڅو ملتونه د فساد عاقبت او پايلې وپيژني، په نيږدې لنډ تاريخ کې نړۍ دوه نړيوال جنګونه وليدل، څومره انسانان يې په ترڅ کې هلاک شول، چې لاتر اوسه يې ويره د خلکو په ذهنونو کې پاتې ده، دا طبيعي عذابونه، سونامي او بحري ناتارونه چې هره ورځ ليدل کيږي او آوريدل کيږي، دا ټول الهي عذابونه دي، نو که څوک عبرت اخلي همدايې وخت دی.

د لواطت جزاء په اسلام کې: د اسلام سپيڅلي دين هم د هغه کس جزاء ډيره سخته ښودلې کوم چې د لوط د قوم عمل ترسره کوي (لواطت کوي)، ځينو علماوو ويلي چې (لواطت کوونکي) بايد په تيږو سره ترمګه وويشتل شي، که واده لري او که يې نلري (محصن او غير محصن)، چې دا د امام شافعي، امام احمد بن حنبل او ډيرو نورو علماوو او امامانو نظر دی، دوی د رسول صلی الله عليه وسلم په هغه حديث استدلال کړی کوم چې امام احمد او د سننو څښتنانو د ابن عباس څخه روايت کړی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل (من وجدتموه يعمل عمل قوم لوط فاقتلوا الفاعل و المفعول به) که مو څوک وليد چې د لوط د قوم کړنه (لواطت) کوي، نو فاعل او مفعول دواړه ووژنئ.

امام ابوحنيفه بيا وايي چې لواطت کوونکی بايد له غره څخه را وغورځول شي، او بيا په تيږو بدرګه شي، لکه څرنګه چې د لوط په قوم ترسره شول، ځکه الله جل جلاله وايي (وماهی من الظالمين ببعيد) او نه دی دغه د هلاکت عذاب له ظالمانو څخه لرې.

له کمزوري او ضعيف څخه دفاع:

د لوط عليه السلام په کيسه کې د ميلمه پالنې يو بل لوی درس پروت دی، د ميلمه نه بايد په هره ممکنه وسيلې سره دفاع وشي، ځکه ميلمه زموږ انساني ورور دی چې د يو څه وخت لپاره يې موږ ته پنا را وړې، غواړي د سفر ستړيا دمه کړي، غواړي يوه مړئ ډوډئ وخوري او لوږه يې

ونه ګوابنې، غواړي له دښمنه ځان وژغوري، هغه زمونږ ورور دی په انسانیت کې، له سختیو او کړاوونو یې مونږ ته هیله کړې، نو آیا دابه له ځوانمردئ او میړانې وي چې مونږ یې وشړو او پر مخ یې دروازې وتړو؟.!! د الله د نبي لوط څخه یې زده کوو، ګورو چې هغه څنګه د میلمه پالنه کوي، په ټولو شته وسایلو یې پالي او خدمت یې کوي، په وړاندې یې ډیره ارزښتناکه سرښیندنه او قرباني کوي، کله چې میلمانه د تنکیو زلمیانو په څیرو ګوري، احساسوي چې د دې ښکلیو ځوانانو په سبب به ده ته څومره زیات تکلیف رسیږي، لوط کولی شوی چې خپله دروازه یې د هغوی په مخ تړلې وای، او له راتلونکو ستونزو یې ځان ساتلی وای، خو ګورو چې هغه په ډیره ښه توګه د هغوی ښه راغلاست اداء کړی، سره د دې چې نفس یې د خطر له وجې په ډار او ویره کې لړزیده، او په دې ترڅ کې یې ویل (هذا یوم عصیب) دا ډیره کړوونکې سخته ورځ ده.

ظالم قوم په ډیره بیړه د هغه کورته ور دانګي، غواړي په راغلو میلمنو تجاوز وکړي، لوط د میلمنو په دفاع کې خپلې د زړه ټوټې هغوی ته یادوي، ورته وایي چې اې قومه زما راشئ زما د لورانو سره واده وکړئ، او له دې لوی جنایت څخه ځان لرې وساتئ، خو کله چې د قوم د زور وینا ګوري، پوهیږي چې ظالم قوم د خپل کرغیړن تصمیم په بدله کې نه غواړي زما له لورانو سره ازدواج وکړي، نو په یوازې توګه د هغوی مخنیوی کوي نه پریږدي چې میلمنو ته یې څوك نیږدې شي، وینې چې د یوه قوم سره د هغه په یوازې توګه زور نه برابریږي نو هیله کوي چې که چیرې یې ډیر زور درلودی له خپلو میلمنو به یې کلکه دفاع کړې وه (لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ) وویل لوط کاشکي وی ما لرلی پرتاسو زور زیات، یا مې پناه ورلی شوی پناه ځای قوي او ځواکمن ته.

دا یو لوی درس دی زمونږ لپاره، د میلمه پالنه او اکرام د اسلامي اخلاقو یوه برخه ده، په دې اړه غواړم د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه حدیث یاد کړم چې په میلمه پالنه ډیر ټینګار کوي او وایي (من کان یؤمن بالله

واليوم الآخر فليكرم ضيفه) كه څوك په الله جل جلاله او ورځ د آخرت ايمان لري نو د خپل ميلمه پالنه دې كوي.

د موسی ع کیسه

د موسی علیه السلام خدای (ج) او د سامري طلايي ګیلکی کوټوال

په قرآن عظيم الشان كي د موسی ع او د سامري كيسه په ډيره ساده او مفصله توګه راغلې ده. كله چې موسی ع اود بني اسرائيل قوم د فرعون او د هغه د لښكر د غرقيدو وروسته د قلزم تر بحيرې په عافيت سره تير سول نو د الله ج په امر موسی ع د قوم رهبري پر هارون ع وسپارل او خپله د

۴۰ شپو لپاره د طور غره ته ولاړ څو د قوم لپاره الهي آئين راوړي. د موسی ع په غياب کي سامري د قوم ټوله زر راټول کړل، په اور کي يې ويلي کړل او د يوه ګيلګي مجسمه يې ځني جوړه کړل. بيا يې د جبرائيل امين ع د آس د سيمانو خاوره په خوله ورودوړول چي په اثر يې مجسمې د ګيلګي ږغ پيدا کړ. سامري خلګو ته وويل چي موسی ع ناحقه په خپل خدای پسي د طور غره ته تللئ دئ. حال داچي خدای خو يې دلې دئ. د قوم زياتي برخي د سامري په قول وکړل او په هر ډول اخلاقي بې لاري اخته سول. هغه لږو خلګو چي پر ګيلګي ايمان نه وو راوړئ هغه منزوي کړل سول. په هغوئ ټوکي وهل کيدلې او په سپکه ورته کتل کيدل. ما چي به هر کله په وړکتوب کي په تفسير شريف کښي دا واقعه لوستل نو ځني سوالونه به راته پيدا کيدل چي آيا ربښتيا هم په دې مجسمې او د هغه په ږغ کي داسي تاثير وو چي د يوه انسان به د معبود ګمان پر راتلای سوای؟ يا دا چي خلګو په تيرو پيښو کي د موسی ع د خدای ج زور او د هغه خدای ج سره د موسی ع ژوري رابطې په ښکاره ډول مشاهده کړي وي، نو دوئ ولي په دومره زيات شمير سره سامري په دومره اسانه خطا ايستل چي پر دغه ګيلګي د موسی ع د خدای ج ګمان وکړي يا د موسي ع د خدای ج په مقابل کي د سامري د کاذب خدای په اطاعت لګيا سول؟ دا سوالونه تر ډيره وخته پوري زما په ذهن کي راپورته کيدل. بيا چي کله مي عمر او تجربه زياتيدل نو په دې رازونو مي کرار کرار سر خلاصيدئ. زه وروسته په دې پوه سم چي انسانان تل هغه څه د حقيقت په صفت نه مني چي ددوئ سترګي، غوږونه، عقل او فکرد حقيقت په صفت ورته ښيي، بلکه دوئ اکثره وخت هغه درواغ د حقيقت په صفت مني چي په هغه کي ددوئ مادي ګټې او نفساني تسکين نغښتئ وي. دا چي سامري ته د ټول قوم طلا په اختيار کي ورکول کيدل چي د ګيلګي يوه مجسمه تري جوړه کړي او بيا هغه قوم ته د معبود په صفت معرفي کړي، دا يوه معمولي خبره نه وه. په ښکاره ډول سره د قوم د مخورو، عامو خلګو او سامري تر مينځ يو مخفي تفاهم موجود وو چي دا کار دومره په منظم ډول صورت ونيوئ چي هارون ع يې هم په مقابل کي لاچاره سو. ښايي د سامري معبود

ځکه ډيره خلګو ته د موسي ع عظيم رب ج په مقابل کي زيات ښه ايسيدلئ وي چي د سامري رب دوئ ته د هغه څه اجازه ورکول چي دوئ غوښتل او د ځانه څخه يې د ښه او د بد د تفسير توان نه درلود . دوئ ته يې هر هغه څه روا کول چي ددوئ نفسونو د سهولت او هوسايني احساس پر کاوه. د سامري رب پر دوئ د خير او شر توان نه درلود، ځکه نو دوئ د هغه څخه د خطر احساس نه کاوه. د موسی ع د خدای ج عظمت او جلال دوئ ته ور معلوم سوئ وو، د هغه وخت د قوم ډير متنفظين ښايي په دې پوهيدلي وي چي د فرعون د سلطي څخه د ازادي وروسته د قوم د سرنوشت واګي نور ددوئ و لاسونو ته د لويدلو په حال کي دي. نو که چيري موسی ع الهي قانون راوړي، شايد ددوئ نفوذ او اختيارات شديد محدوديتونه پيدا کړي. د قوم عادي خلګو د پيړيو وروسته خپلواکي لاس ته راوړې وه. هغه ځمکه چي دوئ پکښې اوسيدل د هغه پر ټولو منابعو ددوئ اختيار وو. دوئ ښايي ډير ارمانونه او شوقونه په زړونو کي وه چي ښايي د الهي قانون پر هغه محدوديتونه لګولي واى. لنډه دا چي قوم دا هڅه وکړه چي د الله ج لخوا عنايت سوي خپلواکي څخه د خپلو نفساني خواهشاتو د پوره کولو کار واخلي. که څه هم دوئ شاهد وه چي ددې خپلواکي لپاره دوئ نه دي جنګيدلي او د الله ج لخوا په خارق العاده ډول ورته عطاء سوې ده. الله ج خود خواه انسانانو ته سخته سزا ورکړه. په شرک باندي اخته سوي کسان، د هغوئ سرخيلان او سامري پخپله د دنيوي او اخروي ذلت مثال وګرځيدل. الله پاك ج ددې قوم دراتلونکي نسل څخه هغه کار واخيست د کوم کار لپاره چي يې دوئ د فرعون د ذلت اميزه غلامي څخه ژغورلي وه. کله چي مسلمان ولسونه د مستقيم غربي استعمار څخه خلاصيدل نو هر ولس ته الله پاك ج دوې لاري ور پريښودلي چي خپله حکومتداري د الهي قانون په چوکاټ کي تنظيموي او که په خپلو مقتديرينو، ليډرانو او سرخيلانو پسي ځي. مسلمانو ولسونو تل ها دوهمه لار غوره کړې ده. دوئ په هغه رهبرانو پسي تللي دي چي دوئ ته يې ښايسته ښارونه ورجوړ کړل، ښه پارکونه او نوري اسانتياوي يې ورته برابري کړې. دوئ د خپلو مشرانو څخه دا پوښتنه نه کول چي دا پيسې،

اسباب او وسلې د کومه کيږي. نه هيواد فابريکې لري، نه پراخ صادرات، دا امريکايان او روسان چې په بهترين کيفيت سړکان، بندونه او ويالې راته جوړوي، دا مو په کومه وسيله مسخر کړي دي. د سليمان ع خو د الله ج اسم اعظم زده وو چې د الله پاك ج په امر يې پيريان مسخر کړي وه. ستاسو راز څه دئ. دوئ ځکه دا پوښتنه نه کوي چې مادي ګټې او نفساني خواهشات يې اجازه نه ورکوي. د انسان او نورو حيواناتو ډير څه سره مشترك دي لکه دتندي او لوږې احساس، د جنسي تمايلاتو تقاضاوي پوره کول، د نوو ځيږيدلو اولادو روزنه او کفالت، د ټولنيز ژوند يو موثره او منظم نظام جوړول چې د ميږيانو، وينه وو او نورو ټولنيز ژوند لرونکو حشراتو کې يې ليدلای سو. يوازينی شی چې انسان د حيوان څخه بيلوي هغه د هغه ستر مسوليت احساس دئ چې خاص وده ته سپارل سوئ دئ. هغه د ځمکې پر سر د ټاکل سوي وخت لپاره د الله پاك ج د خليفه په صفت ژوند کول دي. په دنيا کې خپل فردي او ټولنيز ژوند د الله پاك ج لخوا راليږل سوي دستور سره هم آهنګ کول دي. خو اکثره انسانان دا شی هيروي او ځانونه د دې دنيا د نورو حيواناتو او مخلوقاتو سره سموي. ددرانه مسوليت له ويري د ستر امتياز څخه ځانونه باسي. د هوسا او اسانه ژوند لپاره ځانونه د ذلت کندي ته غورځوي. خو دلته ددوئ دا خبره هيره وي چې موسی ع د ۴۰ شپو په وعده د طور غره ته تللئ دئ. کله چې د الله ج حکم د يوې عملي کونکي اجرائيه قوې سره يوځای راورسيږي بيا به حتماً دوئ ټول په هلاکت کې لويږي. لکه هغه وخت چې د الله پاك ج وعده وه. نن هم دا وعده موجوده ده. امام مهدي ع او عيسی ع راتګ او ددجال او دهغه د نظام شکست او په ټوله نړۍ باندې د اسلامي شريعت د نفاذ وعده يقيناً پر حق ده. او د هغه وخت د رارسيدو له مخه به تل انسانان دوې ډلې وي چې يوه به يې ددجال او د هغه د نظام په قبوليت کې خپله فلاح وينې او بله به د الله ج د سپيځلو احکامو په منلو کې ګټه وينې. البته ددجال پيرويانو څخه هيله داده چې دا اقرار دي وکړي چې خپلو نفساني خواهشاتو د دجال او دهغه د نظام او ارزښتونو

پیروي ته تشویق کړي دي او داچي دا لاره بل هیڅ منطق او فلسفه نه لري.

د نوح ع کیسه د قران په رڼا کې

د بوتانو عبادت:

نوح علیه السلام لمړنۍ رسول دی چې الله جل جلاله خپل قوم ته په الهي رسالت سره رالیږلی، او دا هغه وخت وو چې قوم یې بوتانو ته مخه کړه د خدای په یووالي کافران شول او د ګمراهۍ په لوري ولاړل. قرآن کریم د هغوبوتانو نومونه د نوح علیه السلام د قوم د مشرانو په ژبه یادوي کوم چې همدوی به یې عبادت کولو:)وَقَالُوا:لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا، وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا (...نوح ۲۳،۲۴.

او وویل(مشرانو کشرانو ته) چې مه پریږدی تاسې(عبادت) د خپلو معبودانو، او مه پریږدئ (عبادت)د ود ، (او مه پریږدئ عبادت د)سواع (او مه پریږدئ عبادت د) یغوث، یعوق او نسر، او په تحقیق سره ګمراه کړي دي (دغو مشرانو په سبب د بلنې د بتانو عبادت ته) ډیری(خلك...(د نوح علیه السلام قوم نور باطل خدایان هم د ځان لپاره نیولي وو چې له همدې آیت څخه څرګندیږي)ولاتذرن آلهتکم)، (او مه پریږدئ خپل معبودان (باطل خدایان(

.

ویل شوي چې هغه خدایان ستوري او نور اسماني اجرام وو، دا چې دغه ستوري د ورځې ورکیږي او د شپې بیا را پیدا کیږي د همدې وجې دوی وغوښتل بوتانو ته عبادت وکړي ترڅو خپلو خدایانوته یې نیږدي کړي او له بلې خوا داسې خدایان ولري چې تل ورسره موجود وي. نوح علیه السلام تر ډیره په خپل قوم کې پاتې شو، د خدای یووالي ته یې

بلنه کوله، د یوه خدای عبادت ته یې خلك رابلل، پاك خدای وایي: ﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمۡ أَلۡفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمۡسِينَ عَامٗا﴾ العنکبوت ۱۴.

)په تحقیق سره مورِ لیږلی وو نوح قوم د ده ته، نو پاتې شو په دوی(خپل قوم)کې پنځوس کم زرکاله (۹۵۰کاله(

خو دومره زیاتې مودې دعوت څه ګټه ونکړه، د نوح علیه السلام په رسالت باندې چا ایمان رانه وړ مګر ډیرې کمې شمیرې له دوی ځینې، کله به چې ماشوم ځوانۍ ته ورسید خپل پلار به یې لارښوونه ورته وکړه او په ګوابلو به یې ورته وویل چې، هیڅکه هم د نوح متابعت ونکړې د ژوندانه په اوږدو کې له هغه لرې ګرځه !نو ځکه شرك د نوح په قوم کې یوبل ته میراث پاتې شو د پلار نه زوی ته ورپسې لمسي ته ... ټول ګمراهان شول د خدای د عبادت څخه یې مخ وارولو او ګناهونو ته یې مخه کړه.

د خدای دین ته دعوت:

نوح علیه السلام خپل قوم ته وویل: زه ستاسو لپاره ډاروونکۍ یم د هغه د ډیر لوی عذاب څخه، تاسو ته د نجات لاره ښیم او هغه دا چې د یوه خدای عبادت وکړئ، د هغه سره شریك مه نیسئ، ځکه زه ویریږم که چیرې تاسې د خدای پرته د بل څه عبادت وکړئ او یا له هغه سره شریك ونیسئ پاك خدای به مو دقیامت په ورځ له سخت عذاب سره مخ کړي ، دردوونکی عذاب به در په برخه کړي.
)وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦٓ إِنِّي لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٌ، أَن لَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۖ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ أَلِيمٖ﴾ هود ۲۶، ۲۵.

په تحقیق سره لیږلی وو مورِ نوح قوم د ده ته)چې ویل به یې خپل قوم ته) بیشکه زه تاسې ته یم وروونکی(له دوزخه) ښکاره،)ترڅو) ونکړې عبادت پرته له الله (د بل چا)، بې شکه زه ویریږم پرتاسې له عذابه د ورځې دردناکې(قیامت) څخه

همدارنګه نوح خپل قوم ته ویل: که چیرې تاسې د یوه خدای لارښوونو ته غاړه کیږدئ او له ګناهونو څخه ځانونه وساتئ پاك خدای به تاسې ته ټولې مخکینۍ ګناوې وبښي، د نیاوي نعمتونه به درته زیات کړي، په دنیا کې به تر هغه وخته مهلت درکړي چې خدای یې اراده کړې، ترڅو چې اجلونه مو آخر ته ورسیږي، او که چیرې د خدای عبادت ونکړئ، د هغه امر ته غاړه کینږدئ، پاك خدای به تاسې ته هیڅ مهلت درنکړي ، زر تر زره به خپل سخت عذاب درباندې یو ناڅاپه نازل کړي په داسې حال کې چې تاسې هیڅ خبر نه یاست.

)قَالَ يَا قَوْمِ إِنِّي لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ، أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ، يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ ۖ لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ) نوح ۲-۴

.

وویل (نوح) اې قومه زما، بیشکه زه تاسې ته وروونکی ښکاره یم،(وایم تاسې ته) چې بنده ګي وکړئ د الله او(یوازې) له الله وویریږئ، او زما خبره ومنئ(په شریعیه امورو کې)، چې وبښي(الله) تاسې ته ګناهونه ستاسې او وروسته به کړي (الله (تاسې(پرته له عذابه) تریوې نیټې معلومې پورې(چه وخت د مرګ دی)، بیشکه چې ټاکلی وخت د الله(لپاره د تعذیبولو د تاسې که ایمان را نه وړی) کله چې راشي نه وروسته کیږي.

د کفارو لویي (کبر:(

د نوح علیه السلام قوم د نوح نصیحتونه ونه منل، د خدای جل جلاله لارښونوته یې غاړه کینښوده، او ویې نه منله چې نوح د خدای له لوري رالیږل شوی نبي دی، د خپل انکار لپاره یې یو شمیر دلیلونه وړاندې کړل چې ځینې یې دا دي:

(1 نوح د همدوی غوندې یو انسان دی، خوري او څښي، دا کله کیدای چې نبي دې د همدوی غوندې یو بشر وي، د دوی په فکر نبي باید د پرښتو څخه وي نه د بشر(انسانانو) ځینې

(2 .کومو خلکو چې د نوح علیه السلام ملګرتیا کړې، هغوی ټول غریب او ضعیف دي، بارورونکي کروندګر دي، کم وسه خلك دي، او دې خلکو د دوی په نظر پرته له څه فکر او سوچ څخه د نوح لاره غوره کړې، او د هغوی تګلاره د دوی په نظر د منلو وړ نه ده (ځکه غریبان او کاریګر دي.(

(3نوح علیه السلام او ملګري یې په دروغو تورن کړي وو، خو خپله دغه دعوا یې په ګمان ولاړه وه، وربانديې متیقن نه وو

.

)فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ مَا نَرَاكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ ، وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَاذِبِينَ)هود ۲۷.

نو وویل کافرو مشرانو له قوم د ده (نوح) چې نه وینو موږ تا(اې نوحه) مګر یو بشر په شان د موږ(بل څه مزیت نلرې) او نه وینو موږ تا چې متابعت کړی وي ستا، مګر هغو کسانو چې له موږ څخه ډیر ښکته دي (له اقتصادي او ټولنیز پلوه او له وجې) د ظاهرولو د فکر پرته له تأمل څخه، او نه وینو موږ تاسې لره پرموږ باندې هیڅ بهتري، بلکې ګمان کوو موږ پرتاسې د دروغجنو.(

په بل آیت کې قرآن د نوح د قوم کبر او غرور انځوروي، او د هغه قوم سرغوړونه را ښکاره وي، او نوح ته د خپل قوم لخوا د ګمراهۍ او ضلالت د ویلو بیان کوي، لکه څرنګه چې د نوح د صبر، زغم او نرمۍ انځور راته مخکې ږدي، چې کوښښ کوي ترڅو د خپل قوم له عقلونو څخه دا خیال وباسي، نو ورته وایي: اې زما قومه زه ګمراه نه یم لکه څرنګه چې تاسې ګمان کوئ، بلکه زه د الله رب العالمین له خوا رسول یم، تاسو ته د خدای رالیږل شوي نصیحتونه(پندونه) بیانوم، د خدای احکام درته ښیم، ترڅو ستاسو کارونه پرې سهي شي، او زه ستاسو لپاره نصیحت کوونکی یم د هغه څه چې ستاسو نیکمرغي په هغه کې ده،

تاسو ډاروم له هغه څه چې تاسې د بدمرغۍ په لوري بيايي، بيشکه ماته خداى پاك هغه پوهه راكړې چې تاسې نه پرې پوهيږئ

.

)قَالَ الْمَلَأُ مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ، قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ، أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ، أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ)الأعراف ۶۳-۶۰

.

وويل (نوح) اې قومه زما نشته په ماكې هيڅ ګمراهي بلكه زه يم رسول له جانبه د رب د ټولو عالميانو، رسوم تاسې ته پيغامونه د رب خپل او پند درکوم تاسې ته او پوهيږم له(جانبه د) الله (په وحى سره) په هغه چې تاسې نه پوهيږئ، آيا تعجب کوئ تاسې له دې چې راغلى دى تاسې ته ذکر(پند په وحى سره) له لوري د رب ستاسې په)ژبه د) يوه سړي له (جنسه د) ستاسې لپاره د دې چې وويروي تاسې او لپاره د دې چې پرهيزګاران شئ تاسې، او لپاره د دې چې پرتاسې رحم وکړى شي.(

نوح عليه السلام خپل دعوت ته ادامه ورکوي

:

نوح عليه السلام ډيره هڅه کوي ترڅو خپل جاهل قوم وپوهوي، د هغوى سره ناسته پاسته کوي، د خبرو راکړه ورکړه وسره کوي، ترڅو قناعت ورکړي، ورته وايي: څه فکر کوئ زما په حال که چيرې زه د خداى له لوري په دليل او برهان سره تاسې ته استول شوى وم، او ماته يې په خپل فضل او رحمت سره نبوت او رسالت سپارلى وي، په داسې حال کې چې ستاسې ناپوهي، کبر او غرور، مال او دولت ستاسې د هدايت مخنيوى کوي، نو آيا دا سهي ده چې زه تاسې د خداى د دين لارښوونې او هدايت ته مجبور کړم حال داچې تاسې يې نه خوښوئ؟

زه خو ستاسو نه د لارښوونې او هدايت په بدله کې مال او دولت نه غواړم، زما د زحمتونه بدله به الله جل جلاله راکوي.

داسې ښکاري چې د نوح دغو خبرو د ده په قوم لوی اثر وکړ، خو یو شی د دوی د منلو وړ نه وو او هغه دا چې د نوح علیه السلام ملګري ټول غریبان اوکم وسه خلك وو، د دغو قومي مشرانو منکرینو او د هغو ضعیفو مسلمانانو ترمنځ ډیر توپیر موجود وو، د دوی او د هغوی ترمنځ د اقتصادي او ټولنیز پلوه لویه فاصله موجوده وه، نو ځکه دوی په نوح علیه السلام د خپل ایمان لپاره دا شرط ولګولو چې نوح باید هغه خپل مؤمن ملګري غریبان له خپل ځانه لرې کړي، او د دعوت له دایرې یې د باندې وشړي.

نوح یې په ځواب کې وویل: زه به هیڅکله د خپلو مؤمنو ملګرو څخه څوك ستاسې د غوښتنې سره سم له ځانه لرې نکړم، اګر که تاسو دغو غریبانو ته په سپکه سترګه ګورئ، خو هغوی خدای ته ډیر نیږدې دي، او د خدای جل جلاله سره به مخ کیږي، اوهغه لوی خدای به د دوی اجر او ثواب ورکوي، خو تاسې ته چې زه ګورم اې زما د قوم مشرانو نو زه وینم چې تاسې ډیر جاهل او ناپوه یاست، تاسې د جهالت لاره غوره کړې او په پوهه او ناپوهۍ سره خلك د خدای په وړاندې مقایسه کیږي

.

اې زما قومه! که چیرې زه دغه خلك وروسته له ایمان راوړلو څخه له ځانه لرې کړم، هیڅوك نشي کولې زما ملاتړ او مرسته وکړي او د خدای له عذاب څخه مې وژغوري آیا تاسې یاد ته دا خبره نه راوړئ چې دوی خپل رب او پالونکی لري دوی ته نصرت ورکوي؟؟

بیا یې ورته وویل: اې زما قومه! زه تاسې ته دا نه وایم چې زماسره د خدای خزانې دي او زه پکې خوښمن یم ځنګه چې غواړم هسې یې استعمالوم، او زه تاسې ته داهم نه وایم چې په غیبو څه پوهه لرم، او نه

وايم تاسې ته چې پرښته يم له پرښتو څخه ترڅو تاسې زما ملګرتيا وکړئ بلکې زه نه يم مګر يو بشر ستاسو غوندې.
او زه تاسې ته داهم نه وايم چې هغو غريبو خلکو ته خدای پاك ستاسو د خوښۍ لپاره هيڅ خير نه ورکوي کوم چې تاسو په سپك نظر ورته ګورئ، بلکې خدای د دوی په اخلاص ډيرښه پوهيږي، که چيرې زه ستاسو د خوښۍ سره سم کړنې وکړم نو زه به د ظالمانو له جملې څخه وم.
)قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَآتَانِي رَحْمَةً مِّنْ عِندِهِ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ أَنُلْزِمُكُمُوهَا ، وَأَنتُمْ لَهَا كَارِهُونَ، وَيَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ ۚ وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الَّذِينَ آمَنُوا ۚ إِنَّهُم مُّلَاقُو رَبِّهِمْ وَلَٰكِنِّي أَرَاكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ، وَيَا قَوْمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ اللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمْ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ، وَلَا أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ إِنِّي مَلَكٌ وَلَا أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِي أَعْيُنُكُمْ لَن يُؤْتِيَهُمُ اللَّهُ خَيْرًا ۖ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا فِي أَنفُسِهِمْ ۖ إِنِّي إِذًا لَّمِنَ الظَّالِمِينَ) هود ۲۸،۳۱.

وويل)نوح) اې قوم زما آيا وينئ که چيرې زه يم پر سمه لار (واضح برهان ښکاره حجت) له ربه خپله او راکړی يې وي ماته رحمت له خپله نزده، نو پټ کړی شوی دی(حقيقت د دې دليل) پرسترګو د تاسې، آيا مجبورولی شو موږ تاسې په منلو د هغو سره(بلکې نه شو) حال دا چې تاسې دغه(برهان) لره بد ګڼونکي انکار کوونکي يئ، او اې قومه زما! نه غواړم له تاسې په دغه (تبليغ) څه مال (مزدوري) زما اجر نشته مګر په الله جل جلاله باندې، اونه يم زه شړونکی د هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی(په وينا د تاسو، ځکه چې) بيشکه دوی ملاقات کوونکي دي له رب خپل سره (پس جګړه به وکړي له ماسره که دوی وشړم) خو زه ګورم تاسې داسې قوم چې جاهلان يئ (له خپل برخليکه او له شرف د دغو مؤمنانو)، او اې قومه زما! څوك به مرسته وکړي له ماسره(چې ما وساتي) له عذابه د الله که وشړم زه دوی(بلکې هيڅوك يې نشي کولی) آيا (فکر نه کوئ) او پند نه أخلئ تاسې؟، او نه وايم زه تاسې ته چې ما سره خزانې د الله دي او نه(وايم دا چې) پوهيږم په غيب باندې، او نه وايم زه چې بيشکه زه پرښته

يم اونه وايم زه په حق د هغو(فقيرانو مؤمنانو) چې سپك ورته ګوري سترګې ستاسې چې له سره به ورنه کړي دوی ته الله هيڅ خير، الله ښه عالم دی په هغه (اخلاص) چې په نفسونو د دوی کې دی، (که زه دغه ووايم) نو زه به په دغه وخت کې خامخا له ظالمانو څخه يم.

د کفارو سرغړونه :

د نوح عليه السلام خبرو د غافل قوم په نفسونو څه اغيز ونکړ، بلکې په ډير کبر او عناد سره يې د هغه په ځواب کې وويل: اې نوحه! بيشکه تا زموږ سره دوښمني وکړه او دا دښمني دې ډيره هم اوږده کړه، که چيرې ته په خپله بلنه او دعوت کې ريښتينی وې نو راوله موږ ته هغه عذاب چې تل موږ پرې ګوابښې.

نوح عليه السلام د دوی د دغه ننګونې(چلنج) په ځواب کې وويل: دا کار د خدای په لاس کې دی، يوازې هغه کولی شي پرتاسې عذاب نازل کړي، نو که چيرې د هغه اراده او خوښه وشي نو هيڅوك هم ستاسو له جملې د راتلونکي عذاب مخنيوی نشي کولی

.

زه وينم چې زما نصيحتونه او وعظونه تاسوته هيڅ ګټه نه رسوي، اګر چې له دغو نصيحتونو نه زما مطلب يوازې ستاسې خير او ښيګڼه ده، که چيرې الله جل جلاله اراده لري چې تاسې په همدغه ضلالت او ګمراهۍ کې پاتې شئ د دې لپاره چې ستاسو فاسد نفسونه نه غواړي چې حق قبول کړي، نو همغه الله جل جلاله ستاسو رب او پالونکی دی، او همغه الله جل جلاله ته به ستاسې ورتلل وي په ورځ د قيامت، نو تاسې ته به په خپلو دغو اعمالو جزا درکوي

.

﴿قَالُوا يَا نُوحُ قَدۡ جَٰدَلۡتَنَا فَأَكۡثَرۡتَ جِدَالَنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ الصَّٰدِقِينَ، قَالَ إِنَّمَا يَأۡتِيكُم بِهِ اللَّهُ إِن شَآءَ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ، وَلَا يَنفَعُكُمۡ نُصۡحِيٓ إِنۡ أَرَدتُّ أَنۡ أَنصَحَ لَكُمۡ إِن كَانَ اللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغۡوِيَكُمۡۚ هُوَ رَبُّكُمۡ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ﴾ ۳۴، ۳۲.

وویل(مشرانو د کفارو)اې نوحه! په تحقیق سره جګړه(د ښمنې دې) وکړه له موږ سره او اوږده دې کړه دغه جګړه له موږ سره، نو راوړه موږ ته هغه عذاب چې وعده یې کوې ته له موږ سره که یې ته له صادقانو ځینې (له ریښتیا ویونکو په خپلو دې ګوابنلوکې)،وویل (نوح) بیشکه چې رابه ولي دغه عذاب الله جل جلاله که چیرې یې خوښه وشي، او نه یئ تاسې عاجزکوونکي، زما نصیحت تاسې ته هیڅ ګټه نه رسوي، که چیرې زه ستاسو (د مزید نصیحت) اراده وکړم، په داسې حال کې چې الله جل جلاله ستاسو د ګمراهۍ اراده کړې وي، همغه ستاسو پالونکی دی، او هغه ته به رجوع کوئ(هرڅه چې غواړي ستاسو سره یې کولی شي

خدای ته شکایت :

نوح علیه السلام د خپل قوم د لارښوونې لپاره له هرې لارې کار واخیست، خو قوم یې خبره ونه منله او ورته ویې ویل چې: راوله هغه عذاب چې ته موږ پرې ګوابنې، نوح علیه السلام خپل خدای ته پناه وړې، د هغه نه مرسته غواړي، او ورته وایې اې ربه زما، زما قوم زما له خبرې مخ اړوي او ستا دین ته غاړه نه ږدي، اې ربه زما ما خپل قوم ته په ستا باندې ایمان راوړلو ته بلنه او دعوت ورکړی، او ورته ویلي مې دي چې د بوتانو او باطلو خدایانو عبادت پریږدئ، ډیر کوښښ مې وکړ چې زما خبره واوري او زما په نبوت ایمان راوړي، په هر مناسب وخت کې مې هغوی ته بلنه ورکړې، د شپې او ورځې مې هغوی ستا دین ته رابللي، خو زما دغه کوښښونه هیڅ ګټه نلري، دوی لا په خپل طغیان او سرکښۍ کې لاهو کیږي، کله چې زه دوی ته بلنه ورکوم ترڅو یوازې ستا عبادت وکړي، له بدو کارو او ګناهونو څخه ځانونه وژغوري، نو دوی په خپلو غوږونو کې ګوتې ږدي ترڅو زما دعوت وانه وري، او په خپل دې کار کې ډیر زیاتۍ کوي تردې چې کله زه خپل دعوت ورته بیانوم او ستا دین ته یې راغواړم، دوی خپل ځانونه په خپلو جامو کې پټوي ترڅو ما ونه ویني، او زما دعوت وا نه وري، د خدای له دعوت څخه په کلکه مخ اړوي، نه

غواړي زما متابعت وکړي ځکه دوی مغروران او متکبر خلك دي، او دا ورته سپکاوی ښکاري چې د دین امورو ته ښه راغلاست ووایي. بیا اې ربه زما! یو پر بل پسې مې څو څو واړې په مختلفو لارو هغوی ستا دین ته رابللي، کله به مې په ځینو ټولنو کې په لوړ آواز اوپه جهر سره هغوی ته دعوت ورکولو، او کله به مې بیا ځینې د دوی په یوازې توګه په پټه ستا دین ته رابلل، نو ما به ورته ویل: خدای ته استغفار ووایئ، له خپل کفر او ګناهونو توبه وباسئ، بیشکه هغه د خپلو بنده ګانو توبه قبلوي، او له تیروتنو ښښنه ورته کوي، تاسوته به پاك خدای د دغه توبې او استغفار په بدله کې ډیر اجرونه درکړي، پرتاسو به بارانونه و اوروي، ستاسو وچې ځمکې به پرې زرغونې شې، تاسوته به کافي رزق درکړي، تاسوته به مالونه درکړي، ستاسو د ملاټړ لپاره به پاك خدای تاسوته زامن درکړي، تاسوته به پاك خدای باغچې درکړي ترڅو ستاسو ژوند هوسا او خوشحاله وي، د اوبو ډکې ویالې به خدای پاك در په برخه کړي ترڅو خپلې ځمکې پرې خړوبې کړئ پاك خدای وایي ﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا، فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَائِي إِلَّا فِرَارًا، وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا، ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا، ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا، فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا، يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا، وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا﴾ نوح ۵، ۱۲.

وویل ﴿نوح﴾ اې ربه زما بیشکه خپل قوم ته مې بلنه ورکړه﴿ستا یووالي ته﴾ شپه او ورځ، خو زیات نه کړ زما دعوت او بلنې دوی ته، مګر تیښته ﴿له ایمان او دعوت څخه﴾، او بیشکه هرکله چې زه دوی﴿ستا دین ته رابولم﴾ د دې لپاره چې وښښې ته دوی، نو ننباسي دوی خپلې ګوتې په غوږونو خپلو کې﴿ترڅو زما خبرې وا نه وري﴾، او ځانونه یې په خپلو جامو کې نغښتي وو﴿ترڅو ما ونه ویني﴾، او همیشه والی کوي﴿په کفر باندې﴾ او سرکښي کوي﴿له متابعته زما﴾ په سرکښي کولو سره، بیا بیشکه ما وبلل دوی په

ښکاره(بلنه)، بیا بیشکه ما ښکاره وینا وکړه دوی ته او په پټه مې وینا وکړه دوی ته، نو ومې ویل دوی ته: ښښنه وغواړئ له ربه خپل بیشکه هغه دی ډیر ښښونکی(د توبه کوونکو لپاره هرکله چې توبه وباسي)، را وبه لیږي باران پرتاسې ډیر اوریدونکی، مرسته به وکړي تاسو سره په مالونو او زامنو سره او وبه ګرځوي تاسوته باغونه او وبه ګرځوي تاسوته ویالې(

نوح (ع) خپل قوم ته د خدای قدرتونه ښیي

:

نوح خپل قوم ته د استغفار او توبې ایستلو ګټې وښودې او ورته ویې ویل چې تاسو به پاك خدای په دنیاکې نیکمرغه کړي که چیرې تاسو توبه وباسی، وروسته له دې یې هغوی د پاك خدای قدرتونو ته متوجه کړل په دې هیله چې کیدای شي ایمان راوړي ورته ویې ویل: څنګه په هغه خدای ایمان نه راوړئ په داسې حال کې چې تاسو یې په تدریجي توګه پیدا کړي یاست د هغه خدای قدرت ته ولې نه تسلیمیږي کوم چې تاسو یې په څو پړاوونو جوړکړي یی، له مردارو اوبو (نطفې) څخه یې په وینه (علقه) باندې واړولی، له علقې څخه یې په یوه ټوټه دغوښې(مضغة) تبدیل کړی، او بیا یې دغه غوښه هډوکي کړه او بیا یې هډوکو ته غوښه ور واغوسته ترڅو انسان ځینې جوړ شو.(مالکم لاترجون لله وقارا و قد خلقکم اطوارا)، څه شوي دي پرتاسې باندې چې هیله نه لرئ له الله جل جلاله څخه د وقار (لویی او عزت)،(حال دا چې) په تحقیق سره یې پیداکړي یاست په پړاوونو (تدرجي توګه)

نوح علیه السلام خپلو خبرو ته دوام ورکوي او د منکرینو توجه د خدای له دې څخه هم لویو لویو قدرتونو ته اړوي، او ورته وایي چې پاك خدای ستوري جوړکړي، او سپوږمی یې د هغو په مدارو څرخولې، ترڅو ځمکه د شپې مهال روښانه وساتي، لمر یې د ورځې لخوا رڼا ګرځولی، او تاسو یې په ځمکه کې روزلي یئ، او د همدې ځمکې نه په راشنه شوو شیانو سره یې ستاسو روزي برابره کړې ده، او دا ځمکه یې ستاسو لپاره هواره جوړه کړې ترڅو په آسانی سره پکې لویې لویې لارې جوړې کړی، خپل مقصد او مرام ترلاسه کړی، په آسانی سره رزق او روزي پیدا کړی، بیا

يې همدغه ځمکه ستاسو لپاره دفن ګرځولې وروسته له دې چې تاسو مړه شی، او بیا به د حساب لپاره را ژوندي کیږی پاك خدای جل جلاله وایي: ﴿أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا، وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا، وَاللَّهُ أَنبَتَكُم مِّنَ الْأَرْضِ نَبَاتًا، ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا، وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا، لِّتَسْلُكُوا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا﴾ نوح ۱۵ ، ۲۰.

موسی یو تکړه ځوان وو، د هوښیارۍ نښانې له ورایه پکې څرګندې وې، همدا وو چې په سپین ږیري بوډا او دواړو لونو یې اغیز پریښود، نو ځکه یې یوې لور خپل پلار ته وویل: اې پلاره په مزدورۍ یې ونیسه ترڅو زمونږ څاروي وڅروي، د دې کار لپاره پوره وړتیا لري تکړه او امانت کاره دی، لکه بوډا چې د خپلې لور په مراد رسیدلی وي نو ځکه یې په بیړه د خپلو لورانو د خوښې سره سم دریځ غوره کړه، له موسی څخه یې دا غوښتنه وکړه چې د خدمت په موخه پوره آته کاله د ده څاروي وڅروي د دې په بدله کې به ورته خپله یوه لور په نکاح ورکوي، که چیرې یې په دې آتو کلونو دوه نور هم ور زیات کړل نو دا به د ده نیکي او احسان وي، موسی هم د سپین ږیري غوښتنه ومنله او هغه داسې چې د ده به خوښه وي چې کومه موده پوره کوي آته کاله که لس کاله، په همدې سره د دواړو هوکړه وشوه.

الله جل جلاله وایي: ﴿قَالَتۡ إِحۡدَىٰهُمَا يَا أَبَتِ ٱسۡتَـٔۡجِرۡهُۖ إِنَّ خَيۡرَ مَنِ ٱسۡتَـٔۡجَرۡتَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡأَمِينُ، قَالَ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَنۡ أُنكِحَكَ [xiii]إِحۡدَى ٱبۡنَتَيَّ هَاتَيۡنِ عَلَىٰٓ أَن تَأۡجُرَنِي [xiv]ثَمَانِيَ حِجَجٖ [xv]فَإِنۡ أَتۡمَمۡتَ عَشۡرٗا فَمِنۡ عِندِكَۖ وَمَآ أُرِيدُ أَنۡ أَشُقَّ عَلَيۡكَۚ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ، قَالَ ذَٰلِكَ بَيۡنِي وَبَيۡنَكَۖ أَيَّمَا ٱلۡأَجَلَيۡنِ قَضَيۡتُ فَلَا عُدۡوَٰنَ عَلَيَّۖ وَٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٞ﴾ قصص ۲۶، ۲۸.

ووېل له دواړو (خوندو څخه) یوې: اې پلاره زما! مزدور ونیسه دی (د پاره د څرولو د څارویو زمونږ) بیشکه چې غوره د هر هغه چا چې مزدور یې نیسې هغه څوک دی چې پیاوړی او امانت کار وي، ووېل (پلار د دوی

موسی ته) بیشکه زه غواړم چې په نکاح درکړم یوه له دغو لونو خپلو په دې چې مزدوري وکړي ته زما اته کاله، که چیرې دې پوره کړل لس کاله نو هغه به ستا له لوریه (زما سره نیکي وي) نه غواړم چې تا په سختۍ کې واچوم، زر ده چې وممې ما انشاء الله له نیکانو څخه، وویل (موسی) چې همدا(قرارداد شو) په منځ زما او ستا کې، هره یوه موده له دې دواړو نیتو مې چې پوره کړه پس نه به وي زیادت پرما او الله په هغه څه چې وایو یې وکیل او شاهد دی.

: [i]فرعون د مصر د پخوانیو پاچایانو لقب دی هر پاچا ته یې فرعون ویل کیږي.

: [ii]یستحیون نسائهم: پریښودلې به یې ښځې د دوی لپاره د خدمت خپل.

: [iii]د موسی د کلیمې د اشتقاق په هکله راغلي: چې هغه یو اسم مرکب دی له دوو کلیمو څخه چې یوه د (مو) کلیمه او بله د (شا) کلیمه ده، مو: د مصر په پخوانۍ ژبه اوبو ته ویل کیږي او شا: د ونې په معنا دی، موسی د دې لپاره په دې نامه سره نومول شوی ځکه هغه د اوبو او ونې ترمنځ موندل شوی وو وروسته له دې چې مور یې په سند لاهو کړ، ځینو ویلي چې موسی مصري کلیمه ده (مس) چې معنا یې ده ماشوم.

: [iv]روایت کړی دی اصمعي چې هغه د یوې وینځې خبرې واوریدې نو ورته ویې ویل :خاره شي څومره فصیحه ژبه لري، هغې په ځواب کې ورته وویل: آیا وروسته د قرآن له دې آیت څخه نور فصاحت پیدا کیږي چې وایي (و أوحینا الی ام موسی ...الی ...وجاعلوه من المرسلین) په همدې یوه آیت کې دوه امرونه او دوې نهیې او دوه خبره شامل دي چې خبرونه یې دوه زیري هم له ځانه سره لري.

: [v]عن جنب: له لرې.

: [vi]فوکزه موسی فقضا علیه: په سوک وواهه موسی او فیصله یې پرې تیره کړه، ځینو مستشرقینو په دې هکله ځینې شبهې را برسیره کړې او ویلي یې دي چې موسی د ګناه مرتکب شوی ځکه چې یو کس یې وژلی،

دا په داسې حال کې چې اسلام د نبيانو د عصمت او له ګناهونو د پاکوالي خبره کوي، د دې خبرې په رد کې وايو: قرآن په ښکاره وايي چې موسی د دې لپاره هغه کس ووهلو ترڅو د ظلم څخه يې لرې کړي او اسرائيلی ترې خلاص کړي، او (وکز) په لغت کې په سوک سره وهل دي، موسی په سوک سره ووهلو او د قتل کولو اراده يې نه درلوده ځکه معمولا په سوک څوک نه وژل کيږي، او د دې سره سره مورږ پوهيږو چې دا پيښه هغه وخت تيره شوې چې موسی په پيغمبری نه وو مبعوث شوی.

: [vii]ظهيرا: مرستندوی

: [viii]يستصرخه: مرسته غواړي.

: [ix]مدين د خليج عقبې په آخري شمال کې پروت يو هيواد دی.

: [x]عسی ربي ان يهديني سواء السبيل: هيله لرم له الله نه چې د نيغې او سالمې لارې د موندلو توفيق راکړي.

: [xi]په دې آيت کې ايجاز دی، او ايجاز هغه ته ويل کيږي چې الفاظ په ډيره مختصره توګه بيان شي ترڅو کلام وجيز او بليغ څرګند شي، او هغه داسې چې متکلم کله کيسه بيانوي نو په داسې کمو ټکو سره يې بيانوي چې د کيسې په هکله هيڅ هم نه ترې پاتې کيږي، په داسې حال کې چې کوم بل څوک همدا کيسه په دې بلاغت سره نشی بيانولی ځکه ترې اوږدیږي الفاظ يې ډيريږي، په دې آيت کې هم همداسې ايجاز راغلی، وايي: وجد عليه امة من الناس يسقون، يو ټولی د خلکو يې وليدل چې اوبه څښي، يعنې خپلو څارويو او حيواناتو ته اوبه ورکوي، او له)تذودان) څخه مراد دا دی چې دوارو نجونو له اوبو څخه خپل څاروي منع کول، او)فسقى لهما) څخه مراد دادی چې د دوی څارويو ته يې اوبه ورکړې.

: [xii]تمشي على استحياء: روانه وه په حياء سره، څومره خورږ کلام دی، آوريدل يې څومره آسانه دي، دا هغه ښکلا ده چې د نجونو ښکلا پرې وده کوي، دا ښکلا، د حياء ښکلا ده، قرآن دا ټکي د دې لپاره راوړي ترڅو په يادولو يې هغه نجونې وستايي چې د دې ښکلی صفت څخه برخمنې وي.

محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم

د اسلام د وروستي پيغمبر نوم دی .مسلمانان په دې ګروهه دي چې محمد د الله وروستی پيغمبر دی او تر هغه وروسته پيغمبري يا نبوت ختم شوی نو له همدې کبله د هغه د خاتم النبيين په نامه هم پېژندل کېږي. دې کاياناتو دپيداکوونکی په انسانيت باندې دټولو نه لوی احسان دا دی چې ددوی دهدايت لپاره يې وخت په وخت دنياته انبياء عليهم السلام راليږلي دي او بيا په تيره تيره دټولو نه اخر ته يې زمونږ خوږ نبی صلی الله علیه وسلم درحمت اللعالمين په حيث راوليږلو اودهغوي بلنه او دژوند حالات يې دا رنګ په حفاظت کې وساتل چې دهغې بېلګه د نړۍ په يوانسانی تاريخ کې هيڅرته هم نۀ شی موندل کيدی. درسول پاک ص دژوند ورځې شپې مونږته دارنګ په حفاظت اومکمل ډول رارسيدلی دی چې يو طرف ته خودهغې د دريښتنوالی داسې انتظام وشو چې تراوسه پورې د هغې په صداقت کې څوک چونې قدر له هم نۀ شی کولی اوبل طرف ته داوږدوالی يې داحال دی چې دحضور)ص) ويناګاني دژوند تيرولو لاړې چارې کړه وړه ناسته پاسته خبرې اترې داستوګنې چلونه کلی کلولی اولاټيريدا چې د خوراك څښاك ، د ويده کيدو ويښيدو اودو شتو ټوکو پورې واړه حرکتونه دامت مشرانو محفوظ ساتلی دی

لنډه دا چې دهغوی (ص) پحقله يونيم زر کاله پس نن هم مونږ دهرڅه نه خبر يو اوداڅکه چې دهغوی (ص) تعليمات ترقيامته پورې پاتې کيدونکی دی دلته زۀ صرف دحضور (ص) داولنی ژوند مبارك په حقله څوټکی عرض کول غواړم.

دحضور پاك (ص) دژوند مبارك دحالاتو نه وړاندې داضروری ده چې مونږ دهغه زمانې تاريخی حالت ته لږه ډيره توجه وکړو کوم چې په هغه وخت کې دعربو يادخواوشا دملکونو وه اودا ځکه چې ددې نه بغير مونږه دنبوت اهميت نه شو محسوسولی اسلام چې کوم تعليم پيش کړی دی

دهغې بنیاد په توحیدرسالت اواخرت دی داهغه ړنډه چې ددې نه هغه زمانې کې نه صرف عرب بلکې ټوله دنیا بې خبره او په تیارۀ کې پرته وه داصحیح ده چې درسول پاك نه وړاندې دالله تعالی ډیر نازولی نبیان دنیاته راغلی وو اودزمکې هرګټ ته ئې دتوحیدتعلیم رسولی ؤ دګمراهۍ په تیاروکښې بد بد راګیر وو سپوږمۍ ،نمر، ستوری اوفرښتې غرونه، ماران اوکانې بوټی ئې ځان له دخدائی تعالی په نوم نیولی وو دبې شمیره خدایانو په لاس کې ئې د ژوند واګې ورکړې وې او یوحقیقی الله پاك تړې نه هیرؤ.

سیاسی اعتبارسره په دغه زمانه کې دوه ښه طاقتونه موجود وو یوفارس اوبل روم دفارس مذهب مجوسیت ؤ او دروم عیسائیت ددې دوو نه علاوه یهودیانو اوهندوانو هم وجود لرلو اوپه خپل خپل ډول کې ؤ درښتیاوالی دعوی کوله په ایران کې دستورو عبادت عام ؤ نوره دنیاهم په رنګ رنګ اوتوبوتو سر وه لنډه دا چې په هر لور دکفر تور تم وه انسانیت دخپل خلاصون دپاره دچاخوا خوږی په انتظار کې خپلې دوه سترګې څلور کړې وې دعربو په یوه لویه حصه کې یعنې قری وادی ،خیبر اووزك کې دیهودیانو اکثریت ؤ مدینه کې هم دیهودیانو شمیر زیات ؤ په ملك کې دشرك دود دستور راج ؤ خلقو دبتانو کانو فرښتو اوپیریانو عبادت کولو.

لیکن ددې هرڅه باوجود دیوخدائې تصور هم خلقو کې موجود ؤ خوداتردې حده پورې چې هغه به ئې د نورو خدایانو نه لوئی خدائې ګڼلو ولې دا عقیده ئې دومره کمزورې وه چې عملاً به ئې په خپلو لاسونو جوړ شوی خدایان هرڅه ګڼل اوپه دې غرض ئې خانه کعبه کې چې اسلام نه اګاهو به ورته بیت الحرام وئیلی شو درې سوه شپیتهٔ بتان ایښودی وو چې دژوند هره کشاله کې به عربو دوی ته دخپلې حاجت روایۍ پحقله منت زاری کوله اولسی حیثیت سره هم هر رنګ بدی په دوی کې پیدا شوې وې ولې بیاهم دعربو بعضې صفتونه دقدر وړ دی په دې کې

میلمستیا پیاوړتوب، دسختۍ ژوند تیرول دژبې فصاحت ،دحافظې مضبوطی اوپه لوظ قول ټینګ پاتې کیدل وغیره.

زیږیدنه

مور ملسمانان پدې ګروهه او ایمان لرو چې محمد صلی الله علیه وسلم د څښتن تعالی رالېږل شوې رسول او وروستې نبي او د رسولانو پای په ده شوې دی. محمد صلی الله علیه وسلم یوې کورنۍ، قبیلې، یا قوم ته نه دی رالېږل شوې، بلکه ټولې نړۍ ته رالېږل شوې، که هغه انسان دې که پېرې دی. نبي علیه السلام د دوشمنبې په ورځ، د ربیع الاول په دولسمه نیټه، د فیل له کال څخه پنځوس ورځې وروسته چې د کال له ۵۷۰زېږیز کال سره سمون خوري، په مکه مکرمه کې زېږېدلې.

پېدابښت او روزنه

د اسلامي سیرت د کتابونو له مخې محمد صلی الله علیه وسلم په بني هاشم کورنۍ کې یتیم وزېږېد. پلار یې دده مبارک له پېدابښت څخه لږ مخکې وفات شوې ؤ. محمد نوم ورته عبدالمطلب چې نیکه یې کېده، غوره کړ. دا نوم په هغه وخت کې په عربو کې چا نه پېژانده. د عربو دا عادت ؤ چې خپل کوچنیان به یې د رضایي مېندو په لاس ورکول ترڅو د ناروغیو څخه په امن کې پاتې شي، او دارنګه ددوي جسمونه او اعصاب قوي شي. او لدې ټولو څخه زیات پام به یې د کلیوالې سوچه عربي ژبې ته ؤ، ترڅو ددوي کوچنیان سوچه عربي ژبه زده کړي. نو بني سعد قبیلې ښځې د کوچنیانو ترلاسه کولو لپاره د مکې پر لور راوخوځېدې، خو هېڅا هم دا نه خوښوله چې د محمد صلی الله علیه وسلم په څېر یتیم کوچنې ځان سره بوځي. ځکه له داسې یتیم څخه د څه شي ترلاسه کول ورته ناشونې ښکارېده چې پلار به یې نه ؤ ژوندې. ټولې ښځې د کاروان پر لور روانې وې او خوشالۍ یې کولې ځکه چې هرې یوې د روزلو لپاره کوچنې موندلې ؤ خو حلیمه سعدیه یو له هغو نا امېده ښځو څخه وه چې

محمد صلی الله علیه وسلم یې ددې لپاره پرېښې ؤ چې هغه خوارکې یتیم ؤ. نو په پای حلیمې او د هغې خاوند دا وپتېیله چې د قوم له شرمه چې مبادا سبا ونه وایي چې چا ورته زوې د روزلو لپاره ورنه کړ، پدې سلا راغله چې محمد صلی الله علیه وسلم له ځان سره کلي ته بوځي. کله چې کاروان د بني سعد په لوري یون پېل کړ نو د حلیمې بي بي ډنګره اوښه داسې په منډه وه چې له ټول کاروان څخه مخکې شوه او کلي ته ورسېده. ټول کاروان دې معجزې ته هک پک پاتې ول. بي بي حلیمه دې ته اریانه وه چې یوخوا خپل ماشومان نه شي مړولای، او له بلې خوا دا یتیم سره به څه کوي، خو د څښتن تعالی کارونه وه، د بي بي حلیمې شېدې دومره زیاتې شوې چې د ټولو ماشومو او محمد صلی الله علیه وسلم به وڅښلې نو بیا به هم پاتې وی. د چېلیو غولاځې راپرېښودې. اوښه ښه مسته او له ډنګروالي خلاصه شوه. ملک ټول زرغون شو .هرېخوا خوشاله خوشالي راغله. بي بي حلیمې دا درک کړه چې دا ټول نعمتونه یواځې د همدې یتیم کوچني له برکه پر دوي راورېږي. نو د هغه په روزنه او پاملرنه کې به یې هېڅکله هم درېغ نه کاوه. نبي علیه السلام په بني سعد کې تر څلورو کلو پورې و اوسېده، ان تردې چې د سینې څېرې کېدنه (شق الصدر (ورپېښ شول. نو حلیمه بي بي پدې کوچني ووېرېده چې نه مبادا څوک ضرر ور ونه رسوي، نو ځکه یې خپلې مور بي بي امنې ته ور وستلو. کله چې شپږو کلو ته ورسېد نو مور بي بي یې وغوښتل ترڅو له ځان سره یې د پلار قبر ته بوځي. نو له خپل یتیم زوې محمد صلی الله علیه وسلم او خدمتګاري سره مکې معظمې څخه د مدینې منورې په لوري وخوځېده. بېرته راتلو په وخت په لار کې بي بي امنه ناروغه او په حق ورسېده. محمد صلی الله علیه وسلم د خادمې سره د هغه د نیکه څنګ ته وروستل شو. پس لدې له عبدالمطلب سره اوسېده. نیکه به وربانې ډېر خیال کاوه، ان تردې چې د قرېشو په غونډو کې به یې خپل څنګ ته کېناولې ؤ چې دا کار په قرېشو ښه نه لګېده. کله چې محمد صلی الله علیه وسلم ۸ کلن شو نو نیکه یې هم په مکه معظمه کې په حق ورسېد. مخکې لدې چې مړ

شي خپل نوسې يې ابو طالب چې د پلار سکنې ورور يې ؤ ته وسپاره. ابو طالب د خپل وراره ترخپلې وسې او له وسې اخوا هم روزنه وکړه، وراره له خپلو زامنو څخه ورته ډېر ګران ؤ. محمد صلى الله عليه وسلم د خپلې ځوانۍ په لومړنيو کلونو له خپلو رضاعي وروڼو سره په بني سعد کې پسونه څرول، او په مکه کې خپلې کورنۍ ته. وروسته لدې چې ښه ځوان شو سوداګرۍ ته يې مخه کړه. نبي صلى الله عليه وسلم له نبوت څخه مخکې په ريښتوني او امانت کار (صادق الامين) نومول شوې ؤ، ان دښمنانو به يې هم ورسره خپل امانتونه اېښودل.

د نبي عليه السلام صحابه

ابو بکر صديق رضي الله عنه- حضرت عمر فاروق رضي الله عنه – عثمان رضي الله عنه – علي بن أبي طالب – خالد بن الوليد رضي الله عنه – عمرو بن العاص رضي الله عنه – عمار بن ياسر رضي الله عنه – بلال بن رباح – أبي بن كعب – سعد بن أبي وقاص – سعد بن معاذ – عبد الله بن عمر بن الخطاب – عبد الرحمن بن عوف – الزبير بن العوام – طلحة بن عبيدالله – سعيد بن زيد

د سيدنا محمد د ژوند مهمې پېښې په څو ليکو کې

شپږم زېږيزه پېړۍ

- **۵۴۵** .د عبدالله بن عبدالمطلب زېږېدنه.
- 571م. د نبي عليه السلام زېږېدنه د قيل په کال کله چې د يمن واکمن حبشي ابرهه غوښتل په مکه مکرمه برید وکړي، خو پدې برید کې يې خپل سر وخوړ.
- 577م. نبي عليه السلام مدينې منورې ته له خپلې مور بي بي سره ځي، چې د لاړې په اوږدو کې يې مور بي بي په حق رسېږي.
- 580م. دنبي عليه السلام د تره عبدالمطلب مړينه.

- 583م. له خپل تره ابو طالب سره د شام په لوري په سوداګريز کارون کې يون پېل کول، کله چې يهودي راهب بحيرا په بصره کې د هغه ونې لاټدې وليده چې ښاخونه يې په نبي عليه السلام باندې رابښکه کړي وه، نو نوموړي راهب ابو طالب ته دده په خوندي ساتلو کې سپارښتنه وکړه.
- 586م. د حرب الفجار جګړه کې ګډون کول.
- 591م. النبي محمد ينضم لحلف الفضول لنصرة الضعفاء.
- 594م . نبي صلى الله عليه وسلم له سيده خدجه رضي الله عنها سره په سوداګرۍ کې مرسته کوي، او د هغې سوداګريزه مالونه د شام په لوري وړي.
- 595م .نبي عليه السلام له خديجې رضي الله عنها سره واده کوي.

اووم زېږيز پېړۍ

- 605م. نبي عليه السلام د توره ډبره (حجر الاسود) د ټولو قربشو په استازيتون د کعبې شريفې په دېوال کې کېدې.
- 610م . د لومړي ځل لپاره د حرا په غار کې وحې (قران) راغله، او د څښتن تعالى له لوري رسول غوره شو.
- 613م. رسول عليه السلام د ساره غره په څنګ کې خلک اسلام ته راوبلل.
- 614م . رسول عليه السلام بني هاشم اسلام ته راوبلل.
- 615م. د مسلمانانو زوړول د قربشو لخوا، او د ځينو کډه کېدنه حبشې ته په لومړي هجرت کې.
- 616م. د مسلمانانو دوهمه کډه کېدنه حبشې ته.
- 617م. د قربشو لخوا د اړيکو پرېکول او د رسول صلى الله عليه وسلم او د بني هاشم راګېرول په شعب کې د مکې څخه له باندې.

- 619م . د بندیزونو پورته کول. د ابو طالب او خدیجې (د رسول الله صلی الله علیه وسلم ماندینه) رضي الله عنهما مړینه. او دا کال د خپګان په کال ونومول شو.
- 620م . د رسول الله صلی الله علیه وسلم سفر طایف ته. او د اسرا او معراج سفر.
- 621م. د عقبه لومړې ترون.
- 622م. د عقبه دوهم ترون. او د رسول الله صلی الله علیه وسلم هجرت یثرت (مدیني) په لورې.
- 624م . د بدر غزا چې د مسلمانانو په بري تمامه شوه. او د بني قینقاع یهود له مدینې منورې څخه وشړل شول.
- 625م. د احد پېښه او د ۷۰ صحابه ؤ په شهادت رسېدل د منی له کوهي سره، او د بني نظیر یهودو شړل له مدینې منورې څخه.
- 626م. د بني المصطلق غزا.
- 626م . د خندق غزا. وترحیل یهود بني قریظة من المدینة المنورة.
- 627م. د رسول الله صلی الله علیه وسلم او قریشو ترمنځ د حدېبیې ترون.
- 629م.حجة الرسول لمکة . د مؤتة غزا د روم پرضد .
- 630م .د مکې بري.
- 631م . د تبوک غزا. عام الوفود.
- 632م . حجةالوداع . د رسول الله مړینه . دابي بکر غوره کول د رسول الله د خلیفه په توګه. او د اسامه په مشرۍ یوه ډله مجاهدین د شام په لورې لېږل.

دنبوي نسب لړۍ

رسول الله صلى الله عليه وسلم ټبر د عرب په بنو اسماعيل کې دقريشو دقبيلې دهاشم له کورنۍ څخه دی چې دنسب لړۍ يې داده : محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدالمناف بن قصی بن کلاب بن کعب بن لؤی بن غالب بن فهر بن مالک بن نضر بن کنانه بن خزيمه بن مدرکه بن الياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان . له تاريخي رواياتو څخه څرګندېږي چې له عدنان څخه تر حضرت اسماعيل عليه السلام پورې دځلويښتو پلرونو واټن دی خو په همدې منځ کې ټول نومونه ثبت شوي نه دي ځکه عربو به په لرې ليکونو کې يوائې وتلي نومونه يادول هغه نومونه چې له عدنان څخه تر اسماعيل عليه السلام پورې ثبت شوي دا دي : عدنان بن عدو بن المقوم بن تارح بن يثحب بن يعرب بن ثابت بن اسماعيل بن ابراهيم عليهما السلام.

درسول الله صلى الله عليه وسلم زيږيدنه

ديوه وتلي مصري هيئت پوهاند محمود پاشا فلکي د رياضي له څېړنې سره سم رسول الله صلى الله عليه وسلم دربيع الاول په نهمه نيټه ددوشنبې په ورځ چې د571 م کال داپريل دمياشتې له شلمې نيټې سره سمون خوري زيږيدلی . پلار يې تر پيدايښت له مخې وفات شوی وو , او عبدالمطلب ورباندې محمد نوم کيښود .رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دوه درې ورځې بي بي آمنې ,بيا دابو لهب وينځې (ثوبيې) او وروسته حليمې سعديې تی ورکړ , دعربو دا دود ووچې خپل ماشومان به يې له ښاره دباندې ښځو ته دشيدو ورکولو لپاره ورسپارل ,او په دې کې دا ګټه وه چې يوخو به ماشومانو دعربي ژبې سوچه لهجه زده کوله او بل داچې دعربو ځانګړتياوې به پکې راتلې په همدې موخه به دکليو ښځې په کال کې دوه ځله ښار ته راتلې اوماشومان به يې وړل . درسول الله صلى الله عليه وسلم له پيدايښت څخه څو ورځې وروسته دهوازن کورنۍ ښځې ښار ته راغلې چې په دوی کې يوه هم حليمه وه , حليمې بل ماشوم پيدا نکړای شو ,درسول الله صلى الله عليه وسلم مور بي بي غوښتل تر څو

خپل زوی ورته وسپاري حليمې سره له دې چې دهغوی دبې وزلې او دماشوم ديتيمتوب له کبله دځه شي تمه نه درلوده ,خو تر تش لاس تللو ورته ښه وبرينښيدله او ماشوم يې له ځان سره واخيست . رسول الله صلی الله عليه وسلم هلته دبني سعد (هوازن) په کورنۍ کې دوه کاله پاتې شو,خو کله چې حليمې سعديي هغه ښار ته راوست نو د(وبا) ناروغي ګډه وه نو بي بي آمنې ورته وويل چې محمد صلی الله عليه وسلم بيا له ځانه سره بوځه ,حليمې سعديې ومنله او په يوه روايت رسول الله صلی الله عليه وسلم هلته تر شپږو کلونو پورې پاتې شو.

درسول الله صلی الله عليه وسلم مبارکه څيره

درسول الله صلی الله عليه وسلم قد منځنی , غړي برابر , رنګ سور او سپين , تندی پلن , وروځي سره نښتي , پزه يې دنګه او لوړوالي ته مايله وه ,مخ يې ډير غوښن نه وو ,خوله يې څه ناڅه غټه ,او غاښونه يې سره بيل بيل وو,غاړه يې دنګه اوسريي غټوالي ته مايل وو ,سينه يې پراخه ,دسر ويښتان يې نه ډيرتاو راتاو او نه بيخي نيغ نيغ وو,مبارکه ږيره يې ګڼه وه ,سترګې يې تورې , بانډه يې لوی او اوږده وو , وُلي يې غوښن ,او دوږو هډونه يې لوی وو, په سينه مبارکه يې تر نامه پورې دويښتانو يوه نرۍ ليکه وه , په اوږو اوليڅو يې ويښتان وو , دلاسونو ورغوی يې غوښن او پلن وو ,څنګلي يې اوږدې او پوندې يې نازکې وې , دپښو دتلو منځ يې داسې خالي وو چې تر لاټدې به يې اوبه تيريدلای شوې . درسول الله صلی الله عليه وسلم دوُليو په منځ کې دکوترې دهګۍ په کچ دنبوت (مهر) ټاپه وه ,رسول الله صلی الله عليه وسلم به ډير ګړندی ګرځيده ,خبرې به يې په دمه دمه کولې , که به يې دکومې خبرې مطلب تاکيدکول وو نو هغه خبره به يې په بيابيا تکراروله ,غږ يې لوړ وو , دخبرو په مهال به يې اکثر اسمان ته کتل ,رسول الله صلی الله عليه وسلم به ډير لږخندل ,او چې خندا به ورغله نو موسکی به شو

.

درسول الله صلی الله علیه وسلم لباس

په نبوي لباس کې کومه ځانګړتیا نه وه ,عام کالي يې له څادر ,کمیس او لنګ څخه عبارت وو ,یو روایت راغلی چې یو پرتوګ يې اخیستی وو او دا شوني ده چې اغوستی به يې وي . ډیری مهال به يې توره پګړۍ په سر کوله ,پګړۍ به په خولۍ برسیره تړله ,خولۍ به يې ساده اوتیته وه ,شمله به يې کله (په ښي اوږه–ځکه خو هم کینۍ لوري ته دشملې پریښودل له شرعي پلوه بدعت بلل شوي) او کله هم دولیو په منځ کې پرته وه ,او کله به يې تر غاړه تاوله . یمني څادر يې ډیر خوښ وو ,چې هغه به کربنې درلودې , شامي عبا (چوپانه) يې هم استعمال کړې ده ,رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله کله قیمتي او ښکلې جامې هم اغوستې ,په رنګونو کې يې (سپین) رنګ خوښ وو سور رنګ يې نه خوښاوه . درسول الله صلی الله علیه وسلم به ښه بوی ډیر خوښیده , د(سکته)په نوم عطر به يې ډیر استعمالول ,رسول الله صلی الله علیه وسلم دموزو پښو کولوډیرخوی نه درلود ,خو کومې دځرمنې موزې چې نجاشي ورته رالیږلې وې هغه يې استعمال کړې وې ,معمولا به يې څپلیو ته ورته پنې (موچنې) په پښو کولې . نبوي بستر یوه څرمن وه , چې دځُرما له پانو څخه ډکه شوې وه ,او کټ يې په بونې اُوبدل شوی وو .د(محمدرسول الله) په نوم دسپینو زرو په ګوتې کې یو مهر کندل شوی وو چې دټاپې لګولو په مهال به يې دښي لاس په ګوته کوله ,رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په جنګونو کې خول او زغره هم استعمالوله , داُحد په وتلي جګړه کې يې دوه زغري اچولې وې . بلنې

ځانګړتياوې

داځانګړتياوې دوه ډوله دي : ذاتي او نبوي

ذاتي ځانګړتياوې هغه دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دامت په مقابل کې ورکړل شوي دي , او نبوي ځانګړتياوې هغه دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دنورو انبياوو په مقابل کې ورکړل شوي دي.

ذاتي ځانګړتياوې

نبوة او دنبوة لوازم لکه وحي ,الهي انباء , دحضرت جبرايل عليه السلام راتلل ,او داحکاموتنسيخ , داټول هغه څه دي چې دامت افرادو ته ندي ورکړل شوي .بلکه دامت افرادو ته يواځې ريښتينی خوب ,کشف او الهام پاتې دي . عام مسلمانان پدې شرط چې عدل وساتلی شي يواځې څلور ښځې په نکاح کولای شي خو رسول الله صلى الله عليه وسلم تر څلورو زياتې ميرمنې هم په نکاح اخيستې شوې .عام مسلمانان کولای شي چې داهل کتابو له ښځو سره نکاح وکړي خو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا اجازه نه وه او داځانګړتيا يو قيد وو . رسول اله صلى الله عليه وسلم ته دا اختيار ورکړل شوی وو چې په موجوده نهو بيبيانو کې څلور ځان ته ورنژدې کړي او نورې سره له دې چې دپيغمبر صلى الله عليه وسلم دنکاح شرف يې درلودخو له ځان څخه يې لرې کړې اوپدې غوراوي کې يې رد او بدل هم کولای شو . درسول الله صلى الله عليه وسلم تر وفات وروسته دهغه پاکې بيبيانې هيڅا هم نشوای په نکاح کولای . دشپې لمونځ (تهجد) دعام امت لپاره مستحب دی خو په رسول الله صلى الله عليه وسلم فرض وو . دځانښت لمونځ په رسول الله صلى الله عليه وسلم دفرض لمانځه په څير واجب الادا وو . رسول الله صلى الله عليه وسلم به دمازديګر تر لمانځه وروسته هم دوه رکعته لمونځ کاوه خو امت ته تر مازديګر وروسته او تر مانښام له مخه لمونځ کول روا ندي . دامت لپاره پر له پسې(بې له روژه ماتي کولو) روژه نيول نه دي روا ,خو رسول الله صلى الله عليه وسلم به څو ورځپه پرله پسې‌توګه پرته له ماتولو روژه

نيوله . درسول الله صلى الله عليه وسلم اودټول اهل بيت لپاره دزكوة دمال خوړل نارواوي

.

نبوي ځانګړتياوې

له حديثو څخه څرګندېږي چې درسول الله صلى الله عليه وسلم نبوي ځانګړتياوې په لاندې ډول دي

رعب او نصرت

تر رسول الله صلى الله عليه وسلم وړاندې نبيانو مادي ځواک لږ وو, او كه به دحضرت موسى او حضرت داود او حضرت سليمان عليهم السلام په څير نبيانو مادي ځواک درلودهم مګر رعب ورسره نه وو, خو له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره دمادي ځواک ترڅنګ دومره رعب هم وو چې ډير زورور خلک پرته له جګړې كولو څخه دتسليمې كړې ته راغلل.

دسجدې عام ځای

تر رسول الله صلى الله عليه وسلم دمخه نبيانو قرباني او عبادت له ځانګړيو ځايونو پرته بل چيرې نه وو روا, خو درسول الله صلى الله عليه وسلم دين په ځانګړو ځايونو پورې ندى تړلى ,هر ځای سجده ,دعا او قرباني كيږي.

دپيروانو ډيرښت

ډيرى انبيا عليهم السلام داسې تير شوي چې دامتونو شميره يې دګوتو تر شمير نه ده اوښتې , خو محمدي امت آن درسول الله صلى الله عليه وسلم په ژوند كې دومره ډير وو چې دحجة الوداع په مهال نژدې سل زره كسان درسول الله شاو خوا راټول وو اودلبيک اللهم لبيک ناري يې وهلې.

عامه بلنه

پخوانيو نبيانو به يواځې يوه قوم يا يوه هيواد يا ديوه مهال لپاره مبعوث کيدل خو دمحمدي رسالت لمن له انسانانو څخه پرته آن تر پيريانو هم واوښته او پيريانوته يې هم سمې لارې ته دراتلو بلنه ورکړه.

جوامع الکلم

پخواني کتابونه او صحيفې يو هم جامعيت نه لري ,په ځينو کې يواځې دقومونو تاريخ دی ځيني يې بيا دعقيدې برخې بيانوي او ځينې نور يې هم داسې درواخله خو قرآنکريم هغه يواځينی جامع کلام دی چې د دين او دنيا ټول ګوټونه يې روښانه کړي ,عقايد ,اخلاقيات ,اومعاملات هرڅه پکې شته هرچا څه ترې ايستلې که څه هم دقرآنکريم ډيره برخه مبارکوحديثو واضحه کړې خو بيا يې هم باريکۍ پاتې دي.

د دين پوره والی

الهي دين چې له آدم عليه السلام څخه رانيولی بيا تر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم پورې يودين وو او دانبياوو له خوادهمدې يوه دين اصولو ته بلنه کيدله همدا دين دحضرت محمد صلی الله عليه وسلم په بعثت او بلنه سره بشپړشو.

دنبوت پای ته رسيدل

درسول الله صلی الله عليه وسلم په سپيڅلي ذات ټول پيغمبرانه نعمتونه پای ته ورسيدل ,او دنبوت لړۍ هم پای ته ورسيدله ,اوپدې ډول نو نړيوال دبل پيغمبر دراتګ له انتظار څخه خلاص شول.

تلپاتې معجزه

دنوروانبياوو معجزې دهمهغه مهال لپاره وې ,خو محمدي معجزه دتل لپاره ده .که قرآنکريم په هغه مهال دعربو دادب او شاعرۍ په ډګر کې معجزه وه ,خو نن دژوند په هر ډګر کې معجزه ده , دانساني ماغزو نوې

لاس ته راوړنه (کمپیوټر (هم نن ناړې وهي چې قرآنکریم یوه معجزه او له هر ډول لاس وهنې څخه خلاص یو کتاب دی.

دشفاعت کولو مقام محمود

په هغه ورځ چې انسانان دمایوسۍ په حالت کې حضرت آدم علیه السلام ,حضرت نوح علیه السلام ,حضرت ابراهیم علیه السلام , حضرت موسی علیه السلام ,او حضرت عیسی علیه السلام ته ورشي اودشفاعت غوښتنه ترینه وکړي , هر یوبه خپل خپل عذر ورته ووایي او په نفسي نفسي نارو به سر وي خو چې ددواړو کونو سردار محبوب رب العالمین حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته ورشي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به دلوی پالونکي په دربارکې عرض وکړي , دخدای جل جلاله له لورې به ورته دشفاعت کولو اجازه ورکړل شي او دې ته مقام محمود ویل کیږي دکوم چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دقرآنکریم په سورة اسراء کې ژمنه شویده.

کورنۍ

میرمنې

1. خدیجه بنت خویلد
2. سوده بنت زمعه
3. عایشه بنت ابي بکر
4. حفصه بنت عمر بن خطاب
5. زینب بنت خزیمه
6. ام سلمه هند بنت ابي امیه
7. زینب بنت جحش
8. جویریه بنت الحارث
9. رمله بنت ابي سفیان
10. میمونه بنت الحارث
11. صفیه بنت حیي بن اخطب

12. ماريه قبطيه
13. ريحانه بنت زيد قرظي

زامن

درسول الله صلى الله عليه وسلم داولادونو په شميره كي اختلاف دى خو په كوم روايت چې اتفاق راغلى په هغه كي درسول الله صلى الله عليه وسلم اولاد شپږ ښودل شوى ,دوه زامن او څلور لونې ,خو ابن اسحاق دطاهر او طيب په نامه هم درسول الله صلى الله عليه وسلم دوه نور زامن ياد كړي دي . يو روايت لا داهم دى چې دسول الله صلى الله عليه وسلم څلور لونې او اته زامن وو . دااتفاقي خبره ده چې له ابراهيم نه پرته درسول الله صلى الله عليه وسلم نور ټول اولادونه له ام المؤمنين حضرت خديجې رضى الله عنها څخه زيږيدلي وو.

1. قاسم حضرت زينب رضي الله عنها
2. حضرت رقيه رضى الله عنها
3. حضرت ام كلثوم رضى الله عنها
4. دجنتي ښځو سرداره حضرت فاطمة الزهرا رضى الله عنها
5. ابراهيم

ابراهيم

د رسول الله صلى الله عليه وسلم وروستى زوى ابراهيم دى ,دهجرت په اتم كال د ذى الحجې په مياشت كې زيږيدلى ,حضرت ماريه قبطيه رضى الله عنها به په عاليه نومې ځاى كې اوسيدله ابراهيم هم هلته زيږيدلى خلكو به وروسته هغه ځاى د (ابراهيم مشربه) بلله . په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې دابراهيم زيرى ابو رافع وكړ,په زيري كې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته يو مريي وركړ .رسول الله صلى الله عليه وسلم په اوومه ورځ دابراهيم عقيقه وكړه ,دده دويښتانو په كچ سپين زر يې خيرات كړل ,او نوم يې وربانديې ابراهيم كيښود . دابراهيم لومړى دايه دحضرت ابو

رافع میرمن بي بي سلمی وه , بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم نوموړی ام سیف ته وسپاره چې دمدینې په شاو خوا کي اوسیدله , رسول الله صلی الله علیه وسلم به دام سیف کورته دابراهیم دلیدو لپاره ورتلو ,هغه به یې په غیږ کي نیولو مینه به یې ورسره کوله او ښکلولوبه یې . ابراهیم دام سیف په کور کي وفات شو ,دوفات په مهال د دوو میاشتو او لسو ورځو وو ,دزنکدن په مهال یې رسول الله صلی الله علیه وسلم څنګ ته ناست وو ,دجنازې لمونځ یې رسول الله صلی الله علیه وسلم اداکړ , حضرت فضل بن عباس رضی الله عنه او حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه قبر ته ښکته کړ . اللهم اجعله لنا شافعا ومشفعا د رسول الله صلی الله علیه وسلم وروستی زوی ابراهیم دی ,دهجرت په اتم کال د ذی الحجې په میاشت کې زیږیدلی ,حضرت ماریه قبطیه رضی الله عنها به په عالیه نومې ځای کې اوسیدله ابراهیم هم هلته زیږیدلی خلکو به وروسته هغه ځای د (ابراهیم مشربه) بلله . په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې دابراهیم زیری ابو رافع وکړ,په زیري کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته یو مریي ورکړ .رسول الله صلی الله علیه وسلم په اوومه ورځ دابراهیم عقیقه وکړه ,دده دویښتانو په کچ سپین زر یې خیرات کړل ,او نوم یې ورباندې ابراهیم کیښود . دابراهیم لومړۍ دایه دحضرت ابو رافع میرمن بي بي سلمی وه , بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم نوموړی ام سیف ته وسپاره چې دمدینې په شاو خوا کي اوسیدله , رسول الله صلی الله علیه وسلم به دام سیف کورته دابراهیم دلیدو لپاره ورتلو ,هغه به یې په غیږ کي نیولو مینه به یې ورسره کوله او ښکلولوبه یې . ابراهیم دام سیف په کور کي وفات شو ,دوفات په مهال د دوو میاشتو او لسو ورځو وو ,دزنکدن په مهال یې رسول الله صلی الله علیه وسلم څنګ ته ناست وو ,دجنازې لمونځ یې رسول الله صلی الله علیه وسلم اداکړ , حضرت فضل بن عباس رضی الله عنه او حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه قبر ته ښکته کړ . اللهم اجعله لنا شافعا ومشفعا

لونې

رقیه رضی الله عنها

رقیه رضی الله عنها هم تر بعثت له مخه زیږیدلې وه ,لومړۍ نکاح یې دابو لهب له زوی عتبه سره شوې وه , درسول الله صلی الله علیه وسلم بله لور حضرت ام کلثوم رضی الله عنها هم دابو لهب نږور وه ,خو له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ددښمني له امله ابو لهب خپل دواړه زامن ددې بیبیانو طلاقولو ته اړایستل ,او همداسي وشول . حضرت رقیه رضی الله عنها وروسته حضرت عثمان رضی الله عنه ته په نکاح شوه ,او ورسره یوځای یې حبشې ته هجرت وکړ , بیا مکې ته راغلل او مدینې ته مهاجر شول ,حضرت رقیه رضی الله عنها دبدر دغزا په مهال ناروغه او وفات شوه,ددې دناروغي له امله حضرت عثمان رضی الله عنه دبدر په غزا کې او دبدر دغزا له کبله رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې بي بي په جنازه کې ګډون ونه کړای شواي . دحضرت رقیي رضی الله عنها په حبشه کې یو ماشوم زیږیدلی وو چې عبدالله نومیده او په شپږ کلنۍ کې وفات شو . اللهم اجعله لنا شافعا ومشفعا.

ام کلثوم رضی الله عنها

حضرت ام کلثوم رضی الله عنها دحضرت رقیي رضی الله عنها تر وفات وروسته دهجرت په دؤیم کال حضرت عثمان رضی الله عنه ته په نکاح شوه ,شپږ کاله وروسته دهجرت په نهم کال دشعبان په میاشت کې وفات شوه ,دجنازې لمونځ یې دپالونکي څښتن محبوب حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ادا کړ ,حضرت علي رضی الله عنه ,حضرت فضل بن عباس رضی الله عنه او اسامه رضی الله عنه قبر ته ښکته کړه . انا لله وانا الیه راجعون.

دجنتي ښځو سرداره فاطمة الزهرا رضی الله عنها

حضرت فاطمة الزهر رضی الله عنها تربعثت وړاندي زیږیدلي او دهجرت په دوهم کال حضرت علي رضی الله عنه ته ورواده شوه ,دحضرت فاطمې رضی الله عنها لپاره حضرت علي رضی الله عنه خپله زغره په 480

درهمه خرڅه کړه او هغه پیسې یې درسول الله صلی الله علیه وسلم حضورته راوړې رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت بلال رضی الله عنه ته امر وکړ تر خوشبویي راوړي بیا نکاح سره وترڅله شوه . دواده په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت فاطمې رضی الله عنها ته یو کټ ,یوه بستره ,یوڅادر ,دوه میچني او یو مشک ورکړل . تر واده وروسته حضرت علي رضی الله عنه او حضرت فاطمة الزهرا رضی الله عنها له نبوي حرم څخه دباندې په یوه ګوښه کورکې اوسیدل . دحضرت فاطمې رضی الله عنها پنځه ماشومان شوي : حسن ,حسین ,محسن ,ام کلثوم او زینب ,محسن په وړوکتوب کي وفات شو . دجنتي ښځو نوموړې سرداره دنهه ویشتو کلونو په عمر دهجرت په یوولسم کال دروڅې په میاشت کې درسول الله صلی الله علیه وسلم تر وفات شپږ میاشتي وروسته وفات شوه .دحضرت فاطمې رضی الله عنها دوفات خبر رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپل وفات په مهال داسي ورکړی وو ((په ما پسي به ته ژرراشې)) . انالله وانا الیه راجعون.

څلورمه برخه :

غزاګاني

1. دبدر وتلې غزا
2. د بني قينُقاع غزا
3. داحد وتلې غزا
4. دبئر معونه پيښه
5. درجيع پيښه
6. دبنو نضيرشړل
7. دخندق غزا
8. دبنو قريظه پای

دا خبره ډيره اختلافي ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په څو غزاګانو کې ګډون کړی وو څوک 27 څوک 20 او څوک يې بيا 18 ښيي چې مونږ له هغوی څخه لاندې يوځو غزاګاني را اخلو:

دبدرغزا

د بدر غزا ـ ليکوال: عبدالحميد جوده السحار/ژباړه: شرر ساپی رسول الله ـصلى الله عليه وسلمـ وتر کول، کله چې يې له وروستي رکعت نه سر راپورته کړ، د قريشو ځينو خلکو ته يې دعا وکړه او ويې ويل: ـ ای الله! سلمه بن هشام، عياش بن ابي ربيعه او کمزوري مومنان وساته. دغه دعا د عمربن الخطاب غوږونو ته ورسېده، تېر يادونه يې مخ ته

انځور شول، کله چې يې هجرت کاوه، ده له عياش بن ابي ربيعه او هشام بن وائل

السهمي سره يې مشوره وکړه او ويې ويل:

ـ که سهار هر يو «سرف» ته راونه رسېده، نو نيول شوی به وي، بيا دې دواړه ملګري په خپله مخه ځي.

سرف «له مکې نه په شپږ کيلومترۍ کې پروت و، دا او عياش بن ابي ربيعه «سرف» ته ورسېدل، خو هشام نيول شوی و، مدينې ته راغلل او له بني عمروبن عوف سره يې په قباء کې واړول، ابوجهل بن هشام او حارث بن هشام چې د عياش بن ابي ربيعه د تره زوی او مېرنۍ ورونه و مدينې ته راغلل او رسول الله ـصلى الله عليه وسلمـ په مکه کې و، خبرې ورسره وکړې او ويې ويل:

ـ مور دې نذر نيولی چې ليدلی يې نه يې، خپل وېښتان به ړومنځ نه کړی او نه به سيوري ته کښيي.

عياش په خپلې مور اسماء بنت مخربه زړه وسوځېده، عمر پرې پوه شو چې له سړي سره دوکه کوي، ورته يې وويل:

ـ ای عياش! په خدای چې دا خلك دې د دې له پاره غواړي چې له خپل دين څخه دې وګرځوي، پام کوه چې ورسره لاړ نه شئ، په الله که مور دې سپږې وځوروله، سم له واره به وېښتان ړومنځ کړی او که د مکې ګرمې ورباندې زور شوه، نو سيوري ته به راشي.

ـ د مور سوګند مې پرځای کوم او هلته يو څه مال لرم، هغه به هم واخلم.

ـ په الله قسم! ته پوهېږي چې زه په قريشو کې ترټولو زياته شتمني لرم، زما نيمايي شتمني ستا شوه، خو مه ځه.

د عمر خبره يې ونه منله او ووت، خو مکې ته په رسيو تړلي ورننويستل شو، بيا دغو دواړو وويل:

ـ ای مکيانو! په خپلو بې عقلانو داسې چارې وکړئ، لکه مورې چې پرې وکړې.

رسول الله_صلى الله عليه وسلم_ ليدل چې په عياش بن ربيعه المخزومي ډېرې سختي تېرېږي، په مکه کې يې هېڅ کومکي او مرستندوی نه لره. عمر ته وریاد شول چې خلکو د هغو کمزورو په اړه ویل: الله تعالى له هغه چانه نه توبه قبلوی، نه ترې صدقه قبلوی چې ښېرته اوښتي دي، دې خلکو الله وپېژانده او ښېرته د کړاوونو له امله کفر ته واوښتل.

کله چې رسول الله_صلى الله عليه وسلم_مدينې ته راغی، الله تعالى يې په اړه آيتونه نازل کړل : ((ووايه :ای زما هغو بندګانو چې تاسې پر خپلو ځانونو زیاتی کړی دی، د الله له رحمت څخه مه نهيلي کېږئ، بې شکه الله ټولې ګناوې بخښي. بې شکه همدی بخښونکي، لوروونکی دی* او خپل رب ته وروګرځئ او هغه ته غاړه کېږدئ، پخوا له دې چې تاسې ته عذاب راشي او بيا به درسره مرسته نه کېږي * او د (دغه) تر ټولو غوره (کلام) چې ستاسې د رب له خوا تاسې ته رالېږل شوی دی، پيروي وکړئ، پخوا تر دې چې ناڅاپه پر تاسې عذاب راشي او تاسې به (د هغه له راتګه) ناخبر ياست.((

عمربن الخطاب ګوري چې په خپلو لاسونو يې يوه کاغذ کې وليکل او هشام بن العاص ته يې واستاوه، د زړه په ژورو کې يې د هشام غږ وشرنګېده چې ویل يې :

))کله چې دغه آيتونه راورسېدل، په ذي طوی کې مې لوستل، خو پرې نه پوهېدم، تر دې چې ومې ویل: ای الله! پرې پوهه مې کړه. الله تعالى مې په زړه کې وغورځوله چې دا آيتونه زمونږ په اړه او زمونږ د خبرو په اړه نازل شوي دي، خپل اوښ پسې راغلم، پرې سپور شوم او په مدينه کې له رسول الله _صلى الله عليه وسلم_سره يوځای شوم.((

عمر له خپلو يادونو څخه د رسول الله _صلى الله عليه وسلم_په غږ رابيدار شو، چې ورته يې ویل:

ـ څوك به ماته عياش بن ابي ربيعه اوسلمه بن هشام راولي؟

ـ ای د الله رسوله! دا کار به زه وکړم.

مکې ته روان شو، کله چې ورسېده، پلار يې وليد بن المغيره د بني کعب بن عمرو د يو خزاعي تن په غشي لګېدلی و، ورننوت، د ځنکندن سلګی يې وهلې، ابوسفيان هم ورسره ناست و، لاذي مجاز بازار ته نه وتللی، د دواړو ترمنځ خبرې روانې وې، وليد خپل ملګري ته ويل:

ـ وېرېږم چې زما له مرګ وروسته به د عزا عبادت ونه شي.

ابوسفيان ورته وايي:

ـ ستا د ژوند لپاره يې عبادت کېده چې ستا له مرګ وروسته به يې ونه شي.

بيا تري ابوسفيان ووت، وليد خپلو بچو ته مخ راواړاوه: هشام بن الوليد، خالدبن الوليد، وليد. او ويې ويل:

ـ ای زامنو! په درې شيانو درته سپارښتنه کوم چې ضايع يې نه کړئ: زما وينه خزاعي تويه کړې چې هدر لاړه نه شي.په خدای زه پوهېږم چې دوی له دې کاره پاک دي، خو وېرېږم چې له نن څخه وروسته به يې يادوئ! او زما سود په ثقيف کې بند دی، تر هغې ارام مه کېنئ ځو يې تر لاسه نه کړئ، او ديت مې له ابي ازيهرالدوسي سره دی چې درنه خلاص نه شي.

ابوازيهر خپله لور ورکړې وه، بيا يې تري ونيوله.

وليد بن المغيره مړ شو او بنومخزوم په خزاعه ورودانګل، د وليد ديت يې تري غوښت او ويې ويل:

ـ دا ستاسې د ملګري په غشي لګېدلی دی.

خزاعه انکار وکړ، ترمنځ يې شخړه تر دې بريده ورسيده چې يو بل يې په شعرونو کې وغندل، خزاعه ووېرېدل چې مساله ورته لويه نه شي، نو سوله يې وکړه او نيم ديت يې ورکړ، وروسته جون بن ابي الجون د وليد په وژنه او د هغه د کورنۍ او بچو په غندنه کې يوه لويه قصيده وليکله.

ابوسفيان د ذي المجاز په بازار کې و چې هشام بن الوليد په ابو ازيهر باندې برید وکړ او د وليد په ديت کې يې وواژه، مکې ته خبر راورسېده، يزيد بن ابي سفيان بني عبد مناف راټول کړل چې د ابي ازيهر غچ واخلي،

د ابوازيهر لور ابوسفيان ته ناسته وه، خلکو ګومان وکړ چې ابوسفيان غواړي چې د بني اميه او بني مخزوم ترمنځ جګړه ونښلوي، نو ويې ويل:
ـ ابوسفيان له خپلې خسرګنۍ سره دوکه وکړه، هغه غچ اخلي.
کله چې ابوسفيان د خپل زوی يزيد په نيت پوه شو، په منډه مکې ته راستون شو، وپرېده هسې نه چې د ابوازيهر په سر په قريشو کې درز پرې نه وځي، خپل زوی پسې ورغی، هغه د جنګ زغرې اغوستې وې او د خپل بني عبد مناف له ځوانانو سره ولاړ و، له لاس نه يې ورته نېزه واخيسته، بيا يې پرې په سر وواهه او سخت يې ورټه:
ـ الله دې مخ تور کړه! ته غواړې چې د يو دوسي سړي په سر قريش په خپلو کې واچوې، که ديت يې غوښته، وربه يې کړو.
ديت په هغه اور خاورې واړولې چې نږدې وه د قريشو د قبيلو ترمنځ بل شوی وای، مسلمانانو غوښتل چې دغه اور بل شي، حسان بن ثابت يو قصيده مکې ته واستوله چې د ابوازيهر د وينې غوښتنه او د ابوسفيان بې زړه توب يې په کې انځور کړی و، حسان غوښتل چې په خپلو کې سره په جګړه اخته شي.
د وليد بن الوليد ځنډ مسلمانان وارخطا کړل، فکر يې وکړ چې بندي شوی دی، رسول الله عليه السلام چې د وترو له وروستي رکعت نه سر پورته کړ، دعا يې ورته وکړه:
ـ ای الله! سلمه بن هشام، عياش بن ابي ربيعه او وليد بن وليد وژغوره.
وليد بن الوليد د عياش بن ابي ربيعه د زندان په اړه پلټنه کوله، له يوې ښځې سره مخ شو چې خواړه يې بار کړی و، ورته يې وويل:
ـ ای د الله بنده! ته چېرته روانه يې؟
ـ دغه بندي ته ورځم.
پوه شو چې عياش بن ابي ربيعه يادوي، تعقيب يې کړه، تر دې چې د بند ځای يې پيدا کړ، په يوه بې چته کور کې بندي و. کله چې ماښام شو، په دېوال ور وخوت، بيا يې يوه ډېره تر ځولنې لاندې کېښوده، ځولنه يې په

توري ووهله او غوڅه يې کړه، بيا دغه توره په ((ډبرې توره)) مشهوره شوه، په خپل اوښ يې راسپور کړ او روان يې کړ، تري وغورځېده او ګوته يې ويني شوه، نو ويې ويل:

ته يواځې يوه ګوته يې چې وينې شوې

او د الله په لاره کې دا مصيبت در ورسېد

بيا يې رسول الله عليه السلام ته مدينې ته راووست، د دوی په ليدو مسلمانان ډېر زيات خوشاله شول.

عياش په قباء کې روان و چې له حارث بن يزيد سره مخ شو، په يوه شېبه کې د حارث زياتی وريادشو، کله چې ابوجهل او حارث بن هشام پسې مدينې ته راغلل، دوکه يې ورسره وکړه، ورته يې وويل: مور دې نذر نيولی چې تر هغې به نه سر ړومنځ کړی، نه به سيوري ته کېنې، نه به خوراك او څښاك وکړي، څو چې يې خپل زوی ونه وينې، زړه يې پرې وسوځېده او ورسره روان شو، کورنۍ يې وتړه او هر يو سل دري وواهه، بيا ورته حارث بن زيد راغی او ويې ويل:

ـ ای عياش! که ته په سمه لاره وې، نو سمه لاره خو دې پرېښوده او که بېلاري وه، نو بيا خو دې نيولې ده.

عياش په دې خبره سخت په غوسه شو او ويې ويل:

ـ په خدای چې يواځې دې ووينم چې ودې وژنم.

اوس يې يواځې وليده، د توري ګوزار يې پرې وکړ او ويې واژه، خلکو په وراخطايي وويل:

ـ څه دې وکړل؟ مسلمان دې وواژه.

عياش رسول الله عليه السلام ته راغی او ورته يې وويل:

ـ ای د الله رسوله! زما او د حارث ترمنځ په کړکېچ خبر وې او ما چې واژه، زه نه وم خبر چې دا مسلمان شوی دی.

رسول الله سر تېټ کړ او د عياش زړه راتنګ شو،تر دې چې په اړه يې آيتونه نازل شول: ((او د هېڅ مومن له پاره (اجازه) نه شته چې بل مومن

ووژني، خو(د (تېروتنې (په توګه) او که څوك كوم مومن د تېروتنې په توګه ووژني، نو (كفاره يې) د يوه مومن مريي ازادول دي او د وژل شوي سړي كورنۍ ته د سر د وينې تاوان ورکول دي، خو دا چې دوی قاتل ته بخښنه وکړي، که (وژل شوی سړی) ستاسې د دښمن له قوم څخه و او مسلمان و، نو (د هغه كفاره) د مريي ازادول دي او که وژل شوی سړی له داسې يوه قوم څخه و چې ستاسې او د دوی ترمنځ ټرون موجود وي، نو پر تاسې د هغه كورنۍ ته د سر د وينې توان ورسپارل دي او)همدا راز) د مسلمان مريي ازادول دي، که څوك (مريي) ونه مومي، نو دوه مياشتې پرله پسې روژې نيول دي، د الله له پلوه د توبې (د قبلېدو) له پاره او الله پوهېدونکی، د حكمت څښتن دی.((

۱۶

د مكيانو زړونه د كينې او غوسې په اور راخوټېدل او دغه غوسه خو به يې هله زياته شوه چې له مدينې څخه د دوی د شرم، ماتې او رسوايي په اړه رانازل شوي آيتونه وروړسېدل. حكيم بن حزام خو به سر تر پښو وړېده، كله چې به يې دغه آيتونه واوړېدل: ((بې شكه هغه كسان چې كافران شوي دي، خپله شتمني د دې له پاره لګوي چې (خلك) د الله له لارې څخه منع كړی، ژر به دوی نوره (هم) دغه شتمني ولګوي او بيا به (دغه بې اتفاقي) پر دوی افسوس وي (چې شتمني يې له لاسه ورکړې او موخې ته نه دي رسېدلي) بيا به دوی ناكام شي او هغه كسان چې كافران شوي دي، د دوزخ په لوري به راټولېږي.((

هغه ته به د بدر خواړه ورکونكي وريادشول، نو سختې وېرې به ونيو. حارث بن عامر بن نوفل بن عبد مناف ووژل شو، كه څه هم محمد بن عبدالله خپلو ملګرو ته وويل: ((كه څوك يې په وژلو كامياب شو، د بني نوفل د يتيمانو په سر دې پرېږدي)). عتبه او شيبه د ربيعه بن عبدشمس زامنو خو د جګړې په سر كې مرګ وځكه. علي بن ابي طالب، زمعه بن الاسود بن المطلب بن اسد او نوفل بن خويلد بن العدويه د جګړې په

میدان کې یخه درې پرېښودل، ابوجهل د عفراء زامنو وواژه، امیه بن خلف او د حجاج زامن نبیه ا و منبه ووژل شول، په بدر کې چې چا جنګیالیو ته ډوډۍ ورکړې وه، ټول ووژل شول، هغه په دې حکمت نه پوهېږي چې الله وساته او که مرګ یې په انتظار کې دی!

غونی به یې رازېږ شو، دومره وېرې ونیو چې یواځې به نه ګرځېده، یوه ورځ له ابوسفیان بن حرب او صفوان بن امیه سره د قریشو د سنا مجلس کې ناست و، یو تن وویل:

ـ مور خپل غچ په حبشه کې اخیستلی شو، د هغه ځای پاچا ته به څوک واستوو چې د محمد ملګري راکړي او غچ به ترې واخلو.

په جګړه کې یې ماتې وخوړه، خو اوس غواړي خپل ځان ته د اوړو اوبو پوزه کېدي او زړونه یې څه نا څه ارام شي، د نجاشي خواږه ملګري عمروبن العاص او عبدالله بن ابي ربیعه یې نجاشي ته واستول چې مسلمانان وروسپاري.

عمروبن العاص او عبدالله بن ابي ربیعه کینبتۍ ته وختل او له ځان سره یې ارزښتناکې ډالۍ هم راخیستې دي. کښتۍ چې څنګه حرکت وکړ، د دوی زړونه د علي او د هغه د وروڼو او تروڼو په وړاندې له کینې څخه راوپرسېدل! هیله یې لرله چې نجاشي به جعفر بن ابي طالب وروسپاري چې په بدر کې د وژل شویو په بدل کې یې ووژني او خپل غچ ترې واخلي.

په مدینه کې د علي د شجاعت او زړورتیا خبر وروسته له هغې خپور شو، چې د قریشو ډېر غښتلي جنګیالي یې له تېغه تېر کړل او د الله او د هغه د رسول زمرې د مهاجرینو او انصارو په منځ کې دی، د هغوی وژنه دومره اسانه خبره نه وه، که څه هم هند بنت عتبه په خیال کې د خپل پلار، ورور او تره په بدل کې څو ځلې وژلی وو. که د دغو دوو اتلانو مرګ قریشو ته سخت و چې د دوی ډېر قهرمانان یې وژلي و، نو د جعفر او له هغه سره د مسلمانانو مرګ خو ورته اسانه دی، ځکه چې د حبشې په خاوره ملاتړي او سړي نه لري.

رسول الله_صلی الله علیه وسلم_ نجاشي ته استازی واستاوه چې د بدر د

سوبې زېرى وروړي، استازى له ينبع نه په کښتۍ کې سپور شو او حبشې ته روان شو، په ټوله لاره يې هغه آيتونه لوستل چې د بدر په اړه نازل شوي وو، خيال تړې مخکې شو، خپل ځان يې د ماضي په هنداره کې د جعفر بن ابي طالب او مسلمانانو په منځ کې وليده، هغوى ورته غوږ غوږ دي او دا ورته له يوې لويې خوښۍ او زېرې سره دغه آيتونه تلاوت کوي: ((او بې شکه چې الله په بدر کې له تاسې سره مرسته وکړه او تاسې خوار واست، نو له الله څخه ووېرېږئ ګوندې چې شکر وکړئ* هغه وخت درياد کړه چې مومنانو ته دې ويل: ايا ستاسې له پاره به بس نه شي چې ستاسې ر ب د درې زره پرښتو په وسيله چې (يواځې ستاسې مرستې ته) استول شوي دي، ستاسې سره مرسته وکړي؟* هو! که تاسې ټينګ و اوسئ او (له الله) څخه ووېرېږئ)که دښمن پرتاسې ناڅاپه) يرغل وکړي ستاسې رب، له تاسې سره د پنځو زرو ځانګړو نښانولرونکو پرښتو په واسطه مرسته کوي * او الله دا (د پرښتو مرسته (ونه ګرځوله، خو د يوه زېرې په توګه ستاسې له پاره او څو چې ستاسې زړونه تسکين ومومي او (په هرحال) کومه مرسته نه شته، خو د الله له خوا چې د ستر قدرت څښتن، حکمت لرونکى دى.((

کښتۍ د حبشې خاورې ته ورسېده، د رسول الله_صلى الله عليه وسلم_استازى د نجاشي مانۍ ته ورغى، د ورننوتلو اجازه يې وغوښته، کله چې يې مخکې ودرېده، سجده يې ورته ونه کړه، په لوړ سر ولاړ دى چې په څېره يې يو ډول وقار او شوکت انځور شوى دى، کله چې ښه ورنږدې شو، مسنون سلام يې پرې وکړ، نجاشي د سلام ځواب ورکړ او بيا يې له ځان سره څنګ ته کښناوه.

سړي نجاشي ته د بدرکيسه وکړه او د رسول الله _صلى الله عليه وسلم_د سوبې په اړه يې خبر کړ، نجاشي ليك ولوست، په ليك کې رسول الله عليه السلام ورته په مسلمانانو سپارښتنه کړې وه.

نجاشي، جعفر بن ابي طالب او د هغه ملګرو ته سړي واستاوه، دوى ورننوتل، ګورې چې نجاشي په خاورو کې ناست دي، زړې جامې يې

اغوستې دي، دوی ورته وویل:
ـ پاچا دا ولې؟
نجاشي په ورین تندي وویل:
ـ زه تاسې ته ستاسې په خوښۍ زېړی درکوم. الله پاك خپل نبي سوبمن کړ او خپل دښمن ابوجهل بن هشام، امیه بن خلف، نضربن الحارث او عقبه بن معیط یې ووژل، د بدر په سیمه کې سره مخ شول، هغه سیمه ما لیدلې وه، ډېرې ونې لري، په دغه سیمه کې به ما د بني ضمره دیو تن مېړې څرولې.
نجاشي هغه ورځې نه شي هېرولي چې دا په کې د غلام په دود وپلورل شو، بادار یې عربي خاورې ته یوړ، که د الله مهرباني نه وای، نو همغسې به مریي پاتې و او د خپل پلارتخت ته به هېڅکله نه و راستون شوی، کله چې هم له مسلمانانو سره کښناست او یا به کوم عربي پلاوي ورغی، د دغو ورځو یادونه به یې کوله، جعفر ورته وویل:
ـ په خاورو کې ولې ناست یې او بیا دې زړې جامې پر تن دي؟
ـ کله چې به په عیسي علیه السلام باندې د الله له خوا لورینه وشوه، نور به هم خاکساره شو، دا چې الله خپل نبي علیه السلام کامیاب کړ، ما هم دا خاکساري وکړه.
جعفر او ورسره مسلمانانو د بدر غزا ته ډېره تلوسه وه، د رسول الله له استازي څخه راچاپېر شول، ټول ورته غوږ غوږ دي او سړی ورته د الله د مرستې کیسه کوي او د الله آیتونه ورته لولي: «(د ولجې د مالونو ېېلګه همداسې ده) لکه چې ستا رب ته ستا له کوره په حقه سره ایستلی وې، که څه هم د مسلمانانو یوه ډله (له هغه څخه) په رښتیا سره ناخوښه وه * له تا سره یې د هغه حقیقت په اړه چې ښکاره شوي و، شخړې کولې، ته به وای ګوندې دوی په داسې حال کې د مرګ خواته ېېول کېږي چې دوی ورته ګوري* او هغه وخت یاد کړه چې الله له تاسې سره ژمنه وکړه چې (د دښمن) یوه ډله تاسې ته ده. تاسې هیله وکړه چې (بې وسلې ډله) تاسې ته در په برخه شي. او الله غوښتل چې په خپلو کلمو سره حق ثابت کړی او د

کافرانو ستې وباسي* څو چې حق ثابت کړی او باطل نابود کړی که څه هم مجرمان (دا خبره) بده مني* هغه وخت یاد کړئ چې له خپل رب څخه مو مرسته غوښته، نو هغه ستاسې (غوښتنه) ومنله (او ویې ویل:) زه ستاسې مرستې ته پرله پسې زر پرښتې درلېږم* او الله دغه مرسته ونه ګرځوله خو یو زېرې او څو په هغه سره ستاسې زړونه ارام شي او پرته د الله له لورې کوم)بل) بریالیتوب نه شي ترلاسه کېدای. بې شکه چې الله برلاسي، حکمت لرونکی دی.((

هغه ورته له سورت انفال څخه رانازل شوې آیتونه لوستل، دوی ورته غوږ وو او سترګې یې له اوښکو راډکې شوې، د الله کومك د دوی له هیلو او خیالونو څخه لوړ و، دوی یې هېڅکله دا تصور نه لره.

عمروبن العاص او عبدالله بن ابي ربیعه له خپلو ډالیو سره نجاشي ته ور ننوتل او په همدغه شېبه د رسول الله_صلی الله علیه وسلم_استازی ووت، عمرو ورته د سترګو په کونج کې وروکتل، بیا ورمخکې شو چې نجاشي ته په سجده پرېوځي.

نجاشي ورته د سر پورته کولو امر وکړ او خواته یې د کښاستلو بلنه ورکړه، نجاشي ورته وویل:

ـ ملګریه! ستړی مه شئ، له خپل هېواد نه دې راته کومه ډالۍ راوړې ده؟

ـ هو! پاچا صیب، ډېرې څرمنې مې درته راوړې دي.

بیا یې ورنږدې کړې، هغه ته یې هم خوند ورکړ او څه شیان یې تړې په خپلو نږدې کسانو ووېشل او نور ټول یې په یوه ځانګړې ځای کې خوندي کړل او امر یې وکړ چې ټاپه پرې ووهي او خوندي یې کړی. کله چې عمرو، نجاشي خوشاله ولید ، ویې ویل:

ـ پاچا صیب! اوس مې یو سړی ولیده چې ستاسې له دربار نه راووت، هغه زموږ د دښمن استازی و، دوی زموږ مخور او مشران ووژل، ماته یې راوسپاره چې ویې وژنم.

نجاشي سم له واره په مخ باندې سخته څپېړه وواهه، ګومان یې وکړ چې

پوزه يې پرې ماته کړه، عمرو خپله وينه په خپله لمن پاکوي، ډېر زيات خړمخی او رسوا شو، هيله يې څرګنده کړه چې کاش ځمکه وچوي او دي ورننوځي، بيا يې وويل:

ـ پاچا صيب! که زه پوهېدی چې ته په دې خبره خواشيني کېږي، بيا مې درنه نه غوښت.

نجاشي، عمروبن العاص او عبدالله بن ابي ربيعه خړسترګي راولېږل. بيا يې رسول الله_صلی الله عليه وسلم_ته له خپلو غوره ملګرو نه څلوېښت تنه واستول چې مرسته ورسره وکړي، کله چې دغه خلك په خپله ديني جامه کې په مدينه کې روان شول، غاړې وراوږدې شوې، يهودان ننګ ونيول چې د رسول الله عليه السلام مقام لوړ شو، منافقانو هم په خوله يوځه او په زړه بل څه ويل، خو د مومنانو په زړونو کې د زېرو او خوښيو ډيوې روښانه شوې.

اولین تجربه جنگی اسلام با مشرکان

جنگ بدر اولین تجربه جنگی مسلمانان با مشرکان مکه بود و رسول خدا(ص) پس از پیروزی در این جنگ و امدادهای الهی فرمود: امروز،

روز عید است و باید شکر خدا را بر نعمتی که به اهل ایمان عطا فرموده به جای آورد.
غزوه به معنای جنگ در فرهنگ تاریخ اسلام برای جنگ هایی به کار می رود که رسول اکرم(ص) شخصا در آن حضور می یافتند و بدر نام یك چاه میان مکه و مدینه است که تا مدینه در حدود 160 کیلومتر فاصله دارد و چون نام صاحب آن چاه، بدر بوده، آن را به نام صاحبش نامیده‌اند. جنگ بدر در روز جمعه، هفدهم ماه مبارك رمضان در سال دوم هجری رخ داد.
تعداد لشکر مسلمین در این جنگ 313 نفر بود و تعداد لشگر مشرکین 950 نفر بود و بعضی از مورخین نوشته اند که تعداد شهدای مسلمان 14 نفر بود که شش نفر از مهاجرین و هشت نفر از انصار بودند و تعداد کشته شدگان مشرکین 70 نفر بود.
رسول خدا(ص) پس از جنگ بدر که خداوند نصرت خود را بر مسلمانان نازل کرد، شکر الهی را بجا آورده و فرمود: امروز، روز عید است و باید شکر خدا را بر نعمتی که به اهل ایمان عطا فرموده به جای آورد.
آیه 123 سوره آل عمران که درباره جنگ بدر بر پیامبر(ص) نازل شد؛ می فرماید: خداوند شما را در بدر یاری کرد و بر دشمنان خطرناك، پیروز ساخت، در حالی که شما نسبت به آنها، ناتوان بودید. پس، از خدا بپرهیزید (و در برابر دشمن، مخالفت فرمان پیامبر نکنید) تا شکر نعمت او را بجا آورده باشید!
جنگ بدر که به آن بدر کبری و یا بدر اولی نیز می گویند، نخستین جنگی بود که مسلمانان با مشرکان داشتند و مسلمانان پس از 15 سال صبوری و بردباری در هفدهم ماه مبارك رمضان سال دوم هجری از خدا اذن جهاد دریافت کردند تا از دین و جان خود دفاع کنند و پاسخی در میدان اقدام و عمل به 15 سال زورگویی و ظلم مشرکان داده باشند.
دو سپاه در کنار چاه های بدر به هم رسیده بودند. از یك طرف مسلمانان با افراد اندك خود یعنی 313 نفر صف کشیده بودند که فقط دو یا سه اسب داشتند و از طرف دیگر مشرکان، دست کم با 950 مرد جنگی

بودند که در میان آنها 600 زره پوش به همراه صد اسب بود و با غرور و توحش به طبل جنگ می کوبیدند.
نخستین کسانی که از سپاه کفر به آوردگاه آمدند و همآورد خواستند سه مرد جنگی به نام های عتبه پدر بزرگ معاویه، شیبه عموی معاویه و ولید دایی معاویه بودند. این سه تن برای جنگ تن به تن به میدان شتافته بودند که هرکدام حریفی برای نبرد و رزم می خواستند.
از سپاه اسلام نخست سه مجاهد از مسلمانان مدینه - از انصار - به میدان جهاد روی آوردند که با توهین و تحقیر روبرو شدند.
پهلوانان کفر گفتند که شما در شان ما نیستید و ما با شما نمی جنگیم و منتظر می مانیم تا از قبیله خودمان یعنی قریش مردانی به رزم ما بیایند که همتای ما باشند. سپس فریاد برآوردند که ای محمد! همتایان ما را به جنگ ما بفرست!
رسول خدا(ص) به عموی خود حمزه و به دو پسر عمویش علی(ع) و عبیده فرمود برخیزید و پاسخ آنها را بدهید.
علی(ع) که در این جنگ هم مانند بسیاری از جنگ های دیگر پرچمدار سپاه بود، به همراه عمویش حمزه و پسر عمویش عبیده به میدان جهاد تاختند تا در برابر آن سه جنگجوی کفر قد برافراشتند.
سران کفر گفتند شما همتایان بزرگواری برای ما هستید و به این ترتیب سه سردار از بنی هاشم با سه سردار از بنی امیه آماده مصاف و نبرد با یکدیگر شدند. از سپاه اسلام عبیده با عتبه، و حمزه با شیبه، و علی(ع) با ولید، تن به تن جنگیدند.
پیش از همه علی(ع)، ولید را کشت؛ حمزه و شیبه پس از زد و خورد بسیار که دیگر شمشیرشان کند شده بود، با هم گلاویز شدند. علی(ع) که حریف خود را کشته بود، به سوی آن دو خیز برداشت و به کمك عمویش حمزه و عبیده شتافت.
با این پیروزی بزرگ، مسلمانان با آن که شمارشان در مقایسه با کفار، بسیار اندك بود؛ جرات و جسارت بیشتری یافتند تا دلیرانه به جهاد پرداختند و خود را فاتح جنگ نابرابر ساختند.

تعداد مسلمانانی که در این جنگ به شهادت رسیدند 9 تا 14 نفر و تعداد کفار کشته شده 70 نفر بودند که 35 نفر از این تعداد به دست امیرالمومنین(ع) به قتل رسیدند. در این جنگ 70 نفر نیز به دست مسلمانان اسیر شدند.

حضرت علی(ع) در نامه ای که به معاویه می نویسد؛ به جنگ بدر اشاره می کند و می فرماید: آیا مرا از جنگ می ترسانی و به ضرب و شست تهدید می کنی؟ مگر فراموش کرده ای که من همان ابوالحسنم که پدر بزرگت عتبه را؛ و عمویت شیبه را؛ و دایی ات ولید را؛ و برادرت حنظله را در جنگ بدر کشته ام. آن شمشیر که خون این گروه را در راه خدای تعالی با آن ریخته ام، هنوز هم در دست من است و دست و بازوی من به همان قوت و نیروی خود باقی است.

در این جنگ ابوجهل نیز کشته شد. وی با آنکه نامش هشام بن مغیره مخزومی و از دشمنان سرسخت پیامبر(ص) بود اما از فرط بدجنسی و زشت سیرتی به ابوجهل معروف شده بود.

دبدر وتلې غزا:

د هجرت په دوهم کال درجب میاشت وه چې مسلمانانو دکفارو په یوه تجارتي قافله باندې چې دابو سفیان په مشرۍ کې له شام نه مکې ته راروانه وه دبرید کولو تابیا ونیوله 313 تنه مجاهدین چې ۷۴ تنه پکې مهاجر او نور یې انصار وو درسول الله صلی الله علیه وسلم په ملتیا دزرو تنوکفري لښکرو چې له هغه مهال سره سم دهرډول جنګي ساز او سامان په درلودلو سره جګړې ته چمتو وواله مدینې څخه د باندې دمقابلې لپاره راووتل . درمضان المبارک په اوولسمه ورځ دواړه لښکرې سره مخامخ شوې ,خو ترجنګ په مخته شپه کې باران وشو ,دمسلمانانو د لورې شګلنه ځمکه کلکه اودمشرکانو د لورې ځمکه خټې شوه ,په همدې شپه صحابۀ کرام بې غمه ویده شول ,خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ټوله شپه له

الله تعالی سره په راز او نیاز کې رڼه تیره کړه , دقریشو لښکر ته ارام ورپه برخه نه شو ,سهار دومره زړه نازړه وو چې دمسلمانانو لښکر ورته په سترګو ډیر ښکاریده ,جګړه پیل شوه ډیر ژر دقریشو مشران ووژل شول ,او لښکرې یې زړه ماتي او تیښته پرې ګډه شوه , دقریشو له لورې اویا تنه چې ډیری یې مشران وو ووژل شول او همدومره بندیان شول ,له مسلمانانو څخه څوار لس تنه شهیدان شول چې شپږ تنه پکې مهاجر او اته تنه انصار وو,پدې ډول دا خونړۍ جګړه دمسلمانانو په برې سره پای ته ورسیدله.

د بني قینُعاع غزا:

څنګه چې دمدینې منورې ډیری اوسیدونکي یهودان ووپه دوی کې بني قینقاع ,بني نضیر او بني قریضه غټې کورنۍ وې , د بني قینقاع دکورنۍ خلکو زرګري کوله ,او په نورو یهودانو کې دوی زړه ور او جنګیالي وو ,له دې کبله لومړی دوی دجګړې داعلان جرأت وکړ, او دپیغمبر صلی الله علیه وسلم له لورې ورسره شوی ټرون یې مات کړ , دبدر دجنګ په شپو کې نوموړې کورنۍ خپله کینه ښکاره کړه ,او ګډې یې جوړ کړ ,ورسره داپیښه هم وشوه چې یوه مسلمانه میرمنه دیهودو هټۍ ته ورغله , هغوی د دې میرمنې بې پتي وکړه ,یو مسلمان چې هلته ولاړوو هغه یهودي یې ووژله , او یهودو بیا هغه مسلمان شهید کړ . کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر شو نو ورغی او یهودانو ته یې وفرمایل:

> ای له خدایه وویریږئ داسې ونه شي لکه دبدر په خلکو چې وشول او په تاسې عذاب رانښکته شي
>
> ” “

.یهودانو په ځواب کې ورته وویل : مونږ قریش نه یو ,که له مونږ سره مو شخړه پیښه شوه نو مونږ به تاسو ته وښیو چې جنګ څه ته وایي ؟ کله چې

ديهودو له لوړې تړون مات شو , رسول الله صلى الله عليه وسلم هم دې ته اړشو چې له دوی سره جنګ وکړي . يهودان يې کلابند کړ او دا کلابندي تر پنځلسو ورځو اوږده شوه , وروسته په دې راضي شول چې هره پريکړه رسول الله صلى الله عليه وسلم وکړي مونږ يې منو ,عبدالله بن ابي چې د دوی سوګندي وو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل چې دوی دې جلاوطنه شي ,هماغه وو چې دايهود چې اووه سوه تنه وو او دريو سوو تنو پکې زغرې اغوستي وې دهجرت په دوهم کال د(وړوکي اختر) په مياشت کې دشام اړوندې سيمې (اذرعات) ته وشړل شول

د احد وتلې غزا

د بدر په غزا کې چې کله قريشو ماتې وخوړله او ډيرى مشران يې دجنګ په ډګر کې ووژل شول ,نو دوی هم دکسات اخستلو لپاره هلې ځلې پيل کړې ,هغه تجارتي کاروان چې دابو سفيان په مشرۍ له شام څخه راغلى وو ,ټوله ګټه يې دجنګ په تياري خرڅه کړه . حضرت عباس رضى الله عنه چې مسلمان شوى وو,خولا هم په مکه کې اوسيده ، ديو ليک له لارې رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې لښکر له څرنګوالي نه خبر کړ ,رسول الله صلى اله عليه وسلم هم دحال احوال معلومولو لپاره څوک واستول ,هغوى خبر راوړچې قريش احد ته نژدې رارسيدلي دي . احد دمدينې شمال لورې ته يو نيم ميل لرې پروت د يو غره نوم دى . له ډيرى صحابۀ کرامو سره تر مشورې کولو وروسته رسول ا لله صلى الله عليه وسلم دهجرت په دريم کال دشوال په مياشت کې دجمعې په مبارکه ورځ له يوزر تنه نبوي لښکرسره له مدينې نه دباندې ووت ,خو دمنافقينو مشر عبدالله بن ابى ابن سلول له خپلو دريو سوو ملګرو سره بيرته راستون شو ,نو له دې امله رسول الله صلى الله عليه وسلم سره اووه سوه تنه پاتې شول ,چې په هغوى يوائې سلو تنو زغرې درلودې . رسول الله صلى الله عليه وسلم داحد غره تر څنګ لښکر دا شان برابر کړ چې شايې غره ته شوه ,اودلښکر صفونه (مقدمه , ميمنه ,ميسره ,اوخلفيه) يې تيار کړل او قومندانان يې

معلوم کړل . رسول الله صلی الله علیه وسلم پنځوس تنه دحضرت عبدا لله بن جبیر رضی الله عنه په مشری دغره دهغه کنډَو دساتلو لپاره وګمارل چیرې چې دشا له لوري دقریشو دبرید ویره وه ,او ورته ویې فرمایل : که په مونږ هرڅه کیدل خو چې تاسې هغه ځای پرې نږدئ ,جنګ په پیل کې ځان ته ځانته وو ,خو وروسته صفونه سره ګډشول ,دقریشو بیرغ وړونکي په یو بل پسې ووژل شول , حضرت علي او حضرت ابو دجانه رضی الله عنهما هم ددښمن په لښکر کې لاړې جوړې کړې , څو د دښمن پښې سستې او تیښتې ته اړشول ,خو مسلمانانو په غنیمت ټولولو لاس پورې کړ واو دغره دکنډو ساتونکو چې همدا حال ولید ,نو پوه شول چې مسلمانان بریالي شوي او دغنیمت غونډولو مهال دی ,که څه هم حضرت عبدالله بن جبیر رضی الله عنه ورته دنه تللو ډیر وویل ,خوهغوی لاړل یواځې حضرت عبدالله بن زبیررضی الله عنه له لسو تنو سره پاتې شو ,کله چې خالد بن ولید (چې هغه مهال لانه وو مسلمان شوی اودکفارو له لوري راجنګیده) هغه کنډو خالي ولید نو له نورو سپرو سره په هماغه کنډو راواوښت , کوم کسان چې هلته پاتې وو هغوی شهیدان کړل ,او دجنګ ډګرته یې ځان راورساوه ,قریش یې بیرته سره راټول او نوی جنګ پیل شو , مسلمانانو چې دغنیمت غونډولو له امله وسلې له ځانه لرې کړې وې , دومره وارخطا شو چې خپل او پردي یې نه پیژندل ,په همدې وارخطایی کې څو تنه مسلمانان پخپل منځ کې شهیدان شول . جنګ دومره تیز شو چې آن درسول الله صلی الله علیه وسلم په ښکلي رخسار هم دوینو لاړې جوړې شوې ,او داغږ پورته شو چې محمد صلی الله علیه وسلم شهید شو ,خو څو تنه وو چې له خپل ځانونو یې درسول الله صلی الله علیه وسلم دساتلو ډال جوړکړی وو . په نوموړي جنګ کې اویا تنه مسلمانان شهیدان شول ,چې ډیر یې انصار وو ,درسول الله صلی الله علیه وسلم تره حضرت حمزه رضی لله عنه هم دشهیدانو دکاروان ملګری وو , چې هندې (دابو سفیان میرمنې)دحضرت حمزه رضی الله عنه نس څیرې او ځیګر یې را وایست او خوله یې پرې ولګوله) . علماوو لیکلي چې کله هندې ایمان

راوړ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې ماته مه رامخامخ کیږه ,هغه ووچي هندې به چیري رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدنو لاړه به یې ورځخه چپوله) دجنګ په پای کې رسول الله صلی الله علیه وسلم څو تنه وټاکل ترڅو ددښمن څارنه وکړي , پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دوهمه ورځ آن تر اتو میلو پورې ددښمن څارنه وکړه . همدا جنګ وو چې دمسلمانانو دبې وزلي توب او تش لاسي له امله ,دحضرت مصعب بن عمیر رضی الله عنه شهید وجود نیم په کفن او نیم په وښو پټ کړای شو . که څه هم داحد په غزاکې مسلمانانو ته دسر ډیر تاوان ورسیده ,خو ماتې یې خوړلې نه ده ,ځکه له جنګ پلوه دماتي دوه شرطونه دي : ۱) داچې دهغه هیواد خاوره ونیسي ۲) دا چې دهغه هیواد پوځ ورک کړي . خو مشرکانو نه مدینه ونیوله او نه یې دمسلمانانو پوځ ورک کړ ,ځکه په هماغې ورځ داسلامي لښکر اویاتنه صحابۀ کرام رضی الله عنهم ددښمن دځارنې لپاره روان شول.

دبئر معونه پیښه:

دهجرت په څلورم کال دصفر په میاشت کې ,دکلاب دکورنۍ مشر ابو براء رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او عرض یې وکړچې : له ما سره یوڅو تنه ولیږه ترڅو زما قبیلې ته داسلام بلنه ورکړي . رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : زه دنجد له لورې په ویره کې یم ,ابو براء وویل :دهغه ځای دخلکو ضامن زه یم . درسول الله صلی الله علیه وسلم ویره ځکه وه چې عامر بن طفیل دنجد دسیمې مشر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ویلي ووچې : زما او ستا تر منځ درې خبرې دي , لومړی داچې : دکلیو او باندو مشري به ستا وي ,او دښارونو مشربه زه یم ,دوهم داچې ترخپل ځان وروسته ما خلیفه کړه ,که دانه منل کیږي نودریمه خبره داچې ټول غطفان به راټول او سخت برید به دربانديې وکړي . کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له ابو براء سره اویا تنه صحابۀ کرام واستول ,او هغوی بئر معونه نومې ځای ته ورسیدل , نو دحضرت حرام بن ملحان رضی الله عنه په لاس یې درسول الله صلی الله علیه وسلم لیک

همدې عامر ته واستاوه عامر حرام رضی الله عنه شهید کړاو له شاو خوا کورنیو نه یې یولښکر تیار کړ ,عامر له همدې لښکر سره دښر معونه په لورې راروان شو ,صحابۀ کرام رضی الله عنهم دحضرت حرام رضی الله عنه دراتلو په هیله وو خو داچې ځنډ یې وکړ نو ورپسې روان شول ,په لاره دعامر له لښکر سره مخامخ شول ,دعامر لښکر دوی ټول ونیول او هلته یې شهیدان کړل ,خو یو تن عمرو امیه تړې ژوندی پاتې شو ,او هغه هم داسې چې عامرورته وویل چې زما مور دیوه مریې دازادولو نذر منلی وو نو زه تا ازادوم . رسول الله صلی الله علیه وسلم چې له نوموړې پیښې خبرشو نو ډیر وغمیده ,او یوه میاشت یې دسهار په لمانځه کې دې تیری کوونکو ته ښیراوې کولې.

درجیع پیښه:

د بیر معونه له پیښې سره نژدې درجیع پیښه هم یوه زړه دردوونکې پیښه ده . دعضل او قاره دکورنیو څو تنه راغلل او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې عرض وکړ چې له مونږ سره یوڅو تنه دتبلیغ لپاره ولیږه ,رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره دحضرت عاصم بن ثابت په مشرۍ لس تنه صحابۀ کرام واستول ,کله چې دا مبلغین رجیع نومې ځای ته ورسیدل نو دې کسانو ورسره ټګي وکړه ,اودښو لحیان کورنۍ یې ولمسوله ترڅو دا مبلغین شهیدان کړي ,هغه وو چې دښو لحیانو دوه سوه کسان ورپسې راووتل خو دا مبلغین ورڅخه یوې غونډۍ ته وختل ,کفارو ورته وویل راښکته شئ مونږ تاسې ته پناه درکوو ,حضرت عاصم رضی الله عنه ورته وفرمایل :مونږ له کفارو څخه پناه نه غواړو جګړه ونښته او دامبارک مبلغین شهیدان شول ,یواځې دوه تنه حضرت خُبیب او حضرت زید رضی الله عنهما دکفارو په خبره تیروتل ,او له غونډۍ څخه راښکته شول ,دښمنانو دهغوی متې وروټرلې او مکې ته یې بوتلل . څنګه چې حضرت خُبیب رضی الله عنه داحد په جنګ کې حارث نومې کافر وژلی وو ، نو نوموړی هم دحارث زامنو واخیست ,څو یې دخپل پلار په کسات کې

ووژني ,كله چې دې كسانو حضرت خُبيب رضي الله عنه دوژلو په موخه دحرم له پولو څخه دباندې بوتلو ,نو حضرت خُبيب رضى الله عنه ورته وفرمايل : اجازه راكړئ چې دوه ركعته لمونځ وكړم , وژونكو ورته اجازه وركړه ,حضرت خُبيب رضى الله عنه دوه ركعته لمونځ اداكړ اوورته وويل : زما زړه غوښتل چې ډير لمونځ وكړم خو ستاسې به داخيال شي چې له مرګه ويريږي (ځكه نو په همدې دوو ركعتونو بسنه كوم) . له همدې مهال راپديخوا چې څوک وژل كيږي نو تر وژل كيدو مخه دوه ركعته لمونځ اداكول وربانديې سنت بلل شوي ترڅو دحضرت خبيب رضى الله عنه دايادِ په امت محمدي كې ديوه ښندونكي دښندويني د علامې په توګه تر قيامته پورې جاري پاتې شي . دشهادت نه لږ وړاندې حضرت خُبيب رضى الله عنه داشعر ووايه:

لستُ أُبالِي حِينَ أُقتَلُ مُسلِمًا ..... على اَي شِقٍ كانَ لِلهِ مَصرَع.
وذالک في ذاتِ الإلَهِ وَإن يَشَأ..... يُبارِک على اوصال شِلوٍ مُمَزَع
ژباړه :كله چې زه دپالونكي څښتن په لاره كې وژل كيږم نو بيا هيڅ پروا نلرم چې په كوم اړخ به ووژلى شم .او كه خداى وغواړي نوزما په غوڅو اندامونواو بندونو به بركت وكړي . حضرت زيد رضى الله عنه بيا صفوان بن اميه دوژلو لپاره واخيست ,دهغه دوژلو پر مهال دقريشو ډيرو مشرانو دهغه نندارە كوله . كله چې وژونكي توره راواخيسته ,,ابو سفيان وويل :ريښتيا ووايه ! كه پدې مهال كې ستا په ځاى محمد (صلى الله عليه وسلم) وژل كړل شوى واى نو داكاربه تا خپله نيكمرغي نه وه ګڼلې ؟ حضرت زيد رضى الله عنه ورته وويل : زما دې په خداى جل جلاله لوړه وي ,چې زه پدې خبره هم سر وركولو ته تيار يم چې دمحمد صلى الله عليه وسلم په پښه كې اغزى ولاړ شي , په همدې مهال كې دصفوان مريي (نسطاس) دهغه سر وواهه . انا لله وانا اليه راجعون.

دبنو نضيرشړل:

له يهودانو سره داتړون هم شوی وو چې که دکومې ويني بيه دمدينې په هستوګنو راتله نو هره کورنۍ به خپله ونډه ورکوي ,کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوو تنو دويني دبيې دورکولو لپاره بنو نضير ته ورغی , نو که څه هم په ښکاره ډول خو يهودانو دا غوښتنه ومنله ,خو په پټه يې يو سړی چې عمرو بن حجاش نومیده ,دخونې دوهم پورته خيژولی وو ,او ورته ويلي وو چې محمد)صلی الله علیه وسلم)دهمدې خونې سيوري ته ولاړدی ,له هغه بامه ډبره ورباندې راواچوه ترڅو ووژل شي ,خو رسو ل الله صلی الله علیه وسلم ته دا دسيسه کشف شوه اوپه سملاسي ډول مدينې ته ولاړ . همداراز بنو نضير له قريشو سره دمسلمانانو په خلاف په يوه بله دسيسه کې هم ګډون درلود چې دمسلمانانو پټ ځايونه يې ورته ښودلي وو ,سربيره پر دې ديهودو همدې قبيلې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته يو پيغام هم رااستولی وو چې له ديرشو کسانو سره راشه او مونږ به هم ديرش تنه پوهان درولو ,که هغوی ستا خبرې ومنلې نو مونږبه هم اسلام راوړو .رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا څرګنده وه چې دوی دبغاوت هوډ کړی ,نو په ځواب کې يې ورته وويل : تر څو تاسې له ما سره يو بيل تړون نه وي کړی زه په تاسې باور نلرم .بنو نضير دتړون له کولو په شا شول ,سره له دې چې د دوی ديني ورونو (بني قريظه)همداسې تړون کړی وو . بل ځل يې بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پيغام راولیږه چې ته هم دري کسان راوله مونږ به هم دري کسان پوهان درولو نو که هغوی ستا خبر ومنله نو مونږ به هم اسلام راوړو ,رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغوی دا خبره ومنله ,خو په لاره چا خبر ورکړ چې يهود توري په لاس درته ولاړاوستا دوژلو اراده لري . دبنو نضيروددې شرارتونو لامل داوو چې يو خو ددوي کلاوي ډيري کلکي وې او له جنګ څخه نه ويريدل , اوبل دوي ته دمنافقينو مشر عبدالله بن ابی ټټر وهلی وو چې دچا خبره مه منۍ که جګړه ونښته نو بني قريضه به هم ستاسې ملاتړ وکړي او زه به هم له دوو زرو کسانو سره ستاسې ملاتړ ته درودانګم .خو

کله چې اسلامي لښکر درسول الله صلی الله علیه وسلم په امر د دوی کلاګانې محاصره کړې نو نه یواځې داچې بنو قریضه یې ملاتړ ونه کړ بلکه دمنافقینو رئیس عبدالله هم په ښکاره ډول له مسلمانانو سره دجګړې کولو ځواک نه درلود . محاصره پنځلس ورځې اوږده شوه ,په پای کې بنو نضیر پدې راضي شول چې هرڅومره سامان په اوښانو وړای شي هغه دې یوسي او له مدینې څخه دې جلا وطن شي . دیهودو دنوموړې کورنۍ ډیر کسان خیبر ته ولاړل ,او په هغوی کې سلام بن ابي الحقیق ,کنانه بن الربیع ,او حیي بن اخطب غوندي یهودي سرداران هم وو ,چې په خیبر کې یې دومره درناوی وشو ,چې دخیبریهودانو هم دوی دخپلو مشرانو په توګه ومنل .دهجرت په څلورم کال دربیع الاول په میاشت کې بنو نضیر وشړل شول ,او مسلمانانو ته له دوی څخه پنځوس زغرې ,پنځوس خولونه ,او درې سوه څلویښت توري په غنیمت پاتې شوې . والحمد لله علی ذلک.

د خندق غزا:

کله چې بني نضیر له مدینې نه ووتل ,نو داسلام پر خلاف یې په یو لوی سازش لاس پورې کړ , لومړی د دې یهودو مشران مکې ته ولاړل او قریشو ته یې وویل : که تاسو راسره مرسته وکړئ نو مونږ به دمسلمانانو جړې وباسو ,قریشو همدا ورځ غوښتله . دهمدې لیدنو کتنو پایله دا شوه چې قریشو خپل او یهودو خپل سوګندي سره راټول کړل ,څو تر 24000 ډیر پوځ په مدینه باندې دبرید کولو لپاره چمتو شو . رسول الله صلی الله علیه وسلم چې خبر شو نو له صحابۀ کرامو سره یې مشوره وکړه ,دحضرت سلمان فارسي رضی الله عنه په رایه دخندق په کندلو پریکړه وشوه ,دمدینې ښار دریو لورو ته کلاګانې او ونې درلودې خو شمال لورې

خلاص وو,همدې لورې ته دخندق په کندلو پیل وشو .رسول الله صلی الله علیه وسلم دخندق نقشه پخپله وښودله ,په اوسني حساب دا خندق شپږ کلو متره اوږد او پنځه شرعي ګزونه کډی وو. دهجرت په پنځم کال د ذي قعدې د میاشتې په اتمه نیټه دخندق کار پیل شو ,رسول الله صلی الله علیه وسلم هرو لسو تنو ته لس ګزه ځمکه دکندلو لپاره معلومه کړه ,او پخپله هم په کار لګیا وو ,صحابه و به دکار په ترڅ کې دا ترانه ویله : نحن الذین بایعو ا محمدا .....علی الجهاد ما بقینا ابدا . مونږهغه کسان یوچې له محمد صلی الله علیه وسلم سره مو تر خپله ژونده پورې دجهاد کولو بیعت کړی . رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورته په ځواب کې دادعابدرګه کوله: اللهم لا اجر الا اجر الآخرة .....فاغفر الانصار والمهاجرة . اجرخو دآخیرت غوره دی نو ای خدایه ته ښښنه وکړه انصارو اومهاجرو ته . که څه هم دوي به دلوړې له کبله په نسونو پوري کانې تړلي وو , خو بیاهم دخندق کار په شلو ورځو کې د دریو زرو تنوپه مبارکو لاسونو پاې ته ورسیده . مسلماني میرمنې او ماشومان دښار خوندي کلاګانو ته بوتلل شول ,او هلته دښنو قریظه دیهودو دبرید له ویرې دوه سوه تنه دحضرت سلمه بن الاکوع رضی الله عنه تر مشرۍ لاندې سنګري شول ,نور لښکر د(سلع) نومې غونډۍ په لمن کې مورچې ووهلې . دمسلمانانو په لښکر کې ځینې منافقین هم وو ,چې په یوه او بله بهانه به یې اجازه غوښتله ,او دلښکر له صفونو څخه به وتل ,اودنورو یهودو په لمسون بنو قریظه هم دمسلمانانو په مقابل کې ودریدل . کله چې دابو سفیان په مشرۍ دکفارووسله وال لښکر په خورا جوش او جذبه مدینې ته راورسیدل نو له خندق سره مخامخ هک پک پاتې شول . دخندق خوا ته یې خیمې ووهلې ,او له هغه ځایه به یې غشي ویشتل ,خو دوه ځلې سخته نښته هم وشوه ,یو ورځ داسې چې دکفارو مشرانو دیوې یوې ورځې دجګړې لپاره ټټرونه ووهل ,او هره ورځ به یې بې شمیره غشي دمسلمانانو په لورې ویشتل . دوهم ځل دتیري کوونکي لښکر وتلي اتلان له خندق څخه راپورې وتل ,او دننه لورته په جګړه لګیا

شول ,په دوی کې عمرو بن عبدود ,نوفل او ضرار هم وو ,خو د دوی په مقابل کې حضرت علي او حضرت عمر رضی الله عنهما په خورا میړانه وجنګیدل ,عبدود او نوفل ووژل شول او ضرار په تیښته بریالی شو . دا ورځ خورا سخته ورځ وه ,مشرکینو له هر لوري غشي ویشتل ,په همدې ورځ له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پرله پسې څلور لمونځونه قضا شول ,ځکه دغشو دباران له کبله هیڅوا هم له خپل سنګر څخه سر نه شوای راپورته کولای , څومره چې جګړه اوږدیدله هغومره کفار وارخطا کیدل ,ځکه د څلرویشت زره پوځ توښه اوخرڅ مخ په تمامیدو وو . دپالونکي څښتن په قدرت یوه شپه داسې باران او ږلی ووریده چې دمشرکینو دخیمو مراندې یې غوڅ ,او دخوراک څښاک لوښي یې په بل لوري ورته واړول ,په همدې حال کې مشرکین په دې ویره کې وو چې مسلمانان برید ونه کړي ,نو په سبا یې دماتي او بیرته تلو نغاره وغږوله ,پدې توګه له یوې میاشتې محاصرې څخه وروسته مدینه له کلابندۍ څخه خلاصه شوه ,د دې تیري کوونکي لښکر په وارخطایۍ کې دنعیم ابن مسعود اشجعي کردار هم دستاینې وړدی . ابن مسعود یو غطفاني رئیس وو ,نوموړی مسلمان شوی وو خو یهود او قریش وربانديې خبر نه وو,او ده ورسره اړیکې درلودې , ابن مسعود بنو قریظه یهودوته چې لا په مدینه کې وو وویل : تاسې او مسلمانان دیوه ښار اوسیدونکي یاست ,که قریش او نور یهود ماتې وخوري نو ستاسي ژوند سختیږي ,ددې لپاره چې قریش تل در سره مرسته ولري له هغوی څخه څو تنه یرغمل کینوئ ,بیا قریشو ته ورغی او ورته ویې ویل : بنو قریظه په تاسو باور نلري هغوی وایي که تاسو له مونږ سره په ژمنه ولاړیاست نو څو تنه راسره ګرَو (یرغمل) واوسئ . قریشو چې داخبره واوریدله په بنو قریظه پې باوره شول ,او دازموینې لپاره یې تري وغوښتل څو د شنبې په ورځ په مسلمانانو برید وکړي ,یهودو مخالفت وکړ چې پدې څه سره د دوې تر منځ بې باوري لاهم ډیره او دقریشو ملا سسته شوه . دخندق دجنګ دوهم نوم احزاب هم دی ,ځکه پدې جنګ کې دعربو او یهودو ډیرو کورنیواو ډلو ټپلو ګډون

کړی وو,پدې جنګ کې شپږ تنه مسلمانان شهیدان او اته تنه مشرکین ووژل شول ,خو د(اَوس)دکورنۍ مشر او دانصارو یو غښتلی مټ حضرت سعد بن معاذرضی الله عنه پدې جنګ کې ټپي اوځوورځې وروسته دهمدې ټپ له امله په شهادت ورسیده . انالله وانا الیه راجعون.

دبنو قریظه پای

له یهودو سره چې کوم تړون شوی وو نو بنو قینقاع هغه دبدر او بنو نضیر داحدپه ورځ مات کړ, له همدې کبله دادواړه یهودي کورنۍ له مدینې څخه جلا وطنې شوې .بنو قریظه دخندق غزا په پیل کې دمسلمانانو لورې ونیو ,دجنګ په جریان کې یوه یهودي ځان هغه کلاوو ته ورساوه چیرې چې مسلمانې میرمنې او ماشومان اوسیدل ,هلته حضرت حسان رضی الله عنه پهره کوله ,خو داچې په جنګ کې دیوې پیښې له کبله یې ونه شوای کولای هغه یهودي ووژني ,حضرت صفیې رضی الله عنها دحضرت حمزه رضی الله عنه خور بي بي هغه یهودی وواژه ,توره یې تري په غنیمت کې واخیستله اوسر یې دکلا شاته وغور ځاوه , یهود پوه شول چې دلته هم وسله وال کسان شته ځکه یې نو برید ونکړ . دجنګ په مهال کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دبنو قریظه یهودوته حضرت سعدبن معاذ او حضرت سعد بن عباده رضی الله عنهما ورواستول ,څو هغوی ته لیکل شوی تړون وریاد کړي ,خو هغوی وویل محمد څوک دی او تړون یې څه شی دی ؟ ځکه نو دې یهودو دخندق په جنګ کې عملا برخه واخیسته ,او دماتې پر مهال یې هم داسلام لوی دښمن ,دبنونضیر دجلاوطن شوو یهودو مشر حُیَي بن اخطب له ځانه سره راوست ,حُیَي بن اخطب دجلاوطنۍ په مهال ژمنه کړې وه چې دمسلمانانو په خلاف به دچا مرسته نه کوي ,خو په نوموړي جنګ کې یې نه یوائې داچې دقریشو مرسته یې وکړه بلکه دمسلمانانو حلیف (سوګندي) یهود بني قریظه یې هم جنګ ته ولمسولو . دخندق دجګړې په پای کې رسول الله صلی الله علیه وسلم امر وکړ چې وسلې مه ږدئ او په بنو قریظه برید وکړئ ,دلښکر په وړاندې حضرت

علي رضی لله عنه دهغوی کلاګانو ته ور سید,که بنو قریظه بیا هم د روغې جوړې لاره نیولې وای شوني وه چې امان یې موندلی وای ,خو دوی دجنګ تیاري نیولې وه ,او دحضرت علي رضی الله له رسیدو سره سم یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان کې ستغې سپورې وویلې . درسول الله صلی الله علیه وسلم په امر یې کلاګاني محاصره شوې ,او دا محاصره تر یوې میاشتې اوږده شوه ,په پای کې یهودو وویل هره پریکړه چې سعد بن معاذ رضی الله عنه وکړي مونږ یې منو ,(هغه مهال حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه زخمي وو شهید شوی لانه وو ,) یهودو فکر کاوه چې **له سعد رضی الله عنه سره د** هغوی د نیکیو له امله چې ښایي په یوه مهال به یې ورسره کړې وي له کبله ممکن حضرت سعد د دوی په ګټه یوه پریکړه وکړي خو داسې ونه شول بلکه : حضرت سعد بن معاذرضی الله عنه پریکړه وکړه چې دبنو قریظه یهودو جګړه مار کسان دې ووژل شي ,ښځې او ماشومان دې بندیان او مال دې غنیمت ونیول شي . داپریکړه حضرت معاذ رضی الله عنه دتورات له حکم سره سمه وکړه ,رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به چې په هغه مهال کومه خبره ښکاره نه وه راغلې نو دتورات احکام یې عملي کول ځکه یې نو پدې پریکړې سره حضرت سعدرضی الله عنه ته وویل چې تایوه اسماني پریکړه وکړه . د بنو قریظه یهودو دا پریکړه ومنله او ځانونه یې دوژلو ځای ته حاضر کړل , ددې پریکړې په کولو سره دبنو قریظه مسأله پای ته ورسیده.

مړینه

د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم آرامځای ناروغي

دځار شنبې په ورځ چې دصفر دمیاشتې اتلسمه یا نولسمه نیټه وه ,رسول الله صلی الله علیه وسلم جنت البقیع ته چې دعامومسلمانانو هدیره وه ولاړ ,کله چې له هغه ځایه راستون شونو ناروغه شو,دحضرت میمونې رضی الله عنها کره یې شپه تیره کړه ,د دوشنبې په ورځ درسول الله صلی الله علیه وسلم ناروغي زیاته شوه , او دنورو بیبیانو په خونه دحضرت عایشې رضی الله عنها کره ولاړ ,ترڅو پورې چې یې دګرځیدو ځواک درلود نو مسجد ته به یې تشریف وړلو ,وروستنی لمونځ دمانښام لمونځ وو چې مسلمانانو په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې ادا کړ. دامهال درسول الله صلی الله علیه وسلم سر خوږیده او تړلی یې وو ,همدا شپه ماخوستن وار په وار بې هوښې ورباندې راتله ,او امر یې وکړ چې حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه دې لمونځ ورکړي . بله ورځ ماسپښین درسول لله صلی الله علیه وسلم ناروغي یوځه کمه وه ,غسل یې وکړ ,د حضرت عباس او حضرت علي رضی الله عنهماپه اوږو باندې یې ځان تکیه کړاوجُومات ته ولاړ ,هلته دابو بکر رضی الله عنه په امامت لمونځ ولاړوو ,چې دهغه ترشنګ کیناست او خلکو ته یې لمونځ ورکړ ,وروسته یې یوه لنډه خطبه وویله ,دادرسول الله صلی الله علیه وسلم وروستۍ خطبه وه

چې پکې يې وفرمايل : (خدای جل جلاله يوه بنده ته واک ورکړی چې ددُنياوي نعمتونو اوياهم دخدای له لورې داُخروي نعمتونو له منځ نه يوخوښ کړي. بنده هغه شيان دځان لپاره غوره کړل چې له آخرت سره اړيکې لري .حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه وژړل ځکه پوه شو چې هغه بنده پخپله رسول الله صلی الله عليه وسلم دی ,رسول الله صلی الله عليه وسلم دابوبکر صديق رضی الله عنه په اړه وفرمايل ترټولو زيات چې زه دچا له شتمني او ملګرتيا څخه خوښ يم هغه ابوبکر دی .) همداراز يې په خطبه کې دانصارو په هکله وفرمايل : (ای خلکو زه دانصارو په هکله تاسې ته وصيت کوم ,عام مسلمانان به ډيريږي خو انصاربه دومره لږ شي لکه په خوړو کې مالګه ,انصارو خپله دنده تر سره کړه ,اوس په تاسو دهغوی دپور پرې کول فرض دي ,انصار زما په وجود کي دمعدې په څير دي ,هرڅوک چې ستاسو دګټو او تاوان واکدار (خليفه) وي نو دهغه دا دنده ده چې که هرڅوک په انصارو کې ښه وي ومني ,او که له چا څخه کومه تيروتنه شوي وي نو هغه دې وبښي .) رسول الله صلی الله عليه وسلم ترناروغتيا يوه ورځ وړاندې حضرت اسامه رضی الله ته امر کړی وو چې درومينانو جګړې ته لاړشي ,خو دهغه له قوماندې څخه دنومورې دځواني له کبله شکايت وکړ ,رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې اړه پخپله خطبه کې وويل : (که داسامه په سرداری تاسې نيوکه لرئ نو دده دپلار په سردارئ هم تاسې نيوکې کولې زما دې په سپيڅلي خدای لورې وي چې اسامه د دې دندې حقدار او مستحق دی , هغه په ما ډير ګران دی ,او تر دې وروسته به هم په ما ګران وي .) رسول الله صلی الله عليه وسلم دخطبې په ترڅ کي داهم وفرمايل : (دحلال او حرام نسبت دې ماته نه کيږي ,ما هغه څه حلال کړي چې هغه خدای جل جلاله پخپل کتاب کې حلال کړي ,او ما هغه څه حرام کړي چې خدای جل جلاله حرام کړي دي). رسول الله صلی الله عليه وسلم دا هم وفرمايل چې : (ای دخدای دپيغمبر لورې فاطمې ! او ای دخدای دپيغمبر عمې صفيې! دخدای او آخرت لپاره څه عمل وکړئ زه تاسې له خدای جل جلاله څخه نشم خلاصولای). د نومورې خطبې له ويلو وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم بيرته

دحضرت عايشې رضی الله عنها کورته تشريف يووړ , دناروغتيا په نا کراری کې نبوي ذات ته ورپه يادشول چې څه اشرفی يې له بي بي عايشې سره ايښې وې هغه يې راوبلله اوورته ويې فرمايل : (عايشې! هغه اشرفی چيرې دي ؟ محمد(صلی الله عليه وسلم) به له خدايه جل جلاله سره پداسې حال کې ووينې چې دی په هغه بد ګمانه وي , لاړه شه او هغه دخدای جل جلاله په لاره کې خيرات کړه .) ددوشنبې په سهار چې درسول الله صلی اله عليه وسلم دناروغتيا ديارلسمه شپه وه چې رسول لله صلی الله عليه وسلم دخپل کور له وره)دروازې) نه پرده پورته کړه ,ويې ليدل چې خلک په لمانځه ولاړدي ,ډير خوښ اوموسکی شو ,حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه فکر وکړ چې رسول الله صلی اله عليه وسلم لمانځه ادا کولو ته راځي ځکه يې نووغوښتل چې شاته شي ,خو رسول الله صلی الله عليه وسلم په اشاره پوه کړ چې لمونځ ورکړي ,رسول الله صلی الله عليه وسلم بيرته حجرې ته ننوت ,دا هغه وروستنی ليدنه وه چې صحابۀ کرامو له نبوي سپيځلي ځيرې نه وکړه.

د مړينې کال

رسول الله صلی الله عليه وسلم به هر کال دروژې په مياشت کې لس ورځې په اعتکاف کي تيرولې ,خو په ورستنی روژه کې شل ورځې په اعتکاف کې کيناست ,رسول الله صلی الله عليه وسلم به هر کال دروژې په مياشت کې يوځل دحضرت جبرايل عليه السلام له خولې نه قرآنکريم اوريده ,خو د ورستني کال په روژه کې يې دوه ځلې واوريده . دوروستني حج او په ځينو نورو خطبو کې رسول الله صلی الله عليه وسلم ځيني داسې خبرې کړې وې چې هغه دمړينې يادونه وه ,لکه چې دحج په وروستی خطبه کې يې وفرمايل : (زه ددې خبرې هيله نلرم چې په راتلونکي کال کې له تاسې سره وليدلای شم ,ښايي تر دې وروسته حج ونه کړای شم .) دحج دفريضې داداکولو تراتګ وروسته رسو ل الله صلی الله عليه وسلم داحد دشهيدانو هديرې ته ورغی ,او هلته يې هم داسې خطبه وويله چې ګواکې څوک له مړواو ژوندو سره په مخه ښه کوي ,رسول الله صلی الله عليه وسلم دصفر

دمیاشتې په اولسمه یا اتلسمه نیټه حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه ته وفرمایل : (ته له لښکر سره لاړشه او له هغو شریرو خلکو څخه دې دپلار کسات واخله .) دموته په وتلي جنګ کې حضرت زید رضی الله عنه شهید کړای شوی وو ,ځکه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه ته هلته دبیا تللو امر وکړ.

تجهیز او تکفین

د سې شنبې ورځ د تجهیز او تکفین ورځ وه حضرت علي رضی الله عنه ,فضل بن عباس رضی الله عنه ,او حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه غسل ورکړ ,په همدې مهال کې حضرت عباس رضی الله عنه هم حاضر وو ,او یو انصاري حضرت اوس بن خولې رضی الله عنه اوبه راوړې ,دکفن لپاره دسپنسیو دري سپینې ټوټې غوره شوې . تر غسل او کفن وروسته دا پوښتنه راپیدا شوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په کوم ځای کې خاوروته سپارل کیږي ؟ حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه وویل :انبیا چې چیرې وفات شي هلته خاورو ته سپارل کیږي ,په همدې خبره اتفاق راغی او په کوم ځای کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شوی وو په هماغه ځای کې دقبر کنلو کار پیل شو , داځای دحضرت عایشې رضی الله عمها داوسیدلو خونه وه ,دقبر په سرهم خبره راپورته شوه ,ځکه حضرت ابو عبیده بن جراح رضی الله عه به دمکې دخلکو په څیر بغلي قبرونه کیندل ,او حضرت ابو طلحه رضی الله عنه به بیا دمدینې دخلکو په دود لحدي قبرونه ایستل ,نو دا خبره کیدله چې اوس څوک او څه ډول قبر وکندي ؟ حضرت عمر رضی الله وویل : په همدې دواړو اصحابو پسې څوک واستوئ ,هر یو چې لومړی راغی هغه دې دخپلې خوښې قبر وکندي ,په دواړو صحابه و پسې سړي واستول شول ,حضرت ابو عُبیده بن جراح رضی الله عنه په کور کې نه وو ,حضرت ابو طلحه رضی الله راغی او لحدي قبر یې جوړکړ , څنګه چې دقبر ځمکه نمجنه وه نو هغه بستر یې پکې وغوړاوه په کوم کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شوی وو . کله چې جنازه تیاره شوه نو خلک دلمانځه

لپاره رامات شول ,خونې ته وار په واروروننوتل او لمونځونه يې کول ,دالمونځونه پرته دچا له امامت نه ترسره شول ,لومړی نارينه و بيا ښځينه و او ورپسې کوچنيانو دجنازې لمونځونه ادا کړل .درسول الله صلی الله عليه وسلم مبارک جسد حضرت علي مرتضی رضی الله عنه ,حضرت فضل بن عباس رضی الله عنه ,حضرت اسامه بن زيد رضی الله عنه ,او حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه قبر ته ښکته کړ . انا لله وانا اليه راجعون.

دمحمد ص غزاګانې
داحدغزاکيسه

حضرت وحشي بن حرب الحبشي رضی الله عنه

هغه څوک وو چې د حضرت محمد ﷺ تره حضرت حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه يې به شهادت ورساوه، او د نبي کريم ﷺ زړه يې د ده د شهادت له امله ور زخمي کړ، وروسته يې د يمامه په سخته ورځ کې د مسيلمة الکذاب په وژلو د مسلمانانو زړونه يخ کړل.

د ا حضرت وحشي بن حرب الحبشي رضی الله عنه وو ، چې په أبودسمة سره يادیدی... د ده په اړه يوه غمجنه ، سخته او زړه بوړنوونکې کيسه شته ، ته په خپله نومورې ته غوږ شه چې دی خپله بدي په خپله درته واوروي، حضرت وحشي وايي: زه د قريشو د يو سردار حضرت جبير بن معطم غلام وم، د نومورې تره طُعيمه د بدر په ورځ حضرت حمزه رضی الله عنه په قتل رسولی وو، حضرت جبير د ده په مړينه ډير خواشينی وو او په لات او عزی سره يې لوړه کړې وه چې د ده قاتل به وژني ، بدله به اخلي ... او حضرت حمزه رضی الله عنه ته يې د فرصت شيبې ځارلې.

پردې خبره ډير وخت تير نه شو چې قريشو عزم وکړ چې د اُحد ميدان ته به وځو ، له حضرت محمد ﷺ څخه به د هغو مړو بدله اخلو چې نومورې په بدر کې په قتل رسولي وو.

قريشو خپل حليفان راوبلل، لښکر يي منظم کړ او ښه پوره تياری يي ونيو او د لښکر قومنده يي حضرت ابوسفيان بن حرب ته وسپارله.

ابوسفيان وپتيبله چي له لښکر سره بايد د قريشو ځينې هغه ښځې چي پلرونه ، زامن ، ورونه او ځيني نور خپلوان يي په بدر کي وژل شوي دي ، بايد له لښکر سره يوځاي کړلی شي، ترڅو د جنګ په ډګر کي د جنګياليو غيرت راوپاروي او د لښکر د ماتيدو مخنيوی وکړي، د دې ښځو په کتار کي يوه هم د ابوسفيان ښځه (هند بنت عتبه) وه چي پلار ، اکا او ورور يي په بدر کي وژل شوي وو، کله چي لښکر کوچيدی ، ماته جبير بن معطم وکتل او راته ويي ويل: ای أبادسمه ! ته غواړي چي له غلامی ځخه ځان وژغوري؟!

ماورته وويل: څوك به مي خلاص کړي؟

ده راته وويل: زه به دي خلاص کړم.

ماورته وويل: څنګه به مي خلاص کړې؟

ده راته ويل: که دي زما د تره «طُعيمه» په بدله کي د محمد ﷺ تره «حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه » وواژه ، ته آزاد يي ، ماورته وويل: ته به ماته څوك ضامن راکړې؟ ده راته وويل: چي ستاڅوك خوښ وي اوزه پر دې خبري ټول خلګ ګواهان ګرځوم.

ماورته وويل: زه دا کار کوم...

وحشي وايي زه يو حبشي سړی وم، د حبشو غوندي ويشتل مي زده وو چي هر شئ به مي په نښه کړ بيانه راڅخه خطاکيد ی ، ماهم سمدستي نيزه راواخيستله له لښکر سره ولاړم ، زه له لښکر څخه وروسته ښځو ته نژدې تلم ځکه زما له جګړې سره نور کار نه ؤ، د لاري په اوږدو کي چي به کله زه د أبوسفيان پرښځه (هند) تيريدم او يا به دا راباندي تيريده او زما په لاس کي به يي نيزه وليده چي لمر ته برېښيده ، دې به راته ويل: ته خپله سينه هم او زمور سينه هم د دوي په وژلو سړه کړه....!

کله چي مور أحد ته ورسيدو او دواړه لښکره سره مخامخ شول، ماهڅه کوله چي حمزه بن عبدالمطلب رضی الله عنه پيداکړم ، ما نوموړي پيژندی او دی ، هم داسي سړه نه ؤ چي له چاڅخه دي ورك شوی واي ،

ځکه ده به په سر کي د طاؤس ښکې ټومبلي وې ترڅو خپلو سيالانو ته څرګند وي، دا د زړورو عربو عادت وو چي د جنګ په ډګر کي به يي داسي کول.

ډير ځنډ نه ووت چي حضرت حمزه رض مي وليد چي د لښکر په مينځ توي شوی وو او خلك به يي په تورو پريکول ، د نوموړي نه چا مخه نيولاي شواي او نه څوك ورته تم کيداي شواي.

کله چي ما تيار ی ورته ونيو ، تر درختو او ډبرو ورڅخه پټيدم ترڅو ښه رانژدي شي، په دې وخت کي د قريشو يو سپور چي سباع بن عبدالعزی نومیدی ، ورته راوړاندي شو او ورته ويي ويل: ای حمزه ! مبارزه راسره وکړه ... مبارزه راسره وکړه ...

حضرت حمزه رضی الله عنه وړاندي ورغی او ويي ويل: ای د مشرك زويه ! راشه ...

ماته راشه ... سمدستي يي د توري ګوزار وربانديي وکړ او په خپلو وينو کي يي لت پت کړ.

په همدې وخت کي حضرت حمزه رضی الله عنه ماته دومره رانژدې شو چي ماغوښت، ماهم خپله نيزه ورته برابره کړه چي ښه مي باور شو چي نه خطاکيږي، وار مي وربانديي وکړ تر نامه لاندي مي وويشت او د شا خواته يي ووته ، ده زمالور ته دوه درې قدمه ډير په تکليف سره راواخيستل اوبيا پر مځکه ولويد، نيزه يي په تن کي ښخه وه ماتر هغو نيزه په کي پريښوده چي څو مي د ده په مړينه باور شو بيا ورغلم نيزه مي ورڅخه راوکښه ، خيمو ته راغلم او کښيناستم ، له بل چاسره مي کار نه وو ، دی مي د ځان د آزادۍ له امله شهيد کړ.

د جګړې تنور ښه تود شو، خرپ او ترپ پيل شو، د محمد ﷺ ملګري محاصره اوډير ملګري يي ووژل شول ، په همدې حال کي هند بن عتبه د مسلمانانو پر مړو وګرځيده له شا نوري ښځې ورپسي وې ، دې د مړو اندامونه پريکول، او د مړو نسونه يي ورځيري کړل، سترګي يي ور و ايستې ، پوزي او غوږونه يي ورپري کړل

وروسته يي د دوي د پزو او غوږونو څخه ځان ته غارګۍ او غوږوالي جوړ کړل او د ځان د سرو زرو غارګۍ او غوږوالي يي ماته راکړل او راته ويي ويل: ای ابادسيمه ! دا دواړه ستادي؟
دا دواړه ستادي ، ځان پرې وساته ، دادير لوړ بيه دي.
کله چي په اُحد کي جګړه پاي ته ورسيده زه له لښکر سره مکې ته راستون شوم ، جبير بن معطم په خپله وعده وفا وکړه او زه يي آزاد کړم.
د حضرت محمد ﷺ خبره ورځ په ورځ ګرمېده مسلمانان ورځ تر بلې زياتيدل، څومره چي حضرت محمد ﷺ مخ په وړاندي تلو دغومره زياته پر مامځکه تنګيده اوزه پر ځان ډاربدم ترڅو چي حضرت محمد ﷺ له خپل لښکر سره مکې ته داخليدی زه ډاربدم

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ أُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٤﴾

او وی دی (تل) له تاسی يوه ډله چه بولی (خلق) په طرف د خير (اسلام) او امر (حکم) کوی (خلقو ته) په معروف (نيکی) سره او منعه کوی «خلق» له منکر (بدی) نه او دغه (آمرين بالمعروف ناهين عن المنکر) هم دوی دی په مراد رسيدلی.

الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر

- و باید از میان شما گروهی مردم را به نیکی دعوت کنند و به کار شایسته وا دارند و از زشتی باز دارند و آنان همان رستگارانند .(سوره آل عمران آیه ۱۰۴(
- كنتم خير امة اخرجت للناس تأمرون بالمعروف و تنهون عن المنكر و تؤمنون بالله

شما بهترین امتی هستید که برای مردم پایدار شده‌اید به کار پسندیده فرمان می‌دهید و از کار ناپسند باز می‌دارید و به خدا ایمان دارید .(سوره مبارکه آل عمران آیه ۱۱۰(

- والمؤمنون و المؤمنات بعضهم اولیاء بعض یأمرون بالمعروف و ینهون عن المنکر
- و مردان و زنان با ایمان، دوستان یکدیگرند که به کارهای پسندیده وا می‌دارند و از کارهای ناپسند باز می‌دارند.
- (سوره توبه آیه ۷۱(امر به معروف و نهی از منکر از احکام عملی مسلمانان و به نظر شیعیان از فروع دین اسلام است. امر به معروف یعنی دستور دادن یا توصیه کردن از سوی فرد مسلمان به دیگران به انجام آنچه از نظر عقل یا شرع اسلام خوب در نظر گرفته می‌شود و نهی از منکر یعنی دستور دادن یا توصیه کردن از سوی فرد مسلمان به دیگران به انجام ندادن آنچه به از نظر عقل یا شرع اسلام بد در نظر گرفته می‌شود. این توصیه گفتاری است و شامل جرح نمی‌شود

در احکام دین، به تمام واجبات و مستحبات معروف و به تمام محرمات و مکروهات منکر گفته می‌شود

بنابراین واداشتن افراد جامعه به انجام کارهای واجب و مستحب امر به معروف و بازداشتن آنها از کارهای حرام و مکروه نهی از منکر است. البته در نوشته های دانشمندان دینی امر به معروفی که واجب است، واجب و امر به معروفی که مستحب است، مستحب؛ همچنین نهی از منکری که حرام است، واجب بوده و نهی از منکری که مکروه است، مستحب است.

- امر به معروف و نهی از منکر، واجب کفایی است که اگر افرادی به قدر کفایت - به انجام آن اقدام کنند، از دیگران ساقط می شود. و اگر همهء افراد آن را ترك کرده باشند، چنانچه شرایط آن موجود باشد، همهء آنها ترك واجب کرده اند

حج اکبر

صاحب تفسیر المنار در این زمینه می گوید: در حجةالوداع، روز عرفه، روز جمعه بود و عوام هر زمان که وقوف در عرفات با روز جمعه مصادف شود آن سال را حج اکبر می نامند.72

در لغت نامه دهخدا نیز آمده است: ظاهراً در نزد عوام چون عید اضحی با جمعه تصادف کند حج آن سال را حج اکبر گویند و ثواب این حج را بیشتر گمان برند.73

په عاموکي چي دامشهوره ده چي په کوم کال دعرفات په ورځ جمعه وي،یوازي هغه حج اکبردی،

ددې اصلیت له دې پرته نشته چي په اتفاقي توګه په کوم کال چي درسول کریم-صلی الله علیه وسلم-حجة الوداع شوی دی،په هغه کي عرفات دجمعې په ورځ شوی وو،داپه خپل ځای یوفضیلت خامخادی مګردذکرشوي آیت دمفهوم سره ددې ترڅونشته(یعني حج اکبرورته نه ویل کېږي.)(تفسیرمعارف القرآن ص:۳۱۵ج:۴(

په دې هکله خصوصي یوروایت علامه رزین په تجریدالصحاح کي دمؤطأپه حواله ذکرکړی دی،هغه داسي دی:له طلحه بن عبیدالله بن کریزځخه روایت دی چي رسول الله-صلی الله علیه وسلم- وفرمایل:ترټولوورځوغوره دعرفې ورځ ده چي دجمعې سره موافقه(یوځای)شي،داتراویاحجونوغوره دی چي په جمعه کي نه وي!!

دجمعې په ورځ دعرفات فضیلت:وړاندي هم یادونه وشوه چي دعرفات اودجمعې یوځای کېدل فضیلت خامخالري ځکه چي دعرفې اودجمعې دواړه ورځي دفضیلت ورځي دي،نوچي دواړه یوځای شي،خامخافضیلت لري داوجه وه چي الله پاك دغه دواړه دفضیلت ورځي دنبي علیه السلام په حجة الوداع کي جمع کړلې.

پينځمه برخه :

داصحابانوکيسې

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه

نوم يې عبدالله ، کنيت يې ابوبکر , صديق او عتيق يې لقبونه وو . دپلار نوم يې عثمان کنيت يې ابو قحافه او دمور نوم يې سلمى او ام الخير يې کنيت وو

.

دپلار دلورې د نسب پوره کړې يې داده : عبدالله بن عثمان بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تيم بن مُره بن کعب بن لوئ القرشي التميمي .
او دمور دلورې دنسب کړې يې په دا ډول ده : ام الخير بنت صخر بن عامر بن کعب بن سعد بن تيم بن مُره (طبقات ابن سعد قسم اول دريم ټوک119 مخ) پدې ډول دحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه نسب دمور او پلار دواړو له لورې په شپږم پشت درسول الله صلى الله عليه وسلم له نسب سره يو ځای کيږي .

دحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه پلار

دحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه پلار ابو قحافه عثمان بن عامر دمکې له شرفاوو څخه او ډېر عمر سړی وو , په پيل کې هغه هم داسلام غورځنګ هسې يوه ټوکه بلله له همدې کبله حضرت عبدالله وايي کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم هجرت وکړ نو زه درسول الله صلى الله

علیه وسلم په لټه کې دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه تر کوره راورسیدم هلته ابو قحافه موجود وو هغه حضرت علي رضي الله عنه پدې لاره دتیریدو په مهال لیدلی وو نو ډیر دغصې په حالت کې یې وویل چې دې هلکانو زما زوی هم خراب کړ

(الاصابه 4 ټوک 221مخ (
ابو قحافه دمکې تر فتحې پورې پخپل پلارني مذهب ولاړوو دمکې تر فتحې وروسته یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم په مسجد کې تشریف درلود چې ابوبکر له خپل پلار سره یو ځای درسول الله صلی الله علیه وسلم لیدو ته راغی ,کله چې درسول الله سترګې پرې ولګیدې نو ویې فرمایل ای ابوبکره تا (دلته په راوستو سره)خپل پلار ولې وځوراوه زه به ورغلی وم ,کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دابو قحافه سپین ږیرتوب ولید نو دابو قحافه په حالت یې رحم راغی او خپل دشفقت لاس یې دهغه په سینه ورتیر کړ او دښو او مبارکو تورو تلقین یې ورته وکړ او په اسلام یې مشرف کړ هغه درسول الله صلی الله علیه وسلم له رحلته وروسته دابوبکر رضي الله دخلافت زمانه هم ولیده اوپه 14هجري کال کې د97 کلونو په عمر مړشو .

دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه مور

حضرت ام الخیر سلمی بنت صخر رضي الله عنها له هغو کسانو نه شمیر ل کیږي چا چې په پیل پیل کې داسلام حق مذهب قبول کړ,تردې له مخې یوائې 39 کسانو اسلام راوړی وو او هغوی هم په جار دخپل اسلام ښکارندوینه نشوا کولای اونه یې هم داسلام بلنه په ښکاره ډول کولای شوا. حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه چې یو ځل له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اجازه وغوښته او مشرکین یې په جار سره اسلام ته راوبلل نو مشرکینو هغه سخت وواهه خو په دې ربړ سربیره حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه دخپل کور غړو ته داسلام بلنه ورکوله هماغه وو

کله چې سهار شو نو له خپلې مور سره دارقم بن ارقم رضي الله عنه کورته درسول الله صلی الله علیه وسلم لیدو ته راغی او عرض یې وکړ چې ای دخدای رسوله ! زما مو ر حاضره ده هغې ته دحقې لارې لارښوونه وکړئ : نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته داسلام راوړو بلنه ورکړه او هغه په اسلام باندې مشرفه شوه) الاصابه 8 ټوک 229 مخ) حضرت ام الخیر هم دډیر عمر ښځه وه دحضرت ابو بکر صدیق رضي الله تر خلافته پورې ژوندۍ وه لیکن له خپل خاوند نه مخکې مړه شویده . (الاصابه له طبراني)نه .

دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه حلیه

حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه ډیر دنریو اندامونو څښتن وو ,څهره یې لغړوښې او غنم رنګی وو , تندی یې لوړ او پراخ وو , سترګې یې ور ننوتلي وې او په ویښتانو به یې دنکریزو خضاب لګاوه .

دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه مېرمنې او اولادونه

حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه په مختلفو مهالونو کې له یوه نه ډیر ودونه کړي وو .له کومو میرمنو نه چې یې اولادونه شوي دهغوی نومونه دادي

قتیله یا قتله : له دې څخه یې حضرت عبدالله او حضرت اسماء رضي الله عنهماپیدا شو .

ام رمان : دادام المؤمنین حضرت عایشې او حضرت عبدالرحمن رضي الله عنهما مور وه .

اسما : له دې څخه محمد بن ابي بکر پیدا شو .

حبیبه بنت خارجیه : دحضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه ترټولو کشره لور(ام کلثوم)له همدې نه پیدا شوې وه .

دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ژوند

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه له اسلام څخه تر مخه یو بډای سوداګر وو چې په دیانت ,رینښتنولۍ او امانت ساتلو کې یې وتلی نوم درلود . د مکې اوسیدونکو به دهغه دعلم , تجربې او ښو کړو وړو له امله دهغه ډیر عزت کاوه .دجاهلیت په زمانه کې به د خون بها مال دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په کور کې یوځاي کیده که به دبل چا کره یوځای شو نو قریشو به هغه مال نه مانه .(کنزالعمال 6 ټوک 313 مخ (دجاهلیت په زمانه کې هم ابوبکر صدیق رضي الله عنه له شرابو نه همداسې بد وړل لکه داسلام په زمانه کې , اوویل به یې چې دشراب څښل دانسان عزت ته زیان رسوي

.

له حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه سره له ډیره وړوکوالي درسول الله صلی الله علیه وسلم مینه وه او درسول الله صلی الله علیه وسلم دملګرو په ټولۍ کې ګډ وو .دسوداګرۍ په ډیرو سفرونو کې به هم له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملګری وو (پورتنۍ حواله) کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نبي وټاکل شو نو هغه په پټه خپل ټول مخلصین او درازملګري پدې حقیقت خبر کړل نو حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه ترټولو لومړی سړی وو چې د رسو لله صلی الله علیه وسلم سره دبیعت کولو لپاره یې لاس ور اوږد کړ .که څه هم ځینو مؤرخینو لیکلي چې تر ټولو مخکې حضرت خدیجې رضي الله عنهااسلام راوړ ځینو بیا حضرت علي رضي الله عنه لیکلی ځینو حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه لیکلی لیکن له ډیرو اثارو او دلایلوڅخه دا په ډاګه کیږي چې تر ټولو مخکې حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه اسلام راوړی , او ددې نورو اثارو او احادیثو تطبیق ځیړونکو څه پدې ډول کړی چې : په ښځو کې ام المؤمنین حضرت خدیجې رضي الله عنها لومړی اسلام راوړی , په ماشومانو کې حضرت علي رضي الله عنه ,په غلامانو کې حضرت زید بن ثابت رضي الله عنه او په ازادو او بالغو سړو کې بیا حضرت ابو بکر رضي

الله عنه تر ټولو ډومبی په اسلام باندې مشرف شوی دی . فتح الباري 7ټوک 130 مخ .

دحضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه له مسلمانیدو سره سم داسلام دپر مخ تللو لړی پیل شوه او دحضرت عثمان بن عفان , حضرت زبیر بن عوام,حضرت عبدالرحمن بن عوف , حضرت سعد بن ابي وقاص , حضرت طلحه بن عبدالله ,حضرت عثمان بن مظعون , حضرت ابو عبیده ,حضرت ابو سلمه ,حضرت خالد بن سعید بن العاص رضي الله عنهم په څیرجلیل القدره خلك هم دحضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه دزېارایستلو په پایله کي مسلمانان شول .

حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه په خپل کور کې دلمانځه کولو لپاره یو ځانګړی مسجد جوړ کړی وو چې ډیر په عاجزۍ او خشوع وخضوع سره به یې لمونځ پکې ادا کاوو , صدیق رضي الله عنه ډیر زړه نرمی انسان وو ,کله چې به یې دقرآن کریم تلاوت کاوو نو له سترګو څخه به یې اوښکې بهیدلې آن تردې چې خلکو به دهغه ژړاوریدله او ټول به رایو ځای شول او له دې اثر درلودونکي منظر څخه به ډیر متاثر شول . بخاري باب هجرة النبي واصحابه .

حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه به دخدای په لاره کې ډیر مالونه ورکول په سنه 9 هجري کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دغزوۀ تبوک دتیارۍ لپاره دخدای جل جلاله په لاره کې دمالونو دورکولو اعلان وکړ نو حضرت عمر رضي الله عنه دخپل کور نیمایي مال دخدای په لار کې دورکولو په ښه درسول الله صلی الله علیه وسلم حضورته راوړ او دا ګمان یې وکړ چې کیدای شي نن زه په نیک کار کې حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه ته ماتې ورکړم خو حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه دخپل کور ټول مال راوړ او درسول الله صلی الله علیه وسلم مخې ته یې کیښود , رسول الله صلی الله علیه وسلم له حضرت عمر څخه وپوښتل چې تا خپل اولادته څه پریښودل؟ نو حضرت عمر وفرمایل چې نیمایي مال مې

اولاد ته پرېښود او نيمايي مې دخداى جل جلاله په لار کې د صدقه کولو په نيت ستاسې حضورته راوړ , بيا يې له ابو بکر صديق رضي الله عنه څخه وپوښتل چې تا خپل اولادته څه پرېښودل؟ هغه ورته وفرمايل :چې اى دخداى رسوله ! ما چې څه په کور کې درلودل نو هغه مې ټول ستاسې حضورته راوړل , اوويي فرمايل چې کور مې الله تعالى او دهغه رسول ته پرېښود (هغه به له خپله درباره زما روزي راکوي) دحضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه دا وينا درسول الله صلى الله عليه وسلم ډيره خوښه شوه او دحضرت ابو بکر صديق ستاينه يې وکړه ,نو حضرت عمر رضي الله عنه وايي چې ما له ځان سره وويل چې ريښتيا هم په نيکو کارونو کې تر حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه وړاندې کيدل اسان کار نه دى .

ترمذي مناقب ابو بکر رضي الله عنه .

رسول الله صلى الله عليه وسلم چې تر ټولولومړى دمسجد دجوړولو لپاره دکومې ځمکې انتخاب کړى وو هغه ديتيمانو وه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم نه غو ښتل چې ديتيمانو په ځمکه مسجد جوړ کړي خو حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه دهغې ځمکې قيمت هغو يتيمانو ته ورکړ او درسول ا لله صلى الله عليه وسلم له رايې سره سم په هماغې ځمکې مسجد جوړ شو . فتح الباري 7ټوک 193 مخ .

دحضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه ځانګړتياوې

-1حضرت ابو بکررضي الله عنه يو له هغو لسو کسانو څخه وو چې په نړۍ کې ورته د رسول الله صلى الله عليه وسلم له لورې دجنتي توب زيرى ورکړل شوى وو .

-2 داسلام دلومړي خليفه په توګه وټاکل شو

-3 په بالغو نارينه و کې ترټولو لومړى په اسلام باندې مشرف شو .

-4 درسول الله صلى الله عليه وسلم دخسرتوب ويار ورپه برخه شو .

-5 په غار حرا کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره دملګرتوب له کبله ورته د(يارغار) دلقب اخيستلو شرف حاصل شو .

په لاندې غزاوو کې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه فعاله ونډه اخیستې وه

-1غزوۀبدر 2-غزوۀ احد 3-غزوۀ بني مصطلق 4-واقعۀ حدیبیه 5-امارت حج .

دحضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه وفات

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې نړۍ څخه دآخیرت په لورې سفر وکړنو دمرتدینو او په دروغو دنبوت ددعوې کوونکو یو سیلاب راپورته شو له بله پلوه ځینو مسلمانانو دزکوة له ورکړې څخه هم ډډه وکړه نو دحضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه دخلافت ډیره برخه له هغوی سره په مقابله تیره شوه ایله څه باندې دوه کاله وتلي وو او له داخلي فتنو څخه خلاصون او دفتوحاتو پیل شوی وو چې حضرت ابو بکر صدیق رضي الله عنه دمرګ په مرض اخته شو . حضرت عایشه صدیقه رضي الله عنها وایي چې په یوه سړه ورځ حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ولامبل او له هغه وروسته یې سخته توده تبه پیل شوه چې نژدې 15 ورځې یې دوام درلود دمرض په مهال یې وپوښتل چې نن کومه ورځ ده ؟ ورته وویل شو چې نن دو شنبه ده , بیا یې وپوښتل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په کومه ورځ وفات شو ؟ ورته وویل شو چې ددوشنبې په ورځ نو ویې وفرمایل چې زه هم هیله لرم چې په همدې نن شپه دخپل اجل بلونکي ته ښه راغلاست ووایم هماغه وو چې دسه شنبې په شپه د63 کالو په عمر په 13 هجري کال دجمادی الاولی په پای کې د تل پاتي نړۍ په لورې مسافر شو . انا لله وانا الیه راجعون

.

له وصيت سره سم يې د شپې په مهال دکفن او دفن تياري وشوه , خپلې ميرمنې حضرت اسماء بنت عميس رضي الله عنها ورته غسل ورکړ , حضرت عمر فاروق رضي الله عنه يې دجنازې لمونځ اداکړاو حضرت عثمان ,حضرت طلحه ,حضرت عبدالرحمن بن ابي بکر , او حضرت عمر فاروق رضوان الله تعالى عليهم اجمعين قبر ته ورټيټ کړ او پدې طريقه سره درسول الله صلى الله عليه وسلم دژوندوني ملګرى دتلپاتې ملګرتيا په بڼه درسول الله صلى الله عليه وسلم په خوا کې خاورو ته وسپارل شو او پدې څه کولوسره له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره دنيوي مينې په پايله کې حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه داخروي ملګرتوب لپاره له رسول الله صلى الله علي وسلم سره يوځاى جنت ته ننووت .
رضي الله عنهم ورضوا عنه.

عمر بن خطاب ياعمرغني

حضرت عمر ابن خطاب د اسلام دوهم او عظيم ترين خليفه ؤ، هغه د اسلام د ستر پيغمبر حضرت محمد صلي الله عليه وسلم هم عصر او د ده په څېر په مکه کي پيدا سوى دى. که څه هم د نوموړي د زوکړې نېټه ښه معلومه نه ده مګر په غالب ګمان دا به 586 ميلادي سنه وه. حضرت عمر (رض) په ابتدا کي د آنحضرت او د هغه د نوي مذهب اسلام سخت مخالف و خو وروسته ډېر ژر د اسلام په دين مشرف او د حضرت محمد ρ په رفاقت کي تر مرګه پاته سو کله چې پر 632 کال د اسلام ستر غمخور له دنيا څخه رحلت وکړ. نو د ده مبارک پر ځاى د کښېنستلو خبره منځ ته راغله نو همدا حضرت عمر (رض) لومړي شخص ؤ چې د حضرت محمد صلي الله عليه وسلم د يو بل ملګري او صحابي حضرت ابو بکر صديق يې د اسلام د لومړي خليفه په حيث ومانه او حمايت يې وکړ. دوه کال وروسته ابو بکر صديق τ) هم له دنيا وکوچېد. ده په خپل ژوند کي پر خپل ځاى د کښېنستلو لپاره حضرت عمر فاروق τ وټاکي. دى په 634 کال کله خليفه وټاکل سو او تر 644 کال پوري پر خپل عظيم منصب (خلافت) پاته سو

او په پای کي يوه ايراني غلام په شهادت ورساوه. کله چې حضرت عمر (رض) د مرګ پر بستر پروت وۀ، نو هغه له څو کسانو څخه جوړ يو مجلس راوغوښت، تر څو د اقتدار حاصلولو لپاره دريم خليفه وټاکي مجلس حضرت عثمان (رض) په خلافت انتخاب کړ چې د 644 کال څخه بيا تر 656 کال پوري يې خلافت وکړ. د حضرت عمر (ت) د لس کلن خلافت په دوران کي عربو ډير د پام وړ فتوحات وکړه، د نوموړي د خلافت په اوايلو کي د عربو پوځونو پر شام او دمشق حمله وکړه چې يا دسوي هيوادونه په هغه وخت کي د بازنطيني سلطنت حصه وه. په 636 م کال د يرموک په جګړه کي عربي پوځونو بازنطيني پوځ ته سخته ماته ورکړه چې په پايله کي دمشق په همدغه کال فتح او يروشلم هم دوه کال وروسته اسلحه پر مځکه کښېښودل. تر 641م کال پوري شام او فلسطين په مکمله توګه د عربي پوځونو تر کنترول لاندي راغله او تر هغه وروسته د اوسني ترکيې پر لور وخوځيدل. پر 639 م کال عربانو پر مصر هم حمله وکړه چې په هغه وخت کي د بازنطيني سلطنت مستعمره وه. د درو کلونو په دوران کي مصر هم فتح سو. وروسته عربي پوځونه د عراق پر لور مخ په وړاندي ولاړه ، نوموړي هيواد په هغه عصر کي د ايران د ساساني ا مپراطوري حصه وه خو يوازي عراق نه بلکې عربو ايران هم تر خپلي قبضې لاندي راوست. پر دې ټولو لاس ته راوړونو سر بيره د عربي پوځونو په قوت او همت کي کمي نه راغلي بلکې هغوي په غرب کي تر شمالي افريقا پوري خپل پوځونه وغځول. نو بيله شکه ويلای سو چې د حضرت محمد تر وفات وروسته د اسلام د مبارک دين په فروغ او پر مختګ کي کليدي حيثيت د حضرت عمر ابن خطاب دي. د حضرت عمر (رض) د فتوحاتو لاس ته راوړونو او کوښښونو څخه به غير د اسلام د مبارک دين پرمختګ لکه څونده چې يې نن ورځ کړيدي ناشوني وه ، هسې خو د اسلام په مخ ته بيولو او هغه ته د ترقي ورکولو په لاره کي تر ټولو زيات کوښښ او هاند حضرت محمد مصطفي صلي الله عليه وسلم کړي دي خو تاريخ په دې لاره کي د حضرت عمر (رض) فتوحات او کار نامې هيڅکله له پامه نه سي غورځولای.

نوم يې عمر کنيت يې ابو حفص او لقب يې فاروق وو , دپلار نوم يې خطاب او دمور نوم يې ختمه وو .دنسب پوره کړۍ يې داسې ده : عمر بن الخطاب بن نفيل بن عبدالفری بن رباح بن عبدالله بن قرط بن رزاح بن عدي بن کعب بن لوئ بن فهر بن مسالک . دعدي دوهم ورور مُره وو چې درسول الله صلی الله عليه وسلم له نيکونو نه شميرل کيږي ,له همدې امله

دحضرت عمر رضي الله عنه نسب په اتم پشت له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ګډيږي . حضرت عمر رضي الله عنه له نبوي هجرت څخه څلويښت کاله دمخه دې نړۍ ته سترګې پرانيستې . دځوانۍ عمر يې په شريفوعربوکې دوتلو زده کړولکه دنسب دزده کړي ,سپه ګري ,پهلواني ,او خطابت غوندې دشريفانه اعمالوپه کولوکې تير کړاو پدې علومو کې يې وتلى نوم او لوړ مقام تر لاسه کړ . له نومورۍوعلومو سره سره حضرت عمر رضي الله عنه ليک لوست هم زده کړ ,ځکه خو هم دهغه شمير له هغو کسانو نه کيږي کوم چې آن دجاهليت په مهال يې ليک لوست زده کړى وو. هغه به دجاهليت په زمانه کې هم دخپل فکري تدبر ,سالم عقل او لوړې حوصلې درلودو له امله په ټولو مهمو مسائلو کې دقريشو دسفير او دريم ګړي په توګه ټاکل کيده او دخپل خداى ورکړي معامله فهمۍ او تجربې له امله به يې ډيرې لويې لويې مسئلې په خورا لږه موده کې حل او فصل کولې . دحضرت عمر رضي الله عنه دعمر اووه ويشتم کال وو چې دعربو دجاهليت په تورو ډګرونو داسلام رونړ لمر وځليده ,او دمکې له هرې درې نه دتوحيد ازانګې خپرې شوې , د نورو مشرکينو په څير حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ته هم دتوحيد دې اوازونو خوند نه ورکاوه اوتل به د داسې اوازونوله اوريدو څخه په غصه کيدو , او دې اوازونو ته به يې دکرکې په سترګه کتل , آن تردې چې دخپلې کورنۍ يوه مينځه (بسينه) يې داسلام دراوړلو له امله دسزا ورکولو په توګه دومره ووهله چې مرګ ته يې نژدې کړه . دجاهليت په مهال دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه داسلام دښمنۍ په اړه د سيرپوهانو له لورې دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه يوه وتلې کيسه ليکل شوې چې رانقلول يې اړين بولم :

" کله چې حضرت عمرفاروق رضي الله عنه وليدل چې اسلام ورځ په ورځ مخ په وړاندې روان دى نو فکر يې وکړ چې داسلام دورکولو لپاره دحضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم (وژل) ډير ضروري دي نو دهمدې ناوړې موخې د پوره کولو لپاره يې خپله توره تر ملا وځړوله او راروان شو. کله چې يې څه سفر وکړ نو په لاره کې له نعيم بن عبدالله سره مخامخ شو, هغه چې دده حالت وليدنو پوښتنه يې ځنې وکړه چې خير خو به وي ؟

حضرت عمررضي الله عنه ورته وويل چې غواړم دحضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) فيصله وروکړم په همدې موخه له کوره راوتلى يم . نعيم ورته وويل چې ته لومړى دخپل کورخبر واخله ستا خور او خاوندیې دواړه مسلمانان شوي , حضرت عمرفاروق رضي الله عنه چې دا واوريدل نو راستون شو اودخپلې خور کورته په داسې حالت کې راورسيدو چې هغې دقرآنکريم تلاوت کاوه , خوکله چې يې دحضرت عمررضي الله عنه دقدمونو غږ واوريده نو پټه خوله شوه او قرآني ورقې يې پټ ځای کيښودې . خوحضرت عمررضي الله عنه ددې غږ اوريدلى وو نو ورځخه ويې پوښتل چې دا اواز دځه شي وو؟ خور يې ورته وويل دهيڅ شي هم نه وو , حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ورته وويل چې زه خبر شوى يم چې تاسې دواړه (مرتدان) شوي ياست ؟ له دې وينا سره سم حضرت عمر رضي الله عنه دخپلې خور له خاوند سره لاس او ګريوان شو کله چې يې خور خلاصي ته راغله نو هغه يې هم دومره ووهله چې آن وينې يې پرې وبهولې . خو له دې وهلو سره نه يواځې داچې ددې دواړو له اسلام سره په مينه کې کوم کمى رانغى بلکه خور يې ورته وويل عمره : چې څه کولاى شې ويې کړه اسلام اوس زمونږ په زړه او د وينو په رګونو کې ځاى نيولى چې هيڅ د وتو لار يې نشته . دخور دې تورو دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه په زړه کې ډير اثر وکړ او د ورورولۍ له احساس نه په ډکو کتلو سره يې خپلې خورته وکتل چې ويې ليدل دهغې له زخمونو نه دسرې وينې داړې وهي نو زړه يې نور هم نرم شو او خپلې خور ته يې وويل چې تاسې چې څه تلاوت کول هغه ماته هم راوښاياست هماغه وو چې خور يې فاطمې ورته دقرآنکريم اجزا په مخکې کيښودل نو دسورة الحديد دا آيت شريف (سبح لله مافي السماوات وما في الارض) ليکلى وو او له دې يوه يوه توري څخه دهغه په زړه کې دومره رعب ډيريدو چې کله د(آمنوا باالله ورسوله) آيت ته ورسيد نو بې اختياره يې چغه کړه چې (اشهدان لااله الاالله وان محمدا رسول الله) . دا هغه مهال وو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم دصفا ترغره لاندې دارقم بن ارقم رضي الله عنه په کور کې تشريف درلود ,حضرت عمرفاروق رضي الله عنه چې کله هلته ورغى نو دروازه يې ور

وټکوله څنګه چې دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه توره په لاس کې وه نو ځيني صحابۀ کرام ده ته دننه داجازې ورکولو په اړه متردد شول ,ليکن حضرت حمزه رضي الله عنه وويل چې راپرې يې ږدئ که هغه مخلصانه راغلی وي نو ډيره ښه او که يې نيت خراب وي نو پخپله توره به يې سر ور پرې کړم ,کله چې حضرت عمر رضي الله عنه پښه دننه کيښودله نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته رامخکې شو او له لمنې نه يې ونيو او ورته ويې وفرمايل وايه عمره په کومه موخه راغلی يې ؟ حضرت عمررضي الله عنه چې دنبوت دغه له جلاله ډک غږ واوريدو نو په رپيدا شو او په ډيره عاجزۍ سره يې وويل (ايمان راوړلو ته راغلی يم) ددې تورو له اوريدو سره سم رسول الله صلی الله عليه وسلم په بې اختياره توګه د(الله اکبر) دومره زوروره ناره وکړه چې شاوخوا ټول غرونه دهغه له اوازه ولړزيدل . سيرة النبي 1 ټوک 209-210 مخونه داسدالغابې وابن عساکر ,او کامل ابن اثير په حواله . همدا روايت له لږ بدلون سره دار قطني ,ابو يعلی,حاکم او بيهقي هم له حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت کړی ا وهغوی دسورة حديد په ځای دسورة طه دآياتونو ذکر کړی .

دقريشو دوو لويو لويو سردارانو ته 1- ابو جهل او2- حضرت عمررضي الله عنه ته رسول الله صلی الله عليه وسلم پدې تورو سره دعا کړيوه چې :

اللهم اعز الاسلام باحدالرجلين اما ابن هشام واما عمر بن الخطاب ,,

ای خدايه اسلام ته دقريشو له دوو سړو نه په يوه سړي سره عزت ور وبښه يا په ابن هشام (ابو جهل) يا په عمر بن الخطاب . درسول الله صلی الله عليه وسلم دهمدې دعا برکت وو چې حضرت عمر رضي الله عنه داسلام سپيڅلی دين ومانه اوزړه يې دشريعت په حقو لاربښوونو سپين وځليده .

عامو مؤرخينو او سيرت پوهانو ليکلي چې دنبوة په اووم کال حضرت عمر رضي الله عنه اسلام راوړ او تردې دمه نژدې نهه ديرشو کسانو ايمان راوړی وو چې حضرت عمررضي الله عنه يې څلويښتم تن شو . کله چې دحضرت عمررضي الله عنه داسلام راوړو خبره قريشو ته ورسيده نو هغوی ډير وځوريدل او ويل به يې چې (صبا عمر) عمر بې دينه شوی – نعوذبالله,, بخاري-اسلام

عثمان بن عفان رضی الله عنه

د حضرت عثمان ژوند په څو ټکو کې

- د فیل د کال (هغه کال چې الله جل جلاله بیت الله د ابرهه د لښکرو له یرغل څخه وژغوره) په پنځم کال زیږیدلی.
- د رسول الله د وفات پر وخت ۵۸ کلن وو.
- حضرت عثمان د رسول الله له دوو لونو، رقیه او ام کلثوم رضی الله عنهما، سره واده کړی او دواړه د هغه په ژوند وفات شوي.
- د هجرت د ۲۴م کال د محرم په میاشت کې د ۷۰ کلنۍ په عمر د مسلمانان خلیفه وټاکل شو.

- له ۱۲ کاله خلافت وروسته یې د هجرت د ۳۵م کال د ذی الحجې په میاشت کې د ۸۳ کلونو په عمر د شهادت جام په سر واړاوو.
- د هغه رضی الله عنه یوه له نیکو او تلپاتې کارنامو څخه د یوه مصحف په بڼه او په یوه قرائت د قران کریم راټولول وو.
- د ۹ زامنو او ۸ لونو پلار وو.

نوم او تبر یې

- نوم یې عثمان د عفان بن ابی العاص بن عبد شمس بن عبد مناف دی چې اموي قریشي وو.
- د رسول الله له مبارکې زوکړې یې پنځه کاله وروسته نړۍ ته سترګې غړولي او د هغه د بعثت پر وخت ۳۵ کلن وو.

ځانګړتیاوې یې

نازك پوستکی او زړه رابښکونکې او غنم رنګې څیره یې درلوده. ږیره یې ډکه او د سر پر مخکنۍ برخه یې ویښتان نه درلودل. د پیاوړو لاسونو او غښتلو متو څښتن وو.

مسلمانیدل یې

د جهالت پر وخت هم پاك لمنی، د ورکړې او ښه خوی لرونکی انسان وو. هوښیارۍ او فکري پوخوالي یې نوم درلود. همدا لامل وو چې د ابوبکر له خوا د اسلام د منلې له بلنې سره سم یې حق ته غاړه کیښوده او د رسول الله په وړاندې یې خپل ایمان په ډاګه کړ. کله یې چې تره (حَکَم) له مسلمانیدو خبر شو، په ځنځیر یې وتاړه او ور ته ویې ویل:

آیا د خپلو نیکونو له دین څخه اوښتی یې؟ په خدای قسم تر هغه به دې خوشې نه کړم تر څو چې له نوي منلي دین څخه نه یې راګرځیدلی.

عثمان وویل: په خدای قسم چې هیڅکله به هم له دې دین څخه بیل نه شم. کله یې چې تره تري نهیلی شو، خوشې یې کړ.

له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره

حضرت عثمان رضی الله عنه د ایمان او اخلاص بیلګه وه چې خپل ځان، شتمني او سوکالي یې د الله په لار کې ښندلي وو. له مسلمانیدو وروسته یې د رسول الله له لور، رقیه سره نکاح وکړه او له هغې سره یې یو ځای حبشې ته هجرت وکړ. له راستنیدو وروسته یې مدینې منورې ته هجرت وکړ او د بدر له غزا پرته چې د ناروغۍ له کبله یې پکې ګډون و نه شو کولی، له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې په ټولو غزاګانو کې برخه اخیستې. د رسول الله لور او د عثمان میرمن، رقیه، د اُحد د غزا په کال وفات شوه چې له هغې وروسته رسول الله خپله بله لور، ام کلثوم، ورکړه چې د ذوالنورین لقب یې له همدې ځایه سرچینه اخلي.

عثمان رضی الله عنه د امکاناتو او وسایلو د وړاندې کولو له پلوه د تبوك غزا د لښکر په چمتو کولو کې کارنده ونډه درلوده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ور ته په ژوند د جنت زیری ورکړ.
هغه د رسول الله له هغو نږدې دوستانو څخه وو چې خپل ټول وس او شته یې د اسلام د خپراوي او پیاوړتیا له پاره د هغه په واك کې ورکړي وو.
د ابوبکر او عمر د خلافت پر مهال
د ا بوبکر او عمر د خلافت پر مهال د حکومت له لوړپوړو سلاکارانو او هغو کسانو څخه وو چې د سترو پیښو پر وخت یې فکر او رأیه د باور وړ وه تر دې چې د حضرت عمر رضی الله عنه له شهادت څخه وروسته د مسلمانانو خلیفه وټاکل شو.

د خپل خلافت پر مهال

حضرت عثمان رضی الله عنه د شپږو مشرانو صحابه وو له ډلې څخه د خلافت له پاره وټاکل شو. خلکو ور سره بیعت وکړ. د خلافت موده یې ۱۲ کاله وه چې لومړي شپږ کاله یې ډیر بریالي وو او مسلمانان د امنیت او سوکالۍ له نعمت څخه برخمن وو. له هغې وروسته د عبدالله بن سبا یهودي تر مشرۍ لاندې یهودي دسیسې او چلونه پیل شول چې له کبله یې د خلافت په وروستیو شپږو کلونو کې مسلمانان له تیتوالي او بیلوالي سره مخ شول.

حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په پای کې د فتنو د څو بدو سرلارو او ناارامي غوښتونکو له لاسه شهید کړای شو.

انا لله و انا الیه راجعون

حضرت علي حیدر رضي الله عنه

نوم یې علي کنیت یې ابو الحسن او ابو التراب وو,حیدر (زمری) یې لقب وو, دپلار نوم یې ابو طالب او دمور نوم یې فاطمه وو , دنسب پوره لړۍ یې داده

:

علي بن ابي طالب بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصی بن کلاب بن مره بن کعب بن لوئ

.

څنګه چې دابو طالب واده دخپلې کا کا له لور سره شوی وو ځکه نو حضرت علي رضي الله عنه دمور او پلار دواړو له لورې هاشمي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سکه د کاکا زوی کیږي . دهاشموکورنۍ ته چې په عربو او قریشو کې کوم عزت حاصل وو د هغې بیان ته هیڅ اړتیا نه لیدل کیږي , د کعبې شریفې چوپړ هم د همدې کورنۍ ځانګړتیا وه , دهمدې ځانګړتیا له کبله هغوی ته په ټولو عربو باندې دمذهبي مشرۍ کولو شرف حاصل وو

.

دحضرت علي رضي الله عنه پلار ابو طالب دمکې له لویانو څخه وو او رسول الله صلی الله علیه وسلم د همده دشفقت په غیږکې رالوی شو , او له بعثت څخه وروسته یې دابو طالب تر څارنې لاندې دمکې په کوڅو کې دحق بلنه پیل کړه , د کفارو له لورې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ترځنګ ابو طالب ته هم ډول ډول تکلیفونه ورسیدل ، دساري په توګه له هغه سره یې هر ډول راکړه ورکړه ودرولې ,په خوښۍ ,غم ,خوراک او څښاک کې یې ګډون ورسره پریښود ,لنډه داچې له هیڅ ډول ربړ و ورسولو نه یې ډډه نه کوله

.

درسول الله صلی الله علیه وسلم ډیره تلوسه وه چې دابو طالب زړه دایمان په رڼا روښانه کړي او هغه ته درسول الله صلی الله علیه وسلم دحمایې او څارنې په بدل کې جنت الفردوس ورکړل شي, همدالامل ووچې دمړینې په مهال په وار وار رسول الله صلی الله علیه وسلم ابو طالب ته دکلمې ویلو بلنه ورکوله . خو ابو طالب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ځواب کې وویل چې : پتمنه وراره :که له ما سره دقریشو دپیغور راکولو ویره نه وای

نو ما به په ډيره خوښۍ سره ستا بلنه په ځان منلې وه .سيرت ابن هشام 1 ټوک 228 مخ .

که څه هم په سيرت ابن هشام کې دحضرت عباس رضي الله عنه دا روايت هم راوړل شوی چې په هغه کې حضرت عباس رضي الله عنه ويلي چې دزنکدن په مهال دابو طالب په ژبه دحق کلمه جاري وه ليکن دا روايت خورا کمزوری دی

.که څه هم په ښکاره ډول باندې دابو طالب داسلام منلو کوم روايت نه ليدل کيږي ,مګر بيا هم درسول الله صلى الله عليه وسلم دپالنې , حمايت او درسول الله صلى الله عليه وسلم له امله دکفارو ټولو ربړونو ته دسينې ورکولو له کبله نن هم دابو طالب نوم له هغه څخه ددې څه په بدله کې دمننې په توګه د اسلامي تاريخپانو په زرينو کرښو کې ليکل کيږي .

دحضرت علي رضي الله عنه مور حضرت فاطمې رضي الله عنها هم دبې بي آمنې ددې سپيڅلي يتيم پالنه په ډيره مينه سره کړيوه .دمستندو روایاتو له مخې حضرت فاطمه رضي الله عنها مسلمانه شوه اودهجرت په آړکې مدينې منورې ته ولاړه او هملته په حق ورسيده .انا لله وانا اليه راجعون . دمړينې په مهال رسول الله صلى الله عليه وسلم هغې ته خپل کميس دکفن په توګه ورواغوست ,او دهغې په قبر کې پريووت او پدې څه کولو سره يې دهغې قبر متبرک وګرځاوه .کله چې خلکو له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ددې مهرباني کولو لامل وپوښت نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې له ابو طالبه وروسته زه ددې ميرمنې د ډيرو احسانونواو نيکيومنونکی او له امله يې له هغې څخه مننه کوم

حضرت علي رضي الله عنه درسول الله صلى الله عليه وسلم له بعثت څخه لس کاله دمخه وزيږيد,له زيږيدو سره سم وروسته حضرت علي رضي الله عنه درسول الله صلى الله عليه وسلم تر ځانګړې څارنې لاندې وو , ځکه خو هم حضرت علي رضي الله عنه له ډير وړوکوالي څخه درسول

الله صلی الله علیه وسلم په مجلسونو کې کیناستلو اودرسول الله صلی الله علیه وسلم ویناوې به یې دزړه په غوږونو اوریدلې
لکه څنګه چې مو وویل حضرت علي رضي الله عنه دلسو کالو وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دالله تعالی له لورې دنبوة په لوی مقام وټاکل شو ,څنګه چې حضرت علي رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ځای اوسیده ځکه یې نو داسلام دمذهبي تګلارو نندارە له ډیره نژدې نه کړې وه.
یوه ورځ حضرت علي رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم او حضرت خدیجة الکبری رضي الله عنها په عبادت باندې بوخت ولیدل ,ددې تاثیرکوونکي نندارې په لیدو سره یې په ډیر ماشومانه استعجاب سره وپوښتل چې تاسې دواړو څه کول ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته دنبوة دلوی مقام دترلاسه کولو خبر ورکړ او دکفر اوشرک بدي یې ورته بیان , او توحید ته دراتلو بلنه یې ورکړه
.څنګه چې حضرت علي رضي الله عنه له داسي خبرو سره نااشنا وو ځکه یې نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په ځواب کې وویل چې زه به پدې اړه له خپل پلار ابو طالب څخه وپوښتم , خو رسول الله صلی الله علیه وسلم نه غوښتل چې وحدانیت ته درابللو داخبره دې په ناڅاپي توګه په لومړي ځل عام ډګرته ووځي ځکه یې نو حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمایل چې :ته پخپله پدې خبر ه فکر وکړه چاته دویلو اړتیا یې نه لیدل کیږي .
درسول الله صلی الله علیه وسلم په مجالسو کې دګډون له کبله دحضرت علي رضي الله عنه فطرت ډیر پاک وواودتوحید په اړه فکر کولو کې دخدای جل جلاله توفیق ورسره مل شو هماغه وو چې ډیر ژر دنبوة په دربار کې حاضر شو او داسلام په سپیڅلي دین یې ایمان راوړ,او توحید ته دخلکو رابلل یې خپله دیني کړنلاره وبلله .او پدې ډول یې په ماشومانو کې تر ټولو دلومړي ایمان راوړونکي ماشوم ځانګړتیا تر لاسه کړه .
له حضرت فاطمې رضي الله عنها سره دحضرت علي رضي الله عنه واده

دهجرت په دوهم کال حضرت علي رضي الله عنه ته درسول الله صلى الله عليه وسلم دځومتوب ویاړ ور په برخه شو ,او درسول الله صلى الله عليه وسلم له محبوب ترینې لور سیده فاطمة الزهرا رضي الله عنها سره یې نکاح وشوه .کله چې حضرت علي رضي الله عنه له فاطمة الزهرا رضي الله عنها سره دنکاح ترلو غوښتنه وکړه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمایل چې ته دمهر اداکولو په ښه څه شی لرې ؟

حضرت علي رضي الله عنه ورته وفرمایل چې زه له یوه اس اویوې ذرې پرته بل هیڅ شی هم نلرم . رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمایل چې اس خو دجهاد لپاره دی ولاړشه ذره خرڅه کړه ,حضرت علي رضي الله عنه هغه ذره په حضرن عثمان رضي الله عنه په څلور سوه اتیا(480) درهمه وپلورله او هغه قیمت یې درسول الله صلى الله عليه وسلم مخې ته کیښبود ,رسول الله صلى الله عليه وسلم حضرت بلال رضي الله عنه ته امر وکړ چې له بازاره عطر(خوشبو) راوړي او پخپله رسول الله صلى الله عليه وسلم نکاح وویله او په دواړو (خاوند او میرمن) یې داوداسه اوبه وشیندلې او دخیر او برکت دعا یې ورته وغوښته .زرقاني 2ټوک 4 مخ

.

دحضرت علي رضي الله عنه حليه

حضرت علي رضي الله عنه غنم رنګی ,دمنځني قد, د غټو غټو سترګو ,ښایسته سپین مخ ,او دبَرې پراخې سینې څښتن وو .بدن یې غوښین او ګیډه یې لږ دباندې لور ته راوتلې وه , د سر ویښتان یې نه وو . په یوه روایت کې راځي چې خرییل به یې , او په بل روایت کې راغلي چې له څیلمي یې دسر ویښتان وو نه . ږیره یې لویه او دومره پراخه وه چې له یوې اوږې او بلې اوږې سره به لګیدله ,دعمر په پای کې یې ویښتان خورا سپین شوي وو او په ټول عمر یې یواځې یو ځل خضاب (نکریزي) لګولې وې .

ميرمني او اولادونه يې

دجنت دسرداري حضرت فاطمة الزهرا رضي الله عنها له نکاح وروسته يې له يوه نه ډير ودونه کړي وو ,او ډير اولادونه يې زيږيدلي وو تفصيل يې دادی :

حضرت فاطمه رضي الله عنهاچي درسول الله صلى الله عليه وسلم دزړه ټکړه وه له هغې څخه يې په هلکانو کي حضرت حسن ,حضرت حسين ,حضرت محسن رضي الله عنهم پيدا شوي وو .او په نښځينه اولادونو کې يې زينب کبرى ,او ام کلثوم کبرى رضي الله عنهما پيدا شوې وې ,محسن په کوچني توب کې مړشو .

ام البنين بنت حزام : له دې څخه يې عباس ,جعفر ,عبدالله او عثمان پيداشوي وو ,چې له دوی څخه له عباس څخه پرته نور ټول له حضرت امام حسين رضي الله عنه سره په کربلا کې شهيدان شول .

ليلى بنت مسعود :له دې څخه عبيدالله او ابو بکر پيداشو,چې له يوه روايت سره سم دا دواړه هم له حضرت امام حسين رضي الله عنه سره شهيدان شول .

اسماء بنت عميس : له دې څخه يحيى او محمد اصغر پيداشو .

صهبا (ام حبيب بنت ربيعه) : دا ام ولده وه ,له دې څخه عمر اورقيه پيداشو . امامه بنت ابي العاص : دا دحضرت زينب رضي الله عنها لور اودرسول الله صلى الله عليه وسلم لمسۍ وه له دې څخه محمد(اوسط) پيداشوي وو .خوله بنت جعفر : محمد بن علي چې په محمد بن حنفيه باندې بس شهرت لري له همدې څخه پيدا شوی وو

.ام سعيد بنت عروه :له دې څخه ام الحسن او رمله کبرى پيداشوي وو .

محياة بنت امرأالقيس : له دې څخه يې يوه لور پيداشوه او په وړوکتوب کې په حق ورسيده له دې ميرمنو پرته هم دحضرت علي رضي الله عنه نورې مينځې هم وې ,چې له هغوی څخه يې لاندې نښځينه اولادونه شوي:

ام هانئ , ميمونه , زينب صغرى , رمله صغرى , ام كلثوم صغرى , فاطمه , امامه , خديجه , ام الكرام , ام سلمه ,ام جعفر ,جمانه او نفيسه .
لنډه داچې دحضرت علي رضي الله عنه نژدې 17 لونې او 14 زامن وو ,په دوی کې يواځې له لاندې څلوروکسانوڅخه دنسب لړۍ روانه شوه : حضرت امام حسن رضي الله عنه ,حضرت امام حسين رضي الله عنه , حضرت محمد بن حنفيه رضي الله عنه , او عمر رضي الله عنه .

حضرت علي رضي الله عنه په لاندې غزاوو کې ګډون کړی وو
دبدر وتلې غزا ,داحد وتلې غزا ,دهجرت په 5کال کې دبنو نضيرو په جلاوطنۍ کې هم حضرت علي رضي الله عنه ګډون درلود,په 5 هجري کال کې دخندق په وتلې غزا کې هم دکفارو مشر عمرو بن عبدود هم دحضرت علي رضي الله په لاس دوزخ ته وليږل شو , دخندق له پيښې وروسته بنو قريضه و دمسلمانانو په خلاف دقريشو مرسته کړې وه او له مسلمانانو سره شوی تړون يې مات کړئکه نو له هغوی سره دجګړې کولو په موخه يې حضرت علي رضي الله عنه دمسلمانانو مشر وټاکه او هغه درسول الله صلى الله عليه وسلم په امر دکفارو کلا ونيوله او دمازديګر لمونځ يې هم پکې ادا کړ . دهجرت په 6 کال رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ځرګنده شوه چې بنو سعد دخيبر ديهودو دمرستې لپاره يوځای شوي ځکه يې نو حضرت علي رضي الله عنه دسلو کسانو مجاهدينو سره دهغوی دمقابلې لپاره واستاوه اوحضرت علي رضي الله عنه دشعبان په مياشت کې په بنو سعدو برید وکړ او له هغوی څخه يې 500 اوښان او 200 وُزې په غنيمت ونيولې
.په همدې کال رسول الله صلى الله عليه وسلم له 14000 صحابۀ کرامو رضوان الله تعالى عليهم اجمعين سره يوځای دکعبې شريفي دزيارت کولو لپاره ولاړ, کله چې حديبيي نومې ځای ته ورسيدل نو مشرکينو جګړه کول غوښتل خو درسول الله صلى الله عليه وسلم موخه جنګ کول نه وو ځکه يې حضرت عباس رضي الله عنه دسفير په توګه هلته وروا ستاوه ,دلته داخبره مشهوره شوه چې حضرت عثمان رضي الله عنه

شهيد کړی شوی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه دکسات اخیستلو له کبله له صحابۀ کرامو څخه بیعت واخیست پدې بیعت ورکولو کې حضرت علي رضي الله عنه هم ګډون درلود او دسولې پاڼه هم دحضرت علي رضي الله عنه په ګوتو ولیکل شوه .

دخیبر په سیمه کې دکفارو ډیرې مضبوطې کلاوې او مرکزونه موجودوو ,چې په فتح کولو یې حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق رضي الله عنهما زور وواهه خو بریالي نه شول ,یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې سبا به زه دجګړې بیرغ درداسې چا په لاس ورکوم چې هغه خدای جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خورا محبوب دی کله چې سهار شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرغ دحضرت علي رضي الله عنه په لاس کې ورکړ هغه دسترګو د ناروغي درلوده، رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلي لاړې دهغه په سترګو ورومبلې او هغه رک روغ شو او خپله ورسپارل شوې دنده یې مخ پر وړاندې بوتله تردې چې دخیبر سیمه یې فتح او دکفر او شرک اولسونه یې پو پناکړل

.دحُنَین په وتلې غزا کې هم حضرت علي رضي الله عنه ډیر په میړانه له دښمن سره وجنګیده . او دهغوی مشر یې په خپل حیدري وار باندې دتل لپاره د دوزخ برغولی وګرځاوه .

دهجرت په 9کال کې چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم تبوک نومې ځای ته دتلو هوډ وکړنو داهل بیتو دساتنې لپاره یې حضرت علي رضي الله عنه په مدینه کې پریښود .

دهجرت په لسم کال رسول الله صلی الله علیه وسلم وروستی حج وکړ,حضرت علي رضي الله عنه هم له یمن څخه راغی او په دغه مبارک حج کې یې ګډون وکړ .

دحضرت علي رضي الله عنه ځانګړتیاوې

-1حضرت علي رضي الله عنه یو له هغو لسو کسانو څخه وو چې درسول الله صلی الله علیه وسلم له لورې ورته دجنت زیری ورکول شوی وو .

-2حضرت علي رضي الله عنه داسلام دځلورم خلیفه په توګه وټاکل شو .

-3حضرت علي رضي الله عنه ته درسول الله صلى الله عليه وسلم دځومتوب ویاړ ورپه برخه شو

.

-4حضرت علي رضي الله عنه ته دترټولو لومړي ایمان راوړونکي ماشوم ویاړ ورپه برخه دی .

دحضرت علي رضي الله عنه دشهادت پیښه

دهجرت په 40 کال دخوارجو دباطلې ټولې له لورې د کورنیو جګړو او دهغوی دلاملونودجاج اخیستلو په اړه دحج په موسم کې خبرې اترې پیل شوې , دخبرو په ترڅ کې په یوه خله دا ومنل شوه چې ددې پیښو لاملونه یواځې درې کسان حضرت علي رضي الله عنه , حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه او حضرت امیر معاویه رضي الله عنه دي

دخبرو په پای کې یې وویل چې د دې پیښو یواځینی حل د نومورو دریو کسانو شهیدانول دي ,ځکه نو دریو کسانو عبدالرحمن بن ملجم دحضرت علي رضي الله عنه ,نزال دحضرت امیر معاویه رضي الله عنه او عبدالله نامي تن بیا دحضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه دشهیدولو دروند پیټي په خپلو ځانونو کیښودل .او د دې شومو موخو دتر سره کولو لپاره روان شول .

کوفې ته په رسیدو سره ابن ملجم له یوې پیمخي قطام نومې میرمنې سره مخامخ شو او دخپلې موخې په اړه یې توضیحات ورکړل دې بدبختې میرمنې نه یواځې داچې دابن ملجم دناوړي کار تایید یې وکړ بلکه د دې کارپه بریالیتوب سره دپای ته رسیدو په صورت کې یې دنکاح کولو ژمنه هم ورسره وکړه

.لنډه داچې دې دریو واړو کسانو دهجرت په 40 کال د روژې په میاشت کې دسهار په مهال په دریو صحابه وباندې برید وکړ ,حضرت امیر

معاويه رضي الله عنه د توري دنه لګيدو له امله ,حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه امامت ته دنه تلو له امله روغ پاتې شول او هغه تن چې دحضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه په ځای امامت ته تللی وو دخوارجو دتيروتنې له کبله په شهادت ورسيد .

خو دالهي قضا له مخې دامیرالمؤمنيين حضرت علي رضي الله عنه دژوند نيټه نوره په پوره کيدو وه ,کله چې هغه لمانځه ته راغی نو ابن ملجم چې په مسجد کې ويده وو يې دلمانځه داداکولو په نيت راويښ کړ.او پخپله دلمانځه داداکولو په نيت ابن ملجم چې کله حضرت علي رضي الله عنه دسجدې په حالت کې وليدنو په هغه يې د توري سخت ګزار وکړ ,توره دحضرت علي رضي الله عنه په سر مبارک کې خښه شوه او حضرت علي رضي الله عنه سخت زخمي شو

.که له يوې خوا دتورې وارونه ډير ژور وو نو له بلې خوا دابن ملجم توره په زهرو هم ککړه وه او دزهرو اغيزې په ډيره چټکتيا سره دحضرت علي رضي الله عنه په ټول بدن کې وغزيدلې چې له امله يې داسلام دغه ځلورم ځليدونکی ستوری حضرت امام حسين رضي الله عنه ته دځه نصيحت له کولو وروسته دهجرت په 40 کال دروژې په شلمه نيټه دجمعې په مبارکې شپې دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .انا لله وانا اليه راجعون .

دسورة الواقعه يو ځانګړی فضيلت

په مرض وفات کې دحضرت عبدالله بن مسعود په زړه پوري هدايات:
علامه ابن کثير رحمه الله دابن عساکر په حواله له ابوظبيه څخه داقصه رانقل کړي چې حضرت عبدالله بن مسعود – رضی الله تعالی عنه – بيمارؤ چې حضرت عثمان غني – رضی الله عنه – يې د پوښتنې لپاره ورته راغی ، حضرت عثمان – رضی الله عنه – ورته وفرمايل : ماتشتکي ؟ (له څه په تکليف ياست ؟) نومورې په جواب کې ورته وفرمايل : ذنوبي ! (يعني له خپلو ګناهونو!) حضرت عثمان – رضی الله عنه – ورته وفرمايل : ماتشتهی ؟ (زړه دي څه غواړي) عبدالله بن مسعود –رضی

الله عنه – ورته په جواب کې وفرمایل : رحمة ربی (دخپل رب درحمت هیله لرم) بیاحضرت عثمان – رضی الله عنه – ورته وفرمایل :
زه به تاسو ته کوم طبیب دعلاج کولو لپاره راولیږم ؟ نومورې ورته وویل : الطبیب امرضنی ! (یعني زه خو طبیب ناروغه کړی یم) حضرت عثمان – رضی الله عنه – ورته وفرمایل چې زه به تاسوته له بیت المال څخه څه تحفه راولیږم ، نومورې په جواب کې ورته وفرمایل : لاحاجة لی فیها (یعني ماته ددې تحفې هیڅ ضرورت نشته) حضرت عثمان – رضی الله عنه – ورته وفرمایل : عطیه قبوله کړه له تاسووروسته به ستاسو لونږو ته په کار ورشي ، نو په دې سره عبدالله بن مسعود– رضی الله عنه – ورته وفرمایل : ایاتاسو ته زمادلونږو په باره کې دافکر دی چې هغوی به په لوږه اوفقرکې مبتلاء شي ، مګرماته خودافکر نه پیداکیږي ځکه چې ماهغوی ته ټینګارکړی چې هره شپه دي سورة الواقعة تلاوت کوي ، ځکه چې ماله رسول الله صلی الله علیه وسلم اوریدلي : من قرأ سورة الواقعة کل لیلة لم تصبه فاقة ابدا (ابن کثیر) یعني کوم څوك چې هره شپه سورم واقعه تلاوت هیڅ کله به په فاقه اولوږه کې مبتلانه شي
ابن کثیر دغه روایت دابن عساکرپه سندسره له ذکر کولو وروسته دتائیدپه ډول نورسندونه هم له نورو کتابونه ذکرکړي
(معارف القرآن ۸ ټوك ۲۶۸ مخ)

خالد بن ولید

خالد بن ولید بن مغیره مخزومی ملقب به «سیف‌الله» (شمشیر خدا)، از صحابهٔ محمد، پیامبر اسلام و از بزرگان قریش است.
خالد یکی از معدود فرماندهان نظامی تاریخ است که در تمام طول عمر خود شکست نخورد.[نیازمند منبع] او در بیش از یکصد جنگ شرکت داشت که بسیاری از آن‌ها در مقابل نیروهای از نظر عددی برتر امپراتوری بیزانس شاهنشاهی ساسانی و متحدانشان و همچنین قبیله‌های عرب دیگر انجام شدند.

دستاوردهای استراتژیك او شامل اشغال شبه‌جزیره عربستان، بین النهرین ایرانی و سوریه رومی از سال ۶۳۲ تا ۶۳۶ میلادی می‌شود.
او در جنگ احد با مسلمانان جنگید و در سال ۷ هجری قمری پس از صلح حدیبیه اسلام آورد و در جنگ موته رهبری سپاه مغلوب مسلمانان را تا مدینه به‌عهده داشت. پیامبر اسلام (ص) به او لقب «سیف الله» داد.
وی در همان سال در عملیات فتح مکه شرکت کرد.

مقبرهٔ خالد در مسجد خالد بن ولید قرار دارد.

مسیر حملات خالد بن ولید در جنوب بین النهرین که در آن زمان در اختیار ساسانیان بود.
در دوران ابوبکر با هدف مسلمان‌کردن اهالی تمیم به آنجا رفت. در آنجا با وجود اینکه مالك بن نویره تسلیم او شده بود، وی را کشت. ابوبکر بخاطر قتل مالك، او را توبیخ نمود ولی با وجود اینکه عمر، ابوبکر را

به خاطر انتخاب خالد به فرماندهی سپاه نکوهش می‌کرد، خالد در سمت خود باقی‌ماند.[۱] وی در دفع شورش اهل ردّه از فرماندهان مورد اعتماد سپاه ابوبکر بود.[نیازمند منبع] کمی بعد از این رویدادها ابوبکر او را به جنگ با مسیلمه و سپس جنگ با ایرانیان فرستاد. در ربیع‌الاول ۱۲ ه.ق یا چند ماهی بعد، حیره را تسخیر کرد و اندکی بعد ناحیهٔ فرات را گرفت. سال بعد برای فتح شام عازم شد و با شکست رومیان، دمشق را گرفت.

با به قدرت رسیدن عمر از فرماندهی لشکر شام، عزل شد. او در شهر حمص سوریهوفات نمود.

یادونه:

ورزشگاهی ۳۰ هزار نفری در شهر حمص سوریه به افتخار او ، ورزشگاه خالد بن ولید نام‌گذاری شده‌است.

مهمترین تانك جنگی ارتش پاکستان (محصول مشترك چین و پاکستان) به یاد وی الخالد یا ام‌بی‌تی۲۰۰۰- نام گرفته‌است.[نیازمند منبع]

حضرت بلال(رض)

حضرت بلال(رض) چې د حبشې اوسېدونکی او د اسلام د ستر لار ښود نبي پاك علیه السلام اذان کوونکی(موذن) ؤ.

د عقیدوي اړخه يې ژوند يو داسي د بهادرۍ او قهرمانۍ ژوند ؤ چې بیا به هیڅکله داسي څوك پیدا نه سي چې د داسي بهادرۍ او قهرمانۍ ژوند دي ولري او هیڅکله به بیا اذان په داسي یو خوږ غږ او اواز وا نه وربدل سي.

حضرت بلال(رض) د سرۍ نومي ځاي کښې تر هجرت تقریباً۴۳ کاله وړاندي پیدا سوی دئ پلار يې رباح او مور يې حمامه نومېده.

حضرت بلال(رض) په ام القرای کښې غټ سو، کله چې پر مکه معظمه د اسلام د سپېڅلي دین منوري وړانګې را وختې او نبي پاك علیه السلام

ديووالي د كليمې (كليمے التوحيد) ږغ پورته كړ نو حضرت بلال(رض) په لومړيو مسلمانانو كي ؤ چي اسلام يې و مانه او په داسي حال كښي مسلمان سوخو يوازي او يوازي دى او يو څو نفره نور وه چي مسلمانان سوي وه او د اسلام سپېځلي دين ته يې غاړه اېښې وه چي د هغو څخه يوه خديجه رضى الله تعالى عنها، ابو بكر صديق(رض)، علي ابن ابي طالب، عمار بن ياسر او د هغه مور سميه رضى الله تعالى عنها، صهيب الرومي او مقداد بن الاسود وه.

ښځې نړۍ لړزولېده

ښځې په مختلفه پيړيو كې د ټولنې په وړاندې ځلېدلى او داسى پياوړى شخصيتونه يې ټولنې ته وړاندې كړى چې د ذى روح په ژبه د تل لپاره يادېږى او دا بايد له ياد ونباسو آسيه ، هاجر، مريم ، خديجه ، عايشه او داسې نورې بى بى يانې(ع) ډير شهامتونه ښولى او نړۍ ته مثال پاتو دى چې هيڅكله هم د هېرېدو نه دى او نه به وى.

آسيه عليه السلام هغه مهال د فرعون پروړاندې ايمان لا نور هم پياوړى شو كله چې فرعون لخوا د حزبيل د كلى ماشومان پرله پسى وژلكېدل او كمې ورځې چې فرعون د آسيه ځانكړى خونې ته ورننوت اوهغې له رب العزت څخه تړنه پناه غوښتله پټ ايمان يې ښكاره فرعون په مقابل كې ټينګه ودرېدله او فرعون ته يې وويل تر كومه به د خداى پاك بنده ګان په آور كې سوزه وې آيا ته نه پوهېږې چې پروردېګار څه وغواړى بيا يې سر ته رسوى د حزبيل ښځه ستا په كور كې هغه يو ماشوم روزلو لپاره مقرره كړې ده كوم سره چې نړۍ روښانه شوه او له بغاوت څخه يې وژغورله ،موسى عليه السلام له رود نيل څخه را ووېستل شو نو دآسيه ايمان لاتر پخوا غښتلى شو په دې مهال فرعون د آسيه مور ته يې وويلى چې لور دې د موسى عليه السلام دين څخه لاس واخلى كه نه نو ډيره سخت جزاء به وركړل شى خو اسيه له ځانه تېره شوه ولى د موسى عليه السلام څخه تېره نشوله.

هغه آسیه (ع) وه چې د فرعون اوامرو اطاعت یې ونکړدغه ظالم هغه پر ځمکه چار میخه کړه او پر سینه یې لوی ګټ کښښود هغه په دې پوهېده چې خدای پاك به فرعون ته جزا ورکوی ، په داسې حالکې چې فرعون لخوا بی رحمانه شکنجه کېدله خو کله چې د هغې نظر په هغه ښکولی مقام چې په جنت کې ورته آماده شوی وو لیده خندل یې ، فرعون د لېونۍ ګمام پرې کوو چې له فانې نړۍ څخه یې مخه ښه وکړه.

آیا څوك به یې ومنې چې یوه مور دې خپل خاوند ته اجازه ورکړی تر څو خپل د زړه ټوټه قربانی کړی، اسماعیل علیه السلام مور ورټیا او زړوتیا ته زیر شی او فکر وکړی چې په رښتیا سره هغې ښځې قوی ایمان او د شیطان ټولې غوښتنې رد کړې او شیطان ډیر زیات خواشنی شو چې هلی ځلی یې بی نتیجې او نا امید پېړ غوګونه خړپړ خپلې جنګړې ته ستون شو، دا ورته وپټیله شوه چې هیڅ وخت با ایمان ، خدای پاك ته وفادار او د هغه ذات قوانینو ، اوامر اطاعت کونکی نشی تیر ایستلای دا هغه مېرمنه ده چې زنتی یا دنیایی ارایش باندې عقیده نلرله او هغه خپل ماشوم یې د ۱۳ کلنۍ په عمر وو خپل پلار ته یې داسې وویلی ، ای پلاره کلك مې وتړه او جامې دې ټولی کړه ترڅو د وینو ډکې نشی او مور مې و نه وینی ، د وښو په لېدو سره به خواشنی شی ، ای پلار سترګې دې پټې کړه هسې نه چې زړ دې وسوزی او ما حلال نکړې خدای پاك به ناراضی شی اود پروردګان فرمان تطبیق نشی.

د هغې مور قوت او غښتل تیا ښی چې خپل ځوی یې د قربانی میدان ته واستو تر څو د خدای (ج) فرمان پرځای شی د هغې یادونه نکیږی خو کومې چې دنیاوی کارونو پسې ګرځی ورځ یې لمانځل کېږی.

یوه بله مور بیا هم په دې نړۍ کې له قوی عظم ، همت او ایمان سره د ظالمانو مخته ودرېده او دخدای پاك قوانین یې په خپل ځان فرض کړی او بغاوت سره مقابله کوی ، محجبتوب سره سره یهودیانو پرې تور ولګاو خو طرفدار یې رب العزت وو او د زانګو ماشوم د هغې عفافیت داسې بیان کړ زه عیسی علیه السلام د د خدای پاك استول شوی بنده او تاسو

ته لارښود يم اطاعت اوفرمان برداری د يو خدای پاك وکړی بغاوت پربږدی... يهوديان حيران شول بيا يې هم دا ونه منله ګندې هغه دې پيامبر(ص) وي.

همغه وو چې په بی رحمانه يې په بی بی مريم عليه السلام د عيسی عليه السلام مور يې له لګيدليو تورونو څخه پاك کړه دا د يوې مور حوصله ، صبر او وړتيا ښی ،عيسی عليه السلام کواهی ورکولو سره ځنې مرتد او ځنو يې ايمان لانور هم غښتلی شو.

له قريشو د قبيلې بی بی آمنه هغه ښځه ده چې د پروردګار فرمان سره يې داسې څوك دې نړۍ ته راوستی چې ځمکه او اسمان پرې افتخار کوی او له کبلې يې نړی پيدا کړه کوم مخلوق چې پرې ايمان راوړی وي جنت دروازې هميشه لپاره ورته پرانستې او شفاعتګر يې هم وي.

بی بی حليمه د قريشو د قبيلی وه چې پيامبر(ص) يې له خپل ځانه سره د روزلو په مقصد کلی ته بوته او له همغې ورځې په نړۍ کې يې نوم وځلېده او تر ننه بورې د مختلفه انسانانو په ژبه د هغې نوم اخستل کيږی ، رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په روزنه کې يې پوره ونډه اخستلی وه د بل پلوه بی بی خديجه(رض) هغه زړوره مېرمن وه چې ډيرو مالدارانو او قوی شخصيتونو دې سره د نکاح کولو اراده وه ولی د هغې لخوا رد او يواځی پيامبر(ص) مور او پلار څخه يتيم پاتو وو په نکاح ومانه رسول اکرم صلی الله عليه وسلم لبيك ورته وويل او ترڅنګ يې په ډير زړورتيا سره د کفارو په مقابل کې ولاړه او د خپل خاوند څخه يې تر وروستی سلږی دفاع کوله .د مؤمنانو ميندې هغه ښځې وې چې هر يوې يې په خپل ځای کې خاص وړتيا ښودلی وه ، د مثال په توګه عايشه (رض) د دې ترڅنګ چې د احاديثو وچته راوی وه ، يوه پياوړې اوقوی سر لښکرې هم وه او نظامی ، سياسی او اقتصادی په څانګه کې يې ځانګړی وړتيا لرلې لکه څرنګه چې سميه د خياط لور په اسلام کې لومړۍ شهيده وه او له اسلام او پيامبر څخه تېره نشوه همدا وه چې د ابو جهل لخوا بی حده شکجه شوه او خنجر يې پر سينه ورخښ کړ خو کافرو ته تسليمه نشوه په داسې حالکې چې ځوی يې (عمال) ورته رانه رانه کتل هيڅ يې دلاسه نراتلو او د

مکې کافرانو ډیر بېرحمانه شهیده کړه ، هغه ورځ هیڅوك نه لمانځی، بالعکس د هغو ښځو ورځ لمانځل کیږی چې د دنیاوي اونفسانی خواهشاتو په خاطر یې هلی ځلی کړي دی.

ښځو په مختلفه پېړیو کې امپراطوری یې زیانمنې کړی ، اکثر حکومتونه د دوی به اشارو را پرځول شوی دی د حکومت په را پرځېدو کې اصلی ننګونې ښځه بلل شوې ده ، د مثال په توګه کله چې مغولیان عراق ته ورسیدل دعرب حکامو ته یې ښایسته ښځې ډالی کړې او حکومتونه یې ړنګ کړل ، خدای پاك د ښځو په آن ویلی دی چې مکر ، خدعه او حیله یې ډیره غټه ده ،مکر سره یې عرشونه لرزولی دی.

د ښځو نړیواله ورځ په اسلامی نړۍ کی له هغه نېټې تحمیل شوه کله چې د مارچ په اتمه د امریکا هېواد د نیویورك ایالت د نساجی کارګرو ښځو په ۱۸۵۷ کال کې د ټیټ مزد او سخت کار له امله یې د نولسمې پیړی په وروستیو کې چمتوالی وښود او ګیله یې درلوده چې دوی باید له نارینه وو سره برابر حق ولری ، دسخت کاری وضعیت او اقتصادی پیاوړتیا لپاره یې اعتصاب وکړ ، دوی د خپل اقتصادی تقویت پر اساس یې ګام وچت کړ او بریالی شولې خو د بل پلوه اسلامی نړۍ هغه چا دپاره چې اسلام دپاره یې ځا قربان کړ او په اسلامی نړۍ کې لومړنې ښځینه شهیده وه څوك یې هم ورځ نه لمانځي!!...

همدارنګ د کال ۱۹۰۸ په مارچ په اتمه نېټه وروسته له پنځوس کاله تېرېدو سره د ښځینه کارګرو به یاده شوې د کتان صنعتی نساجی فابرېکې کې د تبعیض ، محرومیت او د کار زیات فشار لامله یې اعتصاب پلی کړ چې ساتونکو لخوا پرې بندیز ولږېده ترڅو د کار خانې څخه بهر مظاهره وکړی او دوی کار خانه کې بندې پاتو شوې چې د اور لږولو سره یې تقریبا ۱۲۹ کارګرې وسوزولی ، البته د ساتونکو اشتباه وه هغوی پخپله دا کار کړی وو او د ځان سوزونه یې په نړۍ کې رواج او وروسته همدغه عمل اسلامی هېوادونو ته را وغځول شو په یو اوبل نامه اسلام بدنامه کوی چون ښځه یو ضعیفه قشر دی زر غولېږی غرب ترینه استفاده کوی.

وروسته دکار مزد زیاتوالی په خاطر جګړه په اروپا ، امریکا او مختلفه هېوادونو کې د ښځو له پلوه اعتصاب او مظاهري پیل کړه.
په المان هېواد کې د کلارا زتکین په نامه د ښځو مدافع وکیلې لخوا د مارچ اتمه نېټه ښځو رسمی رخصتیانو لپاره غوښتونکې شوه ،همدارنګه ورو ورو د دوی غوښتنې زیاتې شوې او وروسته له دوهم نړیواله جګړې څخه د ښځو لپاره سوسیالیسیتی کنفرانس کې چې د ووه هېوادونو استازو ګډون کړی وو اتم مارچ یې د ښځو حقوق څخه د دفاع نړیواله ورځ او قانونی رخصتی ونومول شی او د دې ترڅنګ یې د ماشوم سقط ، د مېندو حمایت ته د پاملرنې غوښتونکی شول او دلیل یې اقتصادی بحران وباله چې په هر کال کې یو مېلیون ښځو خپل اولادونه سقطول غیر قانونی سقط د دې سبب شو چې په المان کې د ۱۹۳۱ کال په درشل کې ۴۴۰۰۰ ښځو مرګ ته لبیک وویل.
په دې اساس اتم مارچ د ښځو نړیواله ورځ په نامه ۱۹۱۱ کال په ډنمارک ، المان ، اتریش ، سویس او امریکا هېوادونوکې چې په مېلیونونو ښځو ګډون کړی وو ولمانځل شول.
په غربی نړۍ کې بی حجابی جنسبازی کوم ځانګړی ګوابښ په ټولنه کې نه دی نو غرب ته مادیات مهمه ده او د ښځو خپلواکی ته پاملرنه ځکه کوی چې تربنه د توکیو په شان استفاده او یا لاسته راوړنې ولری اما اسلامی نړۍ همیشه له غرب سره په تضاد کې وه او له ښځې دفاع کړې مکمل حق یې ورکړی دی دا چې ښځه د خپل حق څخه نا خبره ده د اسلام ګناه په دې کې څه ده.
زه فکر کړم چې په دې وروستیو کې غربی او کفری نړۍ پوه شوې چې ورځ په ورځ اسلام چې کومې وړاندې ویل کړی وو راڅرګندیږی نو همدا علت دی چې غرب او اسلام تر مینځه فرهنګی شخړه پیل شوې ده ، متاسفانه چې بی همت او بی ایمان خلك د غرب فرهنګی انقلاب پلویان او بربنډتیا غوره بولی.
د۱۹۴۶ کال جګړې څخه وروسته ختیځ اروپا دوهم ځل لپاره د ښځو رسمی نړیواله ورځ جشن او په دې دلیل چې د حکومت لخوا ګندې د

ښځو وضعیت په ښکېدو وی ونېول شول ، سره لدې چې ختیځوالو او لوېدیځوالو لومړی پېړی په فرانسې هېواد پاریس ښارکې یو نړیواله کنفرانس جوړ کړی وو چې دا څرګنده کړه ،آیا ښځه د نارینه یوه برخه کېدای شی یا نه ؟ همدارنګ ځنې فکری عالمان په دې نظر وو چې ښځه یو ضعیفه ،لطیفه او ناتوان مخلوق دی نشی کولی د زمامداری چارې پر مخ بوځی.

فکر کړم چې له پخوانه تر اوس مهاله نړی په ګډ ګډ کې د اسلام خپریدوڅخه ناخوښ ښکاری او وکړو داچې د پوهاوې کچه لوړه شوی او په اکثر ټولنو کې ښځې پوه شوی دی چې دا ټول د اسلام له برکته دی، ډیرې کمې ښځې موندل کیږی چې له خپل حق څخه لاخبره دی.

دا اسلام دی چې علم یې په نر او ښځه فرض کړی ، نفقه یې په نارینه ، که چېرته ښځه مالداره وی میړه حق نلری چې له هغې څخه مال واخلی، ټول ضروریات یې باید میړه پوره کړی ، څوك هم د وهلو ، ټکولو حق نلری مګر سر غړونه یې کړې وی چې په دې صورت کې خدای پاك په قران کریم کې د بستر پرېښود او داسې نور جزا ګانې دی که بیاهم له خپل ناوړه کار څخه یې لاس وانه خست طلاق وروستی حالت دی.

فکر وکړی خدای پاك د پیامبر (ص) ښځو ته نصحت کړی او ورته ویلی دی چې تاسو د هغو عادی ښځو له جملې څخه نیاست هیڅکله نافرمانبرداری ونکړی که نه نو له سخت عذاب سره به مخامخ شی.

ښځه که خپل مقام او منزلت وپېژنی کله به هم د غربی کلتور ته میلان ونکړی، کله چې د منافقینو لخوا پربی بی عایشه رضی الله عنها ناوړه تورونه ولګیدل نو خدای پاك په(النور) سورې کې ۱۱ ایات دهغې پاکوالی او عزت په خاطر یې وویل عایشه (رض) پاك ده او ښځو ته یې وښول هرښځه چې د خدای پاك له قوانینو څخه سرغړونه ونکړی د یکتا فرمان برداری ته ځان چمتو کړي او احکامو پیروی نه سرکشی ونکړی ساتنه یې حتمی ده.

خدای (ج) ښځې ته څومره لوړ مقام وربښلی آن دا چې په زیات شمېر سورتونو کې د مثال په توکه (الاحزاب ، النور ، النساء) او داسې نورو آیاتونو کې د دوی ذکر شوی او دوی ته یې لار ښولی ده.

خدای (ج) ښځو ته امر کړی چې باید د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او خدای پاك اوامرو نه سرکشی ونکړی د بدکاری ، بدلمنی څخه په آمن او عفت کې له خپل فامیل سره ژوند ته ادامه ورکړی ، پیامبر(ص) ته وویل آی پیامبر(ص) خپله میرمنو ، لورګانو او د مؤمنانو ښځو ته ووایست ترڅو د رنګینو جامو پر تن کېدو څخه لاس واخلی او داسې جامې پر تن نکړی چې بربنډه او جسم یې ښکاره شی او کافران سره مشابهت ولری . سورت الاحزاب

ننه ورځ غربی کلتور په اسلامی هېوادونو هجوم راوړی او اسلامی کلتور یې زیانمن کړی خاصتا د ښځو په برخه کې هغه جامې چې له بهرنیو هېوادونو څخه اسلامی هېوادونو ته را واردیږی ټولې انسان بربنډه وی ، انجونې د هلکانو پېښې کوی او هلکان د انجونو پېښې کوی جامې سره یو شوی فرق نلری خدای پاك فرمایی ای د مؤمنانو ښځو تاسو په داسې ډول جامې وانغندې ، جسم مو ښکاره نشی ، نا محرمه ته ځان سنګار نکړی ، مصافحه حرامه ده که دیادوشیو کارو څخه لاسه وانخلی رب العزت له لوی عذابه سره مخامخ کیږی.

آمام صادق علیه السلام وای بهترین هغه ښځه ده که څه ورکړې منندویه وی او که وړې نکړې راضی وی.

حضرت علی (رض) فرمایی یوه ورځ د خدای (ج) پیامبر (ص) حضور ته ولاړم چې د مبارك وښکې راغلې ورنه مې وپښتل مور او پلار مې له تا فدا شه څه خبره ده..؟ آن حضرت (ص) فرمایل کومه شپه چې معراج ته تللی وم ما د خپل امت ښځې ولېدې چې په سخت عذاب سره مخامخ وې، ومې پوښتل چې ولی دوی په ډیر سخت غذاب ویني؟ ما ته وویل شول کومې ښځې چې د وېښتو زوړندې دي او د سر ماغزه یې له حرارت څخه ویشېږی له نامحرمه یې سرندی پټ کړی او لوڅ سرې کرځېده ،هغه ښځه چې له ژبې زوړنده وه د جهنم سرې آوب یې په خوله کې ور غرغړه

کېدې خپل مېړه سره يې ژبه کوله ، هغه ښځه چې له سپنو څخه زوړنده وه د خپل مېړه حق يې نه آدا کول ، هغه ښځه چې لاس اوپښې يې تلړې وې لړمان او ماران تړې نه چاپېر وو پاکوالی اودس ، جنابت ، حيض ، نفاس ، نظافت او لمنځ کول ورته بی اهميت وو، هغه ښځه چې په تابوت کې د سر ماغزه يې له پزی سوريو راوتل او بدن يې توټه توټه شوی وو نامشروع يا زنا کولو له لياړې يې بچيان نړی ته راوړل او خپل مېړه ته يې ويل چې دا ځامن ستا دی، هغه ښځه چې خپل بدن يې سوزند قيچی سره پرېکاوو خپل ځان يې عرضه کړی او زنا يې کوله، کومه ښځه چې لاسونه يې په اورکې سوزيدله او د معدې غوښې يې خوړلی هغې نامحرمو ته آرايش کاو او پرهېزيې نکاوو، ښځه مې لېده چې سر يې د سرګوځی ، بدن يې د څاروی او په زرګونو قسمه عذابو باندې اخته وه هغه ښځه دروغ ژنه او خبر وړونکې وه ، ښځه مې لېده چې اور يې د مقعد له لياری داخليده ، له خولې يې خارجېده او د عذاب ملايکو په سوزنده لرګی سره وهله ګينه دلې ښځه وه.

هيڅکله هم له ياد ونه باسی چې رب العزت هميشه عادل دی څو چې انسان په خپل ځان باندې ظلم ونکړی خدای پاك په هيڅا باندې عذاب نه نازل وی.
ننه ورځ تا سو ښځې وينی سره لدې چې په تلوزيونونو کې په وچت آواز خبری کوی او په مختلف دولتی او غير دولتی دفاترو کې کار کوي بيا هم د آزادی چغې وهی سره لدې چې دوی د آزادی معيار نه دی ټاکلی.

بشر په جامو او ساده توب کې ښايسته ښکاری نه په بربنډتوب هغه متل دی چې وای ښايستوب په سادګی نه به بربنډتوب کې ، ديادونې وړ ده آن ځمکه انسان له آرايش سره نه منی زما په آن ننه ورځ ښځې خپل اصلی حق پرې اينبی کوم چې اسلام ورکړی دی،بی حجابه او بربنډ ښځو باندې لوی غذاب نازل شوی او جهنم يې ځای دی.

اسلام نه په ګټه اخستلو سره داسې حجاب د مسلمانانو ښځو پر تن کړی دی چې نمونه داده...

دحضرت عیسی علیه السلام پرته له پلاره کېدل!

مولوي عصمت الله عزام

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد:

دحضرت عیسی علیه السلام په پیدایښت سره الله پاك خپل قدرت انسانانوته وښودچې الله پاك داسې دقدرت خاونددی چې پرته له پلاره هم څوك پیداکولی شي،دچاپه پیداکولوکي پلارته اړتیانه لري چې یوه نمونه یې عیسی علیه السلام دی چې

دالله پاك په امرپرته له پلاره پیداشو ځکه دده مورحضرت مریم علیهاالسلام خاوندنه درلود.

الله جل جلاله په دې هکله په خپل سپېځلي کتاب کي داسي فرمایلي دي:

)إِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ (۴۵) وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ الصَّالِحِينَ (۴۶) قَالَتْ رَبِّ أَنَّى يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ قَالَ كَذَلِكِ اللَّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ إِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ) آل عمران /-۴۵، ۴۷(

}کله چې ملایکوویل:اې مریمې!الله تاته له خپل لوري دیوې کلمې زېرې درکوي،دهغه نوم به مسیح عیسی دمریم زوی وي،په دنیااوآخرت کي به مخور(دعزت څښتن)وي اوالله ته له نږدې کسانوبه وي،دخلګوسره به په زانګوکي هم خبري کوي اوپه زړښت کي به یې هم کوي اوله نېکانوڅخه

به وي.(مريم چي كله دا واورېدل)دې وويل:پروردګاره!زمازوی به له کومه شي؟ماته خوچالاس
)قدري هم) نه دی راوړی؟ويې فرمايل:همداسي(به يې!) الله چي دغه اراده وکړي،پيداکوي يې،کله هم چي دکوم کارکولوپرېکړه وکړي نوصرف دومره ورته وايي چي وشه نوهغه کيږي{
په دې آيت مبارك كي دملائكوله لوري حضرت مريم عليهاالسلام ته دازېرى ذكرشوى
چي له دې څخه به يوداسي ماشوم پيداشي چي يوعزتمنداوسترشخصيت به وي.
مشهورقول دادی چي دلته له ملايکوڅخه مرادجبرائيل عليه السلام دی(تفسيرروح المعاني ص:۲۱۲ج۳کذافي تفسيرالمنيروغيرهمامن التفاسير(
الله جل جلاله فرمايي:
هغه وخت يادکړه کله چي ملايکو(حضرت مريم عليهاالسلام ته داهم)وويل:اې مريم!الله جل جلاله تاته له خپل لوري ديوې کلمې زېرى درکوي،)يعني ديوه ماشوم دپيداکېدلوزېرى درکوي چي
له پلارپرته به له تاڅخه پيداکيږي.
له دې کبله ورته دالله کلمه ويل کيږي چي پرته له پلاره پيداکيږي اوالله ته يې په نسبت کېدلوکي دده يوخاص عزت اوشرافت دی.
تخلص يې مسيح دی،نوم يې عيسی دی اوابن مريم يې کنيه ده.
مفسرينوليکلي دی چي:مسيح په اصل کي مشيحاوو،دادعبراني ژبي لفظ دی،دمبارك په معنی سره دی،عربي ته يې چي رانقل کړ،نومسيح شو.
لکه موسی چي په اصل کي موشاوو،داهم دعبراني ژبي لفظ وو،خوچي عربي ته رانقل کړل شونوموسی ترې جوړشو.
دجال ته هم مسيح ويل کيږي خوهغه په اتفاق دټولوعلماووعربي لفظ دی دهغه دتسميې وجه داده

چې مسيح دزائلېدلواوختمېدلوپه معنى سره دى، له دجال څخه ټول عمده اوښه خويونه ختم کړل شوي دي نوځکه ورته مسيح ويل کيږي
اوعيسى په اصل کي ايشوع وو،داهم دعبراني ژبي لفظ دى،ايشوع په عبراني کي دسردارپه معنى
سره دى،خوچې عربي ته رانقل شونوله ايشوع څخه عيسى شو.
.(تفسيرمعارف القرآن(للشيخ کاندهلوي رحمه الله)وغيره من التفاسير(
علامه ابن کثيررحمه الله ليکي چې :مخکينيوځينو(عالمانو)ويلي دي چې مسيح(عيسى عليه السلام) په مسيح سره ځکه ونومول شوچې دده سياحت اوگرزېدل په زمکه کي زيات وواوچاداسي ويلي دي چې له دې امله ورته مسيح ويل کيږي چې دده قدمونه هوار وو،ژوروالى پکي نه وواوچاداسي ويلي دي چې ځکه ورته مسيح ويل کيږي چې ده به مريض مسه کړونوالله پاك په حکم سره به روغ شو(تفسيرابن کثيرص:۳۹ج۲(
علامه زهيلي ليکلي دي چې:چې مسيح عليه السلام دظلم دپورته کولو(ختمولو)،خلگوته دلارښوونې اودرښتينې
وروروليِ دخورولولپاره راغلى وواودده بادشاهي روحاني وه جسدي نه وه اومسيح ددوى(بني اسرائيلو)په وړاندې دباچاتخلص وو،نودادستاينې له القابوڅخه دى.

اوامام قرطبي رحمه الله وايي چې ددې معنى
صديق(ډېرښتينى)ده.(تفسيرالمنيرص: ۲۳۰ج:۳(
الله جل جلاله حضرت عيسى عليه السلام دمريمي په زوى سره يادکړى دى،په داسي حال کي چې په دغوخبروسره مخاطبه په خپله حضرت مريم عليهاالسلام وه،په دې کي يوخودې خبري ته اشاره ده چې دى به له پلارپرته پيداکيږي ځکه قانون دادى چې داولادنسبت دپلارطرف ته کيږي،نه دمورطرفته،خودلته چې مورته منسوب شوى په دې کي اشاره ده چې دى به بې پلاره پيداکيږي.
اوبل ددې لپاره په دې نسبت سره يادشوى چې دده دغه صفت دخلگوتل په يادواوسي چې په دې کي دالله پاك لوى قدرت ته اشاره ده اودهغه

چاردهم پکې دی څوک چې دی خدای بولي،(ځکه دی له مریمي زېږېدلی دی څوک چې له یوه انسانه وزېږی هغه خدای نشي کېدای)همدارازپه دې کي دحضرت مریم علیهاالسلام لویي مرتبې ته هم اشاره ده(چې دادیوه پیغمبرمورده) اوددې په دې کي عزت هم دی چې یولوی پیغمبردې ته منسوب وي .(تفسیرالمنیرملخصا(

مطلب دادی چې حضرت عیسی علیه السلام دالله پاك دقدرت یوه نمونه ده چې الله پاك پردې قادردی چې پرته له پلاره څوك پیداکړي لکه څنګه چې یې له پلاره پیداکوي همدارازپردې هم قادردی چې پرته له موراوپلاردواړویې پیداکړي لکه حضرت آدم علیه السلام چې یې پیداکړ.

وصلی الله علی نبینامحمدوعلی آله واصحابه اجمعین

د امام بخاري (رحمه الله) ژوند او اثار

د امیر المؤمنین في الحدیث، حجة المجتهدین او شیخ الاسلام امام بخاري)رحمه الله) اصلي نوم محمد او د پلار نوم یې اسماعیل دی، نوموړی د ۱۹۴ هق کال د شوال المکرم په ۱۳مه نیټه بخارا کي – چې داوسني ازبکستان یومشهور ښار دی – زیږېدلی دی، پلار یې ډیر متقي عالم ؤ، د احمد بن حفص(رح) په وینا دامام بخاري پلار (اسماعیل)چې ډیره شتمني یې په میراث پریښودله، د مرګ په وخت کي راته وویل چې : « زما د معلوماتو په اساس زما په مال کي یو شکمن درهم لاهم نشته » .ښایې همدا د حلالي نفقې برکت او لامل به وي چې خدای جل جلاله یې له زوی (امام بخاري رحمه الله)څخه ددین دومره لوی کار واخیست.

په ماشومتوب کي دامام بخاري له سره د پلار د شفقت سیوری پریوت، خو مور یې خورا پرهیزګاره او هوښیاره ښځه وه خپل زوی یې په ډیره ښه توګه وپاله ان چې بې اوداسه یې شیدې لا هم نه ورکولې، کله چې محمدبخاري د زده کړې جوګه شو مور یې د لیك او لوست په موخه مکتب کې داخل کړ او خپل یتیم زوی یې په دې هیله د علم زده کړې ته

وقف او هڅاوه چې خدای جل جلاله به ددين ښه خدمت ځني واخلي .امام بخاري د لسو کالو په عمر ؤ چې د مبارکو احاديثو شوق مکتب ځينې پرېښود او په مختلفوځايونو کې يې د احاديثو د زده کړې لټه پيل کړه.
امام بخاري په شپاړس کلنۍ کې د خپلې مور او ورور (احمد) سره مکې مکرمې ته ولاړ د حج د اداکولو وروسته يې مور او ورور بيرته بخارا ته ستانه شول، خو امام بخاري هلته پاته شو او په حرمينو شريفينو کې يې د احاديثو او نورو علوموزده کړې ته ادامه ورکړه، امام بخاري د مبارکې روضې څنګ کې د (قضيا الصحابة والتابعين اوالتاريخ الكبير)په نومونو دوه کتابونه تصنيف کړل او په حرمينو کې تر دوه کاله تېر ولو وروسته بيرته بخارى ته راستون شو.
امام بخارى د علم په طلب پسې بلخ، مصر، بغداد، کوفې، حجاز او..... ته سفرونه وکړل او د مختلفو استادانوڅخه يې د احاديثو او نورو علومو شتمني تر لاسه کړه، حافظ ابن حجر په فتح الباري کې د امام بخاري د استادانو شمېر)۱۰۸۰ (ښوولی دی.
امام بخاري ډېر ذکي او د پياوړې حافظې څښتن ؤ، په شپاړس کلنۍ کې يې د ابن المبارك او وکيع کتابونه ياد کړل، محمد بن حمدويه د امام بخاري له قوله ليکي چې : دامام بخاري دوه لکه غير صحيح او يولك صحيح احاديث ياد وو او د بخاري شريف احاديث يې د شپږ لکه حديثونو څخه انتخاب کړي دي.
د بخاري استاد قتيبه بن سعيد وايې : ماچې په خپل عمر کې څومره راويان اوفقهاء ليدلي د امام بخاري غوندې پوه او ذکي سړی مي نه دی پکې ليدلی، د نومیالومحدثينو وينا ده چې : تر اسمان لاندې دخدای جل جلاله پر ويړه ځمکه يې د امام بخاري په شان په احاديثو پوه شخص نه دی ليدلی، لوی عالم محمد بن ابي حاتم الوراق وايې :« يوه شپه مي خوب ليده چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم مخکې امام بخاري تر شا ورپسې روان وي له کومو ځايونو څخه چې انحضرت صلى الله عليه وسلم قدم پورته کړي بخاري پرهماغه ځای پښه کښېږ دي. «

د امام محمد بن اسماعيل (رحمه الله) تر ټولومعتبر او مشهور تصنيف (صحيح بخاري) د امت دعلماوو په اتفاق سره د ځمکې پر مخ تر قران کريم وروسته تر ټولوکتابونو اصح کتاب دی، شاه ولی الله دهلوی (رحمه الله) وايې چې : تر جامع بخاري مخکې داحاديثوکتابونه په ځلورو بيلابيلوفنونو لکه : احکام، تفسير، سيرت او زهد کې ليکل شوي وو، خو امام بخاري همدغه ځلور واړه فنون په جامع بخاري کي په مرفوع او مسند روايتونوسره راجمع کړي دي.

د صحيح بخاري د ليکلو په اړه خپله امام بخاري وايې چې : الجامع (بخاري شريف) مي د شپږ لکه احاديثو څخه په شپاړس کاله موده کي تصنيف کړ او د ځان او خپل رب جل جلاله تر منځ مي حجة قايم کړ، محدثينو ټول احاديث پر اتو برخو ويشلي دي (عقايد، فتن، احکام، تفسير، سير،رقاق، مناقب اوتاريخ) په کوم کتاب کي چې يادې شوې حصې جمع شوې وې جامع ورته ويل کيږي، په بخاري شريف کي همدغه اته واړه برخي را يو ځای شوي دي نوځکه جامع بخاري بلل کيږي .امام بخاري (رحمه الله) وايي ما چې به په خپل جامع بخاري کي کوم حديث جمع کاوه لومړی به مي غسل وکړ، بيا به مي دوه رکعته نفل او استخاره وکړه او وروسته چې به مي د همدې حديث په صحت او ثقه والي باندي ښه يقين شو بيا به مي وليکه.

ابن حجرعسقلاني د جامع بخاري ټول احاديث (۷۳۹۷) ګڼي البته ځيني علماء د دې شمېر سره څه اختلاف لري، د صحيح بخاري غير تکراري احاديث (۱۷۶۱)دي، په بخاري شريف کي دکتاب په نامه عنوانونه لکه : کتاب العلم او کتاب الايمان)۱۶۰ (دي او د بابونو شمېر يې (۳۴۵۰) ته رسيږي.

په بخاري شريف باندي ډير زيات شروحات ليکل شوي چې ډيرې زياتې مشهورې شرحې يې عبارت دی د حافظ ابن حجر د فتح الباري، د حافظ بدرالدين عيني د عمدة القاري او د شاه انور شاه کشميري دفيض الباري څخه.

امام بخاري (رحمه الله) د اصح الكتب (جامع بخاري) څخه علاوه لاندې نورتصنيفونه هم کړي دي.
تاريخ الكبير، تاريخ الاوسط، تاريخ الصغير، بر الوالدين، الادب المفرد، خلق افعال العباد، جزء رفع اليدين، جزء قراءة خلف الامام، كتاب الضعفاء، جامع الكبير، كتاب العلل، مسند الكبير، تفسيرالكبير، كتاب الاشربة، كتاب الهبة، اسامي الصحابة، كتاب الفوائد، كتاب الوحدان، كتاب المبسوط اوكتاب الكني.
د امام بخاري (رحمه الله) درس ته د لرو علاقو څخه خلك ورتلل او د علم تنده يې په بخارا کي د امام بخاري په درسګاه کې خړوبېده، ابن حجر عسقلاني د امام بخاري د شاګردانو په اړه ليکلي چې : « دامام بخاري څخه دصحيح بخاري درس (۹۰) زره شاګردانواوريدلی دی » . د امام بخاري (رحمه الله) د ذکاوت او علميت خبر تر ډېرو لرې سيمو او حکامو پورې هم رسيدلی ؤ.
په بخارا کي دعباسي خلافت نائب امير خالد بن محمدالذهلي د امام بخاري څخه د هغه په قصر کي د احاديثو د تدريس غوښتنه وکړه خوامام بخاري يې غوښتنه رده کړه او په ځواب کې يې ورته وويل چې : زه علم نه خواروم او دا د علم سپکاوی دی چې د باچاهانو دربار ته يې ور وړم، وروسته بيا والي ځني وغوښتل چې د کورنۍ غړو ته يې د تدريس يوه ځانګړې حلقه جوړ ه کړي چې نورو طالب العلمانو ته پکې د ګډون اجازه نه وي؛ امام بخاري (رحمه الله) د والي دا غوښتنه هم رد کړه او قاصد ته يې وويل : دا چې ځيني خلك به مي په درس کې حاضر وي او نورکسان به بيازما په درس کې د ګډون اجازه نه لري جائز نه دي، که څوك دعلم شوق لري زما مسجد او کورته دي راشي او که زما همدا کار د والي په طبع برابر نه وي د تدريس مخه دي مي ونيسي چې د قيامت په ورځ دالله تعالى په دربار کي عذر ولرم.
له همدې کبله د بخارا والي امام بخاري (رحمه الله) ته د بخارا څخه د وتلو امر وکړ، د سمرقند خلکو د امام بخاري (رحمه الله) څخه هلته د ورتللو غوښتنه وکړه امام بخاري سمر قند ته په لاره څه وخت د خرتنك په

کلي کي تم شو، وروسته چي يې سمر قند ته سفر پيل کړ د ضعف له امله يې له خلکوڅخه په همدې ځای کي د پاتې کيدو عذر وغوښت، په همد يې وخت کې امام بخاري دعا وکړه چي : « يا الله ! ستا دا پراخه ځمکه راباندي تنګه شوه روح مي د رقبض کړه « !وروسته يې ارام وکړاوپه همد يې حالت کي يې روح له تنه والوت

.

انا لله وانا اليه راجعون!

امام بخاي (رحمه الله) د څه کم ۶۲ کالو په عمر په ۲۵۶هجري قمري کال له دې فاني نړۍ څخه و دارالبقاء ته رحلت وکړ، په جنازه کې يې د سمرقند او نورو سيمو ډېرو زياتو خلکو ګډون وکړ او د سمرقند څخه ۶ ميله لرې د خرتنك په کلي کې خاورو ته وسپارل شو د مقبرې څخه يې څو ورځې د مشکو بوی ولاړيده.

مأخذونه : د ليکوال يادښتونه، دفضيلت پګړۍ دمولوي محمد عمر خطابي تصنيف اوانټرنيټي منابع

امام اعظم ابوحنيفه رض

در اوستا الفاظ هرودات که همان "خرداد"امشاسپند باشد، و همچنین امردات به معنی بی مرگ که همان "مرداد" امشاسپند است به چشم می‌خورد.

دهخدا در لغت نامه خود نیز مطلبی در این زمینه نقل کرده‌است که بی شباهت به معنی اخیر نیست .

و عجیب اینکه: بعضی هاروت و ماروت را دو مرد از ساکنان بابل دانسته‌اند و بعضی حتی آنها را به عنوان شیاطین معرفی کرده‌اند در حالی که آیهٔ مربوطه در قرآن به وضوح این مسایل را رد می‌کند.

+ نوشته شده در جمعه بیست و ششم خرداد ۱۳۹۱ساعت 12:5 توسط خواجه نصیر | آرشیو نظرات

دپنداوعبرت اسلامي کيسې

غوره خبرې

- په قرآن کريم کې دانسان دپيدايښت پراوونه سورت المومنون آيت ۱۲-۱۴ موړانسان له سوچه خټې څخه جوړکړ.بياموپه يوه محفوظ ځای کې داوبويوځاځکی وګرخاوه. بياموهغه ځاځکې ته دوينې ديوې ټوټې بڼه ورکړه. بياموديوينې ټوټه غوښه وګرځوله .بياموديټوټه غوښه هډوکې جوړکړه. بياموهډوکې ته غوښه وړواغوستله. بياموهغه يومخلوق جوړکړ لکه ادم ع چې دخاورې نه جوړشوی دی
- صحيح مسلم اوصحيح بخاري کې ليکلې دي چې دادم ع قد شپيته ګزه دی يانې تقريبا ديرش متره کيږي
- په سورت الانبيا ۸۰ آيت شريف کې الله ج کسب اومسلك دانسان کمال بللی دی لکه چې داودع به زغرې جوړولي
- محمدص ويلي دي: داسلام دين داسانی دين دی اودوس سره سم اوتوان سره مسلمانان مکلف شوي دي څوك چې په خپل ځان باندې دين سخت کوي هرومروبه مغلوبيږي اونشي کولای چې بياورته دوام ورکړي
- په حديث شريف کې خلکوته لارښوونه کيږي چې داسلام دين دتبليغ په تړاودخلکوسره په نرمۍ چلندوکړئ لکه چې په سورت الطه ۴۳ آيت شريف کې راغلي دي: موس ع اوهارون ع ته لارښوونه شوې ده چې دواړه فرعون ته ورشی اوورته په نرمۍ سره ويناوکړئ،يقيناچې هغه

طوغيان غوره کوي ،ښايي چې نصيحت قبول کړي اويااله غذاب څخه وويريږي

- پيغمبرص فرمايلي دي: په لوح محفوظ کې دمخلوقاتوتقديرونه دځمکې اواسمانونودپيدايښت څخه پنځوس زره کاله پخوالیکلي شويدي
- سلام اچول سنت دی اوځواب ورکول يې واجب دی
- سورت العمران ۱۰۴ آيت :په تاسوکې دي ځينې خلك هرومروچې دنيکي لوري ته بلنه وکړي په ښوامروکړي اوله بدومنعه وکړي کوم خلك چې داکارووکړي هغوی به بريالي شي
- حديث شريف وايي چې دعلم زده کړه په هرمسلمان نارينه اوښځينه فرض ده لومړی فرض عين لکه چې الله ج بنده ګان دهغي پرزده کړې مکلف کړي دي دويم فرض کفايي لکه ساينس اونورعلمونه که چېرې په يوه ټولنه کې ځينې کسان دطب علم په غاړه واخلي نوفرضيت يي دنورولە ذمې څخه ساقطيږي
- سورت الحج ۳۸ آيت دهجرت دويم کال کې مسلمانان په مدينه کې ميشت ووچې دجهاداجازه دځان ددفاع په خاطرورکړل شوه
- دجهادډولونه : دعلم اوزده کړي جهادته مسلمانان ضرورت لري ،ددعوت جهاد چې داسلام دين خلکوته تشريح کوي درييم مالي جهاد مسلحانه جهاددجنګ له لارې جهاددکافرانوپمقابل کي،سياسي جهاد
- سورت السبا دريم آيت : الله په ټولوپټوپوه دي دهغه نه ديوه بڅړي په اندازه کوم شی نه په اسمانونوکې پټ دی اونه په ځمکه کې نه له بڅړي (اټوم) څخه غټ نه له بڅړي څخه کوچنی مګرهرڅه په يوه کتاب مبين کې درج دي

- ديهودانوپه کتاب کې ليکل شوي دي چې خداى ځمکه په يکشنبه اودوشنيبه پيداکړه،په سې شنبه يي غرونه پيداکړه،په چهارشنبه يي اوبه اوونې پيداکړي،اسمان يي دپنج شنبې په ورځ پيداکړاودجمعي په ورځ يي ستورې ،لمر،فرشتي اودشنبې په ورځ يي استراحت وکړ
- په قرآن شريف کې راغلي دي چې کن فيکن يانې چې الله وغواړي پيداشه نوهمغ شى پيداکيږي اودومره وخت ورته په کارنه دى لکه چې ورځي اوساعتونه وربانديې تيرشي .
- په اسلام کې ژبنې،مذهبي کلتورې نژادي اوقومي تعصب حرام دى
- الله فرمايي : مورږپه بدوحالاتوکې اوپه ښوحالاتوکې ستاسې آزمينښت کوو يانې کله چې مال ،صحت ولرى اوکله چې غريب اوناروغ ياست
- پيغمبر فرمايلي دي:ديومسلمان په بل مسلمان باندې شپږحقونه دي ۱- سلام اچول۲- ميلمستياقبوله کړه۳- کله چې نصيحت وغواړي ورته سلاح ورکړه ۴- کله چې وپرنجيږي نوورته درحمت الله دعاوکړه ۵- کله چې ناروغ شي پوښتنه يي وکړه اوکله چې مړشي نودجنازي لمانځه ته يي ورشه
- دالله ج نهه نوي نومونه دي په حديث شريف کې راغلي دي چاچې حفظ کړل په ډيراحتمال سره به جنت ته ننوځي خوپل يوه حديث کې راغلي دي چې دالله نومونه دنهه نوى څخه هم ډيردي اويوازي الله ج ته مالوم دى
- قرآن دلغت له مخې دمصدرکلمه ده اويوځاى کول اودتلاوت په معنې دى په اصلاح کې قرآن کريم دالله ج کلام دى ايوسل اوڅوارلس سورتونه لري. شپږزره آيتونه لري ،زرآيتونه دساينس په هکله دي
- دغوسې په وخت کې بايدسړي لمړي اعوذبالله من الشيطن الرجيم ووايى ورپسې اودس وکړي ،دوه رکعت نفل وکړي اوورپسې تازه هواته ووځي په همدې توګه شيطان شړل کيږي
- حديث شريف: په ټولوژوندپوچې په ځمکه ژوندکوي رحم وکړئ

- ديوحديث پراساس دپيغمبرانوشميرلږخه يولك اوځلرويشت زروته رسيږي اودهدايت اولارښوونې لپاره رالیږل شوي دي
- په قرآن شريف کې د۲۵ پيغمبرانونومونه يادشوي دي
- داسلام ددفاع لپاره علم اوجهاد دوه مهمې وسيلې ګڼل شوې دي. سورت البقر۲۶۹ آيت شريف دعلم حاصلول ارزشت اوغوره والی دکفايي جهاددارزښت اوغوروه والي سره برابرټاکل شوی دی
- دسيرت تعريف : دمحمد ص دژوندحالاتو،کړنو،تاريخي پېښو اوپه هغه پورڑ اړونده موضوعاتوته ويل کيږي
- سيرت نبوي دحديثودعلم سره تړاولري
- کله چې مسلمانان په مکه کې لږوو نودجهاداجازه نه وه صادره شوي خوکله چې مسلمانان په مدينه منوره کې ځای پرځای شول نوالله ج دجهادحکم نازل کړترڅودخپل مال،ځان اووطن څخه دفاع وکړي
- په آيت شريف کې دجهادمشروعيت دټولو انسانانو اوټولو اديانود دحقوقوڅخه ددفاع لپاره ذکرشوی دی
- قرآن کريم دروژې په مياشت کې نازل شوی دی چې دبشرلپاره تل اوهروخت ترپايه هدايت دی اودسمې لارې ښوونکې اودحق اوباطل بيلوونکی دی سورت البقر۱۸۵
- قرآن کريم هم دننبوي سيرت يوه برخه ده ،همدارنګه نبوي سنتونه اوحديثونه سيرت يانې نبوي تاريخ دی
- قرآن شريف يونړيوال کتاب دی اودځانګړوخلکواوځانګړوډلولپاره نه دی نازل شوی،دهغه حفظ کول،په هغه پوهيدل،دهغه تبليغ اوتطبيق دټولومسلمانانودنده اورسالت دی
- دقرآن شريف نهه ويشت سورتونه په مقطعه توروپيل کيږي. مقطعه يانې يوله بل نه بيل تورې دي اوپه ماناواسراريي يوازې الله ج اومحمد ص ته مالوم دی

- کله چې داحد په غزاکې مسلمانانوته ډیرزیان ورسیدنوالله ج خپل پیغمبرته امرکوي چې دخپلویارانودتیروتنې څخه تیرشه اوپه راتلونکي وخت کې دخپلواصحابانوسره مشوره وکړه (وامرهم شورابینهم)
- دین په اصطلاح کې دانسانانودژوندهغه نظام دی چې اعتقادي ،فکري،اخلاقي اوعملي اړخونه یي په برکې نیسې
- دنوح ع په وخت کې دبتانوعبادت پیل شو. دائکه چې دنوع پنځه تنه متقي کسان مړه شوه اوخلك ډیرورپسې خفه وو.یوه سړي دوی ته وویل . ایادهغوي متدینومړشووڅیرې تاسوته دتسکین په موخه دلرګیوڅخه جوړې کړم چې دلرګیوبتانوپه لیدوسره تاسوته آرامي حاصله شي ؟دوی وویل که کولای شي داکاروکړه. دڅلورمې پیړی خلکوعقیده داسې وواوښته چې که موږددې نیکواوصالحودڅیروعبادت وکړونوالله ته به زموږدنږدې والي سبب وګرځي اودوی به دالله په نزدزموږشفاعت وکړي،بنااددغومجسمواوشکلونوعبادت یي پیل کړاوراتلونکونسلونوهم دي کارته دوام ورکړ
- دابراهیم ع په زمانه کې اودهغه نسل کې ابراهیمي دین پیروان وو. اوترڅوپیړیوپورې یې دیوه الله بندګي کوله
- خوبیاوروسته دبتانوبندګي شروع شوه اوفکرکیده چې بتان
- که څه هم قران شریف په محمدص نازل شوی دی خونه یوازې داسلام امت لپاره بلکې دټول بشرلپاره دهدایت کتاب دی دائکه چې دقران امرونه اوهدایتونه دتل لپاره اعتبارلري آن دقیامت تروڅې پورې
- محمد ص وایي زه تاسوته چالینج درکوم ای کافرانو،هغه څوك چې په قرآن ایمان نه راوړي نه ولیکی تاسوای کافرانویوآیت دقران شریف په شان چې دوزن ،حکمت اوعلم سره ورته وي اوخلك وربانديې ایمان راوړي

- **البرت اينشټيايين نامتونړيوال فزيك پوه ويلې دي : مذهب پرته له ساينې علوموڅخه ړوندی اوسيا ينسي علوم پرته له مذهبه شل دی**
- په قران شريف کې اضافه له شپږزره آيتونه شتون لري چې دهغوی څخه يوزرآيتونه دساينس سره تړاولري
-
- نبي اکرم فرمايلي دي: مکلمل مسلمان هغه څوك دی چې دهغه له لاسه اودخولې څخه نورمسلمانانوته ضرروه نه رسيږي اوپه امن کې وي
- اعمال په نيت پورې اړه لري هغه څه چې مسلمان ورته نيت وکړي الله ج هم مرسته ورسره کوي
- بې بې خديجه رض دآيت سورت العلق دنزول څخه وروسته دخپل نزدپسرعمودخود،ورقه بن نوفل ،برد. ورقه مردې مسيحي بود،انجيل رابه لسان عبري مينوشت وبزرګسال ونابينابود. خديجه به وی ګفت: ای پسرعمو! ازبرادرزاده ات (محمد) بشنوکه چې ميګويد. .... بعداً ورقه بن نوفل ګفت: اين همان فرشته است که خداوندبرموسی ع فروفرستاد. پيامې راکه تواورده اي هيچ ديګرپيعامبرنه اورده است بعدازچندروزورقه بن نوفل مرد
- بعدازنزوال هرآيت که جبرييل وحې مې اورد رسول ص نخست ګوش فراميدادوپس ازبازګشت جبرييل آيات راانګونه که نازل شده بود،تلاوت ميکرد. اوورپسې به يې ترخپله وسه پورې هڅه کوله چې عملي يې کړي ترهغه مهاله چې به بيايوبل آيت نازل کيدلو
- ابوسفيان بن حرب وايي چې زه دروم پادشاه هرقل ځانته وروغوښتم اودمحمد ص په هکله يې راڅخه هراړخيزمالوما ت ترلاسه کړ

نه چلیږي!

حکیمانو او پوهانو ویلی دي چی نن دغه شیان هیڅ نه چلیږی :
لومړی ـ د ناپوهانو په وړاندي د هوښیارانو دلیل ؛
دوهم ـ د شتمنو په ناسته کي د بیوزلو او نیستمنو خبره ؛
دریم ـ د خیالاتو په نړۍ کي د چا حکومت ؛
څلورم ـ د ظالم په وړاندي د مظلوم برهان ؛
پنځم ـ د مرګ په وړاندي د چا حکمت ؛
شپږم ـ د تقدیر په وړاندي د چا تدبیر .

هو ، دا ټول موارد ترخه حقایق دي . که د چا خوښه وی یا نه همداسی ده . که جاهلو او ناپوهو کسانو ته هر څومره دلایل ووایو ، نه یې منی . که یې ومنی نه یې مراعاتوی . دا ځکه چی له خپل ضد او خپل نظر څخه نه پر شا کیږی ، یعنی جاهل دی ! همداسی د شتمنو په مجلس کی مسکین تول او دروند والی نلری او نه یې خبره اهمیت لری ؛ ظالمان د مظلومانو هیڅ دلیل او خبره نه اوری ؛ خو هغوی ټول باید متوجه اوسي چی د تقدیر په وړاندی یې تدبیر نه چلیږی ، ژر یا وروسته به د الله تعالی د عذاب او عتاب سزاوار ګرځی او د خپل تکبر ، غرور ، ظلم ، حق تلفی او زورزیاتی ځواب به وایی او د بې وسی او ناکامی په غیږ به ورځي .

- دالله ج خوښي اورضادموراوپلارپه خوښې کې ده
- سلام اچول سنت دي
- کوشش وکړوترڅودآیتونومعناګانې هم زده کړو
- دایمان ارکان اووه دي (ایمان مکمل)
- دینې زده کړې درې برخې لري عقیده،فقه اواخلاق
- ظاهري پاکې اوحکمي پاکې
- دلمانځه داخلي فرضونه اووه دي لکه قیام رکوع سجده ... اوخارجي فرضونه اته دي لکه دلمانځه نیت ،اودس ،وخت
- استنجاسنت ده؟

- محمدص ويلې دي څوك چې دمشرانواحترام نه كوي اوپه كوچنيانورحم نه كوي زماله ډلې څخه نه دي يانې مكمل مسلمان نهدی

الله تعالى فرمايلي دي: وَالصُّلْحُ خَيْرٌ او سوله ډيره ښه ده.

ښه انسان هغه دی، چې د سولې د ټينګښت لپاره كوښښ كوي.

زمونږ پيغمبر حضرت محمد صلى الله عليه وسلم داسې فرمايلي دي: څوك چې زمونږ په وړو شفقت مهرباني ونه كړي او د لويانو درناوی ونه كړي زما له ډلې څخه نه دی. يعنی زما كامل اوښه امتي نه دی له دې امله كله چې لويان خبرې كوي

- دحديث ډولونه : متواترحديث،مشهورحديث اوآحادحديث
- دجعفري مذهب

- جبرايل ع ،ميكائيل ع،اسرافيل ع اوغزرائيل ع ملك الموت
- آسماني كتابونه عبارت دي له:
- زبورپه داودع ،تورات په موس ع انجيل په عيسي ع اوقران په محمد ص نازل شوی دی
- پيغمبران له لويي اوكوچنی ګناه څخه پاك دي
- حقوق په دوه برخوويشل شوي دي
- حقوق الله اوحقوق العباديانې دبندګانوحقوق په بندګانوباندې ددواړوحقوقواداء كول په بندګانوباندې فرض دی

- نبوت په دې ماناچې الله ج دانسانانودلارښوونې لپاره پیغمبران رالیږلي دي. دبشردپیدایښت څخه تراوسه پورې یولك اوڅلرویشت زره پیغمبران رالیږلي دی
- محمد ص ویلي دي زمادمړینې وروسته تاسوته دوه قیمتي شیان پریږدم دالله ج کتاب اوزماعترت (اهل بیت)
- امامان هغه څوك دي چې دپیغمبرانوڅخه وروسته داسلام دین دتبلیغ اوپراختیالپاره دنده لري
- دوولس امامان شته دي مورږدامام جعفرصادق پلویان یو

اسلامي پوهه

ساینس پرته له مذهب شل دی
مذهب پرته له ساینس ړوند دی
جرمنی فزیك پوه البرت اینشټاین

- قران شریف دساینس کتاب نه دی بلکې دښکاره نښې نښانې (آیتونو) کتاب دی
- په قرآن شریف کې اضافه له ښپږزره آیتونه شته دي
- geocentric concept : دقبل میلادڅخه دمخه عیسوي کلیسا دبایبل په حواله داسې عقیده درلودله چې دکائیناتوپه مرکزکې ځمکه موقعیت لري اونورټول ستورې اولمراوګالاکسي دځمکې په شاوخواراګرځي.
- محمدص ته لوی پیغمبرهم ویلای شوځکه چې نن ورځ دیوملیاردوزیات خلك داسلام دین ته دعوت شوي دي دادمحمدص ښه صفتونه اودالله ج غوښتنه وه

له دغه نظم او يووالی څخه څه شی زده کوو؟ د نړۍ په موجوداتو کې نظم پردې دليل دی چې د نړۍ پيدا کوونکی يو دی، که چيرې په نړۍ کې له يو الله تعالی څخه پرته نور خدايان هم وای نو دهغو تر منځ اختلاف پيدا کيده اودنړۍ نظم به ګډوډيده . د هغه پيدا کوونکی او اداره کوونکی يوازې الله تعالی دی. الله تعالی هم د نړۍ د پيدا کوونکي د يووالي لپاره په قرآن کريم کې د موجوداتو په نظم دليل نيولی دی، لکه چې فرمايلی يې دی:

(لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا) د انبياء سورت ۲۲ آيت.

ژباړه: که چيرې په ځمکه او آسمان کې غير له الله تعالی څخه بل معبود موجود وای نو خامخا دواړه به ګډوډ شوی وو.

نو څرنګه چې په نړۍ کې نظم موجود دی او ځمکه او آسمان ويجاړ او خراب شوی نه دي نو معلومه ده چې يو الله تعالی موجود دی او پرته له هغه څخه بل الله وجود نه لري.

د نبي کريم(ص) د شخصيت د څانګړتياوو له جملې څخه يو هم د نبي کريم(ص) کوښښ دی. حضرت محمد(ص) الهي او لوړو موخو ته د رسيدو لپاره ډيره پابندي او کوښښ کولو. د کوښښ په باره کې دنبي کريم(ص) دغې کيسې ته پاملرنه وکړئ: د مکې مشرکانو چې کله د نبي کريم(ص) د تبليغاتو په مقابل کې خپل هر ډول کار بې ګټې وليد او په دې يې باور شو چې هيڅکله د اسلام د پرمختګ او پراخوالي مخه نه شي نيولی. دوی داسې خيال وکړ چې نبي کريم(ص) به هم زموږ په څير غواړي چې مال او دنيوي مقام تر لاسه کړي تصميم يې ونيو چې هغه (ص) ته پيسې او مقام مخکې کړي تر څو له خپلو تبليغاتو څخه لاس واخلي. نو دمکی څو تنه قومي مشران د نبي کريم(ص) تره، ابوطالب ته راغلل او ورته ويې ويل، ای ابو طالبه! محمد ته ووايه که مال او دولت غواړي دومره دولت به ورکړو چې په قريشو

کې له ټولو څخه مالدار شي. او که دبدبه او مقام غواړي د حجاز حکومت به دده په اختیار کې ورکړو. هره غوښتنه چې لري موږ تیار یو چې غوښتنه یې پوره کړو، خو د ټولو په بدل کې له ده څخه دا غوښتنه لرو چې له خپلې ادعا څخه لاس په سر شي او زموږ له بتانو سره کار ونه لري. ابو طالب د مکې د قومي مشرانو غوښتنې نبي کریم(ص) ته وړاندې کړې نبي کریم(ص) د هغوی په ځواب کې و فرمایل:

«په الله تعالی قسم کوم که لمر زما په ښي لاس او ځلانده سپوږمی زما په چپ لاس کې راکړي، یعنې د نړۍ ټول توان، دولت او ښایست ماته را وښیي بیا به هم له دغه الهي ماموریت څخه تر هغه لاس وا نه خلم تر څو په دې لاره کې برلاسی او یا شهید شم. کاکا جانه! دغو خلکو ته ووایه چې د ذکر شویو وړاندیزونو په ځای دي یوازې (لااله الاالله) ووایي تر څو په دنیا او آخرت کې بریالي شي.

د مکې بت پرستانو چې کله ولید ، چې نبي کریم (ص) د دوی غوښتنو ته هیڅ ارزښت ورنه کړ نو په نبي کریم(ص) او دهغو په وفا دارو ملګرو یې خپلو ظلمونو ته زور ورکړ.

حضرت علي یاامام علي رض دابوطالب زوی اودنبې کریم ص دتره زوی اوزوم دی

مرستې د ارزښت په هکله لاندې کیسه په غور سره لولو:

امام حسن او امام حسین د کوچنیوالي په وخت کې ناروغ شول.

نبي کریم(ص) د یوې ډلې اصحابو کرامو سره د دوی پوښتنې ته راغی او له علی(رض) څخه یې وغوښتل چې دهغوی د جوړوالی لپاره څه شی په خپل ځان نذر کړي. امام علی، فاطمة الزهرا او فضې چې د دوی خدمتګاره وه دا یې په خپلو ځانونو نذر کړل، چې که حسن او حسین روغ شول نو دري ورځې به روژه نیسي. زیات وخت تیرنه شو چې دوی دواړه روغ شول دوی د خپل نذر د پوره کولو په نیت روژه ونیوله، د روژه ماتي په وخت کې یو غریب کور ته راغی او ویې ویل:

۵۳

"السلام علیکم یا اهل البیت رسول الله" یعني سلام دې وي پر تاسو ای دالله د رسول کورنۍ. د غریبانو له ډلې څخه یم، ماته خواړه راکړئ. دوی ټولو غریب سړی له خان څخه مخکې کړ او خپله ډوډۍ یې هغه ته ورکړه او په هغه شپه یې پرته له اوبو څخه نور څه ونه څښل.

په دویمه ورځ یې هم روژه ونیوله. د روژه ماتې په وخت کې یو یتیم کورته راغی او ډوډۍ یې وغوښتله. په هغه ورځ باندې یې هم خپله ډوډۍ هغه یتیم ته ورکړه او خپله روژه یې په اوبو ماته کړه. په دریمه ورځ یې هم روژه ونیوله. د روژه ماتې په وخت کې بندي کور ته راغی او ډوډۍ یې وغوښتله. په دغه ورځ باندې یې هم خپله ډوډۍ بندي ته ورکړه.

د دغې ورځې سبا ته کله چې سهار شو حضرت علی(رض) حسن او حسین تر لاس ونیول او د نبي کریم(ص) په حضور کې حاضر شول. کله چې نبي کریم(ص) دوی په داسې حال چې د لوږې څخه لړزیدل ولیدل، ویې فرمایل:

دغه حالت چې په تاسو یې وینم زغملی یې نه شم. نو نبي کریم(ص) له دوی سره یوځای پاڅیدل اود امام علی(رض) د کور په لور روان شول.

کله چې کور ته ننوتل و یې لیدل چې بې بې فاطمه(رض) په محراب کې په عبادت ولاړه ده، خو لوږې د دې مبارکې په څیره او مبارکو سترګو اثر کړی و. نبی کریم(ص) د دغو حالت له لیدلو څخه ډیر پریشانه شو. په دغه وخت کې د «انسان» د سورت دغه آیتونه نازل شول.

وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِيناً وَيَتِيماً وَأَسِيراً{٨} إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْـــهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُوراً{٩}

ژباړه: غريب، يتيم او بندي تـه ډوډۍ ورکوي. او وايي چې مونږ د الله تعالى د خوښۍ لپاره ډوډۍ ورکوو. له تاسې څخه يې اجر او ثواب نه غواړو.

څوک کولی شي چې د الله تعالى په يووالي باندې له قرآن کريم څخه يو دليل راوړي؟

د الله تعالى په يووالي باندې دليل:

لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا: (الانبياء سورت ٢٢ آيت)

ترجمه: (که چيرې په ځمکه اوآسمان کې پرته له الله تعالى څخه نورخدايان واى نو خامخا به يې نظام فاسد شوى وو) نو بې له شکه الله يودى ، شريک او مثل نه لري، هيڅ يو شى ورسره مساوي او مشابه نه دى اونه داسې څوک موجود دى چې له ده سره مقابله يا مخالفت وکړي.

د فقهې تعريف او ځينې اصطلاحات

موخه: د فقهې د مفهوم او اصطلاح ګانو (فرض ، واجب، سنت ، مستحب او مباح) پيژندل.

فقه په لغت کې د پوهې، زيرکى، معرفت او پيژندلو په معنى ده. او په اصطلاح کې د هغه شرعي علم څخه عبارت دى چې د روا او ناروا له پلوه د مکلف انسان د فعل په اړه خبرې کوي.

روا عملونه په لاندې ډول دي:

مکي کافرآنو داسې فکرکاوه چې اوس به محمد صلى الله عليه وسلم له دوى څخه انتقام اخلي خو حضرت محمد صلى الله عليه وسلم داسې وفرمايل اى قريشو الله تعالى له تاسې نه د جاهليت خويونه او په پلرونو ، نيکونو ويارهبدنه ايسته کړه تاسې د آدم اولاد او آدم له خاورې نه پيدا شوى دى . بيا يې د سورت حجرات ١٣ آيت تلاوت کړ چې اى خلکو مونږ تاسې له يو نارينه او يوې ښځې څخه پيدا کړي يئ ، او په طايفو او قبيلو مو ويشلي ياست، تر څو چې يو تر بله سره و پېژنئ يقينا د الله په وړاندې ستاسې ډېر عزتمن هغه دى چې له خدايه ډېر وېرېږي .

پيغمبر صلى الله عليه وسلم دمکي خلکو ته وويل څه فکر کوئ چې زه به له تاسې سره څه و کړم ؟ هغوى وويل ښه سلوک ، مهربان ورور او د مهربان ورور زوى يي. ويې فرمايل نن پرتاسې څه مؤاخذه نشته خئ لاړ شئ ټول ازاد يئ...

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ دحجرات سورت آیت ۱۰

ترجمه بیشکه چې مؤمنان ټول سره وروڼه دي نو پس سوله او جوړه کوئ تا سې په منځ د وروڼو خپلو کې.

د اسلام سپیڅلي دین مور ته لارښوونه کړې ده، چې په فردي او ټولنیزو چارو کې یو دبل سره مشوره وکړو. په قرآن عظیم الشان کې یو سورت دشوری په نامه سره نومول شوی دی. او په کې د مؤمنانو حال داسې بیانودل شوی دی چې یو له بل سره مشوره کوي. (وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ . آل عمران ۱۵۹ آیت.

کوم کارونه چې د خپلو انو، دوستانو، لویانو او پوهانو سره په کې مشوره شوې وي بنې نتیجې ورڅخه ترلاسه کیږي. الله تعالی خپل پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم ته امر کړی دی چې د خپلو اصحابو سره مشوره کوه . داسلام د صدر مسلمانانو په خپلو ټولو

د محیط په ساتنه کې هم باید و کړو په یوه مبارک حدیث کې لارښوونه شوې ده اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِیْمَانِ پاکي د ایمان جزء برخه ده همدا راز جوته. ده چې د ډیرو ناروغیو اساسي عامل اَو سبَب په ناوړه عادتونو لکه سګرټ، چلم، نسوار، چرس، تریاک شراب اونورو باندې عادت کیدل هم دي؛ نو د اسلام روښانه دین د داسې شیانو کارول ناوړه او حرام ګرځولي دي.په یو حدیث مبارک کې ذکر شوي دي عن ابن عمر قال قال رسول الله ص کُلُّ مُسْکِرٍ حَرَامٌ رواه مسلم

هرنیشه راوړونکی شی حرام دی.

۲ـ په ژبه او لاس چاته ضرر نه رسول:

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :

(اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ)رواه مسلم .

ژباړه : رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي:

کامل مسلمان هغه څوک دی چې د لاس او ژبې له ضرر څخه یې خلک په امن وي .

عامل اَو سبَب په ناوړه عادتونو لکه سګرټ، چلم، نسوار، چرس، تریاک شراب اونورو باندې عادت کیدل هم دي؛ نو د اسلام روښانه دین د داسې شیانو کارول ناوړه او حرام ګرځولي دي.په یو حدیث مبارک کې ذکر شوي دي عن ابن عمر قال قال رسول الله ص کُلُّ مُسْکِرٍ حَرَامٌ رواه مسلم

هرنیشه راوړونکی شی حرام دی.

۳- کلام (خبرې کول): کلام دالله تعالی له ذاتي صفتونو څخه دی الله تعالی متکلم (خبرې کوونکی) دی دالله تعالی کلام دبنده ګانو دکلام په څیر نه دی الله تعالی دکلام دصفت په ضد چې ګونګوالی دی نه موصوف کیږي او د دې صفت اثبات په دی مبارک آیت سره شوی دی.

وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسٰى تَكْلِيماً (د نساء سورت ۱۲۴ آیت)

ترجمه: (الله تعالی له موسی علیه السلام سره په بلاکیف ډول مخامخ خبرې وکړې. او عظیم الشان قرآن هم دالله تعالی کلام دی.

ګې ده هیڅ کله نه موصوفیږي اراده دالله تعالی ازلی صفت دی او په دې مبارک آیت سره یې اثبات شوی دی. فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ (د بروج سورت ۱۶ آیت)

ترجمه: پوره، کوونکی دی د هغه څه چې اراده یې وکړي.

۵- قدرت: (توانایي) الله تعالی په ازلي اوابدي قدرت سره قادر (توانا) دی.

دهر څه اراده چې و کړي هغه کولای شي. مړي ژوندي کولی شي. کمزوری قوي او قوي کمزوری ګرځوي. یوه شخص ته عذاب ورکوي، بل ته مغفرت کوي. الله تعالی ددې صفت په ضد سره چې عجز (ناتواني) ده نه موصوفیږي او د الله تعالی دا صفت په دې مبارک آیت سره ثابت شوی دی. ((اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)) (د آل عمران سورت ۱۲۵ آیت)

ترجمه: په تحقیق سره چې الله تعالی په هر څه قادر (توانا) دی.

د روژې يوويشتمه تحفه

متدينو دوستانو ، د مبارکی روژې دوې لسيزی تيری سوې چی لومړنۍ د رحمت او دوهمه د مغفرت وه . نن د روژې مبارکی درېيمه لسيزه پيل سوه چی له دوزخه د نجات عشره ده . ښه به دا وی چی (اللهم اجرنی مِن النار) او نور تسبيحات ووايو او د خدای څخه د جنت طلب وکړو . ځکه دا د ليلة القدر لسيزه ده .

رسول الله (ص) فرمايلی دي چی زما امت ته د روژې په هکله پنځه داسی شيان ورکول سوي دي چی پخوا نورو امتونو ته نه وو ورکړل سوي :

لومړی ـ د خولې بد بويی يې د الله لپاره تر مشکو هم د خوښۍ وړ ده ؛

دوهم ـ د هغوی لپاره آن تر ماهيانو پوری لا هم هر څه دعاوی کوی او هغه تر روژه ماتې پوری کوی ؛

درېيم ـ جنت هره ورځ د دوی لپاره سمبړی او الله ورته فرمايی چی ژر به زما بنده (د د نيا) مشقتونه پر ځان تير کړی او تا ته به راسی ؛

څلورم ـ شيطان ورځخه قيد سوی دی تر څو هغسی بديو ته يې نه بوزی چی په غير رمضان کی به يې بيوی ؛

پنځم ـ د روژې په آخري شپه به د روژه لرونکو لپاره مغفرت کيږی .

اصحابو ورځخه وپوښتل چی آيا د وروستۍ شپې څخه مطلب د ليلة القدر شپه ده ؟ ويې فرمايل چی يا ، بلکی دستور دا دی چی مزدور ته اجوره د کار تر ختميدو وروسته ورکول کيږی . نو په همدې اميد لطفاً يوويشتمه تحفه ولولئ،

قاتل او مقتول کله دوږخیان وی ؟

په حدیث کی راغلي چی رسول الله (ص) وفرمایل :

هر کله چی دوه مسلمانان یو پر بل توره راوباسي ، نو قاتل او مقتول دواړه دوږخ ته ځي . ورته ویې ویل چی یا رسول الله (ص) ! قاتل خو معلوم دی ، مقتول څه ګناه کړې وی ؟

ویې فرمایل : هغه هم د مقابل طرف قتل غوښت (متفق علیه) .

هو ، اسلام د یو بېګناه انسان وژل د ټول بشریت د وژلو سره معادل بولی او د یو انسان ژغورل بیا د ټول بشریت د ژغورلو معادل بولی (المایده ـ ۳۲). رسول الله (ص) د مسلمان وژل د کفر طریقه او د جاهلیت د مهال یو کرغیړن عمل باللی دی (بخاری). خو متأسفانه نن موږ ګورو چی په ډیرو اسلامي هیوادو ، منجمله افغانستان کی مسلمانان داسی سره وژنی لکه ځناوران . نو آیا د خپل منځي جنګونو دغسی قاتلین او مقتولین اصلی مسلمانان کېدای سي ؟ پس الله دی یې اصلاح کړی ، که نه الله دی یې تباه کړی .**مناجات**

درنو لوستونکو، د مسلمانانو تر ټولو تېره وسله دعا ده . په دنیا کی تر ټولو تیز او ګړندی شی دعا ده ، دا ځکه چی هغه د زړه څخه ژبې ته د رسېدو څخه مخکی خدای ته رسیږی . نو راځی چی دا برخه دعاوو او مناجات ته وقف کړو.

یا پروردګاره ! موږ دې پیدا کړو ، خو موږ له یاده وایستې . موږ ته دې روزي راکړه ، خو موږ ناشکري وکړه . موږ دې په سختیو و ازمایلو تر څو تا یاد کړو ، خو موږ شکایت وکړ . موږ ته دې مهلت راکړ ، خو موږ بې

پروايي وکړه . مور ته دې نېکي اسانه کړه ، خو مور لمن سوری کړه . مور دې د جنت ليوال کړو ، خو مور يې لاره ورکه کړه او ګمراه سوو . مور دې له دوزخه وبيرولو ، خو مور ورمنډه کړه .

نو يا الله ! که مور ته د جهنم د اور په واسطه عذاب راکړې ، نو دا په خپله مور غوښتي دي او د دې ور يو او پر مور دې هيڅ ظلم نه دی کړی .

که دې مور جنت ته داخل کړو او ښه بدله دې راکړه ، نو دا يوازی ستا فضل او کرم دی ، ځکه زمور عملونه د دې ور نه دي چی په هغو سره جنت ته ولاړ سو . نو يا الله ! بس ستا کرم او رحم ته مو تمه ده او تا ته لاسونه لپه کوو . فرياد مو واوره او راباندی ورحميږه . و ما ذالك على الله بعزيز!

زمور لپاره د رسول الله (ص) ژړا

حديث دی چی يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم وژړل . اصحابو کرامو ورته وويل : اې د الله رسوله (ص) ! څه شي و ژړولې ؟ ويې فرمايل : وروڼه می را په ياد سول . ورته ويې ويل چی آيا مور ستا وروڼه نه يو ؟ ويې فرمايل : يا ، تاسی می اصحاب يا ملګري ياست . وروڼه می هغه کسان دي چی تر ما وروسته راځي ، زه به يې نه يم ليدلئ خو ايمان به راباندی راوړي (الدارمی ؛ الطبرانی ؛ الحکيم) .

هو ، الله (ج) دی مور د رسول الله (ص) د ربښتينو وروڼو او مينه والو څخه وګرځوي . د « ورور » کلمه ډيره مهمه او ستره ده . پر پيغمبر عليه السلام باندی مور د وروڼو غوندی ګران يو . هغه (ص) خو زمور او ستاسی لپاره ژړل خو مور يې طريقه او سليقه په باك نه راوړو حال دا چی په ظاهره يې ځانونه امتيان او لارويان بولو او د اسلام تش په نوم تېکه داري کوو . نو

بهتره دا ده چې په ځانو کې دا کرامت او شهامت پیدا کړو چې زمونږ لپاره د رسول الله (ص) د دې خواخوږۍ او ژړا بدله ورکړو یعنی ځانونه عملاً د هغه (ص) ورونه او خویندی ثابت کړو .

کیسې

- داحمدشاه بابا په وخت کې کله چې جګړې زوراخیستی وو دیوه هندواوپښتون سره مخامخ جنګ شو.
- داوښ اولیوه ترمنځ دوروری تړون وشو
- دیوه سړي روهي ناروغي اودپشې سره تداوي
- په انګلستان کې یوتورپوستی په ریل کې ناست وه اواخبارپې لوستلو
- دانګلستان په های پارك کې یوهند وخبرې کولې چې انګریزان ځلورسوه کاله په هندکې ژوندکولوخوهیڅ چاهم څه ورته نه ویل په داسې حال کې چې کله یوهندوانګلستان ته راشي نولومړی پوښتنه داده . هوانن ورځ څنګه ده ؟ دویم سوال : دکوم ځایه راغلی یې؟ اودریمه پوښتنه : کله بیرته هیوادته ځي ؟
- کونډې زوی ته وویل :کله چې رښتیاوایم نومې په سرټکوه
- ملانصرالدین کورته راغی موریې ورځخه وپوښتل ازموینه څنګه تیره شوه . ملانصرالدین : سوالونه اسانه ووخوابونه یې سخت وو

- دعربي ژبې په آزموښنه کې دپښتون ملاځخه پوښتنه وشوه چې خوسکې ته په عربې ژبه څه وايي ملاځواب ورکړزه خويوازې غټ شيان زده کوم ځکه چې په کوچنيوالي کې پښتانه څه شی نه زده کوي نوزه هم کله چې غټ شوم نوخوسکي مې نه وه ليدلای اويوازې غوامې وليدله غواته به عربې کې البقروايي خوخوسکې نه خبرنه يم . استادورته وويل خوسکې ته په عربې ژبه عجل وايي

- دملانصرالدين څخه دجغرافيی په ازموينه کې پوښتنه وشوه چې دلمرګټې څه دي ؟ ملانصرالدين وويل :

- اميرعدالرحمن خان اودښځې شکايت

- يوبزګرچې پيسې ورباندې ډيرې ګرانې وې په لوترې کې يولك ډالروګټل . کله يې چې دخبررسنيوله خواااعلان وشونوبزګړه پټې کې په کاربخت وو. زامن يې خبرشوواوډيرخوشحاله شوه . خويوه ستره ستونځه داوه چې څرنګه به خپل پلارددې موضوع څخه خبروي . داځکه چې پلارېې دزړه په ناروغۍ اخته دی وکه داخبرورته ورسيږي نوسمدلاسه سکته دزړه ورته پيښيږي . مصلحت داسې وشوچې وډاکترته به دغه دنده ورسپاري ترڅوديوې خواهمدغه خبرورته ورسوي اودبلې خواکه حمله په بزګرورغله نوبه يې سمدلاسه علاج وشي . کله چې داکتربزګرته وويل : که چيرته ته په لوترې کې يولك روپی وګټې نوڅه به ورباندې وکړې ؟

بزګرځواب ورکړ. نيمايې خوبه يې تاته درکړم

په دې ترځ کې چې ډاکتر دغه دخوشحالی خبره واوريده نويې پخپله دزړه سکته وکړه

- ملانصرالدین په نمانځه ولاړوه اویوغله ورځخه ځپلی وتښتولی
- یوملاپه اوبوکې غرقیدلواوچیغی یې کولې :خلکو مرسته راسره وکړئ ؟
- (زمازوی دغلوسره خبرې وکړی)غله ورته وویل : وکارې راوچوئ
- خَُصیت
- دوکانداراونقل
- ډاکتراودناروغانومړینه
- ګیدړه اوځمری اوس دسترګې سرې شوې
- لکیۍ

څنګه چې کمکی له ښوونځي نه کور ته راورسېد لومړی پوښتنه یې هم دا وه چې پلاره ستا لکیۍ څه شوه ؟

پلار د کمکي دې پوښتنې سخت هك پك کړ ، خو له ډېره تاوه خپل کمکي او معصوم زوی ته په مسکا شو ،او بیا یې وپوښته زویه دا بده او سپکه پوښتنه دې له چا نه زده کړې ده ، انسان لکیۍ نه لري ، بیا داسې بې ادبه پوښتنه مه کوه زویه پلاره تا ویل چې د معلم صیب هره خبره اوره او په غوږ کې یې ساته،نن زموږ معلم صیب ویل چې انسانان اصلا د بیزوګانو نه پیدا شوي دي ؟!

پلار نور هم د کمکي زوی خبرو اریان دریان او بېځوابه کړ، خو تر یوه ساړه اسویلي وروسته یې خپل زوی ته سر وښوراوه ، هو زویه ستا د معلم صیب خبره رښتیا ده خو ټول انسانان له بیزوګانو پیدا شوي ندي، موږ له انسانه یعني بابا دمه (ادم ع) رازېږېدلي یو ،ځینې به له بیزوګانو هم زېږېدلي وي !!

خو یوه بله ډله هم شته دی زویه چې هغوی له خرو زېږېدلي دي ، زما په اند ښایي زویه چې ستا معلم صیب له همدې وروستۍ ډلې نه رازېږېدلی وي.

سبا ته دې چې معلم صیب څنګه ټولګي ته راننوت همدا پوښتنه تري لومړی وکړه ۰

- دوه لاڅوکان سره ملګري شول.دغوا اودیګ کیسه روانه شوه
- د غلو سردار
- قباله اوګبینه
- اساسي قانون یوازې دکاغذ په مخ دی
- آډیسن وویل
- دکابل اوکندهاروچکالي
- دموږکوجرګه اوزړه ورتوب
- ملانصرالدین اودیوې روپی څخه تیریدل
- نورخوخیرت دی
- ډاکتراودناروغ دعمراوږدوالي غوښتنه
- یوسړی په لمانځه ولاړوه اوغله یې څپلی تري واخیستې
- داوښ قرباني وعده اوپه ونه کې دبادزور
- دمحمد ص نه دشپون غوښتنه
- دخپل وس سره باروړل بایدعملي شي
- لیوه اودمړه پوستکی
- دمستوکټوه اوخیالي فکر
- ظاهرشاه اودځدرانوملك بهانه
- سرزورې ادې اوپه او بوکې غرقیدل
- پاچااوماړه فیل مرغان
- اوبه ولې په شاوړو ولې یې په نس کې نه وړو+
- په تکسې پسې منډه کول
- زړه ورغل اوبې غیرته شپون

- عرب اولومړی ځل کشتی
- په انګلستان کې یوتورپوستی په ریل کې ناست وه
- په ځنګله کې دوه ملګري یوځای روان وو اویوه ورته وویل کې اوس یوه یږه راشي نوزه خوسخت ورځخه ډاریږم ونه پوهیږم څه به وکړم بل ملګري په ځواب کې ورته وویل هیڅ پروامه کړه زه ډیرزړه وریم اویږه به داسې ووهم چې په منډه ولاړه شي په دې ترڅ کی ناڅاپه یږراپیداشوه
- اوښ دخره په لکی ټرلی وه
- انسان اوځمری
- کوچی اوبرګی سپی
- اوس دسترګې سرې شوې ګیدړی ټوپ وهه
- خرپه نقاش کې خرڅول
- په اخرت کې دپښتنوپه دوزخ باندې ملایکې شتون نه لری داځکه چې هغوی پخپله یوبل ترپښورانیسي
- ددوومیندوپه یوه هلك دعواوکړه چې دازما زوی (کرزي وویل) دافغانستان ټوټه کیدنه

یو کیلویی وزن

یو غریب او مسکین سړي په کور کی د خپلی میرمنی په مرسته ګوړه جوړول او هغه به یې په ښار کی پر یو قناد باندی خرڅول او په دې ډول به یې د کور ګذاره کوله . هغوی به ګوړه د یو کیلویي ګردی ټوټې په توګه جوړوله .

یوه ورځ دکاندار د ګوړي پر وزن شکمن سو او ویې غوښته چی هغه په ترازو کی وتلي . کله چی یې دا کار وکړ نو ویې لیده چی هره ټوټه یو کیلو نه بلکی ۹۰۰ ګرامه ده . ډیر وخښمېد او کله چی سبا هغه مسکین راغی نو په لوړ ږغ او تونده لهجه یې ورته وویل چی نور ستا څخه ګوړه نه

رانیسم او بله ورځ زما دکان ته مه راځه . بیوزله سړي ورته وویل چی خیر کړي ، څه خبره ده ؟ دکاندار ورته وویل چی ما پرون د ګوړي هره ټوټه وزن کړه او هره یوه ۹۰۰ ګرامه وه . نو ځکه نور ستا څخه ګوړه نه رانیسم .
سړي خپل سر کښته وځړاوه او کرار یې ورته وویل : صاحبه ! زه په کور کی وزن نه لرم بلکی ستا څخه می یو کیلو بوره رانیولې وه او هغه د وزن (یعنی کانې) په حیث استعمالوم !
په دې سره دکاندار شرمنده او سرځوړی سو او بخښنه یې وغوښته .

کیسه

د رسول الله (ص) د یوی معجزی په کشف د(نا سا) سل ملیارد ډالر مصرف

قال الله تعالی : اقتَرَبَتِ السّاعَةُ وَانشَقّ الْقَمَرُ ()
(د نبوت په لومړیو کلونوکې د مکې خلکو له پیغمبر علیه السلام څخه غوښتنه وکړه ، وې ل : که ته رینبتونی پیغمبر یې نو موږ ته سپوږ می دوه ټوټې وښایه، که داسې دي وکړل نو موږ به ایمان راوړو، پیغمبر علیه السلام دعا وکړه؛ نو الله تعالی یې غوښتنه پوره کړه او خلکو کتل چې سپوږمی دوه ټوټې شوه ، یوه ټوټه یې د "صفا" بله د "قَیقُعان" غرونو ترشا داسې ولاړه چې ترمنځ یې د حراء غر ښکاره شو؛ خوددې حقیقت له څرګندېدو سره سره د مکې مشرکانو بیاهم انکار وکړ او پیغمبر علیه السلام ته یې وویل : تا ز موږ په سترګوجادو وکړ ، بیایې ویل : دی خو په ټولو خلکو جادو نشي کولی، ګورو به که ز موږ مسافر یا د لیري پرتو سیمو خلك راغلل او هغوی هم دا پېښه لیدلې وه نو سهي ده، څه موده وروسته هغوی راغلل او دا پېښه یې تائید کړه ، په خپلو سترګو یې لیدلي ول چې سپوږ می دوه ټوټې شوې وه؛ خو بیا هم دوی و نه منل او ویل یې : دا یو دوامداره جادو دی ، نو الله تعالی دا ایاتونه رانازل کړل :

اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ (1) وَإِنْ يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُسْتَمِرٌّ (2) ژباړه: (قيامت رانژدې شو او سپوږمۍ و چوده (۱) او دوی چې کومه نښانه وويني، مخ ترې واړوي، وايي دا خو له پخوا نه را روانې کوډې دي(۲)

د دې ايت په تفسير کې زياتره مفسرينو ليکلي دي، چې د شق القمر (د سپوږمۍ چودلو) پېښه د مکې په "منى" کې رامنځته شوې ده او مفتي شفيع رحمه الله په خپل تفسير معارف القرآن کې ليکلي دي : د هند "تاريخ فرشته" نومي مستند او باوري کتاب کې راغلي دي چې په هند کې "مهاراجه ليبار" دا پېښه په خپلو سترګو ليدلې وه چې بيايې له همدې امله ايمان راوړ

دغه راز د حديثونو په کتابونو کې هم د دې پېښې په اړه ډېر روايتونه رانقل شوي دي: عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ـ رضي الله عنه اَنَّ اَهْلَ، مَكَّةَ سَاَلُوا رَسُولَ اللّهِ صلى الله عليه وسلم اَنْ يُرِيَهُمْ آية، فَاَرَاهُمُ الْقَمَرَ شِقَّتَيْنِ، حَتّى رَاَوْا حِرَاءً بَيْنَهُمَا. رواه البخاري

انس بن مالك رضى الله عنه وايي : د مکې خلکو له پيغمبر عليه السلام نه و غوښتل چې کومه معجزه ورته و ښايي؛ نو سپوږمۍ يې دوه ټوټې ورته و ښودله تر دې چې د دواړو ترمنځ حراء (د حراء غر) هم وليدل شو.

عَنْ عَبْدِ اللّهِ ـ رضي الله عنه ـ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ وَنَحْنُ مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم بِمِنًى فَقَالَ " اشْهَدُوا ". وَذَهَبَتْ فِرْقَةٌ نَحْوَ الْجَبَلِ. په بل روايت کې عبد الله بن مسعود رضى الله عنه وايي: سپوږمۍ دوه ځايه شوه او هغه مهال مونږ د پيغمبر عليه السلام سره په منى کې و، هغه صلى الله عليه وسلم وويل: تاسو ګواه اوسئ او يوه ټوټه يې د غره لور ته ولاړه

امام مسلم رحمه الله روايت رانقل کړى، وايي: عبد الله بن مسعود رضى الله عنه وويل: عَنْ عَبْدِ اللّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللّهِ صلى الله عليه وسلم بِمِنًى إِذَا انْفَلَقَ الْقَمَرُ فِلْقَتَيْنِ فَكَانَتْ فِلْقَةٌ وَرَاءَ الْجَبَلِ وَفِلْقَةٌ دُونَهُ فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللّهِ صلى الله عليه وسلم " اشْهَدُوا "

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وایي: موږ د پیغمبر علیه السلام سره په منی کې و چې سپوږمۍ دوه ټوټې شوه، یوه ټوټه یې د غره شاته ولاړه او بله د غره مخ ته؛ نو پیغمبر علیه السلام وویل: تاسو ګواهان اوسئ
دنا سا یو ه څیړونکی وایي هغه امریکایي سفینه کلمنتاین چی دځوکالو راپدی خوا چی دسپوږمۍ په مدار ګرځي اودتحقیقاتو کارکوي او زمونږ دسلو ملیاردو ډالرو څخه زیات پرې مصرف شوي، خو یو ډیر مهم رازیې کشف کړی ،چی داراز په نورو سیارو او سپوږمیو کښې نشته ، هغه داچی دا سپوږمۍ سلګونه کاله دمخه په دوه مساوی برخو ویشل شوي اوبیرته سره یوځای شوي ،دې اوردني څیړونکې چې کله ناسا ته خپل راپور ورکاوه، نو داسی یې وویل چی دا د ۱۴۰۰ کاله دمخه موضوع ده ،چې دمسلمانانو دپیغمبرص یو معجزه ده، چی دوی (شق القمر) بولي، ددې نه وروسته ناسا خپلو څیړنوته بیا ادامه ورکړه، خوددې دوه ټوټې کیدوهیڅ علت یې پیدانکړ.

کیسه

کله چې الله (ج) آدم (ع) پیدا کړ ، نو پرښتې د هغه د ښکلي صورت په لیدو ډېرې حیرانې او بې کچې خوشاله شوې.

کله چې شیطان هغه ولید ، نو وې ویل : الله (ج) دا ولې پیدا کړ؟ شیطان وروسته پرښتو ته وویل :

که چېرې الله (ج) دې ته له موږ او تاسو څخه لوړه درجه ورکړي ، نو ستاسې غبرګون به څه وي ؟
پرښتو وویل : د خپل خدای (ج) امر ته غاړه ږدو . شیطان له ځان سره وویل : که چېرې الله (ج) ده ته له ما څخه لوړه درجه ورکړه ، نو زه هېڅکله د الله (ج) امر نه منم او دا به ووژنم . لعین شیطان د هغه په

مبارك بدن باندې نارې تو کړې او نارې د هغه د نو په برخه وغورځېدې ، الله (ج) جبرائيل (ع) ته امر وکړ ، چې د آدم (ع) د بدن له دې مبارکې برخې څخه خاوره بهر کړي ، جبرائيل (ع) نارې او خاوره يوځای د هغه له مبارك بدن څخه لرې کړل ، له دې وروسته الله (ج) له هغې خاورې څخه سپی پيدا کړ.

کيسه

په سپي کې درې خويونه شتون لري:

۱- له انسان سره له دې کبله مينه لري ، چې د آدم (ع) له خاورې څخه پيدا شوی دی ،
۲- د شپې له خوا له دې امله ويښ وي ، چې په هغه خاوره د جبرائيل (ع) لاس لګېدلی وو .
۳- په انسان باندې له دې امله خوله لګوي ، چې له هغې خاورې سره د شيطان نارې يو ځای شوې وې.

کيسه

کله چې الله (ج) پرښتو ته امر وکړ ، چې ځانونه تيټ او آدم (ع) ته سجده وکړي ، نو ټولې پرښتې په سجده پرېوتې ، مګر شيطان انکار وکړ او سجده يې ونه کړه ، ټولې پرښتې د سجدې په حال کې وې ، خو لعين شيطان ولاړ او حضرت آدم)ع) ته يې شاه کړې وه.

کله چې پرښتو له سجدې څخه خپل سرونه را پورته کړل ، ګوري چې ، چې شيطان په کبر ولاړ او سجده نه کوي ، نو پرښتو د الله (ج) شکر ادا او يو ځل بيا يې سجده وکړه ، له دې کبله د پرښتو سجدې دوه شوې.

کیسه

کله چې د الله (ج) په امر ټولو پرښتو آدم (ع) ته سجده وکړه او لعین شیطان انکار وکړ ، نو الله (ج) له شیطان څخه وپوښتل : زما له حکم څخه دې ولې سرغړونه وکړه

او ولې دې آدم (ع) ته سجده ونه کړه ؟

لعین شیطان په ځواب کې وویل:

انا خیر منه خلقتنی من نار و خلقته من طین .

ژباړه : زه له آدم (ع) څخه غوره یم ، تا زه له اور څخه پیدا کړی یم او آدم (ع) دې له خاورې.

اور چې یو نرم پاك او نوراني څیز دی او خاورین جسم یو ککړ شی دی ، نو اور د خاورې ، نرم او پاك څیز د ککړ په وړاندې ولې سر ټیټ کړي ؟.

کیسه

داسلام په لومړي وخت کې یوسړي دیوه ديني عالم څخه وپوښتل ملایان وایي چې

۱- انګورحلال دی په داسې حال کې چې شراب بیا منع دی که څه هم دانګوروڅخه لاس ته راځي

۲-- خدای تعالی شتون لري ، په داسې حال کې چې په سترګونه لیدل کیږي ،نوڅرنګه سړی داومني

۳- ملایان وایې چې هرڅه پیښیږي دخدای له خوادي اوبې له هغه دامر څخه څه نه کیږي . نوزمونږګناه په دې کې څه ده چې هرڅه ترمخه په قضااوقدرکې لیکل شوي وي

ددين ملا دغه سړی په پخه خبسته په سروواهه اوسريې ورمات کړ، وروسته له هغه سړی قاضي ته ولاړاوعريضه يې وکړه

کله چې دينی عالم محکمې ته ولاړاوقاضي ورځخه وپوښتل

ولې دسړی په پخه تيږه وواهه

ددين ملا ځواب : دلومړي سوال ځواب دادی : کله چې خاوره ختمه وي نوهيڅ خظر نه لري خوچې پخه شي نودجګړې لپاره کارول کيدای شی . نوانګورکله چې شراب شي حرام دي

دويم سوال ځواب : دسړی سرخوړيده اودرديې په سترګونه ليد ل کيږي نوخدای هم شتون لري خومورږيې نه وينو

درښيم : داچې هرڅه دخدای په واك کې وي نوتاولې قاضي ته مراجعه وکړه

کيسه

په سورت نحل په (67) ايات کی الله جل جلاله فرمايی:

مورږوموچمچی ته وحی وکړې چی خپل کورونه په غروکی اوونوکی جوړکړی، اوپه هغه ځايوکی چی خلك ئې لوړجوړوی، بيانووخوری تاسی (ای مچييو) له هرقسم ميووڅخه نوځی (الوځی) په لاره درب خپل په دغه حال کښې چی اسانه ده (خلاصه اوصافه درته ښکاری) راوځی له ګيډو(نس) له ددوی دڅښلو (عسل) چی مختلف دی رنګونه ددې (عسلو) په دغه (عسلو) کی شفاء ده دپاره دخلکو ببشکه په دغو (مچمچيو اوعسلو کښی خامخاړپرلوی دليل دی) پرقدرت اوحکمت دالله دپاره دهغه قوم چی فکرکوی (اوپرغرايبوئې عقل چلوی)-

او س واعجاز القران ته وګوری:

لوی څښتن تعالی جل جلاله لفظ دمونث ذکرکړی دی اودالفظ د (ان اتخذي) یعنی ونیسه ، جوړکه، چی دلته ضمیر دمونث دی (ی) یعنی الله جل جلاله وښځینه موچمچی ته وایی، چی ته داکورونه جوړکه، چی 1400 کاله وروسته ساینس پوهان په دې وتوانیدل چی دایي ثابته کړل چی کورونه دموچمچیووښځینه ئې جوړوی، نه نر، اوس که سړی څه په سرکی ماغزه ولری اودعقل څخه کارواخلی نو1400 کاله مخکی څوك په دې پوهیدې چی دمچمچیونرکومه یو دی او ښځه ئې کومه یوه ده، حتی سل کاله مخکی ساینس پوهان نه په پوهېدل چی نرئې کوم دی اوښځه ئې کومه ده، چی دادقران کریم معجزه ده، چی ټولې نړې پرې اتفاق اویووالی ښودلې دی اوپه دې باندی ئې اقرارکړیدی چی دامعلومات په زرګونه کالومخکی بې له الله جل جلاله وبل چاته نه وه معلوم، سبحان الله-

ددوهم ځل لپاره الله جل جلاله د (کلی) په لفظ کی دمونث ضمیر استعمال کړی دی، چی دلته هم دموچمچی ښځینه ورڅخه مراده نه نر، وروسته به وتاسو ته دامعلومه سی چی دښځې څه وظیفه ده اودنر-

د شیطان کیسې

د حضرت عیسی (ع) په زمانه کې، یوه نېکمرغه او صالحه ښځه وه، یوه ورځ یادې ښځې په تناره باندې ډوډۍ پورې کړه او په لمانځه ودرېده، چې شیطان د یوې ښځې په څېره ورته راغی او وې ویل: ډوډۍ دې وسوځېده، مګر د ښځې په نیت کې کوم بدلون را منځته نه شو، نو شیطان یې زوی تناره ته وغورځاوه، دې کار ته هم نومورې ښځې کومه پاملرنه ونه کړه، څو دقیقې وروسته، د ښځې خاوند راغی، ګوري چې زوی یې په تناره کې د اور له سکروټو سره لوبې کوي، الله (ج) د اور سکروټې په سرو غمیو بدلې کړې وې، دا سړی له کوره ووت، حضرت

عیسی (ع (ته ورغی او هغه (ع) یې له دې پېښې خبر کړ، هغه (ع) وفرمایل: مېرمن دې ماته راوله، کله چې هغه خپله مېرمن حضرت عیسی (ع) ته راوسته، نو حضرت عیسی (ع (له هغې ښځې څخه پوښتنه وکړه: تا کوم کار ترسره کړی، چې دا پېښه را منځته شوه؟ ښځې په ځواب کې وویل: ای د الله (ج) پیغمبره ! زه چې کله بې اودسه یم، نو ژر تر ژره اودس کووم، هېڅکله بې اوداسه نه ګرځم او هرکله چې اودس کووم نو ژر تر ژره خپل لمونځ ادا کووم، هر څوك، چې له مانه د حاجت سوال وکړي، چې الله (ج) ته نیږدې او خوښ وي، نو زه یې ژر ترژره پوره کووم، څوك مې چې ځوروي، پرې صبر کووم او په سړه سینه یې زغم.

کیسه:

یوه ورځ شیطان له پنځو خرونو سره ، چې رمبارې یې وهلې روان وو ، کله چې حضرت عیسی (ع) ولیده ، نو ترې پوښتنه یې وکړه : دا څه دي ؟ شیطان وویل : دا سوداګریز توکي دي ؛ د خرڅلاو له پاره یې بیایم . حضرت عیسی (ع) بیا وپوښتل : ووایه دا څه دي ؟ شیطان یو ځل بیا د ځواب په ژبه وویل : (ظلم ، کبر، حسد ، خیانت او مکر) ظلم پر پاچاهانو ، کبر د قبیلو پر مشرانو ، حسد پر قاریانو ، خیانت پر سوداګرو او مکر پر ښځو پلورم .

کیسه

له زید ابن مجاهد څخه روایت دی ، چې شیطان پنځه زامن لري ، هر یو یې د شیطان په حکم په یوه کار مقرر شوی دی ، چې نومونه یې په دې ډول دي : ثبر ، اعور ، مسوط ، زکنبور. د ثبر دنده خلك په مصیبت اخته کول دي ، تر څو خلك په ژړا خپل ګرېوانونه وشلوي او د ښې ورځې مخ ونه ګوري . د اعور دنده خلك په زنا اخته کول دي . د مسوط دنده درواغ ویل او د خبرو ګرځول دي ، په یوه ځای کې درېدل د خلکو خبرو ته غوږ نیول او بل ځای کې یې ویل او دغه راز له یوه کس سره د هغه کورته

ننوتل او هغه ته د هغه د کورنۍ د غړو د عیبونو ښکاره کول ، ترڅو هغه د خپلې کورنۍ پر غړو غوسه شي . زکنبور ته په بازار کې دنده ورکړل شوې ده ، تر څو هلته فتنه او فساد خپور کړي .

د افلاطون پنځوس زریزې ویناوې

۱ــ څوك چې د نورو له پاره خیر او ښکمرغي غواړي، بالاخره به خپله ښکمرغي هم تر لاسه کړي .

۲ ــ ټولنیزه ښکمرغي په ځانګړې ښکمرغۍ باندې لوړه او، اوچته ده .

۳ ــ زما دښمنان په درې ډوله دي : ۱ ــ له ما څخه ځواکمن . ۲ ــ له ما سره برابر. ۳ ــ کمزوری . له لومړي سره د مقابلې پایله هلاکت دی . له دویم سره باید په مېړانه مقابله وکړم، تر څو له منځه یې یوسم . درېیم باید په خبرو لاندې کړم، ځکه له کمزوري دښمن سره مقابله کول د انسان حیثیت را ټیټوي .

۴ ــ طبیعت انسان ته ښکلا وربښي او ټولنه هغه بېرته فاسد وي .

۵ ــ د ژوند څېړې اخلاقو ته ځواك وربښي .

۶ ــ د ښکمرغۍ د لاس ته راوړنې له پاره باید ښك او غوره اخلاق بر لاسی شي او د ناوړه اخلاقو پر ضد مبارزه وشي .

۷ ــ د دې له پاره، چې فردي ژوند خراب نه شي، باید په هر نارینه او ښځینه کې څلور صفتونه وي : عدالت، اعتدال، عقل او پرهېز .

۸ ــ بخیل چې څومره شته او مال راټولوي، هومره خپله حیا له لاسه ورکوي .

۹ ــ له دوسته په لږ څه چې پېښ شوي وي لاس اخیستل پوهه نه ده .

۱۰ ـ روزنه ډېر غوره شی دی، چې ستر خلك يې ذخيره کوي .

۱۱ ـ له دوست سره داسې چلند وکړه، چې هېڅکله حاکم ته دې اړتيا پيدا نه شي او له دښمن سره داسې چلند وکړه، که چېرې محاکمې ته رانښکل شې، نو ګټه ستا وي .

۱۲ ـ يوازې عدالت دی، چې د نېکمرغي لامل کېږي .

۱۳ ـ تر ټولو ستره بې انصافي داده، چې عادل ښکاره شو، په داسې حال کې چې نه يو .

۱۴ ـ په دنيا کې د انسان يوازينۍ نېکمرغي مينه ده .

۱۵ ـ د هر څيز، چې ساتونکي ډېر وي مضبوط او مستور شي، مګر د راز چې هر څومره ساتونکي ډېر شي، ډېر ښکاره کېږي .

۱۶ ـ کله چې کامياب شي، نو ټول ښه دي او کله چې ناکام شي، نو ټول بد .

۱۷ ـ له مينې پرته ژوند ستونزمن دی .

۱۸ ـ د خلکو له پاره له مينې پرته دنيا پراخه هديره ده .

۱۹ ـ له ريا او نيرنګ پرته حقيقي بنادي مال او بچي دي .

۲۰ ـ زما په اند د انسان تېر ايستلو په پرتله به د انسان وژلو ګناه به ډېره کمه وي .

۲۱ ـ که يو وخت ستا مقام ښکته شو مه خپه کېږه، ځکه لمر هم د لوېدو پروخت ښکته کېږي او بيا پورته کېږي .

۲۲ ـ له ناوړه خلکو سره ملګرتيا مه کوه، که چېرې سپکاوی دې ونه کړي، نو احسان درباندې باروي .

۲۳ ـ شریر او بد خلك نېکان پرېږدي د بدانو متابعت او پېښې کوي، لکه مچان پاك ځایونه پرېږدي په ناولتوب پسې ځي .

۲۴ ـ د دریو کسان ناسته درته ډېر زیان رسوي، یو هغه چې تا بدو ته رابولي، بل هغه چې په چل دې مغرور کړي او بل هغه چې وړتیا او همت یې ستا له وړتیا او همت څخه کم وي.

۲۵ د بدو او شریرو خلکو سره نږدېوالی مه کوه، ځکه چې ستا طبیعت د هغوی له طبیعت نه شرارت غلا کوي او ته پرې نه خبرېږې .

۲۶ ـ څوك چې ستا د کامیابیۍ او خوشالیۍ په ورځ ستا ، ستاینه او صفت کوي او هغه په تا کې نه وي، نو البته په بده ورځ به هم ستا په حق کې له درواغو او بهتانه ډډه ونه کړي .

۲۷ ـ په دنیا کې دوه شیان دي، توره او تدبیر ډېر ځلې توره په تدبیر غالبه شوېده .

۲۸ ـ د دندې سرته رسول ویښ وجدان، پوه زړه او باطني مینه غواړي .

۲۹ ـ د هېواد له مینې بله زوروره مینه نه شته .

۳۰ ـ پوه سړی ته پکار دی، چې د درملو د خوړوالي او تریخوالي په کیفیت پوه شي او ډېر ونه خوري .

۳۱ ـ همدا چې یو سړی له خپل برید نه واوړي او هغه ځای ته ورسېږي، چې دی یې وړ نه وي، اخلاق یې ورانېږي .

۳۲ ـ د ځمکې د مخ او لاندې ټول سره زر د یوې اخلاقي ښېګڼې ارزښت نه لري .

۳۳ ـ ځان تر ملګري ځار کړئ .

۳۴ ـ مینه مه هېروئ او بې ارزښته یې مه ګڼئ .

۳۵ ـ یوازینۍ ناروغي، چې ناروغ خوند ترې اخلي مینه ده .

۳۶ ـ بې مینې ژوند نه کېږي .

۳۷ ـ مینه داسې بلا ده، چې ټول یې غواړي .

۳۸ ـ مینه مینېدل له هر چا نه شاعر جوړوي .

۳۹ ـ هنر د ربنتینې نړۍ ترڅنګ د ایډیالي نړۍ جوړول دي .

۴۰ ـ د انسان په اروا کې د موسیقۍ وزن او نغمه لوی اغېز لري او که سم وکارول شي د ښکلا مانا ور پېژندلای شي .

۴۱ ـ بشر په ژوندانه کې موسیقي ته اړتیا لري، موسیقي د انسان د څېړنې، ځیرتیا، پوهې، حس، لیدلو، ارزونې او په پای کې د مینې ځواک پیاوړی کوي. تاسې یوه شېله اروا زما لاس ته راکړئ، زه د موسیقۍ په مرسته شېلتوب او تیاره تري لرې کړم او بېرته به یو پوه او مېړنی سړی در وسپارم .

۴۲ ـ عام خلك له شتمنو سره مینه لري او خاص خلك له پوهانو سره .

۴۳ ـ د غم وختونه په خپل عمر کې مه شمېرئ .

۴۴ ـ انسان په درې څیزونو ښکلی کېږي : علم، مینه او آزادي .

۴۵ ـ په چا کې، چې د ښېګڼې او خوا خوږي احساس نه وي، ښه ورته نه شي ویل کېدای .

۴۶ ـ دنیا تل د پوه په مرګ او د ناپوه په ژوند اوښکې تویوي .

۴۷ ـ انصاف دې ته نه ویل کېږي، چې د خلکو نیمګړتیاوو ته ګوته ونیول شي او په ښېګڼو یې پرده واچول شي .

۴۸ ـ په وينا کې د غوسې اندازه هومره په کار ده لکه په اوړو کې د مالګې .

۴۹ ـ بې عمله عالم د هغه ړوند په څېر دی، چې څراغ يې په لاس وي خو لاره پرې نه شي ميندلای .

۵۰ ـ د علم په زده کولو کې شرم نه وي پکار، ځکه چې ناپوهي تر شرم ډېره بده ده .

اخذونه :

۱- تفسیرکابلي لومړی اودویم جلد

۲- دلراوبروبیپانه

۳- دبښنواویب پانه

۴- صحیح بخاری

۵- ویکیپدیا

۶- آن لاین اسلامي لاربښود

۷- اصلاح انلاین

۸- دافغانستان اسلامي امارت ویبپانه

پای